# سیګار

د افغانستان د بیارغونې لپاره
ځانګړی عمومي مفتش

د 2015
د اکتوبر 30

درې میاشتنی راپور د متحده ایالاتو کانګرس ته



## د 2008 د مالي کال له پاره د ملي دفاع د منظورۍ قانون (Pub. L. No. 110-181) د افغانستان د بيارغونې له پاره د ځانګړي عمومي مفتش اداره (سيګار) رامنځته کړه.

د سيګار د څارنې ماموريت، لکه څنګه چې د قانون له مخې تعريف شوی دی، دا دی چې

- د هغو پروګرامونو او څېړنو د څارنې او اډېټونو د مستقلې او ناپېيلې اجرا له پاره لارې برابرې کړي چې د افغانستان د بيارغونې له پاره د تخصيص شويو يا په بل ډول چمتو کړای شويو پيسو په واسطه تمويل شوي وي.
- د پروګرامونو اوعملياتو د مديريت په برخه کې د اقتصاد، کفايت، او مؤثريت د انکشاف له پاره د پاليسيو سپارښتنه او همغږي برابره کړي، او په دغه ډول پروګرامونو اوعملياتو کې د ضياع، تقلب، او بدې استفادې مخه ونيسي.
- د دغه ډول پروګرامونو او عملياتو د مديريت د ستونزو او کميو او د سموونکيو اقداماتو د ضرورت او پرمختګ په هکله د بهرنيو چارو وزير او د دفاع وزير په بشپړ او تازه ډول خبر وساتي.

د افغانستان په بيارغونه کې هرهغه غبرګ قرارداد، بلاعوضه مرسته، موافقه، يا د تمويل بل ميکانيزم شامل دی چې د متحده ايالاتو د حکومت له خوا شوی وي او هغه مبلغونه نغاړي چې د افغانستان د بيارغونې له پاره تخصيص شوي يا په بل ډول برابر کړای شوي وي.

سرچينه: Pub. L. No. 110-181 د 2008 د مالي کال له پاره د ملي دفاع د منظورۍ قانون 1/28/2008.

(د دغه راپور د هغو محتوياتو د يوه لست له پاره چې د کانګرس له خوا منظور شوي دي، 3 برخه وګورئ.)

**د پوښ تصوير:**

د افغانستان ملي نظامي اکاډمۍ د 2015 ټولګي کې 600 تشو ځايونو لپاره له 4,500 څخه ډيرو نوماندانو سره سيالي وکړله.
(د سارا براون لخوا د ناټو روزنيز ماموريت افغانستان عکس)


جوزجان
بلخ
کندوز
تخار
بدخشان
فاریاب
سمنګان
بغلان
سرپل
بادغیس
پنجشیر
نورستان
پروان
کاپیسا
کونړ
باميان
کابل
لغمان
هرات
وردک
ننګرهار
لوګر
غور
دايکندي
پکتيا
غزني
خوست
اروزګان
فراه
زابل
پکتيکا
نيمروز
هلمند
کندهار
د سيګار موجود دفترونه
هغه ولايتونه چې هلته سيګار د تفتيش، پلټنې،
او څېړنې کار ترسره کړی وي.

**ځانګړی عمومي مفتش د**

**افغانستان د بیارغونې لپاره**

زه خوښ یم چې کانګرس، او د بهرنیو چارو او د دفاع وزیرانو ته په افغانستان کې د متحده ایالاتو د بیارغونې د هڅو په هکله د سیګار 29م درې میاشتنی راپور سپارم.

د دې درې میاشتنی مودې په بهیر کې د افغانستان د ملي وحدت حکومت په اداره کې خپل لومړی کال بشپړ کړ. په کلیزه کې د بریالیتوب او ناکامی دواړو په هکله یادونه وشوه. د افغان حکومت په غوښتنه، جمهور رییس بارک اوباما په اکتوبر کې اعلان وکړ چې متحده ایالات به له افغانستان څخه د خپلې پوځي وتنې بهیر ودروي او د 2016 کال تر ډېره وخته پورې به موجود 9,800 عسکر په خپل ځای وساتي. د سپتمبر په 5 مه، نړیوالو مرستندویانو په کابل کې د جیګپوړو چارواکو په مجلس کې د حکومت د اصلاحاتو د پروګرام ستاینه وکړه او د دوه اړخیزې مسؤلیت منلې د چوکاټ له لارې په ځان د بسیاینې تر یوه نوي چوکاټ لاندې یې له افغانستان سره په خپلو کړو ژمنو بیا ټینګار وکړ.

خو د سپتمبر په 28مه چې طالبانو د کندوز ښار ونیو یو لوی په شا تګ رامنځته شو. دا لومړنی ولایتي مرکز وو چې یاغیانو له 2001 کال راهیسې ونیو. وروسته بیا افغان ځواکونو هغه ښار بېرته ونیو. له بده مرغه، د جګړې پر وخت، د متحده ایالاتو یوې الوتکې، چې احتمال لري له ځمکې څخه افغان ځواکونو داسې لارښوونه ورته کړې وي، د بې سرحده ډاکټرانو په یوه روغتون باندې حمله وکړه او 22 کسان یې په کې ووژل. په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو قوماندان جنرال جان اېف کمپبل، د حملې په هکله د پوره څېړنې وعده کړې ده.

دې مسئلې چې نسبتا یوه لږ شمېر طالب جنګیالیو کندوز په اسانۍ سره ونیو د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو رهبري او چمتووالی تر پوښتنې لاندې راوست. متحده ایالاتو د افغانستان د بیارغونې په برخه کې یوه غوښنه برخه پیسې، خواوشا 65 میلیارده ډالر، د افغان اردو او پولیس ځواکونو په جوړونه باندې لګولې دي. لکه څنګه چې د دې راپور په 3 مه برخه کې راغلي دي، سیګار په مکرر ډول د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو د وړتیاوو په هکله اندېښنې راپورته کړې دي، او له نژدې څخه د هغوی څارنې ته به دوام ورکړي. خبري راپورونه څرګندوي چې د افغان محلي پولیسو له بد چلند څخه راپورته شویو تاوتریخوالو د کندوز د دفاع په سقوط کې مرسته وکړه. په دې درې میاشتنی موده کې، د سیګار د اجرأتو یوه تفتیش ومونده چې د متحده ایالاتو د دفاع وزارت د هغو 470 میلیونه ډالرو له لګښتونو سره سره چې د افغان محلي پولیسو په حمایه یې لګولي دي، افغان محلي پولیس د لوجیستیکي حمایې، څارنې، او داسې یوه پلان له نشتوالي سره مخامخ دي چې آیا دغه ځواک منحل کړای شي که له افغان ملي پولیسو سره یوځای کړای شي.

د بیارغونې د هڅو د ارزونې له پاره د سیګار د روانې هڅې د یوې برخې په توګه، جمهور رییس غني په سپتمبر کې په خوښۍ سره ومنله چې د دې درې میاشتني راپور له پاره ورسره مرکه وکړای شي. په یوه پراخ بحث کې، جمهور رییس د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو انکشاف ته اشاره وکړه او هغه یې د بیارغونې تر ټولو لویه لاسته راوړنه وبلله او د کوکنارو د کاروبار د له منځه وړلو له پاره یې د کلیوالي عوایدو د لوړولو غوښتنه وکړه. د مرکې یو ایډیټ (اصلاح) شوی ټرانسکرپټ یا متن د دې راپور په 1 برخه کې شته دی.

د سیګار څېړنو د راپور ورکولو په دې دوره کې یو ځل بیا مهم نتایج لاسته راوړل. د راپور ورکولو د دورې پر وخت، د سیګار د څېړنو په نتیجه کې د متحده ایالاتو حکومت ته په لګښتونو کې 123.7 میلیونه ډالر وسپمول شول؛ د جریمو، خسارو یا تاوان اخیستنو، او استردادونو مبلغ په مجموعي توګه له 26.7 میلیونه ډالرو څخه ډېرشول. سربېره پردې، دوه کسان ونیول شول، پنځه جنایي اتهامات ولګول شول، اوه محکومیتونه رامنځته شول، او نهه محاکمې وشوې. سیګار 18 نوې څېړنې پیل کړې او 22 نورې یې بندې کړې، او په دې توګه یې د ټولو روانو څېړنو شمېر 306 ته پورته کړ. تر دې دمه، د سیګار له څېړنو څخه ترلاسه شوې سپماوې په مجموعي توګه له 944.5 میلیونه ډالرو څخه ډېرې شوې.

سیګار 17 تفتیشونه، پلټنې، خبرتیایي لیکونه، او نور مواد خپاره کړل. د اجرأتو په هکله د سیګار له تفتیشونو څخه یوه دا ومونده چې د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کمېشنري او د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت نشي کولی چې د افغان کډوالو هغه شمېر په خپلواک ډول معلوم او تایید کړي چې پاکستاني او ایراني حکومتونو ورکړی دی، او دا چې له نړیوالې

2530 کریستل درایو ارلینګټن، ویرجینیا 22202

مرستي سره سره د افغانستان د کډوالو او راستنېدني وزارت ظرفيت د خپلو مسؤليتونو د ترسره کولو په برخه کې محدود دی. همدارنګه د تفتيشونو او پلټنو رياست د دې درې مياشتنۍ مودې پر وخت درې توصيوي ليکونه خپاره کړل. دوه ليکونو (چې يو يې محرم وو) په براون کمپ کې د قوماندې او کنټرول د يوه مرکز د برخليک په هکله اندېښنې څرګندې کړې. يوه درېيم ليک د متحده ايالاتو د دفاع وزارت چارواکو او د متحده ايالاتو نظامي قوماندانانو ته د افغان ملي دفاعي او امنيتي ځواکونو له پاره د ژمني لباس د احتمالي سخت کمي په هکله خبر ورکړ.

په دې درې مياشتنۍ موده کې، سيګار د مالي تفتيش شپږ راپورونه خپاره کړل. تر ننه پورې، د سيګار مالي تفتيشونو له 280.4 ميليونو څخه ډېر د تر پوښتنې لاندې لګښتونو په توګه په ګوته کړي دي، او ښيي چې 289,880 ډالر د فدرالي فنډونو او نورو عوايدو ګټه چې بايد حکومت ته تاديه شوې وای، نه ده شوې. د 2015 د اکتوبر له 30مې راهيسې، بسپنه ورکوونکې اداري د 50 تفتيشونو په هکله يوې مديريه پرېکړې ته رسېدلې دي او له 16.7 ميليون ډالرو څخه د ډېرو تر پوښتنې لاندې مبلغونو د بېرته ترلاسه کولو لارې چارې لټوي.

سيګار د پلټنې يو راپورخپورکړ چې دا يې موندله چې په داسې حال کې چې په کابل کې د نشه يي توکو پر ضد د مبارزې په مرکز کې د برېښنا د دستګاه يوه پروژه له ټاکلي بودجې څخه بشپړه شوې وه او دا چې د قرارداد د اجرأتو معيارونه يې پوره کول، د برېښنا دستګاه ونه ازمويل شوه اوله بشپړتيا څخه يې له 18 مياشتو څخه ډېر وروسته وخت پورې د چلښت وړ ګڼل کېده. په دې درې مياشتنۍ موده کې، د سيګار د ځانګړيو پروژو اداري د سوداګرۍ او ثبات د عملياتو اړوند د ترځمکې لاندې ګازو د عملياتو د پروژې له پاره وظيفوي ځواک باندې خپله بياکتنه خپره کړه. يادې اداري همدارنګه د متحده ايالاتو نظامي قوماندانانو ته وليکل چې د افغان ملي دفاعي او امنيتي ځواکونو په استازيتوب د ګڼو وروستيو تدارکاتو د ضرورت او د احتمالي ضياع په هکله معلومات وغواړي.

سربېره پردې، د ځانګړيو پروژو اداري د متحده ايالاتو نړيوالې پرمختيايي اداري (USAID) ته دوه ليکونه وليکل چې د تره خېلو د برېښنا په دستګاه کې د عملياتو په هکله يې معلومات وړاندې کول او د متحده ايالاتو د نړيوالې پرمختيايي اداري (USAID) له خوا د حمايه شويو روغتيايي مرکزونو د صحيح جغرافيوي کوارډينيټونو د معلوماتو د اهميت په هکله يې ټاکيد کاوه. سيګار همدارنګه په ټول افغانستان کې په ولايتونو کې د متحده ايالاتو د نړيوالې پرمختيايي اداري (USAID) له خوا د حمايه شويو روغتيايي مرکزونو څخه د خپلې رواني بياکتنې د برخې په توګه د متحده ايالاتو نړيوالې پرمختيايي اداري ته وليکل چې د سيګار په واسطه د وروستيو ترسره شويو ساحوي پلټنو نتايج وړاندې کړي څو په هرات کې د متحده ايالاتو د نړيوالې پرمختيايي اداري له خوا د 23 تمويل شويو روغتيايي مرکزونو په هکله د متحده ايالاتو د نړيوالې پرمختيايي اداري د موقعيتي ارقامو اوعملياتي شرايطو صحت معلوم او تاييد کړي.

د سيګار د تعويق او مخنيوي پروګرام په 18 اشخاصو او 12 شرکتونو باندې د متحده ايالاتو د حکومت د قراردادونو ترلاسه کول وځنډول يا يې پرې بند کړل. د دغو افرادو له جملې څخه درې کسان د جنايي تورونو له کبله، چې په افغانستان کې د بيا رغونې د قراردادونو پورې اړوند ول يا يې پرې منفي تاثير کاوه، د بد چلند له امله پرې وارد شوي ول د تعويق له پاره معرفي کړای شول. دغه معرفي ګانې د هغو افرادو او شرکتونو چې له 2008 کال راهيسې د سيګار له خوا معرفي يا راجع کړای شوي دي 680 ته رسوي چې تر ننه پورې يې 361 افراد او 319 نور يې شرکتونه دي.

په داسې حال کې چې متحده ايالات دې ته ژمنتيا لري چې په راتلونکيو کالونو کې ميليارده ولګوي څو له افغانستان سره مرسته وکړي چې د خپلو امنيتي ځواکونو لګښتونه پرې تاديه کړي او خپل تاسيسات پرې پياوړي کړي، زما کارمندان او زه ګورو چې له کانګرس او نورو برخه والو سره کار وکړو څو د متحده ايالاتو له خوا د تمويل شوي بيا رغونې يوه مناسبه او روښانه څارنه وړاندې کړو.

په درناوي،

جان اف ساپکو
د افغانستان د بيارغونې لپاره ځانګړی عمومي مفتش

**دا راپور د سیګار د څارنې د کار خلاصه، او د 2015 د جولای له 1 څخه د سپتمبر تر 30 مې پورې د افغانستان د بیارغونې په هڅه کې په درې لویو برخو کې د پرمختګونو په هکله تازه معلومات وړاندې کوي. همدارنګه په دغه راپور کې له افغان جمهور رییس اشرف غني سره د سیګار د مرکې یو ټرانسکرپټ (متن) هم شته. د راپور ورکولو د دې دورې پرمهال، سیګار 17 تفتیشونه، پلټنې، خبرتیایي لیکونه، او نور راپورونه چې د افغان امنیتي ځواکونو د جوړونې په برخه کې د متحده ایالاتو هڅې ارزوي، حکومتولۍ ته وده ورکوي، او اقتصادي او ټولنیز پرمختګ ته لاره هواروي، خپاره کړل. دغو راپورونو د نه مسؤلیت منلې، د پلان جوړونې په برخه کې د ناکامیو، او د تعمیراتي عیبونو په شمول یو شمېر ستونزې په ګوته کړې. د سیګار له څېړنیز کار څخه د متحده ایالاتو حکومت ته په لګښتونو کې نژدې 150.4 میلیونه ډالر وسپمېدل. همدارنګه د سیګار د څېړنې په نتیجه کې دوه نیونې، پنځه جنايي تورونه، اوه محکومیتونه، او نهه محاکمې ترسره شول. سربېره پر دې، سیګار 18 افراد او 12 شرکتونه د هغو تورونو په اساس چې هغوی په قراردادونو کې په جعلکارۍ او نه اجرأتو باندې تورن ول د ځنډونې یا پرې بندونې له پاره معرفي کړل.**

# د سیګار عمومي کتنه

## تفتیشونه

سیګار درې خبرتیایي لیکونه، دوه د اجرأتو تفتیشونه، شپږ مالي تفتیشونه، او یوه پلټنه صادر کړل.

**خبرتیایي لیکونو** بحث وکړ:

- په براون کمپ کې د قوماندې او کنټرول د یوه مرکز د برخلیک په هکله، او همدارنګه د سرې هوا پر وخت د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو د ژمنیو کالیو د سخت کموالي په هکله اندېښنې څرګندې کړې. (سیګار یو غیرمحرم او یو محرم لیک صادر کړل)

د اجرأتو تفتیشونو **موندل چې**:

- د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کمېشنرۍ او د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت نشي کولی چې د افغان کډوالو هغه شمېر په خپلواک ډول تایید کړي چې پاکستاني او ایراني حکومتونو ورکړی دی، او دا چې له نړیوالي مرستي سره سره د افغانستان د کډوالو او راستنېدنې وزارت ظرفیت د خپلو مسؤلیتونو د ترسره کولو په برخه کې محدود دی. همدارنګه د تفتیشونو او پلټنو ریاست د دې درې میاشتنۍ مودې پر وخت درې توصیوي لیکونه خپاره کړل.
- د متحده ایالاتو د دفاع وزارت د هغو 470 میلیونه ډالرو له لګښتونو سره سره چې د افغان محلي پولیسو په حمایه یې لګولي دي، افغان محلي پولیس د لوجیستیکي حمایې، څارنې، او داسې یوه پلان له نشتوالي سره مخامخ دي چې آیا دغه ځواک منحل کړای شي که له افغان ملي پولیسو سره یوځای کړای شي.

**مالي تفتیشونو** د داخلي کنټرول د عیبونو او نه تطابق په نتیجه کې له 1.2 میلیونه ډالرو څخه ډېر د تر پوښتنې لاندې لګښتونو په توګه په ګوته کړل. په دغو عیبونو کې د نورو شیانو ترڅنګ د سیالۍ له لارې د مراحلو په تعقیبولو کې پاتې راتګ، له محدودو او مشخصو منابعو څخه د موادو پېرودنه، د اسعارو د نامناسبو قیمتونو د کارونې له امله اضافي لګښتونه لګول، د شویو لګښتونو د حمایه کولو له پاره د کافي اندازه اسنادو نشتوالی، او د غیرقانوني مالیاتي جریمو او جبرانونو په نامه د بېلونو صادرول شامل ول.

د متحده ایالاتو له خوا د یوه تمویل شوي **مرکز د پلټنې راپور** وموندله چې:

- په داسې حال کې چې د برېښنا د تولید د دستګاه یوه پروژه په بودجه کې دننه بشپړه شوه او د قرارداد د اجرأتو معیارونه یې پوره کړل، د برېښنا دستګاه ونه ازمویل شوه اوله بشپړتیا څخه یې له 18 میاشتو څخه ډېر وروسته وخت پورې د چلښت وړ ګڼل کېده.

## نوې تفتیشونه او پلټنې

په دې درې میاشتنۍ موده کې، سیګار دوه نوي د اجرأتو تفتیشونه پیل کړل چې هغه به د قوماندان د چټک غبرګون د پروګرام مؤثرتیا او د لېجبسي د څېړنیزو د قراردادونو ورکړه، مدیریت، او اجرأت وارزوي. سیګار همدارنګه د افغان ملي اردو د ځکمنیو ځواکونو د قوماندانۍ، د ګارنیزیون د حمایوي یونټ، او د اردو د حمایوي قوماندانۍ؛ په کندهار کې د درېیمې افغان هوایي ډلګۍ د ځانګړي ماموریت د څانګې؛ په بلخ پوهنتون کې د ښځینه لیلیو؛ په پروان ولایت کې د سالنګ روغتون؛ او د بلخ د محبس د جوړونې پنځه نوې پلټنې پیل کړې.

* سیګار بنایي همدارنګه د هغو خپرونو او ناستو په هکله راپور ورکړي چې د 2015 د سپتمبر له 30 مې څخه وروسته د خپروني تر نېټې پورې پېښېږي.

## ځانګړې پروژې

د راپور ورکولو د دې دورې پرمهال، د ځانګړیو پروژو ادارې پنځه قلمه اسناد خپاره کړل چې دوه په کې بیاکتنې وې، دوه خبرتیایي لیکونه، او یو استعلام وو چې د لاندې هغو په شمول مسایل یې بیانول:

- د تره خېلو د برېښنا د لېږ استعمال شوې دستګاه په هکله د سیګار نور تحلیلونه چې د هغو اضافي اطلاعاتو په اساس یې کړي دي چې د متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیایي ادارې (USAID) او د افغانستان د برېښنا شرکت له خوا ورکول شوي دي.
- د متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیایي ادارې (USAID) له خوا د حمایه کېدونکیو روغتیایي مرکزونو د جغرافیوي کوارډینیټونو د اطلاعاتو او ارقامو د صحت په هکله په تېره ربعه کې د سیګار د استعلام لیک په ځواب کې د متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیایي ادارې (USAID) ځواب.
- له 630 میلیونه ډالرو څخه په لوړ قیمت وروستي تدارکات چې د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو له پاره پېرودل شوي دي.
- په هرات ولایت کې د متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیایي ادارې (USAID) له خوا د حمایه شویو 23 روغتیایي مرکزونو څخه د سیګار ساحوي پلټنې.
- د سوداګرۍ او ثبات د عملیاتو اړوند د ترځمکي لاندې ګازو د عملیاتو د پروژې له پاره د وظیفوي ځواک وروستی بیاکتنه.

## څېړنې

د راپور ورکولو د دورې پر وخت، د سیګار د څېړنو په نتیجه کې د متحده ایالاتو حکومت ته په لګښتونو کې 123.7 میلیونه ډالر وسپمول شول؛ د جریمو، خسارو یا تاوان اخیستنو، او استردادونو مبلغ په مجموعي توګه له 26.7 میلیونه ډالرو څخه ډېرشول. د جنایي څېړنو په نتیجه کې دوه کسان ونیول شول، پنځه جنایي اتهامات ولګول شول، اوه محکومیتونه رامنځته شول، او نهه محاکمې وشوې. سیګار 18 نوې څېړنې پیل کړې او 22 نورې یې بندې کړې، او په دې توګه یې د ټولو روانو څېړنو شمېر 306 ته ورساوه. د سیګار له څېړنو څخه ترلاسه شوې سپماوې په مجموعي توګه له 944.5 میلیونه ډالرو څخه ډېرې شوې. د سیګار د تعویق او مخنیوې پروګرام 18 اشخاص او 12 شرکتونه د قراردادونو له ترلاسه کولو څخه تعویق یا ځنډونو ته معرفي کړل.

**د څېړنو مهم ټکي** مشتمل وو پر دې چې:

- یوه فدرالي قاضي د رشوت او د ټېلو د غلا د دسیسې د څېړنې په نتیجه کې سختې سزاګانې ورکړې.
- د یوې څېړنې په نتیجه کې چې دا تورونه یې تاییدول چې یوه قراردادي یوه جعلي مناقصه وړاندې کړې وه د متحده ایالاتو حکومت ته 116 میلیونه ډالر وسپمول شول.
- د هوایي ځواک یو پخوانی افسر له دې امله محاکمه کړای شو چې د ډېرو غټو دروغو بیان یې ورکړی وو، او له استخدام څخه د وروسته وخت په خبرو اترو او څرګندېدلو باندې له لګېدلې محدودیت څخه یې سرغړونه کړې وه.
- د متحده ایالاتو د سمندري ځواک دوه احتیاطي غړو سره له دې امله د امیرالبحر له خوا د سمندري انضباط چلند وشو چې پلچک تـه‌ـد نه لاسرسي سیستمونو په قراردادونو کې د هغوی د ښکېلتیا له امله هغوی له خپلو وظایفو څخه غفلت کړی وو.
- د متحده ایالاتو دوه نظامیانو د رشوت په اخیستنه باندې اعتراف وکړ.
- د قراردادونو یوه افسر دا تورونه په ځان ومنل چې د یوه فدرالي تفتیش مخه یې نیولې وه.
- یوه څېړنه او خپلواک یا مستقل تفتیشونه د دې سبب وګرځېدل چې یو پروګرام فسخه شي او د متحده ایالاتو حکومت ته 7.4 میلیونه ډالر وسپمول شي.
- د متحده ایالاتو یو قراردادي د رشوت اخیستنې له یوې څېړنې څخه وروسته مجرم وګڼل شو.
- د متحده ایالاتو د پوځ یو پخوانی غړی وروسته له هغه محاکمه کړای شو چې له یوه حکومتي چارواکي څخه په رشوت اخیستنه باندې یې اعتراف وکړ.
- د متحده ایالاتو د پوځ د احتیاطو یوه غړي د ډېرو نغدو پیسو په قاچاق او د حکومتي شتمنۍ په غلا کولو اعتراف وکړ.
- د متحده ایالاتو د پوځ یو غړی د شیرینۍ د ترلاسه کولو له امله محاکمه کړای شو.

# د محتویاتو فهرست



## برخه 1


### 1 د افغانستان جمهور رییس سره مرکه
7 درې میاشتني مهم ټکي: ډاکټرمحمد اشرف غني




## برخه 2


### 17 د سیګار څارنه
20 تفتیشونه
36 پلټنې
38 ځانګړې پروژې
42 زده شوي درسونه
44 څېړنې
46 درې میاشتني مهم ټکي: د سیګارمرستندوی مستقیم لین
52 درې میاشتني مهم ټکي: فدرالي قاضي د رشوت او د تېلو د غلا د دسیسې د څېړنې په نتیجه کې سختې سزاګانې ورکړې
57 په دې ربع کې د سیګار د نظارت نور فعالیتونه
61 د سیګار بودجه
61 د سیګار پرسونل




## برخه 3


### 63 د بیا رغونې نوې وضعیت
68 د مالي وجوهو وضعیت
84 امنیت
87 درې میاشتني مهم ټکي: له کندوز څخه وروسته: د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو ارزونه
130 حکومتولي
160 اقتصادي او ټولنیزه پرمختیا

# د محتویاتو فهرست



## برخه 4


**193 د نورو ادارو څارنه**
196 بشپړشوي نظارتی فعالیتونه
199 د څارني روان فعالیتونه


## ضمیمی او پایلیکونه


206 ضمیمه A: د قانون پربنسټ د راپور ارزونه
212 ضمیمه B: د افغانستان د بیارغوني له پاره د متحده ایالاتو مرستي
214 ضمیمه C: د سیگار لیکلي مواد
218 ضمیمه D: د سیگار څېړني او مستقیم لین
225 ضمیمه E: مخففات
231 پایلیکونه

"که څه هم چې مونږ له وېرووونکيو خنډونو سره مخامخ يو، خو مونږ فرصتونه هم په مخکې وينو. هغه تر ټولو ډېره تشويقوونکې نښه چې مونږ په څه وخت کې لرله دا ده چې په افغانستان کې د 2014 دوامدارو او جنجالي انتخاباتو بالاخره او له تاوتريخوالي څخه پرته يو د ملي وحدت حکومت رامنځته کړ چې داسې ښکاري چې کار کوي. د جمهور رييس اشرف غني او اجرائيه رييس عبدالله عبدالله رهبري زما له پاره هڅوونکې ده."

*— ځانګړی عمومي مفتش جان ايف سوپکو*

سرچينه: سيګار، "په رايل يونايټډ سروېسز انستيټيوټ کې د وړاندې کولو له پاره د جان اېف سوپکو چمتو کړای شوې څرګندونې"، لندن، د سپتمبر 22 مه، 2015

# 1
# د افغانستان جمهور رییس سره مرکه



# د مرکې محتويات


له جمهور رييس غني سره مرکه 3

درې مياشتني مهم ټکي: ډاکټرمحمد اشرف غني 7


**د تېرمخ عکس**

د سيګار د تحقيق او تحليلونو رييسه، ډيبرا سکروګينز، په کابل کې د جمهوري رياست په ماڼۍ کې له جمهور رييس اشرف غني سره مرکه کوي، سپتمبر، 2015. (د سيګارعکس چې ستيون موکسري اخيستی دی)

# له جمهور رییس غني سره مرکه

سیگار د متحده *ایالاتو کانگرس* ته په خپل، د 2013 د جنوری *دری میاشتنی*، راپور کې اوه مهمې پوښتنې وړاندې کړې څو هغو پالیسي جوړونکیو ته، چې په افغانستان کې د بیا رغونې رواني او راتلونکې پروژې ارزوي، لاره وښيي. د پوښتنو له پیل سره نژدې یوه پوښتنه داسې شوې وه چې: آیا افغانان یوه مشخصه پروژه غواړي او اړتیا ورته لري؟ د متحده ایالاتو له خوا له حمایه کېدونکې بیارغونې سره د افغانانو د ملاتړ معلوملو په لړ کې، د سیگار د تحقیق او تحلیل رییسې، ډیبرا سکروگینز، د 2015 د سپتمبر پر 7مه، په کابل کې د جمهوري ریاست په ارگ مانۍ کې له جمهور رییس اشرف غني سره مرکه کړې ده. د هغوی دغه خبرې اترې د جیگیوړو چاراواکو له مجلس (SOM) څخه چې د ټوکیو د دوه اړخیزې مسؤلیت منني د چوکاټ د بیا تازه کولو په موخه ترسره شو او له افغانستان سره د نړیوالو مرستو په هکله په لاربښوونو باندې هوکړه وشوه یوه ورځ وروسته او د طالبانو له خوا د سپتمبر پر 28مه د کندوز د ولایتي مرکز له موقتي نیونې څخه، چې د حکومت له پاره یې لوی سرخوړی جوړ کړ، څو اونۍ مخکې وشوې. د هغوی د خبرو اترو یو اېډېټ شوی ټرانسکرپټ (متن) په لاندې ډول دی.

**سیگار:** *که راته ووایئ چې د جیگیوړو چاراواکو په مجلس کې د افغانستان او د نړیوالې ټولنې له خوا څه نوې ژمنې وشوې؟*

**جمهور رییس غني:** تر ټولو لومړی، مخکې له دې چې مونږ پیل وکړو، اجازه راکړئ چې هغو امریکایي نارینه او ښځینه کارمندانو ته د درناوي مراتب وړاندې کړم چې تر ټولو لوړه قرباني یې ورکړه. له متحده ایالاتو سره زمونږ اړیکه د یوه اساسي مشارکت په ډول ده. دغه اړیکه د وینې، او په شتمنیو کې د پراخې پانگونې په واسطه سره پیېل شوې ده. او مونږ یو گډ سفر او یو منزل په مخکې لرو. همدارنگه ملکیان: د هغو امریکایي ملکیانو شمېر ډېر زیات دی چې بیا یې هم د خپل ژوند په قیمت لوړه بیه پرې کړې ده. نو، هیله ده چې د یوه ملت، یوه دولت، او یوه جمهور رییس ژوره خواخوږي، او درناوی هغو کورنیو ته ورسوئ چې زه مطمئن یم چې هغوی لکه چې معمول ده لا تر اوسه پورې په ویر اخته دي.

خو زه هیله لرم چې د وخت په تېرېدلو سره دا ټپونه ورغېږي او هغه څه چې مونږ او د جیگیوړو چاراواکو مجلس ورته ژمن یو دا دي چې د داسې تاسیساتو، پروسو، او سیستمونو د جوړولو له لارې هغو قربانیو ته درناوی وکړو څو داسې یو انتقال رامنځته کړای شي چې متحده ایالاتو ورته لومړی اروپا، او بیا شمال ختیځې اسیا ته په راوستلو کې رول درلود. یو ځوک باید دا وریاده کړې چې په تېر وخت کې د متحده ایالاتو مرسته د بریالیتوب ډېر درسونه لري چې مونږ باید تر ې په روانو ننگونو یا چیلنجونو کې استفاده وکړو، چې څنگه مونږ په شریکه سره کار وکړو.



**د افغانستان بیرغ** په کابل کې د جمهوري ریاست د ارگ د مانۍ په سر رپېږي. (د متحده ایالاتو د دفاع د وزارت عکس، چې چیری کولین اخیستی دی)

# له افغان جمهور رييس سره مرکه

د افغانستان په برخه کې، زمونږ لوی پیغام [د جیګپوړو چارواکو مجلس] ته دا وو چې مونږ داسې یو حکومت یو چې کولی شو چې د شتمنیو او مسؤلیتونو یوه شرحه یا بیلانس شیټ جوړکړو. دا په دې معنی چې، له هغه څه سره چې مونږ ته په میراث را پاتې دي او زمونږ له ننګونو، زمونږ ستونزو، زمونږ محدودیتونو، زمونږ خنډونو سره به په صداقت، سیستماتیک ډول او په طریقې سره چلند کیږي. کله چې خبره اصلاحاتو یا ریفورمونو ته راځي، مونږ به یې رهبري، بیان، طرحه، او تطبیق کړو، ځکه چې دا مونږ یو چې باید د پروسې مالکان اوسو. څو زمونږ خبرې اترې په پراخه کچه ګټورې اوسي ځکه چې هغه د یوه کاڼه یا داسې چا خبرې اترې نه دي چې دوه اړخیز نه پوهاوی ولري.

د تیرو کالونو په مقایسه، زه فکر کوم هغه څه چې د جیګپوړو چارواکو مجلس یې له نورو جلا کاوه د خبرو اترو تعمیري ځرنګوالی وو. د یو بل ملامتولو لوبه نشته، ځکه چې مونږ به د افغان حکومت په توګه د یو بل ملامتولو په لوبه کې ښکیل نشو، او کله چې داسې وي بیا دا د شریکانو له پاره اسانیږي چې له یو بل سره مرسته وکړي. او دغه حالت کاري روحیه پیاوړې کوي. مسئله دا وه چې مونږ د یوه ټیم یا ډلې [په توګه] وړاندې شوو، نه په انفرادي توګه. د اصلاحاتو یا ریفورمونو هڅه زما نه ده. دا د یوې ډیرې با کفایته کابینې، په [حکومت] کې د متعهدو نارینه وو او ښځینه وو د یوه ګروپ کار دی. زه دغه بهیر ته هڅونه، لارښوونه، او همغږي ورکوم، خو د کار پایښت له یوې داسې اجنډا څخه نه رامنځته کیږي چې هغه شخص محوره یا رهبر محوره وي. هغه باید ډیره پراخه، ډیره ژوره وي چې کار وکړي. او له دې امله زه له پخوا څخه د راپاتې د مسایلو په هکله ډیر نبغ په نبغه عمل کوم. که زه په دې چوکۍ دوه ورځې کار کوم که دوه دورې، هغه یوه محدوده دوره ده. هغه څه چې زمونږ په هکله به پرې حساب کیږي هغه څه دي چې مونږ به یې نورو ته د فرصتونو په برخه کې پریږدو نه د ستونزو. نو زمونږ اساسي تمرکزپه هغه باندې دی.

اقتصاد زمونږ له پاره د تمرکز یو لوی ټکی دی، او بیا هم، په اساسي توګه، زمونږ پیغام دا دی چې په خپل ځان باندې بسیا شو. حتی که مونږ تاوتریخوالی یا فساد یا فقرهم نه لرلی، زمونږ اقتصادي توازن، یا که په روښانه وویل شي، د اقتصاد نه توازن د بدمرغۍ سبب دی. کله چې تاسو د 400 میلیونو ډالرو صادرات ولرئ، او هلته له وارداتو سره له 8 میلیارده ډالرو څخه تر 12 میلیارده ډالرو پورې تشه موجوده وي، په ساده ډول تاسو داسې کار نشئ کولی. نو زمونږ پیغام دا دی چې خپل تولیدات ولرو. تاسو د افغانستان شتمنۍ را اخلئ، چې یو شمیر یې بیا هم د تیرو 14 کالو په موده کې د متحده ایالاتو او زمونږ د نورو شریکانو د سخاوتمندانه مرستې له لارې رامنځته شوي دي، خو له هغو څخه ګټه اخیستنه ډیره لږه ده. که تاسو زمونږ د تولید فکټورونه را واخلئ که هغه خلک دي، ځمکه ده، یا اوبه دي، یا ټرانسپورټ دی، هغه ډیر لږ دي. زمونږ د کانونو له سرچینو څخه، چې په نړۍ کې له ډیرو شتمنو سرچینو څخه شمیرل کیږي، هیڅ ګټه ترې نه ده اخیستل شوې.

نو د تولیداتو رامنځته کول کلیدي ښه والی رامنځته کوي، ځکه چې له تولیداتو څخه پرته، تاسو نشئ کولی چې وده اندازه کړئ، او تاسو نشئ کولی چې دا اندازه کړئ چې ایا هغه اساسي ده که په بېلابېلو وختونو کې پیښیږي. او دلته زمونږ پیغام دا دی چې د ودې استهلاک-تمویلونکي دوره پای ته رسیدلې ده. مونږ ضرورت لرو چې داسې یو تهیه کوونکی اقتصاد رامنځته کړو چې بیا هغه وکولی شي چې د پایښت د وړتیا د اساس په توګه کار وکړي. د دې له پاره چې مونږ د خپلو امنیتي ځواکونو تادیات برابر کړو، د دې له پاره چې مونږ د خپلو ښځو د پیاوړتیا له پاره تادیات برابر کړو، د دې له پاره چې مونږ خپل بچیان په ښوونځیو کې شامل کړای شو، او داسې نور... او دا په دې معنی چې مونږ باید داسې تګلارې په مخکې ونیسو چې له هغو څخه مونږ لاسته راوړنې ولرو. نو بیا پوښتنه داسې کیږي چې: هغه واحد څه دی چې هغه اقتصاد ته حرکت ورکوي؟ او هغه واحد چې هغه اقتصاد ته حرکت ورکوي هغه تجارتي تاسیسات دي، تجارتي موسسې او تصدۍ دي. هغه افراد نه دي. په افغانستان کې مشخصې سوداګرۍ فوق العاده ښه نتایج ورکوي. ځکه چې مونږ د وروښمو د لارې د میراث لرونکیو په توګه،

# له افغان جمهور رييس سره مرکه

تاسو پوهېږئ، مونږ د شبکو جوړوني له لارې وده مومو، خو دا هغه څه نه دي چې توليدات رامنځته کوي. مونږ بايد د تصديو په جوړونه باندې تمرکز وکړو، ځکه چې سيالي يا رقابت ستاسو د سوداګريزو تاسيساتو په اساس کيږي. تجارتي کمپنۍ په يوه سيمه ييز اقتصاد کې، په يوه ملي اقتصاد کې، او په يوه نړيوال اقتصاد کې يو له بل سره سيالي کوي.

کله چې زه د ماليې وزير وم، ما د مخابراتو د سکتور په رامنځته کولو کې فعال رول ولوباوه. مونږ 100 موبايل فونونه لرل، اوس مونږ 22 ميليونه لرو. ولې؟ ځکه چې د لوبې نقشونه ډېر روښانه ول. لومړی مونږ دوه جوازونه صادر کړل، درې کاله وروسته مو دوه نورجوازونه صادر کړل څو د ګټورتيا په هکله اطمينان ترلاسه شي. خصوصي سکتور بايد پيسې، قانوني پيسې، ترلاسه کړي. ګټه اخيستونکي ضرورت لري چې اعتباري خدمتونه ترلاسه کړي او هغه خدمتونه بايد ارزان وي، نه دا چې ډېر قيمته وي، او له سيالۍ پرته، مونږ نشو کولی چې دا کار وکړو. اوحکومت بايد ماليه ترلاسه کړي. دغه ټول د مخابراتو په سکتور کې وشول. مونږ څلور شرکتونه لرو. تر ټولو کوچنی يې اټکل 500 ميليونه ډالر ارزښت لري، لوی يې له 1 بيليون ډالرو څخه ډېر ارزښت لري. دا هغه څه دي چې اوس مونږ غواړو چې په يو شمېر نورو مهمو سکتورونو کې يې هم تطبيق کړو څو مونږ يقيني کړو چې بدلون رامنځته شوی دی، په دې معنی چې سکتورونه بدلون مومي او دا چې تاسو کولی شئ چې سيالي وکړئ او د نوي ډول وظيفې رامنځته کړئ ځکه چې د هېواد هر وګړی بايد په ځان باندې د مالياتو ورکړه ومني. که څوک ماليات نه ورکوي، د دې معنی دا ده چې هغه په حکومت او دولت کې خپل استازيتوب نه غواړي. خو مونږ له مالياتو څخه پرته استازيتوب لرو، دا د [واشنګټن] ډي سي د شعار سرچپه کار دی! ځکه چې بيا، تاسو پوهېږئ، کله چې مرسته په سخاوتمندانه توګه ورکړای شوه، دغه حالت لازميت کمزوری کړ، او اوس بايد مونږ مطمئنه کړو چې د مالياتو تاديات او استازيتوب دواړه سره خوا په خوا پرمخ ځي.

**سيګار:** *او ايا تاسو د هغه له پاره يو پلان لرئ؟*

**جمهور رييس غني:** بالکل، هو، يو ډېر مفصل پلان چې څنګه خپله بودجه تنظيم کړو. نو زمونږ درېيم پيغام دا وو چې، زمونږ بودجه د جوړښتونو يوه له لاندې څخه پورته سلسله وه، چې هيڅچا هم بل ته "نه" نه ويل، او دا چې هغوی کولی شوای [پخپله بودجه کې شامل فنډونه] ولګوي. د ځمکې پرمخ له 100 څخه ډېر هېوادونه داسې دي چې نشي کولی چې [خپله ټوله بودجه] ولګوي. دې نوم نه درلود، نو ما ورباندې نوم کېښود، ما د لګښتونو د محدوديت په نامه ونوماوه. او په متحده اياﻻتو کې هم داسې اداري شته چې د پيسو د لګولو په برخه کې په نه وړتيا باندې مشهورې دي، چې دا په دواړو هم په فدرالي سطحه شته او هم په اياﻟتي سطحه. نو د حل لاره يوازې دا نه ده چې يو څوک دې وکولی شي چې پيسې ترلاسه کړي. يو څوک بايد دا وړتيا ولري چې ويې لګوي، او په صحيح توګه يې وکاروي، چې د دې معنی دا ده چې لومړيتوبونه بايد په ډېر روښانه ډول څرګند کړای شي ځکه چې پيسې همېشه محدودې وي، حتی که يو هېواد شتمن هم وي.

نو بيا بايد چې تاسو روښانه لومړيتوبونه ولرئ، او روښانه لومړيتوبونه بايد د پاليسۍ له يوې داسې تګلارې څخه را اخيستل شوي وي چې هغه کولی شي لومړيتوبونه وټاکي. له دې امله، په افغانستان کې جمهوري رياست له يوې شخص محوره موسسې څخه د شوراګانو په يوه سلسله باندې اوړي. هغه څه چې په متحده اياﻻتو کې له دويمې نړيوالې جګړې څخه تر وروستيو وختونو پورې د جمهوري رياست د موسساتو په جوړونه کې وشول، د ملي امنيت [شورا] څنګه جوړه شوه، او د ملي اقتصاد شورا او نور څنګه رامنځته شول، دا ټول مونږ په يو وخت کوو. او دا به مونږ ته اجازه راکړي چې تمرکز وکړو او بيا لومړيتوبونه وټاکو، او په دې توګه به هغه ترسره شي. او همدارنګه، تمرکز کېدای شي چې د سيستمونو او پروسو په جوړونو باندې وشي.



**په پکتيکا ولايت** کې دا د موبايل **فونونو پلورونکي** د افغانستان د مخ پر ودې مخابراتي سکتور يوه برخه دي.
(عکس انډريا هيل د افغانستان مټرز له پاره اخيستی دی چې ويکي ميډيا کامنز خپور کړی دی)

زه کولی شم چې مخکې لاړ شم، خو د دې له پاره چې وروستی برخې ته ورسېږو: د فقر له منځه وړل د کاري فرصتونو رامنځته کولو ته ضرورت لري، او [په متحده ایالاتو کې په 1930م کلونو کې] د نوې معاملې تر ټولو لوی درس کاري فرصتونه وو، ځکه چې د حکومت له نقش څخه پرته، په دې وخت کې د داسې یوې همزمانه بستې څخه، چې کولی شي کاري فرصتونه رامنځته کړي، پرته، په نورو برخو کې زمونږ لاسته راوړنې به له خطر سره مخامخ شي.

او کله چې تاسو اصلاحات یا ریفورمونه کوئ، [تاسو پوهېږئ]: هغه څوک چې ګټه اخلي، هغوی په منځنی دوره کې ګټه اخلي. خو هغوی چې څه له لاسه ورکوي، هغوی یې په لنډه موده کې له لاسه ورکوي. او په داسې سیستمونوکې چې هغه فاسد وي، یا د واسطو او رابطو په طریقه کار کوي، یا په کوم بل ډول تر انحصار لاندې وي هلته له لاسه ورکوونکې ډېر وي. اکثریت د تغیر هیله لري، خو د هغوی غږ کمزوری دی. نو هغه څه چې مونږ اړتیا لرو چې اطمینان پرې ترلاسه کړو دا دی چې په دې پروسه کې، درې ډوله اکثریتونه چې له اقتصادي او سیاسي پلوه اقلیتونه دي په واقعي توګه زمونږ د تمرکز ټکي جوړوي چې هغه ښځې، ځوانان، او غریبان دي. ځکه دا هغه خلک دي چې د ثبات، قانونیت، او نېکمرغی د رامنځته کولو اطمینان ورکوي. او په هغو اکثریتونو، د هغوی په ښکاره اړتیاوو، او هیلو او په هغو ستونزو باندې چې هغوی ورسره مخامخ دي له تمرکز څخه پرته، یو څوک نشي کولی چې د وګړو ترمنځ اساسي اړیکې جوړې کړي.

**سیګار:** *که کولی شئ په دې هکله لږې خبرې وکړئ چې د متحده ایالاتو له خوا د تمویل شوې بیا رغونې د هڅو بریالیتوبونه او ناکامی څه ول؟*

**جمهور رییس غني:** ښه، لومړی، د افغانستان له پاره یو موډل موجود نه وو.

**سیګار:** *هغه څنګه وې؟*

**جمهور رییس غني:** متحده ایالاتو د هرې پېښې له پاره پلانونه لرل. تاسو پوهېږئ، پینټاګون د هرممکن تهدید له پاره پلانونه لري. له افغانستان څه د یوه منشأ اخیستونکي تهدید په وړاندې پلان نه وو موجود. دا [د سپتمبر د 11مې حملې] تقریبا په فکر کې نه راتللې. تاسو پوهېږئ کله چې تاسو خبرې کوئ، لکه ما چې په اروپا کې امنیتي کارپوهانو ته وکړې؛ زما اوس هم په یاد دي، تاسو پوهېږئ، له هغو روښانه تصاویرو څخه یو دا وو: چې د [نیویارک] د ښاروالی د 2002 د مشورتي بورډ یوه ډېر وتلې غړې راته په مکرر ډول ویل چې، مونږ داسې نه وه ګڼلې، او بیا هم هغه کیسه په پام کې نه راتله. نو هلته، کله چې تاسو له یوه استثنایي ناورین سره مخامخ کېږئ، لومړی کار چې باید وشي هغه مدیریت دی، ځکه چې هغه د یوه سیستماتیک [پلان] برخه نشي کېدلی. دویمه دا چې، د متحده ایالاتو له مرستې څخه پرته، مونږ چېرته وو او مونږ چېرته یو، دغه پلاټفورم نشوای رامنځته کېدلی.

نو، لومړی، بریالیتوب څخه دی؟ افغانستان وسله وال ځواکونه نه لرل. زمونږ ټول پوځي او پولیسي تاسیسات په بشپړ ډول ویجاړ شوي ول. په 2000 کال کې په دفاع وزارت کې – زه د 2001 کال په پای کې، له 26 کالونو څخه وروسته راستون شوم، او زه ډېر ژر د ملي امنیت مشاور او د ملي اقتصاد مشاور شوم، او بیا د 2002 په جون کې د مالیې وزیر شوم – هیڅ وزارت چوکی نه لرلې. زمونږ په دفاع وزارت کې، هیڅ شی هم نه ول. هیڅ یو پوځي بارک اسانتیاوې نه لرلې.

# ډاکټر محمد اشرف غني

محمد اشرف غني په 1949 کال د افغانستان په لوګر ولایت کې زیږیدلی دی. هغه خپلې لومړنی او ثانوي زده کړې په کابل کې، چې هلته د هغه پلار د محمد ظاهرشاه په واکمنی کې یو جیګپوړی چارواکی وو، بشپړې کړې. په 1973 کال، هغه د بیروت له امریکایي پوهنتون څخه خپله لیسانس دګري ترلاسه کړه. وروسته له هغه چې نوموړي په کولمبیا پوهنتون کې د زده کړو له پاره یو حکومتي سکالرشپ ترلاسه کړ په 1977 کال هغه نیویارک ته لاړ. کله چې د شوروي اتحاد پلوي ځواکونه په 1978 کال واک ته ورسېدل، د هغه د کورنی اکثر نارینه غړي زنداني شول او نوموړی په متحده ایالاتو کې ایسار شو.

وروسته له هغه چې نوموړي په 1983 کال په کولمبیا کې په انسان پوهنه کې دوکتورا ترلاسه کړه، هغه ته بلنه ورکول شوه چې په کلیفورنیا پوهنتون، بیرکلي، او بیا په جان هاپکینس پوهنتون کې تدریس وکړي. په 1991 کال، غني له نړیوال بانک سره د سرانسان پوه په توګه کار پیل کړ چې د اقتصادي پروګرامونو د انساني یا بشري بعد په هکله به یې مشوري ورکولې. هغه 11 کاله کار وکړ، چې لومړی یې په ختیځه اسیا کې په پروژو باندي کار کاوه، خو د وخت په تېرېدلو سره یې د بانک د اجتماعي پالیسی په هکله مشورې ورکولې، چې د هیوادونو په ستراتیژیو او شرایطو باندي به یې بیاکتني کولې، او د اصلاحاتو پروګرامونه به یې طرحه کول.

په 2001 کال د طالبانو د واکمنی له نسکورېدلو څخه وروسته، له غني څخه غوښتنه وشوه چې د افغانستان له پاره د ملګرو ملتونو د عمومي منشي د ځانګړي استازي لخدار براهیمي د ځانګړي مشاور په توګه کار وکړي. په هغه موقف، غني بیرته افغانستان ته راستون شو او د بن د تړون په طرحه کولو، مذاکره، او تطبیق باندي یې کار وکړ، چې دغه کار د یوې عمومي هوکړې په اساس یوه نوي حکومت ته انتقال ته لاره هواره کړه. په 2002 کال جمهور رییس حامد کرزي هغه د مالیې د وزیر په توګه وټاکه.

د مالیې د وزیر په توګه د کار کولو پر وخت، غني نوې پیسې را واېستلې؛ د خزانې کمپیوټري عملیات یې رامنځته کړل؛ د خزانې له پاره یې یو واحد حساب تاسیس کړ؛ د نه کسر مالي پالیسي یې جوړه کړه؛ بودجه یې د پالیسی د مرکزي وسیلې په توګه معرفي کړه؛ عواید یې مرکزي کړل؛ د تعرفي سیستم یې اصلاح کړ او په ګمرکاتو یې بیا له سره کتنه وکړه؛ او کابینې، د افغانستان خلکو، او نړیوالو شریکانو ته یې د شفافیت او حساب ورکووني د یوې وسیلې په توګه په منظمه توګه راپور ورکول رامنځته کړل.

په 2004 کال کې د جمهور رییس غني له ټاکل کېدلو څخه وروسته، غني د کابل پوهنتون د رییس په توګه وټاکل شو. په 2005 کال، هغه له یوه بل شخص سره په ګډه د دولت د مؤثرتیا له پاره انستیټیوټ (Institute for State Effectiveness) تاسیس کړ، چې د دغې موسسې هدف دا وو چې له حکومتونو او د هغوی له نړیوالو شریکانو سره مرسته وکړي چې د حکومت لا ډېر مؤثر او حساب ورکوونکي سیستمونه جوړ کړي. په 2008 کال هغه له بل کس سره په ګډه د ناکامو دولتونو جوړول (*Fixing Failed States*) کتاب ولیکه. دا د یوه داسي چوکاټ په هکله وو چې د ماتې شوې نړی بیا رغونه یې تشریح کوله.




**جمهور رییس غني** د 2014 په ډسمبر کې په لندن کې د مرستندویانو په کانفرانس کې د افغانستان د اصلاحاتو نوی پلان وړاندي کړ. (د برتانیا د نړیوالي پرمختیایي اداري له خوا اخیستل شوی عکس)

په 2009 کال، غني د جمهوري ریاست د ترلاسه کولو مقابلې ته ووت، چې ځلورم ځای یې ونیو. په 2010 کال، نوموړي د انتقال د همغږی د کمېسیون د مشر په توګه خدمت وکړ، چې مسؤلیت یې دا وو چې واک د امنیت د مرستندوی نړیوال ځواک (ایساف) له عسکرو څخه افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو ته ولیږدوي.

په 2014 کال غني بیا د جمهوري ریاست د ترلاسه کولو له پاره مقابلې ته ووت. یوه کاندید هم له 50% څخه ډېري رایې ترلاسه نه کړې، له دې امله د هغه او د هغه د نژدې سیال، د بهرنیو چارو پخواني وزیرعبدالله عبدالله، ترمنځ دویم ځل انتخابات وشول. د سپتمبر پر 22مه، غني د 55.27% رایو په کټلو سره د ډېرو جنجالي انتخاباتو ګټونکی اعلان شو. د 2014 د سپتمبر پر 29مه، هغه د جمهور رییس په توګه سوګند پورته کړ، په داسي حال کې چې عبدالله د ملي وحدت د نوي حکومت د اجرائیه رییس په توګه سوګند پورته کړ.

# له افغان جمهور رییس سره مرکه

**سیګار:** *او اوس؟*

**جمهور رییس غني:** او اوس مونږ 345,000 پرسونل لرونکي امنیتي ځواکونه لرو. په دې کې شپږ قول اردوګاني، او ورسره د مرکز فرقه شامل دي. له دې جملې څخه هره یوه داسې اسانتیاوې لري چې له سیمې سره په مقایسه کې د پام وړ دي. دا ټول مونږ ته متحده ایالاتو په سخاوتمندانه توګه راکړي دي. نورو مرسته کړې ده، خو په نسبي توګه، ډېره برخه [له متحده ایالاتو څخه] راځي. مونږ په کابل کې د امنیتي روزنې یوه اکاډمي لرو؛ د یوې برخې په جوړولو کې یې برتانیا مهرباني کړې ده، چې د برتانیا له سنډهرسټ نظامي اکاډمۍ سره ارتباط لري. په بل عبارت، دا بیا هم د داسې یوه سیستم په جوړولو کې یو بریالیتوب دی چې راتلونکي نسلونه به حمایه کړي، ځکه چې ټوله هغه روزنه چې ترسره کېږي هسې بې نظمه روزنه نه ده؛ هغه یوازې د نن ورځې له پاره نه ده. هغه د راتلونکیو نسلونو له پاره اساس جوړوي.

مونږ هېڅ تجهیزات نه لرل. پولیسو او اردو هېڅ وسلې نه لرلې. مونږ یوه اردو جوړه کړه، د افغان ملي اردو لومړۍ فرقه... او کله چې هغوی په کابل کې خپل لومړی رسم ګذشت وکړ، ښاریانو ژړل او هغوی یې په غېږو کې نیول... او په دې توګه د ثبات یو اساس کېښودل شو.

کله چې تاسو زمونږ ځانګړي ځواکونه وګورئ، هغوی په سیمه کې سارې نه لري. زه فکر کوم سړی دا له مبالغې څخه پرته ویلی شي، دا په دې معنی نه ده چې نور زړور یا روزل شوي نه دي، بلکه له دې امله چې زمونږ په ترټولو ښه طریقه، یعنې د متحده ایالاتو د ځانګړیو ځواکونو په طریقه روزل کېږي، او له دې امله چې مونږ، بدبختانه، د سخت جنګ تجربه لرله. نو نن زمونږ وسله وال ځواکونه د دغې ملګرتیا یوه ښه لاسته راوړنه ده. وګورئ، تېر کال همدا وخت، هر، تقریبا هر کارپوه داسې وړاندوینه کوله چې افغان امنیتي ځواکونه به ونشي کولی چې د 100,000 ناټو ایساف عسکرو وتل وزغمي. او البته هغو کارپوهانو دا خبره د یو شمېر نورو ځایونو، لکه عراق په مثال راوړلو سره ثابتوله، خو افغان امنیتي ځواکونو د سختو ګواښونو په وړاندې د دې هېواد له بشپړتیا، خپلواکۍ او واکمنۍ څخه دفاع وکړه. دا کار د هغې مهمې پانګونې له کبله څخه پرته ناشونی وو چې شوې ده.



**د افغان ملي اردو** عسکر د خوست ولایت په غرونو کې ګزمه کوي. (د متحده ایالاتو د اردو له خوا اخیستل شوی عکس)

**سیګار:** *د ناکامیو په هکله څنګه؟ د بیا رغونې د دغو هڅو یو شمېر ناکامۍ څه وې؟*

**جمهور رییس غني:** ناکامۍ غیرارادي وې. هغه د وخت تر فشار لاندې کار کولو څخه رامنځته شوې. پوځي ښکېلتیا مشروطه وه؛ جمهور رییس اوباما، د متحده ایالاتو د اعلی سرقوماندان په توګه، ډېر په پام سره د ښکېلتیا سرحدونه تعین کړل. او له لوجیستیکي پلوه د متحده ایالاتو اردو تقریبا یوه معجزه وکړه. د تأمیناتو د زنځیر د مدیریت په برخه کې، دا، زه فکر کوم، چې په راتلونکیو لسیزو کې به دا د قضیې په څېړنه باندې واوړي، او دا د هغې چټکتیا له امله چې په هغې کې هغه څېړه، تاسو پوهېږئ، په [2009] کال کې د عسکرو شمېر زیات کړای شو، چې د تأمیناتو لارې او نور په کې شامل ول.

خو په ملکي اړخ کې، د عسکرو د شمېر ډېرولو ډېرې مختلفې نتیجې لرلې. ځکه چې د عسکرو د دغه ډول ډېرښت له پاره چمتووالی نه وو، د هغو د اجرا کولو له پاره اړتیاوړ مهارتونو ستونزې لرلې، نو هغه مسئله د پام وړ ارزونې ته اړتیا لري. د مثال په توګه، د متحده ایالاتو نړیوالې پرمختیایي ادارې

(USAID) پوره ارادې لرلې، خو دغې ادارې ظرفيت نه درلود ځکه چې په 1970مو، 80مو، او 90مو کې د هغې ټول ظرفيت په سيستماتيک ډول له منځه تللی وو، او هغه په داسې يوه موسسه باندې اوښتې وه چې کولی يې شوای چې قراردادونه تنظيم کړي، خو داسې نبغ په نبغه خوځښت يې ونه کړ چې پخوا يې کړی وو. او هغو پرېکړې خپلې پايلې لرلې: نو قيمتونه په ډېره اندازه پورته لاړل. په اوسط ډول، د متحده ايالاتو د نړيوالې پرمختايي ادارې (USAID) يو چارواکی په پروژو کې د لږ تر لږه 30 ميليونه ډالرو مسؤل وو. او دا په داسې يوه ځای کې د قراردادونو په مديريت او نورو برخو کې ننګونې يا چلينجونه ول چې هلته تاسيسات کمزوري او مالکيت کم وو. هغه په ملکي کارمندانو، سفارت، د متحده ايالاتو نړيوالې پرمختايي ادارې (USAID) او نورو باندې ډېر زيات بارونه واچول. دا ځکه چې مونږ له عاجلو حالتونو، د سيستم په سطحه تمرکز، پروسو، د پايښت وړتيا په وړاندې ولاړ وو – دا هغه مسايل ول چې په تېته کچه لومړيتوب يې درلود، او اوس مونږ په ډېر ځرګند ډول په هغو باندې تمرکز کوو.

**سيګار:** *د ښځو د پياوړتيا او هغوی ته په ټولنه کې د لا پراخ رول د ورکولو په برخه کې د لوېديځ د هڅو په هکله څه وايئ؟ آيا تاسو فکر کوئ چې هغه هدف ترسره شوی دی يا دا چې تاسو غواړئ چې کوم بل ډول تمرکز وکړئ؟*

**جمهور رييس غني:** تر ټولو مخکې، دا يو داسې ارزښت دی چې مونږ پرې بشپړ باور لرو. زمونږ له ښځو سره د 20 مې پېړۍ په پای کې د جنسيت په اساس توپيري چلند وشو. مونږ په دې هېواد کې د ښځو د پياوړي کولو يو اوږد تاريخ لرو او په تاريخ کې، په ځانګړې توګه په 20مه پېړۍ کې مونږ ډېرې پياوړې ښځې لرو. په 1960مو کې، هغه وخت چې زه په ښوونځي کې وم، ښځو خپل استادان، ډاکټران، انجنيران، او نور لرل. او په 1992 کې، هغه وخت چې د کمونستانو له خوا حمايه کېدونکې حکومت ناکام شو، په کابل پوهنتون کې اکثر استادانې او محصلينې ښځې وې. تر هغه وروسته يو ډېر قوي جنسيتي توپير رامنځته شو چې ښځې يې بېرته په شا وتمبولې. زمونږ ښځې د شراکت هيله لري، د شموليت هيله لري، او مخ پر وده روانې دي.

او بيا هم له کليدي لاسته راوړنو څخه يوه دا ده چې د ښځو په منځ کې يو ډېر لوی ظرفيت موجود دی. زه دا وياړ لرم چې د افغانستان سترې محکمې ته مې لومړنۍ ښځه ونوموله. له بده مرغه، هغې [په ولسي جرګه کې] د اتو رايو په کمې سره وبايلله. خو ما د ولايتونو د استيناف د محکمو له هر مشر سره مرکه وکړه، له 34 واړو سره؛ هغه په ټولو ډېره پياوړې وه. ما هغه ځکه ونه ټاکله چې هغه ښځه وه؛ ما هغه ونوموله ځکه چې هغه تر ټولو ډېره وړ وه. او اوس به مونږ په پراخه کچه کار وکړو چې ښځې په لوړو پستونو کې راشي؛ دا له دې امله نه چې هغوی ښځې دي، چې دا هم په خپل ځای مهمه ده، بلکه له دې امله چې هغوی له نورو سره سيالې دي...

هغه برخه چې زه غواړم چې هلته ډېر بدلون راشي هغه د ښځو د اقتصادي پياوړتيا برخه ده. د ښځو اقتصادي پياوړتيا د قراردادي مشاورينو له لارې نه راځي، ځکه چې د هغوی تشويقي ډېرې بل ډول دي. دلته مهمه دا ده چې يقينی شي چې د يوې ښځې کار له بې تاديې کار څخه د تاديې وړ کار ته بدل کړای شي؛ او د هغه ارزښت تغير وکړي، دا چې مونږ لومړی په هغو برخو باندې تمرکز وکړو چېرې چې ښځې له پخوا راهيسې په اقتصاد کې يو پراخ رول لري، خو هغوی څنګ ته پرېښودل شوې دي. د مثال په توګه، دلته د ګلونو او بوټو روزنه په مکمل ډول يو د ښځو فعاليت دی. د منسوجاتو اوبدل د ښځو کار وو. زرګري کېدی شوای – کېدی شوای، وه، خو کېدی شوای – چې ډېره مهمه ګرځېدلې وای. مونږ په دې برخو کې ډېر کمزوري وو. هلته ډېرې خبرې وې، ډېر ښايسته راپ او ښوی بروشرونه،



**د طالبانو پخواني** حکومت د ښوونې او روزنې په شمول د افغانانو په ژوند کې د ښځو ډېره برخه اخيستنه محدوده کړې وه. د 1950 مو په دې عکس کې، ښځې په کابل پوهنتون کې د بيولوجي په يوه ټولګي کې برخه اخلي. (د افغانستان د پلان جوړونې د وزارت عکس چې د ويکي ميډيا کامنز له لارې ترلاسه شوی دی)



**ښځې** په کابل کې د ښځو تر مالکیت لاندې فابریکه کې **سرتختۍ اوبي.** (د ناټو د افغانستان روزنيز ماموريت عکس، چې د متحده ایالاتو د سمندري ځواک غړې تورن روسيل ولکفيل اخيستی دی)

خو مهمه برخه نه. ټولې مرستې د ستاینې وړ دي، هیله ده چې زما خبره غلطه وانه خلئ، خو تمرکز باید .... یوازې د دې له پاره چې تاسو ته یوه تشریح درکول شي، که په متحده ایالاتو کې 40، 20 د سر لوی پلورنځي او د هغو سلسلې په پام کې ونیول شي کېدی شي چې دوه شیان ترې را واخیستل شي: د افغان ښځو له خوا د جوړې شوې یوې نښې (برانډ) لرونکې توکې په خرڅولو او هغه ته په انکشاف ورکولو او بازار موندلو کې له مونږ سره مرسته وکړئ. د بازار موندنې روابطو ته انکشاف ورکړئ؛ هغه به د نه باور وړ ښه نتیجه رامنځته کړي، او بیا به د هغو سلسلو د جوړولو له پاره مرسته په یوه چینل باندې واړول شي، څکه چې دغه ډول سلسله پایښت لري. خو که تاسو د نغدو پیسو یو انتقال ترسره کوئ یا، تاسو پوهېږئ، یو روزنیز کورس ترسره کوئ، هغه ټول په خپل ځای خپل ارزښت لري، خو له یوه سیستماتیک تمرکز څخه پرته، هغه کار نه ورکوي. او دا هغه ځای دی چېرې چې زه غواړم چې خبرې اترې پرې تمرکز وکړي. خو بیا هم مشخصه ده، څکه چې اوس مونږ لوستې، په مهارتونو پوهې او د سوداګرۍ په برخه کې وړتیا لرونکې ښځې لرو. افغانه ښځه یوه مدیریه ده څکه چې هغه همېشه دا وظیفه ولري چې ډېر سخت انتخابونه وکړي، [لکه دا چې] چا ته خواړه ورکړي.

**سیګار:** *تاسو د اداري فساد پرضد د جهاد غږ کړی دی. کولی شئ راته ووایئ چې ستاسو حکومت له اداري فساد سره د مبارزې په برخه کې څه کوي؟*

**جمهور رییس غني:** بالکل. تر ټولو مخکې، په دفتر کې د کار په دویمه ورځ، مونږ د کابل بانک مسئله راپورته کړه. د هغو افرادو په عادلانه قانوني تعقیب کې پاتې راتلل چې د کابل بانک د ناکامۍ سبب ګرځېدلي ول د حکومت د نه مؤثرتیا په یوه سمبول او د ژورو علاقه مندیو یو مخ او د حکومت له خوا په خپلو ستونزو د اعتراف نه کولو یومخ، او یو سمبول ګرځېدلی وو. اوس ټولې قانوني مرحلې بشپړې شوې دي، مونږ پیسې ترلاسه کوو – زه فکر کوم چې د سپماوو او پورونو د ورکړې په برخه کې په متحده ایالاتو، په مکسیکو، په پاکستان، او په نورو هېوادونو کې بحرانونه موجود ول – زه فکر کوم چې مونږ به په دې هکله په اطمینان ترلاسه کولو سره تاریخ جوړ کړو چې د خلکو پیسې بېرته را وایستل شي. مونږ له 228 میلیونو ډالرو څخه ډېر بېرته ترلاسه کړي دي چې له دې جملې څخه 50 میلیونه ډالر په وروستي وخت کې ترلاسه شول. او هغه په چټکۍ سره بشپړ شول، په شپږو میاشتو کې، د محکمې ټولې مرحلې له ابتدایه محکمې څخه نیولې تر سترې محکمې پورې بشپړې شوې، او اوس مونږ د بدو پورونو د راجمع کولو له پاره یو کمېسیون لرو.

دویمه مسئله د تدارکاتو، د قراردادونو وه. که تاسو د افغانستان د امنیت د انتقال د ګډې قوماندانۍ (CSTC-A) له قوماندان [تورن جنرال ټډ] سیمونایټ سره خبرې وکړئ [د مرکې د وخت خبره کوي] هغه به تاسو خبر کړي چې یوازې په امنیتي برخه کې، مونږ 500 میلیونه ډالر سپمولي دي. په دفاع وزارت کې، د خوړو، تأميناتو، او نورو برخو کې هر قرارداد بیا له سره کتل شوی دی. هره شنبه، زه د تدارکاتو د ملي شورا مشري کوم او اوس مونږ د افغانستان د امنیت د انتقال ګډې قوماندانۍ (CSTC-A) سره پوره موافقه لرو چې [کله چې ضروري وي]، مونږ د دغو قراردادونو په هکله د بیا خبرو اترو حکم کوو. مونږ په لسګونو میلیونه ډالر سپمولي دي او هغه هم په همدې برخه کې. خو اصلي خبره دا ده چې، اوس هر څه قانوني ښه غوره کوي څکه چې زمونږ د تدارکاتو د قانون ترټولو کوچنۍ

برخه هم تنفیذېږي. خلکو ته اجازه نه ورکول کیږي چې داسي پټ پټوني وکړي چې لومړی د یوې پروژې منظوري واخلي او بیا ووایي چې بودجه باید منظوره کړای شي. دا یوه قانوني پروسه ده، هغه سګنالونه لېږي، او تاسو کولی شئ وګورئ چې [تصادم] مخ په ښکته روان دی.

**سیګار:** *لوی څارنوال څنګه؟ تراوسه پورې تاسو یو لوی څارنوال نه دی مقرر کړی.*

**جمهور رییس غني:** پخوانی لوی څارنوال چې ډېر تورونه پرې لګېدلي ول، بدل شو. د اصلاحاتو ترتیب لومړی په امنیتي برخه کې وو. ما یوازې په دفاع وزارت کې 62 جنرالان تقاعد کړل. وروسته لس نور هم تقاعد کړای شول.

دویمه برخه د حکومتولی وه، څو وکولی شو چې یوه کابینه ولرو، او د کابینې په برخه کې، مونږ په دې بریالي شوو چې په بشپړ ډول یو نوی نسل راولو چې هم مهارتونه ولري، او هم رهبري، مدیریت، او ډله ییز کار یا ټیم ورک وکولی شي. بیا مونږ په ستره محکمه باندې تمرکز وکړ، ځکه چې اوس مونږ [د عدلیې پخوانی مرستیال وزیر سیدیوسف حلیم] چې زمونږ غوره قانون پوه دی، ښه تجربه لري او په اداري فساد ککړ نه دی، زمونږ په عدلیې وزارت کې یې درې لسیزې کار کړی دی او د [قانون] یو مهم مؤلف وو ځکه چې هغه د مقننه څانګې مشر وو، او اوس د سترې محکمې قاضی قضات دی.

اوس به مونږ د لوی څارنوالی اصلاح کولو ته مخه کوو. خو دا چې ډېرڅه باید وشي – خو د سوداګرۍ د چارو یو پروفیسر یو میکانیزم لري چې کتلیتیک میکانیزم ورته ویل کیږي، چې وایي چې اکسیجن او هایدروجن به ترهغه وخته پورې اوبه جوړې نه کړي څو چې هلته اوسپنه موجوده نه وي. اوسپنه هېڅ هم نه کوي خو د یوه کتلست په توګه دغه کارممکنوي. زه خپل د رهبری رول وینم، زما د رهبری له رولونو څخه یو دا دی چې د یوه کتلست په توګه عمل وکړم. تاسو په ریښتیا سره ژوري پوهې او معلوماتو او ترتیب ورکولو ته ضرورت لرئ. نو زمونږ په لومړي کال کې، چې مونږ [کلیزې ته] رسېږو، زه فکر کوم چې زمونږ ریکارډ ښه دی خو روښانه نه دی، ځکه چې بیا هم مونږ مجبور وو چې جنګ وکړو.

**سیګار:** *متحده ایالاتو د بیارغونې په چارو کې 8.4 بیلیونه ډالر لګولي دي او تر اوسه پورې افغانستان د اپیمو د تولید په برخه کې خپل ریکارډ ماتولو ته دوام ورکړی دی. په دې برخه کې څه تغیر راوستلو ته ضرورت دی؟*

**جمهور رییس غني:** هغه څه چې بدلون ته اړتیا لري دا ده چې لومړی باید مونږ ستونزه وپېژنو. نشه ییز توکي خلورمتصدیان لري: تولیدوونکي، چمتو کوونکي، وړونکي، او کاروونکي. ناقانونه نړیوال اقتصاد په کال کې تقریبا 1.2 بیلیونه ډالر دی.... نشه ییز توکي، که هیرویین وي که کوکایین، د دې یوه لویه برخه جوړوي. د ګټې لویه برخه وړونکیو یا سوداګرو ته په لاس ورځي، او عملي څېړنې ښیې چې زمونږ ناکامي په کرهنه او د کاري فرصتونو په برابرولو کې له نه تمرکز څخه ده. نشه ییز توکي د یوه ډېر کوچني اقتصاد یوه ډېره لویه برخه ده.




**پلي خلک او موټر** د کابل بانک مخې ته د ګڼې ګوڼې په یوه کوڅه کې سره ګډوډ روان دي. (د بریان هیلیګاس عکس چې له ویکي میډیا کامنس څخه را اخستل شوی دی)



**افغان یونیفورم لرونکي** پولیس په نیمروز ولایت کې ضبط شوی اپیم د سوزولو له پاره بښکته کوي. (د متحده ایالاتو د سمندري ځواکونو له خوا اخیستل شوی عکس)

د اقتصاد وده، داسې یو سیستم چې له افغانستان سره برابر وي، د تمرکز ټکی نه وو. تاسو نشئ کولی چې د نشه یېزو توکو پر ضد یوه جګړه وکړئ ځکه چې، بیا هم، که تاسو د لاتیني امریکا په هکله ادبیاتو ته وګورئ، مرکزي امریکا، او په ځانګړې توګه مکسیکو ته، هلته درسونه شته او هغه درس چې هغه اساسي دی، دا دی چې هغه ناکامی دي... په هغه ځای کې د نشه یېزو توکو جګړه یا د نشه یېزو توکو جګړې، ځکه چې هغه له ډېر اوږده وخت راهیسې رواني دي، او ژوري داسې ارزونه کوي چې په هغو کې ستونزې موجودې دي. چېرې چې بریالیتوب وو هغه په تایلنډ کې وو، ځکه چې طلایي مثلث [چېرې چې د نشه یېزو توکو تولید کېده] هغه بدل شو، او هلته د دغه کار مهم عامل د کاري فرصتونو رامنځته کول وو.

څو کاله وړاندې [په کابل کې] د امریکا د سفارت له خوا څېړنې وشوې، او هغو وښودله چې د دې له پاره چې د نشه یېزو توکو په وړاندې په بریالیتوب سره مبارزه وشي، مونږ 40,000 کیلومتره سړک ته ضرورت لرو چې اقتصاد په ملي او سیمه یېزه کچه سره ونښلوي. اوس، دغه کار د متحده ایالاتو له خوا نه حمایه کیږي. تاسو پوهېږئ، مونږ په ډېرسیستماتیک ډول د دغه کار د کولو له پاره نړیوال اتحاد ته ضرورت لرو. لویه برخه، د هیروینو لویه برخه چېرته ځي؟ اروپا، روسیې، ایران، او اوس چین او هند ته غځیږي.

خو د هغه بله برخه دا ده چې اوس مونږ پخپله د اعتیاد یوه سخته ستونزه لرو، 3.5 میلیونه [هېوادوال معتاد دي]. دلته خلکو انکار کاوه، هغوی ویل – په ځانګړې توګه غلطه مذهبي توجیه داسې کېدله چې "هو، هغه په اسلام کې منع دي – ځکه چې هغه – خو مونږ یې په بهرنیانو باندې خرڅوو." اوس خبرونو ته وګورئ، دا د هغوی بچیان دي او د هغوی د بچیانو بچیان دي چې معتاد شوي دي. نو، مونږ په کرهڼه کې یوه انقلاب ته ضرورت لرو. له تایوان، جنوبي کوریا او جاپان سره د متحده ایالاتو مرسته یوه ښه بېلګه ده. مونږ ضرورت لرو، او دا زما پیغام دی، مونږ ضرورت لرو چې په کرهڼه کې پانګونه وکړو او داسې اساسي بدلون راولو چې کاري فرصتونه یا وظیفې رامنځته کړي ځکه چې زمونږ د کارګرو، هغه چې ښه اجوره ورکول کیږي، هغه کار د ورځې 4 ډالر ترلاسه کوي. د کوکنارو د فصل د رسېدلو په لوړه برخه کې هغوی د ورځې له 16 څخه تر 18 ډالرو پورې ورکوي او، حتی ډېر دردوونکی دا چې، هغوی نه یوازې سړیو بلکه ښځو ته هم همدغه مقدار اجوره ورکوي.

**سیګار:** *دغه یوه لویه تشه یا خلا ده. ځانګړی عمومي مفتش جان اېف سوپکو ډېرځلې ویلي دي چې متحده ایالاتو له افغانستان سره مرسته کړې ده چې یوه اردو او پولیس او یو داسې حکومت جوړ کړي چې افغانستان یې د سمبالولو وس نه لري. د مرستندویانو مرستې دلته د بودجې تقریبا 60% جوړوي. په دې برخه کې ستاسو پلان څه دی چې افغانستان د مرستندویانو له مرستې څخه خلاص کړئ او خپل اقتصاد جوړ کړئ؟*

**جمهور رییس غني:** ښه، لومړی، په اصل کې زه له دې سره موافق یم چې د خپلواکۍ یو لوی معیار په [ساده ډول] دا نه دی چې څوک دې یوه اردو او ملکي اداري ولري؛ لوی معیار دا دی چې یو څوک دې دا وړتیا ولري چې د هغو له پاره تادیات برابر کړي. نو هغه څه چې مونږ پرې تمرکز کوو دا دی چې پر ځان بسیاینه رامنځته کړو، ځکه چې په نننۍ جوړښت کې، دا پرځان بسیاینه نه ده. تاسو نشئ کولی چې له نورو سره له رابطې څخه پرته پرځان بسیا هېواد جوړ کړئ. اقتصاد له اړیکو جوړولو او اتصال څخه رامنځته کیږي.

نو زمونږ شتمنۍ څه دي او مونږ څه اراده لرو چې څنګه یې وکاروو؟ زمونږ لومړۍ شتمني زمونږ موقعیت دی. د منځنۍ اسیا او جنوبي اسیا ترمنځ ټول سرکونه زمونږ په خاوره تېرېږي. همدارنګه، اوس مونږ په داسې یوه موقعیت کې یو چې له چین سره چې مونږ ورسره 40 میله ګډه پوله لرو وصل شو – دا مهم دی – همدارنګه له لویدیځې اسیا سره، او هم د خلیج له سیمې سره ونښلو. دا اساسي کار دی ځکه چې اتصال یا نښلېدنه به بدلون رامنځته کړي او د خدمتونو د فرصتونو په جوړښت کې به ډېره مهمه ګټه ترلاسه شي. په 1869 کال کې، متحده ایالاتو هغه وخت خپل اقتصاد جوړ کړ چې د اتلانتیک او پاسیفیک بندرونو ترمنځ د اورګاډي لارې سره وصل شوې. تر هغې مخکې، هغه یوه جغرافیوي فاصله وه، بیا هغه په یوه براعظمي اقتصاد باندې واوښته.

اسیا په راتلونکیو 20 کلونو کې په یوه براعظمي اقتصاد باندې اوښتونکې ده. د افغانستان نښلوونکی موقعیت په دې کې مرکزي رول لري، نو مونږ هم په سافټ ویر باندې چې د ټرانزیټ ټرونونه، د سوداګرۍ ټرونونه، د ښځ بنأ ټرونونه دي، او هم په هارډویرباندې چې ښځ بنأ ده تمرکز کوو. نو که تاسو غواړئ چې دا اوس وکړئ دا مالي وسایلو او د منابعو خوځښت ته ضرورت لري څو ښځ بنأ جوړه شي. سرکونه، د اورګاډي لارې، پایپ لاینونه، د انتقال لینونه، ځکه چې مونږ برېښنا له مرکزي اسیا څخه انتقالوو، هوایي ډګرونه چې متحده ایالاتو یې په جوړولو کې سخاوتمندانه مرسته کړې ده، کانالونه، لویې لارې، او ډېمونه.

زمونږ دویمه شتمني اوبه دي. هره ورځ د اقلیم تغیر له بد څخه بدترېږي. که تودوخه دوه درجې ډېره شي، زمونږ د ځینې ګاونډیانو ځمکې به له دښتې کېدلو له ډېرو سختو ستونزو سره مخامخ شي. زمونږ اوبه اساسي رول لري. مونږ خپلې اوبه نه دي مدیریت کړي؛ زمونږ یوازې 10% اوبه د 1960مو کلونو د ټکنالوجۍ له لارې مدیریت شوې دي. نورې ټولې د 2,500 کاله پخوانۍ ټکنالوجۍ له لارې چې مونږ [افغانانو] را اېستلې دي اداره کیږي. او بیا هم، هغه څه چې متحده ایالاتو په تایوان او جنوبي کوریا کې وکړل هغه نمونې دي چې کېدای شي په واقعي توګه وشي، اوبه کېدای شي مهار کړای شي. د اوبو پیداوار به په لویه کچه مثبت تغیر راولي.

زمونږ دریمه شتمني ځمکه ده. زمونږ تقریبا نیمه ځمکه تر کرنې لاندې ده او دا د 1978 کال حساب دی. نو ځمکه او اوبه کلیوالی ثبات او د اشتراک وړتیا رامنځته کوي. زمونږ د تادیاتو توازن، لږ تر لږه 4 بیلیونه ډالر، په خوراکي شیانو دی. مونږ باید صادرات وکړو. مونږ کولی شو چې دا په راتلونکیو صادراتو کې په 2 میلیارده ډالرو واړوو.

بل زمونږ کانونه دي. ما د متحده ایالاتو جیولوجیکي سروې مقرره کړه ځکه چې په اول کې، هغه وخت چې زه د مالیې وزیر وم، هیڅا په ما باور نه کاوه او ویل یې چې په افغانستان کې له ډېرو څخه پرته بل هېڅ شی نشته – اشرف لېونی دی. اوس هیڅوک نه وایي چې زه لېونی یم. زمونږ د طبیعي شتمنۍ دېرش فیصده نه یوازې له هوا څخه سروې شوې، بلکه له ځمکې څخه یې هم نقشې اخیستل

شوې دي ځکه چې مونږ د شوروي روسیې پخواني اطلاعات یا ډېټا لرل. دا له 1 ټریلیون ډالرو څخه تر 3 ټریلیون ډالرو پورې اټکل شوي دي. نو مونږ دا قوت لرو چې په نړۍ کې د مسو او اوسپنې تر ټولو لوی تولیدوونکی هېواد شو. مونږ د ځمکې د 17 کم موندل کېدونکیو موادو له جملې څخه 14 یې لرو. زمونږ د لیتیم د ذخیرو له امله، مونږ"د لیتیم سعودي عربستان" ګڼل کیږو. مونږ طلا، قېمتي کاڼي، او نور لرو. بیا په دوی پسې تېل او ګاز راځی. دا مهال زمونږ ګاز ډېرجالب نه دي، خو خبرونه له یوه کال څخه بل ته پرمختګ کوي. نو مونږ په دې هېواد کې یوه محکمه او واقعي شتمني لرو؛ زمونږ تراژیدي دا ده چې مونږ داسې یو شتمن هېواد یو چې استوګن یې غریب دي.

په دوی پسې بیا پیسې دي. کله چې 150,000 د ناټو ایساف عسکر او له هغوی سره تقریبا 400,000 قراردادیان راغلل ډېرې پیسې راغلې. دغه حالت د ټرانسپورټ په سکتور او په ساختماني صنعت کې ډېر کاري فرصتونه رامنځته کړل: مونږ په زرګونو میلیونران لرو. خو د پانګونې اقلیم مناسب نه وو. هغوی ډېرې زیاتې پیسې هسې بې ځایه لګوې او د مجللو شیانو په پېرودلو لګوي. په ځینې ودونو باندې تر 20 میلیونه ډالرو پورې لګول کیږي...

او بیا زمونږ بشري پانګه ده. لکه څنګه چې ما وویل، مونږ په لوړه کچه باسواده ښځې، سړي لرو، ماشومان، ځوانان لرو، چې په اصطلاح د مهاجرت له کمپونو څخه یې د ختیځ او لویدیځ او د نړۍ نورو پوهنتونونو ته لاره ومونده. کله چې تاسو دا ټول سره یو ځای کړئ، کېدای شي چې دا هېواد په یوه پایښت وړ اقتصادي پلان باندې واوړي، او دا هغه څه دي چې هغه وخت به بیا [د دولت له پاره عواید] برابر کړي.

دا یوه برخه ده، دویمه مؤثریت دی. مونږ ته په داسې یوه سطحه د خرڅ او لګښت اسانتیاوې راکول شوي [چې مونږ یې پخپله وس نه لرو]. مونږ اړتیا لرو چې په داسې ډول اقتصادي شو چې مؤثریت په فوق العاده توګه مهم وګرځي. د مثال په توګه، اردو او پولیسو ته ډودۍ. زه اردو او پولیسو ته د خوراکي توکو ټول تأمینات بیا له سره داسې تنظیموم چې افغاني فابریکې حمایه کړي. تقریبا ټول هغه تولیدات او توکي چې اردو او پولیسو استعمالول هغه وارداتي توکي ول. هیچا هم په دې برخه کې کار نه وو کړی چې دا څنګه وکړي. اوس، په راتلونکیو اونیو کې به مونږ د ملامتیا د کنټرول یو فوق العاده مؤثر سیستم تنظیموو څو یو عسکر، یو پولیس – هغه څوک چې زه یې خدمت کوم هغه یو دولتي مامور او پولیس دی – هغه که نر وي که ښځه باید په دې پوه شي چې څه چې هغه خوري معیاري کیفیت لري او د تغذیې یوه منبع ده. دا د سیستم تنظیمولو ته ضرورت لري او مونږ په دې باندې کار کوو. زمونږ د امنیتي لګښتونو په هره مرحله کې، مونږ په اقتصادي کولو باندې تمرکز کوو.

او درېیمه خبره دا ده چې، ستاسو پخوانیو لګښتونو اوس مونږ ته داسې یو پلاټفورم راکړی دی چې په راتلونکیو کلونو کې بشپړ شي ځکه چې تر 2017 پورې، جمهور رییس اوباما او کانګرس په سخاوتمندانه توګه دې ته ژمنتیا ښودلې ده [چې د مرستو ورکړې ته دوام ورکړي]، او په راتلونکي کال کې به مونږ په ژمنتیاوو او تعهداتو باندې خبرې کوو، چې لګښت مؤثر دی او په اوږدمهاله پایښت باندې لګېدلی دی، چې دا، دا معنی لري چې د پام وړ اصلي وظایف [چې اوس د مرستو له لارې پرمخ ځي]، څنګه ترسره کیږي، به بیا وکتل شي. د مثال په توګه، د موټرو ترمیمونه. تاسو پوهېږئ، د موټرو ترمیمونه شرکتونو ته په قراردادونو ورکول شوي ول، زه فکر کوم چې د یوه نوم نو لېمن (No Lemon)، مسخره نوم یې وو، فکر کوم چې هغه د 250 میلیونه ډالرو قرارداد وو. خو، تاسو پوهېږئ، موټرونه مجبور ول چې د 100 میلو یا ډېر مزل څخه وروسته ترمیم کړای شي. زمونږ په اردو او پولیسو کې د داسې ورکشاپونو رامنځته کول به غټې سپماوې وي. نو هره منفرده وظیفه، هره اصلي وظیفه باندې بیاکتنه کیږي او مونږ په دې تمه یو چې اقتصادي یې کړو.

او وروستی مسئله بیا د مالیي د تادیاتو لوړول او د مرستو یو سیستم رامنځته کول دي. نو بیا هم د عامه لګښتونو په برخه کې د مثال په توګه، په 2002 کې، په اوسط ډول یو کیلومتر سرک تقریبا له 180,000 څخه تر 220,000 ډالرو پورې جوړېده. په حلقوي سرک [یو 2,200 میله، دوه طرفه سرک چې د افغانستان لوی ښارونه سره نښلوي]، هغه قیمت د کیلومتر په سر 2.2 میلیونه ډالرو ته پورته شو ځکه چې د کندهار سرک له دې امله جوړ کړای شو چې جمهور رییس بش په سخاوتمندانه توګه یو ژمنه وکړه چې سرک به [په پام وړ سرعت] سره د 2004 له انتخاباتو څخه مخکې خلاص کړای شي. [د کیلومتر په سر هغه قیمت] په یوه نورم باندې واوښت: هغه له استثنأ څخه په یوه نورم باندې بدل شو، هغه نورم شو. او بیا قیمتونه همداسې پسې لوړېدل او چا یې پوښتنه نه کوله. اوس مونږ یو بشپړ پلان لرو، نه یوازې دا چې څنګه بیخ بناء یا انفراسترکچر جوړ کړو، بلکه دا چې څنګه یې په ماهرانه، مؤثر او ارزان ډول جوړ کړو...

د دې مسایلو کیلي د پاکوالي په سیستم کې ده. حکومتي لګښتونه باید د تولیداتو له پاره یوه انګېزه یا مشوق وګرځي. شرکتونه او موسسات باید جوړ شي چې هغوی هم تشویق شي چې پخپله خوښه مالیه ورکړي او هم خلک همداسې ورو‌زي څو مونږ ټول له ځواکونو سره په ګډه هغه تصویرچې مونږ ته په میراث راپاتې شوی دی...

په هر نړیوال شاخص، افغانستان په لوړو نومرو کې نه راغی، او دا یوه ننګونه یا چیلنج دی، چې مونږ خپل ځای بدل کړو ځکه چې دغه شاخصونه له یوه معیار سره د مقایسې له لارې د ارزونې، د هڅو د ارزونې او د یو چا په هکله د قضاوت له پاره مهم دي. او دغه بالکل هغه څه دي چې مونږ یې کوو؛ مونږ خپل لومړی 100 ورځنی پلان له کابینې سره پیل کړ. اوس د اجرأتو پای دی، او له همدې امله وو چې د جیګپوړو چارواکو مجلس (SOM) یوه بریا وه. اوس په دویمو 100 ورځو کې به مونږ ولایتونه او وزارتونه سره را یوځای کوو، څو هدفونه روښانه شي، ستراتیژی روښانه شي. اجرأت باید په داسې یوه طریقه سره وي چې د خلکو، ستاسو او زمونږ، اعتبار ترلاسه کړي، ځکه چې امریکایي مالیه ورکوونکی په افغانستان کې د مرستو یو برخه وال دی او زه په دې باندې په ښکاره اعتراف کوم او له همدې امله ده چې زه خبرې کوم – ما دا افتخار درلود چې د کانګرس ګډې غونډې ته خبرې وکړم – زه له امریکایي مالیه ورکوونکي څخه مننه کوم ځکه چې هغه د هغې هغه پیسې دي چې هغې په سختۍ سره ګټلې دي چې مونږ یې باید حساب ورکړو او له دې امله ده چې ولې مونږ د حساب ورکوونې په هکله، د ګډې مسؤلیت منلې په هکله، او د یوې نژدې کېدنې او یوې ملګرتیا په هکله خبرې کوو.

**سیګار:** *ښاغلی جمهور رییس، دا ډېر په زړه پورې دي او ما کولی شوای چې ټوله ورځ دوام ورکړو، خو ما ته داسې سګنالونه راکول کیږي چې زه فکر کوم چې زمونږ وخت پای ته ورسېد. زه له تاسو څخه ډېره مننه کوم.*

**جمهور رییس غني:** له بده مرغه، زه باید یو هېواد وچلوم. که نه، زه به خوښ وم چې خبرې درسره وکړم (خاندي).

"زه له امریکایي مالیه ورکوونکي څخه مننه کوم ځکه چې هغه د هغې هغه پیسې دي چې هغې په سختۍ سره ګټلې دي چې مونږ یې باید حساب ورکړو او له دې امله ده چې ولې مونږ د حساب ورکوونې په هکله، د ګډې مسؤلیت مننې په هکله، او د یوې نژدې کېدنې او یوې ملګرتیا په هکله خبرې کوو."

*— افغان جمهور رییس ډاکټر اشرف غني*

سرچینه: سیګار، له جمهور رییس غني سره مرکه، د سپتمبر 7 مه، 2015

# 2
# سیګار
# څارنه



# د سیګارد څارنې محتویات


| | |
|---|---|
| تفتیشونه | 20 |
| پلټنې | 36 |
| ځانګړې پروژې | 38 |
| د عبرت درسونه | 42 |
| څېړنې | 44 |
| درې میاشتنې مهم ټکې: د سیګار مستقیم لین پراختیا | 46 |
| درې میاشتنې مهم ټکې: فدرالي قاضي د رشوت او د تېلو د غلا د دسیسې د څېړنې په نتیجه کې سختې سزاګانې ورکړې. | 52 |
| په دې درې میاشتنۍ موده کې د سیګار د څارنې نور فعالیتونه | 57 |
| د سیګار بودجه | 61 |
| د سیګار پرسونل | 61 |


**عکس په تېرمخ کې**
ځانګړی عمومي مفتش جان سوپکو (ښۍ خوا ته) په هرات کې د لویدیځ له پاره د ایټالیا تر مشرۍ لاندې روزنیزه، مشورتي او مرستندویه قوماندانۍ کې معلومات ترلاسه کوي. (د سیګارعکس چې ټام نیبلاک اخیستی دی)

# د سیګار ځانګړي فعالیتونه

په دې درې میاشتنۍ موده کې سیګار 17 تفتیشونه، پلټنې، خبرتیایي لیکونه، او نور مواد صادر کړي دي. تر ننه پورې د سیګار کار له 2 بیلیونه ډالرو څخه ډېرسپمولي دي.

د سیګار د اجرأتو یوه تفتیش وموندله چې، د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کمېشنرۍ (UNHCR) او د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت نشي کولی چې د افغان کډوالو هغه شمېر په خپلواک ډول تایید کړي چې پاکستاني او ایراني حکومتونو ورکړی دی، او دا چې له نړیوالي مرستې سره سره د افغانستان د کډوالو او راستنېدنې وزارت ظرفیت د خپلو مسؤلیتونو د ترسره کولو په برخه کې محدود دی. د اجرأتو یوه دویم تفتیش وموندله چې سره له دې چې د متحده ایالاتو د دفاع وزارت د هغو 470 میلیونه ډالرو له لګښتونو سره سره چې د افغان محلي پولیسو په حمایه یې لګولي دي، افغان محلي پولیس د لوجیستیکي حمایې، څارنې، او داسې یوه پلان له نشتوالي سره مخامخ دي چې آیا دغه ځواک منحل کړای شي که له افغان ملي پولیسو سره یوځای کړای شي.

د راپور ورکولو د دورې پر وخت، سیګار همدارنګه په دې درې میاشتنۍ موده کې درې خبرتیایي لیکونه خپاره کړل. دوه لیکونو (چې یو یې محرم وو) په براون کمپ کې د قوماندې او کنټرول د یوه مرکز د برخلیک په هکله اندېښنې څرګندې کړې. یوه دریم لیک د متحده ایالاتو د دفاع وزارت چارواکو او د متحده ایالاتو نظامي قوماندانانو ته د افغان ملي اردو او ملي پولیس ځواکونو له پاره د ژمني لباس د احتمالي سخت کمۍ په هکله خبر ورکړ.

په دې درې میاشتنۍ موده کې، سیګار شپږ مالي تفتیشونه خپاره کړل؛ تر ننه پورې په شویو اجرأتو کې له 280.4 میلیونه ډالرو څخه ډېر د تر پوښتنې لاندې لګښتونو په توګه او 289,880 ډالر د فدرالي فنډونو او نورو عوایدو ګټه چې باید حکومت ته تادیه شوي وای، او نه ده شوې، شامل دي. سربېره پردې، د 2015 د اکتوبر له 30 مې راهیسې، بسپنه ورکوونکي اداري د 50 تفتیشونو په هکله یوې مدیریه پرېکړې ته رسېدلې دي او له 16.7 میلیون ډالرو څخه د ډېرو تر پوښتنې لاندې مبلغونو د بېرته ترلاسه کولو لارې چارې لټوي.

د دې ترڅنګه، په دې درې میاشتنۍ موده کې سیګار یو د پلټنې راپور خپور کړ. راپور وموندله چې، په داسې حال کې چې د برېښنا د دستګاه یوه پروژه له ټاکلي بودجې څخه بشپړه شوه او دا چې د قرارداد د اجرأتو معیارونه یې پوره کول، د برېښنا دستګاه ونه ازمویل شوه اوله بشپړتیا څخه یې له 18 میاشتو څخه ډېر وروسته وخت پورې د چلېدو پر ګټل کېده.

په دې درې میاشتنۍ موده کې، د سیګار د ځانګړيو پروژو اداري د سوداګرۍ او ثبات د عملیاتو اړوند د ترخمکۍ لاندې ګازو د عملیاتو د پروژې له پاره وظیفوي ځواک باندې خپله بیاکتنه خپره کړه. یادې اداري همدارنګه د متحده ایالاتو نظامي قوماندانانو ته ولیکل چې د افغان ملي اردو او ملي پولیس ځواکونو په استازیتوب د ګنو وروستیو تدارکاتو د ضرورت او د احتمالي ضیاع په هکله معلومات وغواړي.

سربېره پردې، د ځانګړیو پروژو اداري د متحده ایالاتو نړیوالي پرمختیایي اداري (USAID) ته دوه لیکونه ولیکل چې د تره خېلو د برېښنا په دستګاه کې د عملیاتو په هکله یې معلومات وړاندې کول او د متحده ایالاتو د نړیوالي پرمختیایي اداري (USAID) له خوا د حمایه شویو روغتیایي مرکزونو د صحیح جغرافیوي کوارډینیټونو د معلوماتو د اهمیت په هکله یې تاکید کاوه. سیګار همدارنګه په

## خبرتیایي لیکونه

- 15-79-ALc خبرتیایي لیک: د براون کمپ د قوماندې او کنټرول مرکز (محرم)
- 15-79-AL خبرتیایي لیک: د براون کمپ د قوماندې او کنټرول مرکز (غیرمحرم)
- 15-86-AL خبرتیایي لیک: د افغان ملي اردو او ملي پولیس ځواکونو ژمنی لباس

## د اجرأتو بشپړ شوي تفتیشونه

- 15-83-AR تفتیش: افغان کډوال اوراستېدونکي
- 16-3-AR تفتیش: افغان سیمه ییز پولیس

## بشپړ شوي مالي تفتیشونه

- 15-81-FA مالي تفتیش: د ریتیون کمپنۍ له خوا د شویو لګښتونو تفتیش
- 15-84-FA مالي تفتیش: د ډیموکراسي انټرنیشنل آی اېن سي له خوا د شویو لګښتونو تفتیش
- 15-87-FA مالي تفتیش: د ښېګنې او انکشاف د نړیوالې اداري (آی آر ډي) له خوا د شویو لګښتونو تفتیش
- 15-88-FA مالي تفتیش: د تېترا تیک ای آر ډي له خوا د شویو لګښتونو تفتیش
- 15-89-FA مالي تفتیش: د انتخاباتو او سیاسي پروسې د پیاوړتیا د کنسرسیوم له خوا د شویو لګښتونو تفتیش
- 16-4-FA مالي تفتیش: د ښځې د افغان ښځو له پاره اداري له خوا د شویو لګښتونو تفتیش

## بشپړه شوي پلټنه

- 15-78-IP پلټنه: په کابل کې د نشه یي توکو پرضد د مبارزې په مرکز کې د برېښنا دستګاه

## د ځانګړیو بشپړو شویو پروژو نتایج

- 15-80-SP بیاکتنه د تره خېلو د برېښنا دستګاه
- 15-82-SP خبرتیایي لیک د پي اېچ سي د مرکزونو د کوارډینیټونو ځواب
- 15-85-SP استعلام د افغان ملي اردو او ملي پولیسو تدارکات
- 16-1-SP خبرتیایي لیک په هرات کې د متحده ایالاتو د نړیوالي پرمختیایي اداري (USAID) له خوا حمایه کېدونکي روغتیایي مرکزونه
- 16-2-SP بیاکتنه د TFBSO د سي اېن جي پمپ

**د اجرأتو تفتيشونه:** دغه ډول تفتيشونه د کافي، مناسبو شواهدو په اساس چې په يادو معيارونو برابر وي د يوې ارزونې په اساس اطمينان يا نتايج وړاندې کوي. د اجرأتو تفتيشونه بې طرفه تحليلونه وړاندې کوي څو مديريت او هغه کسان چې واک په لاس کې لري وکولی شي معلومات وکاروي او د پروګرام اجرأتو او عملياتو ته وده ورکړي، لګښتونه کم کړي، او د مسؤلو لوريو له خوا د پرېکړو کولو له پاره لاره هواره کړي څو د عامه محاسبې يا مسؤليت منلو له پاره د اصلاحي ګامونو نظارت وکړي يا يې رامنځته کړي. د اجرأتو تفتيشونه د حکومت د په عمومي سطحه منل شويو معيارونو (GAGAS) او د عمومي مفتش د فدرالي ادارو له پاره د تماميت او کفايت په هکله د عمومي مفتشانو د شورا (CIGIE) له خوا ترسره کيږي.

**پلټنې:** پلټنې د يوې موسسې د عملياتو، پروګرامونو، يا پاليسيو د طرحې، تطبيق، او/يا نتايجو سيستماتيکي او خپلواکې ارزونې دي. سيګار پلټنې د پلټنو او ارزونو په برخه کې د CIGIE د کيفيت د معيارونو په اساس کوي، څو کانګرس او خلکو ته په ټول افغانستان کې د تعميراتو او زېربناء د جوړښت د کيفيت په هکله معلومات ورکړي؛ او په عمومي توګه، د هغه حد ارزونه وکړي چې تر هغه پورې د قرارداد د شرايطو په پام کې نيولو سره مرکزونه جوړ شوي وي، له ادارې سره سم کارول شوي وي، او مراقبت يې کيږي.

**مالي تفتيشونه:** په دې هکله يوه خپلواکه ارزونه او يو مناسب اطمينان وړاندې کوي چې آيا د يوې موسسې راپور ورکول شوی حالت، نتايج، او د منابعو استعمال د ټاکليو معيارونو په پام کې نيولو سره وړاندې کيږي. سيګار مالي تفتيشونه د GAGAS په اساس کوي، چې دا هم هغه شرايط په پام کې نيسي چې د تفتيش د م عيارونو په هکله د تاييد شويو عامه محاسبينو د ځرګندونو په امريکايي انسټيټيوټ کې شامل دي او هم نور اضافي معيارونه چې په GAGAS کې وړاندې کيږي. سيګار همدارنګه په هغو مالي تفتيشونو باندې بياکتنه کوي چې د خپلواکو يا مستقلو عامه محاسبينو (IPA) له خوا ترسره کيږي. کله چې يو خپلواک عامه محاسب يو مالي تفتيش ترسره کوي، سيګارد مناسبو کرنلارو په اساس مخکې څې څو د IPA د غوښتل شوي کار او د مسؤليت د درجې په پام کې نيولو سره چې د سيګار له خوا د هغه کار په برخه کې منل شوې دی له GAGAS سره مطابقت يقيني کړي.

ټول افغانستان کې په ولايتونو کې د متحده ايالاتو د نړيوالې پرمختيايي ادارې (USAID) له خوا د حمايه شويو روغتيايي مرکزونو څخه د خپلې رواني بياکتنې د برخې په توګه د متحده ايالاتو نړيوالې پرمختيايي ادارې ته وليکل چې د سيګار په واسطه د وروستيو ترسره شويو ساحوي پلټنو نتايج وړاندې کړي څو په هرات کې د متحده ايالاتو د نړيوالې پرمختيايي ادارې له خوا د 23 تمويل شويو روغتيايي مرکزونو په هکله د متحده ايالاتو د نړيوالې پرمختيايي ادارې د موقعيتي ارقامو او عملياتي شرايطو صحت معلوم او تاييد کړي.

د راپور ورکولو د دورې په جريان کې، د سيګار څېړنو يو ځل بيا مهم نتايج رامنځته کړل. د متحده ايالاتو حکومت ته په لګښتونو کې تقريبا 123.7 ميليونه ډالر وسپمول شول؛ د جريمو، خسارو يا تاوان اخيستنو، او استردادونو مبلغونه په مجموعي توګه له 26.7 ميليونه ډالرو څخه ډېرشول. سربېره پر دې، دوه کسان ونيول شول، پنځه جنايي اتهامات ولګول شول، اوه محکوميتونه رامنځته شول، او نهه محاکمې وشوې. سيګار 18 نوې څېړنې پيل کړې او 22 نورې يې بندې کړې، او په دې توګه يې د ټولو روانو څېړنو شمېر 306 ته ورساوه. تر ننه پورې، د سيګار له څېړنو څخه ترلاسه شوې سپماوې په مجموعي توګه له 944.5 ميليونه ډالرو څخه ډېرې شوې.

د سيګار د تعويق او مخنيوې پروګرام 18 اشخاص او 12 شرکتونه د متحده ايالاتو د حکومت د قراردادونو له ترلاسه کولو څخه تعويق يا ځنډونو ته معرفي کړل. د دغو افرادو له جملې څخه درې کسان د جنايي تورونو له کبله، چې په افغانستان کې د بيا رغونې د قراردادونو پورې اړوند ول يا يې پرې منفي تاثير کاوه، د بد چلند له امله پرې وارد شوي ول د تعويق له پاره معرفي کړای شول. دغه معرفي ګانې د هغو افرادو او شرکتونو شمېر چې له 2008 کال راهيسې د سيګار له خوا معرفي يا راجع کړای شوي دي 680 ته رسوي چې تر ننه پورې يې 361 افراد او 319 نور يې شرکتونه دي.

## تفتيشونه

سيګار په افغانستان کې د بيارغونې د هڅو مربوط پروګرامونو او پروژو د اجرأتو تفتيشونه، پلټنې، او مالي تفتيشونه ترسره کوي. کانګرس ته له خپل وروستي راپور راهيسې، سيګار دوه د اجرأتو تفتيشونه، يوه پلټنه، شپږ د مالي تفتيشونو راپورونه، او درې خبرتيايي ليکونه صادر کړي دي. په دې درې مياشتنۍ موده کې، سيګارهمدارنګه دوه نوي د اجرأتو تفتيشونه پيل کړل، او د اجرأتو د روانو تفتيشونو شمېرېې 16 ته ورسولو. د اجرأتو د تفتيش يوه خپاره شوې راپور د هغه حد په هکله څېړنه وکړه چې د هغه له مخې د متحده ايالاتو د بهرنيو چارو وزارت او يو اېن اېچ سي آر په پاکستان او ايران کې د کډوالو افغانانو شمېر تاييدوي، او افغان حکومت خپله د کډوالو ستراتيژي تطبيق کړه. د اجرأتو د تفتيش يو دويم راپور د دې له پاره تيار شو چې د افغان محلي پوليسو د بريالیتوب په برخه کې ننګوني يا چلينجونه په ګوته کړي، د افغانستان د کورنيو چارو د وزارت داخلي کنټرولونه او افغان محلي پوليسو ته د تنخاګانو په ورکړه باندې د افغانستان د امنيت د انتقال د ګډې قوماندانۍ (CSTC-A) څارنه وارزوي، او دا معلومه کړي چې د متحده ايالاتو حکومت او د افغانستان د کورنيو چارو وزارت څنګه په دې هکله پلان نيسي چې د افغان محلي پوليسو پروګرام وڅاري او وساتي. د اجرأتو تفتيشونو اته سپارښتنې وکړې. مالي تفتيشونو تقريبا 1.2 ميليونه ډالر د داخلي کنټرول د عيبونو او د نه تطابق د ستونزو له امله د ترپوښتنې لاندې لګښتونو په توګه په ګوته کړل.

## خبرتيايي ليکونه

د متحده ايالاتو نظامي او ملکي چارواکو له سيګار څخه غوښتنه کړې ده چې هغوی ته تازه معلومات ورکړي څو د ضياع مخه ونيول شي او په افغانستان کې د متحده ايالاتو د بيارغونې د پروګرامونو مؤثرتيا ډېره کړای شي. د سيګار له اصلي هدفونو څخه يو دا دی چې تطبيقوونکيو ادارو او کانګرس

ته په داسې وخت کې جنايي معلومات ورکړي چې لا هم د تغير د راوستلو له پاره وخت موجود وي. د هغه هدف د ترسره کولو له پاره، سيګار خبرتيايي ليکونه لېږي څو اندېښنې په چټک ډول په داسې وخت کې معلومې کړي، چې تطبيقوونکې ادارې لا هم کولی شي چې لاس په کار شي. د راپور ورکولو د دې دورې په بهير کې، سيګار همدارنګه په دې درې مياشتنۍ موده کې درې خبرتيايي ليکونه خپاره کړل. دوه ليکونو (چې يو يې محرم وو) په براون کمپ کې د قوماندې او کنټرول د مرکز د برخليک په هکله اندېښنې څرګندې کړې. يوه دربيم ليک د متحده ايالاتو د دفاع وزارت چارواکو او د متحده ايالاتو نظامي قوماندانانو ته د افغان ملي اردو او ملي پوليس ځواکونو له پاره د ژمني لباس د احتمالي سخت کمي په هکله خبر ورکړ.

## 15-79-AL خبرتيايي ليک: د براون کمپ د قوماندې او کنټرول مرکز

د 2015 د اګست په 25 مه، سيګار د متحده ايالاتو د دفاع وزارت چارواکو او د متحده ايالاتو نظامي قوماندانانو ته وليکل چې د هغې پلټنې نتايج ورسره شريک کړي چې سيګار د کندهار په هوايي ډګر کې په براون کمپ کې ترسره کړې ده.

په 2012 کال، د کندهار د هوايي ډګر د زېربناء د پلان جوړونې د بورډ يوه چارواکي په براون کمپ کې د قوماندې او کنټرول د يوه داسې مرکز د جوړونې وړانديز وکړ چې د افغانستان په جنوب او ختيځ کې ترسره کېدونکي ماموريتونه حمايه کړي. په هغه وخت کې، د ماموريت فعاليتونه په براون کمپ کې چې د په پام کې نيول شوي هدف له پاره کارول کېده، د بېلابېلو ودانيو ترمنځ وېشل شوي ول. د 2012 په جون کې، د متحده ايالاتو د انجنيرۍ قول اردو (USACE) د نژدې 5 ميليونه ډالرو په ارزښت د ثابت قيمت يو قرارداد د سرک او چت جوړونې شرکت يا روډ اينډ روف کنسټرکشن کمپنۍ (RRCC) په نامه يوې افغاني موسسې ته ورکړ څو په براون کمپ کې د قوماندې او کنټرول مرکز جوړ کړي. په قرارداد کې د ترسره کولو په هکله د يادښت له نېټې څخه چې د 2012 د جولای 17 مه وه د اجرأتو له پاره 375 ورځې وخت ورکول شو.

سيګار د 2014 په نومبر کې او بيا د 2015 په جنوري او فبروري کې په براون کمپ کې د قوماندې او کنټرول له مرکز څخه ليدنې وکړې. سيګار وموندل چې د ودانۍ بهرنې دېوالونه کانکرېټي ول او په کلک ډول جوړ شوي ول، چې چاودونه په کې نه ښکارېدل. داخلي پوښ يې له تش منځيو سيمنټي بلاکونو اوکانکرېټي پايو څخه جوړ شوی وو، خو فرش يې په مسلکي ډول نه وو جوړ شوی. دغې 35 فټه لوړې ودانۍ يو بم درلود خو دويم منزل ته يې د ختلو زينه نه وه، او د سيخ کشۍ يا برقي سيستمونه په کې نصب شوي نه ول.

د 2012 له نومبر څخه د 2013 تر اګست پورې، د متحده ايالاتو د انجنيرۍ قول اردو (USACE) 14 ليکونه د سرک او چت جوړونې شرکت (RRCC) ته ولېږل او د کاري ساحې د خونديتابه، کمزورې کيفيت، د تعميراتي ډيزاين د پر وخت نه سپارلو، او د جوړونې د مهالوېش د تېرېدلو په برخو کې ستونزې يې ورته په ګوته کړې. د 2014 په اپريل کې، د متحده ايالاتو د انجنيرۍ قول اردو (USACE) د سرک او چت جوړونې شرکت (RRCC) ته يو ليک ور ولېږه او دا يې څرګنده کړه چې د متحده ايالاتو د انجنيرۍ قول اردو (USACE) د جوړونې ياد قرارداد د حکومت د اسانتيا په خاطر فسخه کوي ځکه چې نور نو ياد مرکز ته ضرورت نشته. د قرارداد د فسخه کولو پر وخت، د سرک او چت جوړونې شرکت (RRCC) د قوماندې او کنټرول د مرکز له نيمايي څخه لږ جوړ کړی وو او د متحده ايالاتو د انجنيرۍ قول اردو (USACE) ياد شرکت ته تقريبا 2.2 ميليونه ډالر ورکړي ول. د متحده ايالاتو د انجنيرۍ قول اردو (USACE) د يوه چارواکي په وينا، د سرک او چت جوړونې شرکت (RRCC) سره د فسخه کولو په برخه کې د فيصلې په هکله وروستۍ هوکړې ته نه وو رسېدلي. چارواکي وويل چې د وروستي تاديه کېدونکي مبلغ په هکله به تر هغه وخته پورې تصميم ونه نيول شي څو چې د دفاع د قراردادونو د تفتيش اداره د سرک او چت جوړونې د شرکت (RRCC) د قېمتونو او لګښتونو په هکله خپل تفتيش بشپړ کړي.

### خبرتيايي ليکونه

- 15-79-ALc خبرتيايي ليک د براون کمپ د قوماندې او کنټرول مرکز (محرم)
- 15-79-AL خبرتيايي ليک د براون کمپ د قوماندې او کنټرول مرکز (غيرمحرم)
- 15-86-AL خبرتيايي ليک د افغان ملي اردو او افغان ملي پوليسو د سړې هوالباس



**د سيګار يوې** پلټنې وموندل چې په داسې حال کې چې په براون کمپ کې د قوماندې او کنټرول د مرکز بهرني دېوالونه کانکرېټي ول او په کلک ډول جوړ شوي ول چې چاودونه په کې نه ښکارېدل، داخلي يې يو داسې پوښ وو چې د فرش، برېښنا د تارونو، نلدوانۍ سيستمونه يې نه لرل، او نه يې هم دويم منزل ته د ختلو لاره لرله.
(د سيګار عکس)

دا چې تعمیر یا جوړونه فسخه شوې وه، د قوماندې او کنټرول مرکز تش پاتې شو او هېڅکله هم ونه کارول شو.

مسؤلو چارواکو څرګنده کړه چې هغوی د متحده ایالاتو د دفاع وزارت د کومو پلانونو په هکله چې مرکز بشپړ کړي یا یې ویجاړ کړي خبر نه دي. د سیګار د 2015 د فبرورۍ د کتنې پر وخت، د روزنې، مشورې او مرستې په برخو کې د جنوبي سیمې د قوماندانۍ مرستیال وویل چې هغه عملیات چې د هغو له پاره اصلا دغه مرکز په پام کې نیول شوی وو بدل شوي دي. مرستیال قوماندان همدارنګه وویل چې د براون کمپ نورې ودانۍ پرسونل ته کافي اندازه اسانتیاوې ورکوي او دا چې د قوماندې او کنټرول د مرکز بشپړول به د متحده ایالاتو د دفاع وزارت د پیسو یوه مؤثره لګونه نه وي.

دا وخت سیګار ته د په لاس ورکول شویو معلوماتو په اساس، په دې هکله تصمیم چې په براون کمپ کې د قوماندې او کنټرول د مرکز په هکله قرارداد فسخه کړای شي مناسب ښکاري. اړتیاوې او شرایط بدل شوي دي، چې له دې څخه داسې نتیجه راوځي چې هغه مرکز ته نور ضرورت نشته او دا چې د یادې پروژې فسخه کول به د متحده ایالاتو د مالیه ورکوونکیو پیسو وسپموي.

البته، دې ټکي ته په پام سره چې د کندهار په هوایي ډګر کې به د متحده ایالاتو د دفاع وزارت یا د افغان حکومت راتلونکي فعالیتونه څنګه وي، ښایي چې وزارت وغواړي چې په دې هکله غور وکړي چې آیا له مرکز څخه به ګټه واخیستل شي او، که داسې وي، پاتې رغونه بشپړه کړای شي. هغه فکټورونه چې باید په پام کې ونیول شي د پروژې د بشپړولولو پاره اړتیا وړ وخت، د ماموریت شرایط، او په اوس وخت کې د کارېدونکیو مرکزونو د استهلاک متوقع دوره او د مراقبت لګښتونه دي.

سیګار د 2015 د اګست په 6 مه، د دې لیک یوه محرمه نسخه د متحده ایالاتو د دفاع وزارت چارواکو او د متحده ایالاتو نظامي قوماندانانو ته ولیکله.



**د سیګار یوې لومړنۍ بیاکتنې وموندله** چې افغان ملي اردو او افغان ملي پولیس ښایي د 2015 او 2016 له پاره د سړې هوا لباس ونه لري، چې دا کولی شي چې د ځواک په مجموعي مؤثرتیا باندې تاثیر وکړي. (د متحده ایالاتو د دفاع وزارت عکس چې کارپوه انډي بریره اخیستی دی)

### 15-86-AL خبرتیایي لیک: د افغان ملي اردو او ملي پولیس ځواکونو ژمنی لباس

سیګار د 2015 د سپتمبر په 16 مه، د متحده ایالاتو د دفاع وزارت چارواکو او د متحده ایالاتو نظامي قوماندانانو ته ولیکل، څو د افغان ملي اردو او ملي پولیس ځواکونو له پاره د ژمني لباس د احتمالي سخت کمي په هکله یې خبر کړي. سیګار دا مهال یو تفتیش ترسره کوي چې د افغان ملي اردو او ملي پولیس ځواکونو د یونیفورم او انفرادي تجهیزاتو تدارکات او تأمینات وارزوي. د سیګار د لومړنۍ کتنې په اساس، داسې ښکاري چې افغان ملي اردو او ملي پولیس ځواکونه به د 2015 او 2016 کلونو له پاره کافي اندازه ژمنی لباس ونه لري. د ژمني لباس کموالی کولی شي چې د افغان ملي اردو او افغان ملي پولیسو په مجموعي مؤثرتیا باندې معکوس تاثیر وکړي، او د هغوی عملیاتي وړتیاوې راټیټې کړي.

## د اجرأتو د تفتیش خپاره شوي راپورونه

په دې درې میاشتنۍ موده کې سیګار دوه د اجرأتو د تفتیش راپورونه خپاره کړل. د اجرأتو د تفتیش یوه خپاره شوي راپور د هغه حد په هکله څېړنه وکړه چې د هغه له مخې د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت او یو این ایچ سي آر په پاکستان او ایران کې د کډوالو افغانانو شمېر تاییدوي، او افغان حکومت خپله د کډوالو ستراتیژي تطبیق کړه. د اجرأتو د تفتیش یو دویم راپور د دې له پاره چمتو کړای شو چې د افغان محلي پولیسو د بریالیتوب په برخه کې چلینجونه په ګوته کړي، د افغانستان د کورنیو چارو د وزارت داخلي کنټرولونه او افغان محلي پولیسو ته د تنخاګانو په ورکړه باندې د افغانستان د امنیت د انتقال د ګډې قوماندانۍ څارنه وارزوي، او دا معلومه کړي چې د متحده ایالاتو حکومت او د افغانستان د کورنیو چارو وزارت څنګه په دې هکله پلان نیسي چې د افغان محلي پولیسو پروګرام وڅاري او وساتي.

### د اجرأتو بشپړ شوي تفتیشونه

- 15-83-AR تفتیش: افغان کډوال او راستانه شوي: اداري فساد او د افغانستان د وزارتونو د ظرفیت نشتوالي د کډوالو د یوې اوږدمهالې ستراتیژۍ د تطبیق مخه نیولې ده.
- 16-3-AR تفتیش: افغان سیمه ییز پولیس: د کلیوالي امنیت یو مهم نوښت د لوجیستیکي حمایې، څارنې، او لارښوونې له کمي سره مخامخ دی.

### 15-83-AR تفتيش: افغان کډوال او راستنېدونکي

**اداري فساد او د افغانستان د وزارتونو د ظرفيت کموالي د کډوالو په برخه کې د يوې اوږدمهالې ستراتيژۍ د تطبيق مخه نيولې ده.**

له درې لسيزو څخه د ډېرې مودې جګړې او بې ثباتۍ په نتيجه کې، په ميليونونو افغانان پاکستان، ايران، او نورو ګاونډيو هېوادونو ته کوچېدلي دي. د 2014 کال په ډسمبر کې، يو اېن اېچ سي آر راپور ورکړ چې د 1.5 ميليونه ثبت شويو کډوالو په شمول نژدې 2.5 ميليونه افغانان په پاکستان کې، او 950,000 ثبت شوي افغان کډوال په ايران کې اوسېدل. له 2002 کال راهيسې، د متحده ايالاتو د بهرنيو چارو وزارت له 950 ميليونه ډالرو څخه ډېر د هغو پروګرامونو له پاره تخصيص کړي دي چې په پاکستان او ايران کې له اوسېدونکيو افغانانو او افغانستان ته راستنېدونکيو، او همدارنګه نورو ناچارو افغانانو سره مرسته کوي. د متحده ايالاتود بهرنيو چارو د وزارت د نفوسو، کډوالو، او کډوالۍ بيرو د وزارت د کډوالو او راستنېدونکيو پروګرامونه څاري. د متحده ايالاتو د بهرنيو چارو وزارت د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کمېشنرۍ (UNHCR)، نورو نړيوالو سازمانونو، او غيرحکومتي سازمانونو سره مالي مرسته کوي څو د مرستي پروګرامونه تطبيق کړي. د متحده ايالاتو د بهرنيو چارو وزارت د ملګرو ملتونو د کډوالوپه عالي کمېشنرۍ (UNHCR) تکيه کوي – چې هغه بيا په خپل وار سره د پاکستان او ايران په حکومتونو تکيه کوي – څو د افغان کډوالو او راستنېدونکيو د شمېر په هکله معلومات ورکړي، او د نورو ارقامو ترڅنګ دغه تخمين د دې له پاره کاروي چې د بيرو د مالي مرستو د غوښتنو د اساس په جوړولو کې مرسته وکړي.

د 2012 په مې کې، د افغانستان، پاکستان، او ايران حکومتونو د افغان کډوالو له پاره د حل ستراتيژي جوړه کړه، څو په خپله خوښه د راستنېدنې، د پايښت وړ بيامېشتېدنې او د کوربه هېوادونو (د حل له ستراتيژۍ) سره مرسته وکړي او هغه ستونزې حل کړي چې افغان کډوال او راستنېدونکي ورسره مخامخ دي. د ستراتيژۍ په اساس، يادو درې هېوادونو سره هوکړه وکړه چې د راستنېدونکيو له پاره د استوګنې او معيشت د لړ تر لړه معيار لرونکيو فرصتونو د برابرولو په برخه کې کار وکړي، او د نورو نوښتونو ترڅنګ د کډوالو له پاره د پناه غوښتنې فرصت خوندي وساتي.

د دغه تفتيش هدفونه دا ول چې هغه حد وارزوي چې په هغه کې (1) د متحده ايالاتو د بهرنيو چارو وزارت او د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کمېشنرۍ (UNHCR) په پاکستان او ايران کې د افغان کډوالو شمېر په ګوته کړي، او (2) افغان حکومت د حل ستراتيژي تطبيق کړې ده.

د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کمېشنرۍ (UNHCR) او د متحده ايالاتو د بهرنيو چارو وزارت نشي کولی چې د افغان کډوالو هغه شمېر په خپلواک ډول تاييد کړي چې پاکستاني او ايراني حکومتونو ورکړی دی. له 2001 کال راهيسې، د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کمېشنرۍ (UNHCR) او پاکستاني حکومت د ارقامو صحت ته د انکشاف ورکولو له پاره نورې پروسې تطبيق کړې دي، خو په دغو پروسو کې موجودې کمزورتياوې هغه اطمينانونه محدودوي چې ارقام دې صحيح او د باور وړ وي. د مثال په توګه، په پاکستان کې د افغان کډوالو د مړينې هغه اندازه چې د پاکستان حکومت يې راپور ورکړی دی د ملګرو ملتونو د کډوالو د عالي کمېشنرۍ له تخمين څخه ډېره کمه ده. د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کمېشنرۍ اټکل کوي چې په پاکستان کې هر کال نژدې 23,000 افغان کډوال مړه کيږي. په داسې حال کې چې، د پاکستان حکومت د 2008 له جنورۍ څخه د 2014 تر جون پورې د افغان کډوالو ترمنځ يوازې د ۹ کسانو د مړينې راپور ورکړی دی.

له نړيوالې مرستې سره سره، افغان حکومت د حل د ستراتيژۍ د تطبيقولو په برخه کې محدود پرمختګ کړی دی. د کډوالو او راستنېدونکيو د چارو وزارت – چې له نورو وزارتونو او نړيوالو موسساتو سره د کډوالو او راستنېدونکيو د چارو د همغږۍ مسؤل دی – د حل تر ستراتيژۍ لاندې د خپلو وجايبو د ترسره کولو يا له نورو وزارتونو سره د کار کولو له پاره محدود ظرفيت لري، او د فساد له تورونو سره مخامخ دی. د مثال په توګه، د کډوالو او راستنېدونکيو د چارو وزارت د دې وړتيا نه



**د سيګاريوه تفتيش** وموندله چې، د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کمېشنرۍ (UNHCR) او د متحده ايالاتو د بهرنيو چارو وزارت نشي کولی چې د افغان کډوالو هغه شمېر په خپلواک ډول تاييد کړي چې پاکستاني او ايراني حکومتونو ورکړی دی. (د ملګرو ملتونو عکس چې لوک پاول اخيستی دی)

وه ترلاسه کړي چې د ځمکو د وېش تر پروګرام لاندې، لکه څنګه چې د حلونو ستراتیژۍ او همدارنګه د جمهوري ریاست حکم او د افغانستان قانون یې غوښتنه کوله، په مؤثره توګه افغان راستنېدونکیو ته ځمکې ووېشي.

سربېره پر دې، د کډوالو او راستنېدني د چارو وزارت په دې کې پاتې راغلی وو چې د حلونو د ستراتیژۍ له اصلي هدفونو څخه یو مهم هدف ترسره کړي – په لوړه کچه د راستنېدني په سیمو کې د راستنېدونکیو اړتیاوې په ګوته کړي – او هغه اړتیاوې له نورو وزارتونو سره هغسې شریکې کړي چې یادې ستراتیژۍ یې غوښتنه کوله. د کډوالو او راستنېدني د چارو وزارت له هر وزارت سره د پوهاوي یادښت جوړ کړ چې هغه د کډوالو او راستنېدني د چارو له وزارت څخه غوښتنه کوي چې د راستنېدونکیو اړتیاوې په ګوته کړي، هغه اړتیاوې خپلو شریکبانو وزارتونو سره شریکې کړي، کال په کال د اړتیاوو ارزونه وکړي، او د هر ډول بدلونونو په هکله شریکبانو وزارتونو ته تازه معلومات ورکړي. د کډوالو او راستنېدني د چارو د وزارت په کمزورتیاوو سربېره، د کډوالو او راستنېدونکیو د چارو د وزارت د شریکبانو وزارتونو په لوري کې هم په دې برخه کې علاقه مندي کمه وه چې د د راستنېدونکیو اړتیاوې په خپلو پروګرامونو کې ونیسي. د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو د وزارت د نفوسو، کډوالو، او کډوالۍ د بیرو یوه چارواکي د 2013 په نومبر کې د افغان حکومت د یوه لوړپوړي چارواکي د خبرو په نقل سره وویل، "کډوالو ته ډېره پاملرنه نه کیږي ځکه چې د هغوی موضوع د لومړیتوب موضوع نه ده او وزارتونه داسې فکر نه کوي چې د کډوالو مسئله مستقیما د هغوی په کار کې راځي."

د افغانستان په پخواني حکومت کې د کډوالو او راستنېدونکیو د چارو په وزارت کې فساد د حلونو د ستراتیژۍ په تطبیقولو کې د یاد وزارت وړتیا لا نوره محدوده کړې وه. د مثال په توګه، د اداري فساد پر ضد د مبارزې د څارنې او ارزونې د خپلواکې کمېټې له خوا د کډوالو او راستنېدني د چارو د وزارت د عملیاتو په برخه کې د 2013 کال یوې ارزونې د اداري فساد ګڼې پېښې وموندلې. ارزونې وموندل چې د ځمکو د تخصیص تر پلان لاندې د کډوالو او راستنېدني د چارو د وزارت له خوا د ځمکو د وېش پروسه د اداري فساد ښکار شوې ده. ارزونې همدارنګه رشوت اخیستنه، تقلب، خپلوي پالنه، بده استفاده، او د مشتریانو کمزورې خدمت د پروګرام د تطبیق په لاره کې د خنډونو په توګه یاد کړل. په ورته ډول، د ملګرو ملتونو د کډوالو د عالي کمېشنرۍ د سرپناه د مرستي د پروګرام یوې ارزونې چې د 2012 په مني کې ترسره شوه وویل چې د کډوالو او راستنېدني د چارو وزارت، د اداري فساد، بې کفایتۍ، د پیسو د غلط مدیریت، د بشري ځواک د کمښت، او د وزارت تر مسؤلیت لاندې د راتلونکیو وګړیو په هکله د تخنیکي یا اړوندې پوهې په برخه کې د وړتیا نه لرلو له امله، د ملګرو ملتونو د کډوالو د عالي کمېشنرۍ د سرپناه د مرستي د پروګرام د ترسره کولو یا هغه ته د دوام ورکولو په برخه کې یو باوري شریکبانی نه دی. له هغه وخت راهیسې د ملګرو ملتونود کډوالو عالي کمېشنرۍ د کډوالو او راستنېدني د چارو وزارت سره خپله مرسته په عمومي توګه غیرمالي توکو پورې محدوده کړې ده.

سربېره پر دې، د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو د وزارت د ظرفیت جوړوني پروګرام، چې د مهاجرت د نړیوال سازمان (IOM) له خوا پلی کېده او هدف یې دا وو چې د کډوالو او راستنېدني د چارو د وزارت ظرفیت ته انکشاف ورکړي، د پخواني وزیر تر رهبرۍ لاندې د کډوالو او راستنېدني د چارو وزارت سره د "په لوړه کچه ننګوونکي" کاري رابطې له امله له ستونزو سره مخامخ شوی وو. په 2014 کال کې د پروګرام له پای ته رسېدني څخه مخکې، او د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت سره د افغانستان د کډوالو او راستنېدني د چارو د وزارت په هکله د خپلو اندېښنو په هکله د خبرو اترو کولو څخه وروسته، آی او ایم پرېکړه وکړه چې پروګرام په ځانګړې توګه د کډوالو او راستنېدونکیو د چارو په ولایتي ادارو باندې متمرکز کړي.

د کډوالو او راستنېدونکیو چارو د وزارت د محدود ظرفیت او له اداري فساد سره یې د ستونزو له امله، یاد وزارت ونشوای کولی چې د افغانستان حکومت او نړیوالو شریکبانو سره د افغان کډوالو او راستنېدونکیو چارې په مؤثره توګه رهبري او همغږې کړي، او په دې توګه یې د دې مخه ونیوله چې وزارت د حلونو ستراتیژي په بشپړ ډول تطبیق کړي او هغه ننګوني له منځه وېسي چې کډوال او راستنېدونکي ورسره مخامخ دي. د افغانستان نوي د ملي وحدت حکومت د کډوالو د بیامېشتوني

د اړتیاوو د له منځه وړلو او د کډوالو او راستنېدنې د چارو په وزارت کې د ظرفیت او اداري فساد د ستونزو په وړاندې د ګامونو اخیستلو ژمنه کړې ده، خو دا لا ډېر د وخته دی چې وویل شي چې د دغه حکومت هڅې به څومره مؤثرې وي.

د دې له پاره چې د افغانستان له نوې اداري سره د افغان کډوالو او راستنېدونکیو د اړتیاوو په حلولو کې مرسته وشي، او د حلونو د ستراتیژۍ مؤثر تطبیق یقیني شي، سیګار سپارښتنه کوي چې د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو د وزارت مرستیال، د نفوسو، کډوالو، او کډوالۍ بیرو د افغانستان د کډوالو او راستنېدنې د چارو په وزارت کې د ظرفیتونو د پیاوړتیا او د اداري فساد د راکمولو په برخه کې د افغان حکومت هڅې وڅاري. که چېرې د بهرنیو چارو وزارت پرېکړه کوي چې د کډوالو او راستنېدونکیو د چارو وزارت ضروري پرمختګ کړی دی او دا چې له وزارت سره د متحده ایالاتو راتلونکې مرسته مناسبه ده، سیګار سپارښتنه کوي چې دغه ډوله مرسته باید له دغو ادارو سره په کار باندې مشتمله وي: (الف) د کډوالو او راستنېدنې د چارو وزارت، د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کمېشنري او نور تطبیقوونکي شریکباني، باید یوه داسې ارزونه ترسره کړي چې د راستنېدونکیو اړتیاوې او ننګونې په ګوته کوي او د هغو ستونزو او ننګونو د حلولو له پاره یو داسې مهالوېش جوړکړي چې د حلونو په ستراتیژۍ کې یې غوښتنه شوې ده؛ (ب) د افغانستان اداره باید ډاډ ترلاسه کړي چې نور وزارتونه د راستنېدونکیو هغه اړتیاوې چې د کډوالو او راستنېدنې د چارو وزارت یې په ګوته کوي د افغانستان د ملي پرمختګ په لومړیتوبونو کې ونیسي؛ او (ج) د افغانستان اداره باید د کډوالو او راستنېدنې د چارو وزارت، او نور اړوند وزارتونه د ځمکو د توزیع په برخه کې هغسې چې د افغانستان قانون او د جمهوري ریاست فرمان یې غوښتنه کوي مسؤل او ځواب ویونکي ونیسي.

### 16-3-AR تفتیش: افغان سیمه ییز پولیس
**د کلیوالي امنیت یو مهم نوښت د لوجیستیکي حمایې، څارنې، او لاربښوونې له کمې سره مخامخ دی.**

افغان محلي پولیس، چې په 2010 کال د کورنیو چارو د وزارت تر اداري لاندې رامنځته شوي دي، د دې له پاره کار کوي چې د افغان ملي اردو یا د افغان ملي پولیسو له لاس رسي څخه بهرکلیوالو سیمو کې امنیت پیاوړی کړي. افغان محلي پولیسو ته وظیفه ورکول شوې ده چې د کلیوالو افغانانو د روزنې له لارې محلي امنیت غښتلی کړي څو د یاغیانو او نورو غیرقانوني وسله والو ګروپونو په مقابل کې له خپلو ولسونو څخه دفاع وکړي.

د افغان محلي پولیسو مرکزي دفتر په کابل کې دی، خو د افغان محلي پولیسو هر یونټ د هغه د اړوندې ولسوالۍ او ولایت د پولیسو د اداري له لارې کنټرولېږي. افغان محلي پولیس ټول د 30,000 پرسونل تشکیل لري، او د 2015 له اګست راهیسې په 150 ولسوالیو کې 28,073 پرسونل لري.

افغان محلي پولیس د متحده ایالاتو او ائتلافي قواوو له خوا حمایه کیږي، او د افغانستان د امنیت د انتقال د ګډې قوماندانی (CSTC-A) له خوا څارل کیږي. د افغانستان د امنیت د انتقال ګډه قوماندانې (CSTC-A) د افغان محلي پولیسو د تجهیزولو او ساتلو، او د افغان محلي پولیسو د حمایې په برخه کې د کورنیو چارو د وزارت په ظرفیت جوړونه کې د متحده ایالاتو د مرستو د تنظیم مسؤله ده. د 2015 له اپریل راهیسې، د متحده ایالاتو د دفاع وزارت د افغان محلي پولیسو د حمایې له پاره نږدې 470 میلیونه ډالر لګولي دي. د متحده ایالاتو د دفاع د وزارت د موجودو اټکلونو په اساس، د پروګرام د جاري ساتلو له پاره به په کال کې 121 میلیونه ډالرو ته ضرورت وي.


**د سیګار له** خوا د **افغان محلي پولیسو** د پروګرام تفتیش وموندله چې غیرکافي لوجیستیکي حمایه او د افغان محلي پولیسو د یو شمېر پرسونل بدخ استفاده د هغوی د مؤثرتیا په مخ کې خنډ شوي دي. (د سیګار عکس چې مټ سټیرنینبرګر اخیستی دی)

سیګار دا تفتیش د دې له پاره ترسره کړ چې (1) د افغان محلي پولیسو د بریالیتوب په لاره کې موجودې ننګونې په ګوته کړي؛ (2) د کورنیو چارو د وزارت داخلي کنټرولونه او د افغان محلي پولیسو پرسونل ته د تنخاګانو د ورکولو څارنه وارزوي؛ او (3) معلومه کړي چې د متحده ایالاتو حکومت او د افغانستان د کورنیو چارو وزارت د دې له پاره څنګه پلان نیسي چې د افغان محلي پولیسو پروګرام وڅاري او جاري یې وساتي.

د متحده ایالاتو د دفاع وزارت له 2010 کال راهیسي د افغان محلي پولیسو رامنځته کول، روزل، تجهیزول، او جاري ساتل حمایه کړي دي. خو سره له دې چې په تېرو پنځو کلونو کې په دغه پروګرام کې په سلګونو میلیونه ډالر پانګونه شوې ده، افغان محلي پولیس د لوجیستیکي حمایې، څارنې، او داسې یوه پلان له نشتوالي سره مخامخ دي چې آیا دغه ځواک منحل کړای شي یا دا چې په افغان ملي پولیسو کې ونیول شي.

سیګار وموندل چې د افغان محلي پولیسو مؤثرتیا د غیرکافي لوجیستیکي حمایې او د افغان محلي پولیسو د یو شمېر پرسونل د بدې استفادې له امله کمزورې شوې ده. افغان محلي پولیس د افغانستان په بېلابېلو برخو کې د ډېرو کلیو له پاره د دفاع لومړۍ کرښه جوړوي، خو د افغان محلي پولیسو له پاره غوښتل شوي تأمینات اکثر وختونه په بله لاره ځي، ځنډول کیږي، ټیټ کیفیت لري، یا په لوړه کچه غلا کیږي. سربېره پر دې، د ائتلاف او افغان محلي پولیسو هغه پرسونل چې سیګار ورسره مرکې کړې دي ویلي دي چې غیرباوري لوجیستیکي توکي او د تأميناتو کمې هم د کمزورتیا احتمال ډېروي. د افغان محلي پولیسو د مشرتابه له خوا ترسره شویو ګنو داخلي بیاکتنو، چې سیګار پرې بیاکتنه کړې ده، په ډېرو ولسوالیو او ولایتونو کې د افغان محلي پولیسو د واحدونو له پاره د تأميناتو د کمې په هکله راپور ورکړی دی. سربېره پر دې، سیګار موندلې ده چې د افغان محلي پولیسو یو شمېر پرسونل د افغان حکومتي چارواکو له پاره په نامناسب ډول د باډي ګارډانو په توګه کارول شوي دي، چې دا د *افغان محلي پولیسو د تاسیس، مدیریت او فعالیت د پروسیجرونو د تنظیم له* پروګرام څخه مستقیمه سرغړونه ده.

د دې له پاره چې د وخت او حاضرۍ او د تنخاګانو د توزیع د ارقامو داخلي کنټرولونه په خپلواکه توګه وارزوي، سیګار د تنخاګانو د توزیع په اسنادو باندې بیاکتنه وکړه او ګڼې بې نظمۍ یې په ګوته کړې، چې لومړۍ یې د راټولو کړای شویو ارقامو او د هغو فورمو په برخه کې وې چې د تنخاګانو د توزیع د پروسې د چمتوکولو له پاره کارول شوي وې. یو تفتیش چې په 2012 کال کې د متحده ایالاتو د دفاع د وزارت د عمومي مفتش له خوا ترسره شوی وو سپارښتنه کړې وه چې د افغانستان د امنیت د انتقال ګډه قوماندانۍ باید د هغو پیسو یوه مالي بیاکتنه ترسره کړي چې په افغان محلي پولیسو باندې لګول شوي دي. په داسې حال کې چې د افغانستان د امنیت د انتقال ګډې قوماندانۍ له دې سپارښتنې سره هوکړه وکړه، د افغانستان د امنیت د انتقال ګډې قوماندانۍ د پروګرام هېڅ تفتیشونه ترسره نه کړل. په 2014 کال، د افغانستان د امنیت د انتقال ګډې قوماندانۍ د پروګرام یو محدود تفتیش پیل کړ خو کله چې سیګار دا تفتیش پیل کړ، سره له دې چې سیګار له قوماندانۍ څخه غوښتنه وکړه چې خپل تفتیش فسخه نه کړي خو هغوی فسخه کړ.

د متحده ایالاتو د دفاع وزارت اراده لري چې لږ تر لږه د 2016 تر سپټمبر پورې د افغان محلي پولیسو تمویل ته دوام ورکړي، خو د افغان محلي پولیسو د انتقال یا منحلېدلو اوږدمهالی پلان لا هم په نامعلوم حالت کې پاتې دی، او هغه پرمختګونه چې سپارښتنه یې شوې ده لا تطبیق شوي نه دي. د هغو اسنادو له مخې چې د هغو په اساس افغان محلي پولیس منځ ته راغلي دي، افغان محلي پولیس باید په نورو افغان امنیتي ځواکونو باندې واوړي؛ البته، د عمر محدودیتونه او د سواد شرایط د افغان محلي پولیسو د پرسونل هغه شمېر محدودوي چې د انتقال احتمال یې موجود دی. د متحده ایالاتود دفاع وزارت دوامداره حمایه د پروګرام په هکله د افغان حکومت پرېکړې او دې پورې اړه لري چې افغان حکومت د دغه پروګرام په هکله څه اراده لري او دا چې په پروګرام کې په کلنۍ سطحه د لګېدونکیو 121 میلیونه ډالرو لګښتونه څنګه پلانوي. د افغان محلي پولیسو د مدیریت کارمندان، د متحده ایالاتو د دفاع وزارت له پرسونل سره په ګډه، وخت په وخت د افغان محلي پولیسو د یونټونو ساحوي کتنې ترسره کوي او د سپارښتنو په هکله یې راپور ورکوي، چې په دې هکله تفصیل وړاندې کوي چې پروګرام څنګه انکشاف موندلی شي؛ البته، سپارښتنې اکثر وختونه نه تطبیقیږي.

د دې له پاره چې یقیني شي چې د افغان محلي پولیسو پروګرام په مسؤلانه توګه تنظیم شوی او ساتل شوی دی، او د متحده ایالاتو د مالي مرستو څارنه ښه شوې ده، سیګار سپارښتنه کوي چې د افغانستان د امنیت د انتقال د ګډې قوماندانۍ عمومي قوماندان دا په پام کې ونیسي چې د افغان محلي پولیسو له پاره راتلونکې مالي تمویل د افغانستان د ځانګړیو عملیاتو کډ وظیفوي ځواک پورې وتړي، او د کورنیو چارو وزارت په دې برخه کې (1) داسې ګامونه واخلي څو یقیني کړي چې د افغان محلي پولیسو یونټونه،

په ټولو هغو ولسوالیو کې چې هغوی هلته ځای پرځای شوي دي، وکولی شي چې د اړتیاوړ تأمینات په اسانۍ سره ترلاسه کړي؛ (2) د ولایتي او ولسوالیو د چارواکو د باډي ګارډانو په توګه له افغان محلي پولیسو څخه بده استفاده پای ته ورسوي؛ (3) د افغان محلي پولیسو د راتلونکي انتقال، ساتلو، یا منحل کولو له پاره یو هراړخیز پلان جوړ کړي؛ او (4) د افغان محلي پولیسو رهبرۍ ته هغه ضروري صلاحیتونه ورکول شي چې هغه سپارښتنې ترسره کړي چې د هغه د ساحوي کتنو په راپورونو کې موجودې دي. سربېره پر دې، د دې له پاره چې د متحده ایالاتو د مالي مرستو څارنې ته وده ورکول شي، سیګارسپارښتنه کوي چې د افغانستان د امنیت د انتقال د ګډې قوماندانۍ عمومي قوماندان: (5) د کورنیو چارو وزارت سره مرسته وکړي څو داسې ګامونه واخلي چې د افغان محلي پولیسو د وخت او حاضرۍ د ثبتولو او جمع کولو په هکله داخلي کنټرولونو ته وده ورکړي؛ (6) د کورنیو چارو وزارت دې ته تشویق کړي چې د افغان محلي پولیسو د تنخاګانو د کمپیوټري تادیاتو استعمال پراخ کړي، او افغان محلي پولیسو ته د معتمد له لارې د تنخاګانو د تادیاتو د طریقې استعمال کم کړي؛ او (7) د افغان محلي پولیسو د پروګرام په هکله خپل مالي تفتیش بیا له سره پیل کړي.

## په دې درې میاشتنۍ موده کې د اجرأتو نوي اعلان شوي تفتیشونه

په دې درې میاشتنۍ موده کې سیګار دوه نوي د اجرأتو تفتیشونه پیل کړل. دغه تفتیشونه به د قوماندان د چټک غبرګون د پروګرام (CERP) مؤثرتیا او د لیجیسي د څېړنیزو قراردادونو اجرأت وارزوي.

### د اجرأتو نوي تفتیشونه

- په افغانستان کې د قوماندان د چټک غبرګون د پروګرام مؤثرتیا
- د لیجیسي د څېړنیزو قراردادونو ورکړه، اداره، او اجرأت

### په افغانستان کې د قوماندان د چټک غبرګون د پروګرام مؤثرتیا

د متحده ایالاتو د دفاع وزارت د مالي مدیریت د مقرراتو او د افغانستان له پاره د متحده ایالاتو د ځواکونو (USFOR-A) د قوماندان د چټک غبرګون د پروګرام د معیاري عملیاتي کړنلارو په اساس، د قوماندان د چټک غبرګون د پروګرام هدف دا دی چې قوماندانانو ته دا صلاحیت ورکړي څو په خپلو تر مسؤلیت لاندې سیمو کې د بشري خیر ښېګڼې د داسې پروګرامونو د ترسره کولو له لارې غبرګون وښیي چې له ځایي خلکو سره چټکه مرسته کوي. په افغانستان کې، د افغانستان له پاره د متحده ایالاتو د ځواکونو (USFOR-A) قوماندان د پروګرام د څارنې مسؤل دی او د پروګرام د هدفونو او مقصدونو په هکله لارښوونې وړاندې کوي.

له 2004 کال راهیسې، کانګرس له 3.68 بیلیونه ډالرو څخه ډېرې پیسې په افغانستان کې د قوماندان د چټک غبرګون پروګرام (CERP) ته تخصیص کړي دي. سیګار پخوا په افغانستان کې د قوماندان د چټک غبرګون د پروګرام (CERP) په برخه کې د متحده ایالاتو د دفاع د وزارت د مدیریت په هکله راپورونه خپاره کړي ول، چې په هغو کې د 2009 کال یو داسې راپور چې د قوماندان د چټک غبرګون د پروګرام (CERP) له پاره د مدیریت او پلان جوړونې ارزونه یې کوله، او په لغمان ولایت کې د قوماندان د چټک غبرګون د پروګرام (CERP) د پروژو د څارنې او مدیریت په هکله د 2011 کال یو راپور چې د پروګرام د مدیریت او څارنې په برخو او همدارنګه د قوماندان د چټک غبرګون د پروګرام (CERP) له خوا د تمویل شویو پروژو د تداوم په هکله یې معلومات ورکول، هم شامل وو.

دغه تفتیش به دا وارزوي چې آیا د متحده ایالاتو د دفاع وزارت د قوماندان د چټک غبرګون د پروګرام (CERP) د وزارت او د متحده ایالاتو د ستراتیژیکو هدفونو د ترسره کولو په برخو کې د هرې پروژې، او په مجموع کې د پروګرام مؤثرتیا ارزولې ده. په ځانګړې توګه، سیګار پلان لري چې هغه حد وټاکي چې ترهغه پورې: (1) د قوماندان د چټک غبرګون د پروګرام (CERP) په قواعدو او د معیاري چلښت په کړنلارو کې د قوماندان د چټک غبرګون د پروګرام (CERP) د پروژو د ارزونې له پاره لارښوونې شاملې دي؛ (2) د متحده ایالاتو د دفاع وزارت د قوماندان د چټک غبرګون د پروګرام (CERP) د هرې پروژې مؤثرتیا ارزولې ده چې پروژې څنګه د متحده ایالاتو د دفاع د وزارت او د متحده ایالاتو ستراتیژیک هدفونه ترسره کوي؛ او (3) د متحده ایالاتو د دفاع وزارت د دفاع وزارت او د متحده ایالاتو د ستراتیژیکو هدفونو د ترسره کولو په برخه کې په مجموعي توګه د قوماندان د چټک غبرګون د پروګرام (CERP) مؤثرتیا ارزولې ده.



**زده کوونکي د** CERP د پیسو په واسطه په یوه ښوونځي کې د 17 کوټو د یوې ودانۍ د اضافه کولو د پرانستې په مراسمو کې **افغان ملي سرود غږوي**. سیګار د CERP د مؤثرتیا یو تفتیش پیل کړی دی. (د متحده ایالاتو د دفاع وزارت عکس چې کورټ ډراپر اخیستی دی)

### د لیجیسي د څېړنیزو قراردادونو ورکړه، اداره، او اجرأ

له 2007 څخه تر 2013 پورې د متحده ایالاتو د اردو څېړنیز لابراتوار (ARL) د اداري تر دوو پراخوهوکړو لاندې شپږ قراردادونه امپیراټیس شرکت ته چې تر 2013 پورې د جورج د علمي شرکت په نامه یادېده ورکړل، څو د لیجیسي پروګرام تطبیق کړي. تر دغه پروګرام لاندي، امپیراټیس او د هغه د فرعي قراردادي، نیو سینچري کانسلټنګ، وظیفه دا وه چې د افغانستان له پاره اساسي علمي څېړنه او ټکنالوجیکي حل لارې وړاندې کړي، او په لوړه کچه متخصص، یاغي ضد، استخباراتي کارپوهان چمتو کړي چې افغان ملي اردو او ملي پولیس ځواکونه وروزي او لارښوونه یې وکړي. دغه هڅې به یادو ځواکونو ته فرصت ورکړي چې په افغانستان کې د متحده ایالاتو د ځواکونو په حمایې سره د ترهګرو او یاغیانو د شبکو په مقابل کې بریالي بشري استخباراتي عملیات ترسره کړي. د 2007 په سپتمبر کې د اجرأتو له پیل څخه د 2017 په مارچ کې د متوقع بشپړتیا تر وخته پورې د شپږو لیجیسي قراردادونو متوقع ارزښت له 920 میلیونه ډالرو څخه ډېر دی. امپیراټیس شرکت او نیوسینچري کانسلټنګ د یادې مودې پر وخت په ټول افغانستان کې تر قراردادونو لاندې کار ترسره کړی دی.

د 2015 په اپریل کې، د لیجیسی قراردادونو له جملې څخه د یوه – لیجیسي ایسټ – چې د 2011 د اکتوبر له 21 مې څخه د 2014 د مارچ تر 15 مې پورې وو، په هکله یو مالي راپور خپور کړ. تفتیش وموندله چې جورج ساینټیفیک د نیوسینچري کانسلټنګ د لګښتونو کافي اندازه حمایوي اسناد د مفتشینو له پاره نه درلودل څو معلومه کړي چې آیا ادعا شوی لګښتونه په ریښتیا سره شوي ول، د تخصیص وړ ول، او د لګښتونو له مناسبو اصولو سره برابر ول. سربېره پر دې، جورج ساینټیفیک د سیالی له لارې د تدارکاتو د پروسې په برخه کې د تدارکاتو فدرالي پالیسی نه وې عملي کړې. په نتیجه کې، جورج ساینټیفیک ونشوای کولی چې وښیي چې هغه 134.6 میلیونه ډالر چې په غیرکافي ډول مستند او په نامناسب ډول تایید کړای شوي لګښتونه دي د منلو وړ وي، او د متحده ایالاتو حکومت ښایي د هغو شیانو او خدمتونو څخه چې ترلاسه شوي دي ښه ګټه نه وي ترلاسه کړې.

دا تفتیش به د اردو د څېړنیز لابراتوار یا آرمي ریسرچ لیبارټري (ARL) د لیجیسي د څېړنې او تحلیل د قراردادونو په ورکړه او مدیریت باندې بیاکتنه وکړي، او وبه ښیي چې ایا امپراټیس او د هغه فرعي قراردادي، نیوسینچري کانسلټنګ، د قرارداد له شرایطو سره سم خدمتونه ترسره کړي دي. په ځانګړې توګه، سیګار پلان لري چې هغه حد وټاکي چې ترهغه پورې: (1) د اردو څېړنیز لابراتوار(ARL) د لیجیسي قراردادونه د څېړنې او تحلیل د قراردادونو له پاره د سیالی د غوښتنلیکونو د اعلانونو، او د متحده ایالاتو د دفاع وزارت او فدرالي قواعدو په پام کې نیولو سره جوړ کړي او ورکړي دي؛ (2) د اردو څېړنیز لابراتوار (ARL) د هغو وظایفو څارنې ته لاره هواره کړه چې د امپیراټیس او نیو سینچري کانسلټنګ له خوا د اداري تر دوو پراخوهوکړو او د قراردادونو د شرایطو په اساس شوي دي؛ او (3) امپیراټیس او نیو سینچري کانسلټنګ د ای آر اېل د اداري تر پراخوهوکړو او د قراردادونو د شرایطو په اساس وظایف ترسره کړي دي.

## مالي تفتیشونه

سیګارخپل د مالي تفتیش پروګرام په 2012 کال کې وروسته له هغه پیل کړ چې کانګرس او د نظارت ټولنې له سمندر څخه د پورې غاړې ناڅاپي عملیاتو په ملاتړ کې د شویو قراردادونو او بلاعوضه مرستو په نظارت او تفتیشونو کې د نیمګړتیاوو په هکله اندېښنې وښودلې. سیګار د سیالی یا رقابت له لارې د محاسبې مستقلې ادارې انتخابوي چې مالي تفتیشونه ترسره کړي او دا یقیني کوي چې د تفتیش کار د متحده ایالاتو د حکومت د تفتیش کولو په معیارونو برابر دی. مالي تفتیشونه د فدرالي عمومي مفتش له ټولنې سره همغږې کیږي څو د مالي تفتیش پوښښ پراخ کړي او د کارونود دوه ځلې ترسره کېدا مخه ونیسي.

په دې درې مياشتنۍ موده يا ربعه کې، سيګار د افغانستان د بياجوړونې له پاره د متحده ايالاتو له خوا د تمويل شويو قراردادونو، بلاعوضه مرستو، او د همکارۍ د تړونونو شپږ مالي تفتيشونه ترسره کړل. سيګار همدارنګه، د متحده ايالاتو د نړيوالې پرمختيايي ادارې (USAID) د قراردادونو چې په مجموعي توګه له 253 ميليونه ډالرو څخه ډېر ارزښت لري، درې نوي مالي تفتيشونه اعلان کړل، او په دې توګه يې د روانو مالي تفتيشونو ټول شمېر 23 ته راوست چې، لکه څنګه چې په 1 جدول کې ښودل کيږي، د نږدې 2.5 بيليونه ډالرو په اندازه د تفتيش وړلګښتونه په کې تفتيش کيږي. دغه تفتيشونه مرسته کوي چې د متحده ايالاتوحکومت او امريکايي ماليه ورکوونکيو ته اطمينان ورکړي چې په يادو مرستو کې لګېدونکې پيسې هغسې کارول کيږي چې په پام کې نيول شوې وي. تفتيشونه د هغو لګښتونو په هکله پوښتنه کوي چې د تاييد اسناد نه لري يا دا چې احتمالا مجاز نه وي.

سيګار د هرمالي تفتيش راپورهغې تمويلوونکې ادارې ته په لاس ورکوي چې ټاکلې مرسته (مرستې) يې کړې وي. تمويلوونکې اداره مسؤله ده چې د تر پوښتنې لاندې مبلغونو په هکله چې د راپور د تفتيش په موندنو کې په ګوته کيږي وروستۍ فيصله وکړي. د پروګرام له پيل راهيسې، د سيګار مالي تفتيشونو له 280.4 ميليونه ډالرو څخه ډېر د تر پوښتنې لاندې قيمتونو او 289,880 ډالر په مخکې تر مخکې فدرالي بسپنو يا حکومت ته د تاديې وړ نورو نه تاديه شويو مبلغونو په توګه په ګوته کړي دي. د 2015 د اکتوبر له 30 مې راهيسې، تمويلوونکې ادارې د 50 بشپړو شويو مالي تفتيشونو په هکله يوې مديريه پرېکړې ته رسېدلي دي او له 16.7 ميليونه ډالرو څخه ډېرې تر پوښتنې لاندې پيسې داسې دي چې بايد بېرته ترلاسه کړای شي. د تمويلوونکيو ادارو له پاره به دا وخت واخلي چې د تفتيش د موندنو او سپارښتنو په هکله په پام سره غور وکړي. په نتيجه کې، د سيګار د ترسره شويو مالي تفتيشونو په هکله لا هم د ادارو د مديريت پرېکړې نه دي شوي. د سيګار مالي تفتيشونو همدارنګه 201 د رضايت يا مطابقت موندنې او 240 د داخلي کنټرول موندنې په ګوته کړي او تفتيش شويو او تمويلوونکيو ادارو ته يې ور رسولي دي.

د سيګارمالي تفتيشونه ځلورځانګړي هدفونه لري:

- په دې هکله يو نظر ورکوي چې آيا د مرستې له پاره د ځانګړي هدف مالي شرحه له ټولو مادي جهتونو، ترلاسه شويو عوايدو، شويو لګښتونو، د متحده ايالاتو د حکومت له خوا د مستقيما پيرودل شويو شيانو صحيح معلومات وړاندې کوي او له هغې مودې سره يې ميزان برابر دی چې تفتيش شوې ده او دا چې آيا دا ټولې چارې د قرارداد له شرايطو او په عمومي توګه د محاسبې له منل شويواصولو يا نورو هراړخيزو اساساتو سره برابرې دي.
- د مرستو د قرارداد په هکله د تفتيش شوې موسسې د داخلي کنټرول په هکله ارزونه کوي او کافي اندازه معلومات پرې ترلاسه کوي؛ او د موادو په هکله د داخلي کنټرول د کمزورتياوو په شمول د پام وړعيبونه په ګوته کوي او په هکله يې راپور ورکوي.
- داسې ازموينې ترسره کوي چې معلومه کړي چې آيا تفتيش شوې موسسې، د ټولو داخلي اړخونو په پام کې نيولو سره، د ورکول شوي قرارداد شرايط او د اجرأ وړ قوانين او مقررات ترسره کړي دي؛ او هم د موادو نه مطابقت مشخص کړي او په هکله يې راپور ورکړي.

2.1 جدول

| د سيګار د مالي تفتيش پوښښ (بيليونه ډالر) | |
|---|---|
| 59 بشپړ شوي تفتيشونه | $4.4 |
| 23 روان تفتيشونه | 2.5 |
| **ټول** | **$6.9** |

يادونه: عددونه نږدې پوره عددونو ته ورغونډ کړای شوي دي. په پوښښ کې هغه د تفتيش وړقېمتونه شامل دي چې د متحده ايالاتو له خوا د افغانستان د بيارغونې تمويل شويو قراردادونو، بلاعوضه مرستو، او د همکارۍ د تړونونو ترلاسه کوونکيو ترلاسه کړي دي.

سرچينه د سيګار د تفتيشونو او پلټنو رياست

**د پوښتنې وړمبلغونه:** په مخکې ورکول شويو فدرالي فنډونو يا د عوايدو په نورو مبلغونوباندې چې حکومت ته د تاديه کېدلو وړ دي په احتمالي توګه د نه توجيه وړ ترپوښتنې لاندې قېمتونو او نه تاديه شويو سودونومجموعه

**د پوښتنې وړ قيمتونه:** هغه لګښتونه چې معلومه شوې وي چې غيرمجاز يا غيرقانوني دي. د ترپوښتنې لاندې قيمتونو دوه ډولونه غيرقانوني قيمتونه (له يوه قانون څخه سرغړونه، تنظيمول، قرارداد، بلاعوضه مرسته، د همکارۍ موافقه او داسې نور.. يا د پيسو غيرضروري لګښت) او نه حمايه شوي قيمتونه دي (هغه قيمتونه چې د يوه تفتيش پر وخت کافي اندازه اسناد يا کاغذي تاييدونه نه لري).

**د ځانګړي هدف مالي شرحه:** د يوې ورکول شوې مودې په جريان کې د يوې ورکول شوې مرستې يوه مالي شرحه چې ټول هغه عوايد په کې شامل وي چې ترلاسه شوي وي، هغه قيمتونه چې لګول شوي وي، او تر هغو وروسته هر پاتې شوی ميزان.

- دا مشخصه کړي او په هکله یې راپور ورکړي چې آیا تفتیش شوې موسسې کافي اندازه اصلاحي چارې ترسره کړې دي چې له پخوانیو فعالیتونو څخه د ترلاسه شویومونډنو اوسپارښتنو په هکله راپور ورکړي او حل یې کړي.

د بشپړو شویو او روانو مالي تفتیشونو یو لست کېدای شي د دې درې میاشتني راپور په ج (C) ضمیمه کې وموندل شي.

## خپاره شوي مالي تفتیشونه

په دې درې میاشتني موده کې، سیګار د افغانستان د بیارغوني له پاره د متحده ایالاتو له خوا د تمویل شویو قراردادونو، بلاعوضه مرستو، او د همکارۍ د تړونونه شپږ مالي تفتیشونه بشپړ کړي دي. دغو مالي تفتیشونو د داخلي کنټرول د عیبونو او د نه مطابقت د ستونزو په نتیجه کې نژدې 1.2 میلیونه ډالر د تر پوښتنې لاندې لګښتونو په توګه په ګوته کړل. په دغو عیبونو کې د نورو شیانو ترڅنګ د سیالی له لارې د مراحلو په تعقیبولو کې پاتې راتګ، له محدودو او مشخصو منابعو څخه د موادو پېرودنه، د اسعارو د نامناسبو قیمتونو د کارونې له امله اضافي لګښتونه لګول، د شویو لګښتونو د حمایه کولو له پاره د کافي اندازه اسنادو نشتوالی، او د غیرقانوني مالیاتي جریمو او جبرانونو په نامه د بېلونو صادرول شامل ول.

### 15-81-FA مالي تفتیش: د متحده ایالاتو د اردو د ځانګې د افغان ملي اردو د ډیپو پروژه

#### د ریتیون شرکت له خوا د شویو لګښتونو تفتیش

د 2011 د جولای په 15 مه، د اردو د قراردادونو قوماندانۍ (ACC) ریتیون شرکت (ریتیون) ته د 20.1 میلیون ډالرو یو کلن قرارداد ورکړ چې د افغان ملي اردو د ډیپو پروژه حمایه کړي. د یادې پروژې هدف دا وو چې د نورو شیانو تر څنګ په کابل ولایت کې د افغان ملي اردو د دوه ډیپوګانو له پاره د مدیریت، عملیاتو، او لوجیستیکي حمایې، او همدارنګه د پرسونل، موادو، تأميناتو، او تجهیزاتو اسانتیاوې برابرې کړي.

له ګڼو تعدیلاتو څخه وروسته، د اردو د قراردادونو قوماندانۍ (ACC) یو اضافي اختیاري کال، او د پروژې مالي وجه 34,512,935 ډالرو ته لوړه شوه. د افغان ملي اردو د ډیپو د پروژې په هکله د سیګارمالي تفتیش، چې د کرو هورووات ایل ایل پي (کرو هورووات) له خوا ترسره شو، په هغو 33,396,684 ډالرو باندې بیاکتنه وکړه چې د 2011 د جولای له 15 مې څخه د 2013 د جون تر 19 مې پورې په قرارداد باندې حساب شوې وې.

کرو هورووات داسې کوچنې عیبونه په ګوته کړل چې د تفتیش له بشپړولو څخه مخکې د ریتیون له خوا حل کړای شوي ول. په نتیجه کې، هلته له تفتیش څخه ترلاسه شوې د راپور ورکولو وړ هېڅ موندنې نشته.

کروهورووات هېڅ داسې تر پوښتنې لاندې لګښتونه په ګوته نه کړل، چې په هغو کې دې د اسنادو په واسطه نه حمایه شوي لګښتونه یا غیرقانوني لګښتونه شامل وي. کرو هورووات هېڅ داسې پخوانۍ بیاکتنې یا ارزونې په ګوته نه کړې چې هغه دې د ریتیون له خوا د افغان ملي اردو د ډیپو د پروژې د تطبیق په هکله وي یا دا چې د ځانګړي هدف د مالي شرحې له پاره دې مهمې وي.

کروهورووات د ریتیون د ځانګړي هدف د مالي شرحې په هکله یو نه تعدیل شوی نظر صادر کړ، او یاده یې کړه چې شرحه د تفتیش د مشخصې دورې ترلاسه شوې عواید، ترسره شوي لګښتونه، او میزان په مناسب ډول، او د پام وړ ټولو اړخونو په پام کې نیولو سره وړاندې کوي.

دا چې کرو هورووات د افغان ملي اردو د ډیپو د پروژې په هکله د هېڅ موندنو راپور ورنه کړ، له دې امله سیګار هېڅ سپارښتنې نه کوي.

**بشپړ شوي مالي تفتیشونه**

- 15-81-FA مالي تفتیش: د ریتیون شرکت له خوا د شویو لګښتونو تفتیش
- 15-84-FA مالي تفتیش: د افغانستان د انتخاباتو د اصلاح او مدني ملاتړ پروګرام: د ډیموکراسي انټرنیشنل آی اېن سي له خوا د شویو لګښتونو تفتیش
- 15-87-FA مالي تفتیش د متحده ایالاتو د نړیوالي پرمختیایي ادارې (USAID) له خوا له افغان ملکیانو سره د مرستې پروګرام II د ای آر ډي له خوا د شویو لګښتونو تفتیش
- 15-88-FA مالي تفتیش: په افغانستان کې د متحده ایالاتو د نړیوالي پرمختیایي ادارې (USAID) د ځمکو د اصلاح پروګرام د ټیټرا ټیک ای آر ډي له خوا د شویو لګښتونو تفتیش
- 15-89-FA مالي تفتیش: د ختیځ او جنوب په سیمه ییزو قوماندانیو کې د متحده ایالاتو د نړیوالي پرمختیایي ادارې (USAID) له خوا د ولایتي حکومتولۍ د تشکیلاتو پروګرام د انتخاباتو او سیاسي پروسې د پیاوړتیا د کنسرسیوم له خوا د شویو لګښتونو تفتیش
- 16-4-FA مالي تفتیش: د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو د وزارت له خوا په افغانستان کې د افغان ښځو د حقونو د خوندیتابه پروګرام د ښځې د افغان ښځو له پاره موسسې له خوا د شویو لګښتونو تفتیش

**نه حمایه شوي لګښتونه:** هغه چې د کافي اندازه اسنادو په واسطه نه وي حمایه شوي یا دا چې د مخکې تر مخکې اړتیا وړتایید سند ونه لري.

**غیرمجاز لګښتونه:** هغه چې د موافقې، جاري قوانینو، یا مقرراتو په اساس منع شوي وي.

سرچینه: د سیګار د تفتیشونو او پلټنو ریاست

## 15-84-FA مالي تفتيش: د افغانستان د انتخاباتو د اصلاح او مدني ملاتړ پروګرام

### د ډيموکراسي انټرنېشنل شرکت له خوا د شويو لګښتونو تفتيش

د 2009 د جولای په 13 مه، د متحده ایالاتو نړیوالي پرمختایی اداري (USAID) د ډيموکراسي انټرنېشنل شرکت (ډيموکراسي انټرنېشنل) ته د 5 ميليونه ډالرو په ارزښت يو 140 ورځنی د همکارۍ قرارداد ورکړ څو په افغانستان کې د 2009 کال د جمهوري رياست او ولايتي شوراګانو د انتخاباتو له پاره د انتخاباتو د کتنې ماموريت تمويل کړي. د دغه پروګرام هدف دا وو چې د انتخاباتو کتنې او څېړنه ترسره کړي، او د انتخاباتو ډيموکراتيکه پروسه غښتلې کړي. له 28 تعديلونو څخه وروسته، د همکارۍ د تړون ټول قيمت 38.7 ميليونه ډالرو ته پورته شو، د اجرأتو دوره د 2015 د ډسمبر تر 31 مې پورې وغزېده، او د پروګرام نوم د افغانستان د انتخاباتو د اصلاح او مدني ملاتړ پروګرام (AERCA) ته بدل کړای شو. د سيګار مالي تفتيش، چې د کرو هوروات له خوا شوی دی، د هغو 6,179,567 ډالرو بياکتنه وکړه چې د 2013 د جنورۍ له 1 څخه د 2014 د جون تر 30 مې پورې لګول شوي او د همکارۍ په يادې هوکړې پسې حساب شوي ول.

کرو هوروات د ډيموکراسي انټرنېشنل دوه د پام وړ کمزورتياوې په داخلي کنټرولونو او يوه پېښنه له قواعدو سره په نه مطابقت کې په ګوته کړې. په مشخص ډول، کرو هوروات وموندله چې ډيموکراسي انټرنېشنل داسې يوه کړنلاره نه لرله چې د USAID د مرستو دفرعي ترلاسه کوونکيو لګښتونه وڅاري. داسې يوه پروسه به وښيي چې آيا د ډيموکراسي انټرنېشنل د مرستو فرعي ترلاسه کوونکيو اړتيا لرله چې د USAID له خوا د هغوی د تمويل شويو لګښتونو مالي تفتيش وکړي. سربېره پر دې، ډيموکراسي انټرنېشنل د تدارکاتو په قراردادونو کې هغه ځانګړي د قراردادونو شرايط نه وو شامل کړي چې فدرالي مقرراتو يې غوښتنه کوله. که څه هم چې له هغه وخت راهيسې ډيموکراسي انټرنېشنل د خپلو قراردادونو معياري تحريري قالبونه يا ټېمپليټونه تصحيح کړي دي څو په راتلونکيو قراردادونو کې د له پامه غورځونو مخه ونيسي، کرو هوروات سپارښتنه وکړه چې ډيموکراسي انټرنېشنل دې له هر خدمت برابروونکي څخه د پخوانيو قراردادونو په هکله له پامه د غورځول شويو تنظيمونکيو شرايطو په برخه کې د هغوی د متابعت په اړه ليکلي تاييدونه ترلاسه کړي.

کرو هوروات هېڅ داسې تر پوښتنې لاندې لګښتونه په ګوته نه کړل چې داخلي کمزورتياوې او د نه مطابقت پېښنه دې ولري. په تر پوښتنې لاندې لګښتونو کې د اسنادو په واسطه نه حمايه شوي لګښتونه او غيرمجاز لګښتونه راځي.

کرو هوروات د پخواني تفتيش دوه داسې موندنې په ګوته کړې چې د ډيموکراسي انټرنېشنل له خوا د AERCA په تطبيق پورې يې اړه لرله، او د ځانګړي هدف د مالي شرحې له پاره مهمې وې. لومړۍ موندنه د تدارکاتو د اسنادو ساتنې پورې مربوطه وه. ډيموکراسي انټرنېشنل سموونکي چارې تطبيق کړې، او کرو هوروات په خپل تفتيش کې د تاييد په هکله نور هېڅ اندېښنې په ګوته نه کړې. د دويم پخواني تفتيش موندنې وښودله چې ډيموکراسي انټرنېشنل په خپلو فرعي قراردادونو کې هغه بېلابېل شرايط په پام کې نه وو نيولي چې فدرالي مقرراتو او د متحده ايالاتو د نړيوالي پرمختيايي اداري (USAID) پاليسيو يې غوښتنه کوله. لکه چې مخکې ياده شوه، کرو هوروات په خپل تفتيش کې دې ته ورته يوه موندنه لرله، خو ډيموکراسي انټرنېشنل له هغه را وروسته خپل د قرارداد قالبونه يا ټېمپليټونه داسې تصحيح کړل چې په راتلونکيو قراردادونو کې د له پامه غورځونو مخه ونيسي.

کرو هوروات د ډيموکراسي انټرنېشنل د ځانګړي هدف د مالي شرحې په هکله يو نه تعديل شوی نظر صادر کړ، او ياده يې کړه چې شرحه د تفتيش د مشخصې دورې ترلاسه شوي عوايد، شوي لګښتونه، او ميزان په مناسب ډول، او د پام وړ ټولو اړخونو په پام کې نيولو سره وړاندې کوي.



**په افغانستان کې** د 2009 د جمهوري رياست او ولايتي شوراګانو د انتخاباتو له پاره د انتخاباتو د کتنې د ماموريت د تمويل يو قرارداد د سيګار د يوه وروستي مالي تفتيش يوه موضوع وه. (په کابل کې د امريکا د سفارت له خوا اخيستل شوی عکس)

د تفتيش د نتايجو په اساس، سيګار سپارښتنه کوي چې د متحده ايالاتو په نړيواله پرمختيايي اداره (USAID) کې د موافقو مدير دې:

1. ډيموکراسي انټرنېشنل ته سپارښتنه وکړي چې په راپور کې يادې شوې د داخلي کنټرول دوه موندنې دې حل کړي.
2. ډيموکراسي انټرنېشنل ته سپارښتنه وکړي چې په راپور کې ياده شوې د داخلي کنټرول يوه د نه مطابقت موندنه دې حل کړي.

## 15-87-FA مالي تفتيش: د متحده ايالاتو د نړيوالې پرمختيايي ادارې (USAID) له خوا له افغان ملکيانو سره د مرستې پروګرام II

**د ښېګڼې او انکشاف د نړيوالې ادارې (آی آر ډي) له خوا د شويو لګښتونو تفتيش**

د 2011 د سپتمبر په 27 مه، د متحده ايالاتو نړيوالې پرمختيايي ادارې (USAID) د ښېګڼې او انکشاف نړيوالې ادارې (IRD) ته د 76.8 ميليونه ډالرو په قېمت يو درې کلن د همکارۍ قرارداد ورکړ څو له افغان ملکيانو سره د مرستې پروګرام II (ACAP) تمويل کړي. په دغه قرارداد کې 64 ميليونه ډالر د حکومت له خوا ژمنه شوي ول او 12,8 ميليونه ډالر آی آرډي په شريکه ژمنه کړي ول. د پروګرام هدف دا وو چې هغو افغان کورنيو او ولسونو سره مرستې وشي چې د طالبانو پر ضد د شويو عملياتو په نتيجه کې يا د ياغيانو له خوا په شويو حملو کې متأثر شوي دي. له 11 تعديلاتو څخه وروسته، د اجرأ دوره د 2015 کال تر می پورې وغزېده. د سيګار مالي تفتيش، چې د کرو هوروات له خوا ترسره شو، دهغو 52,440,664 ډالرو په لګښتونو چې د 2011 د سپتمبر له 27 مې څخه د 2015 د می تر 15 مې پورې په ياد قرارداد پسې حساب شوي دي، بياکتنه وکړه.

کرو هوروات د آی آر ډي په داخلي کنټرولونو کې دوه د پام وړ کمزورتياوې، او د همکارۍ د هوکړې له شرايطو او مقرراتو سره د نه مطابقت يوه پېښه په ګوته کړل. په ځانګړې توګه، کرو هوروات ومونده چې آی آر ډي د فرعي قرارداد ترلاسه کوونکيو د لګښتونو په څارنه کې د يو اېس ای آی ډي شرايط نه وو پوره کړي. آی آر ډي بايد داسې يوه پروسه لرلی چې له هغې لارې يې معلومولی چې آيا د هغه په فرعي ترلاسه کوونکيو باندې لازمه وه چې د خپلو هغو لګښتونومالي تفتيشونه وکړي چې د متحده ايالاتو نړيوالې پرمختيايي ادارې (USAID) تمويل کړي دي. سربېره پر دې، کرو هوروات په ګوته کړه چې آی آرډي مرسته شوي مواد په لوړه بيه حساب کړي دي څو په هوکړه کې راغلې د لګښتونو د شراکت غوښتنې پوره کړي. د آی آر ډي په وينا، د غيرنغدي مرسته شويو شيانو ارزښت 20,608,697 ډالر وو، خو کرو هوروات د مرسته شويو شيانو ارزښت 14,211,358 ډالر را واېست. د آی آر ډي د مرستو تعديل شوي ارزښت بيا هم د هوکړې مشروط د لګښت د شراکت 12.8 ميليونه ډالر پوره کول. د دې له پاره چې دغه موندنه حل شي، آی آر ډي پلان لري چې د لګښتونو د شراکت نوې لارښوونې صادرې کړي. بالاخره، آی آر ډي په هغو فدرالي قواعده برابر نه شو چې غوښتنه کوي چې د شتمنۍ او تجهيزاتو ريکارډونه په صحيح توګه د استحقاق ورکړه، د شيانو سرچينه، او بالاخره د هغو ځرنګوالی منعکس کړي.

کرو هوروات د داخلي کنټرول د کمزورتياوو او د نه مطابقت پېښو پورې اړوند هېڅ تر پوښتنې لاندې لګښتونه په ګوته نه کړل. په تر پوښتنې لاندې لګښتونو کې د اسنادو په واسطه نه حمايه شوي لګښتونه اوغيرمجاز لګښتونه راځي. دا چې آی آرډي خپل د لګښتونو د شراکت شرط لکه چې پاس ياد شوی دی پوره کړی وو، له دې امله غيرنغدي مرستو ته لوړ ارزښت ورکول د دې سبب ونه ګرځېدل چې قېمتونه يې تر پوښتنې لاندې ونيول شي.

کرو هوروات د همکارۍ تر تړون لاندې د آی آر ډي د مالي اجرأتو په هکله پخوانې تفتيشونه، بياکتنې، او ارزونې ترلاسه کړل او بياکتنه يې پرې وکړه. له آی آر ډي او يو اېس ای آی ډي څخه د ترلاسه شويو معلوماتو له مخې، هلته درې د مديريت د دفتر او د بودجې د دوران A-133 راپورونه ول



**يوه تازه کونډه** اوس کولی شي چې د ACAP II له خوا د يوې ورکول شوې غوا په مرسته خپل له لاسه ورکړی عايد بيا ترلاسه کړي. دا يو داسې پروګرام دی چې د آی آر ډي له خوا د هغه تطبيق د سيګار د يوه وروستي مالي تفتيش موضوع وه. (د USAID عکس)

او يو راپور د يو اېس اى آى ډي له خوا صادر شوى وو چي په هغو کي ACAP II هم نيول شوى وو. کرو هوروات د A-133 د تفتيش د راپورونو د بياکتني په جريان کي د ACAP II د پروګرام اړوند هېڅ موندني په ګوته نه کړي. د متحده ايالاتو د نړيوالي پرمختيايي اداري (USAID) پخواني راپور د قېمتونو د شراکت د شرايطو اړوند يوه موندنه لرله؛ البته، کرو هوروات مجبور نه وو چي تعقيبي کړنلاري ترسره کړي ځکه چي راپور د آى آر ډي په هکله د هېڅ سموونکي عمل په هکله سپارښتنه نه کوله.

کروهوروات د آى آر ډي د ځانګړي هدف د مالي شرحي په هکله يو نه تعديل شوى نظر صادر کړ، او ياده يې کړه چي شرحه د تفتيش د مشخصي دورې ترلاسه شوي عوايد، ترسره شوي لګښتونه، او ميزان په مناسب ډول، او د پام وړ ټولو اړخونو په پام کي نيولو سره وړاندي کوي.

د تفتيش د نتايجو په اساس، سيګارسپارښتنه کوي چي د متحده ايالاتو په نړيواله پرمختيايي اداره (USAID) کي د موافقو مدير دې:

1. آى آر ډي ته سپارښتنه وکړي چي په راپور کي يادي شوې د داخلي کنټرول دوه موندني دې حل کړي.
2. آى آر ډي ته سپارښتنه وکړي چي په راپور کي ياده شوې د داخلي کنټرول يوه د نه مطابقت موندنه دې حل کړي.

### 15-88-FA مالي تفتيش: په افغانستان کي د متحده ايالاتو د نړيوالي پرمختيايي اداري (USAID) د ځمکو د اصلاح پروګرام

**د ټېترا ټېک اى آر ډي (Tetra Tech ARD) له خوا د شويو لګښتونو تفتيش**

د 2011 د جنورى په 30 مه، د متحده ايالاتو نړيوالي پرمختيايي اداري (USAID) د 4 ميليونه ډالرو په ارزښت يو 18 مياشتنى قرارداد چي يوه اختياري دوره يې لرله ټېتراټېک اى آر ډي ته ورکړ چي په افغانستان کي د ځمکو اصلاح (LARA) پروګرام حمايه کړي. په افغانستان کي د ځمکو اصلاح (LARA) پروګرام هدف دا وو چي يو شمېر داسي پاليسى او قوانين را وباسي چي د افغانستان د ځمکو د مارکېټ له پاره يو چوکاټ جوړ کړي څو پانګونه او توليدي وده حمايه کړي. دغه پروګرام په دې نيت پيل شوى وو چي د افغانستان د ځمکو اداري سره تخنيکي مرسته وکړي او د ځمکو د اصلاح د پاليسيو په ډيزاين، مديريت، او تطبيق کي د افغانانو ظرفيت ته وده ورکړي. له 12 تعديلاتو څخه وروسته، د قرارداد ټول قېمت 41.8 ميليونه ډالرو ته پورته کړاى شو، او د اجرأتو دوره يې د 2014 د نومبر تر 2 مي پورې وغزېده. د سيګار مالي تفتيش، چي د ډيويس له خوا ترسره شو، په هغو 38,424,091 ډالرو بياکتنه وکړه چي د 2011 د جنورى له 30 مي څخه د 2014 د نومبر تر 2 مي پورې په ياد قرارداد باندي حساب شوي ول.

ډيويس د ټېترا ټېک اى آر ډي (Tetra Tech ARD) په داخلي کنټرولونو کي کومه د پام وړ کمزورتيا يا کوم مهم عيب ونه موند، او نه يې د افغانستان د ځمکو د اصلاح د پروګرام په قرارداد کي له شرايطو او مقرراتو سره د نه مطابقت کومه پېښه وموندله. په نتيجه کي، ډيويس هېڅ داسي ترپوښتني لاندي قېمتونه په ګوته نه کړل چي په هغو کي دې د اسنادو په واسطه نه حمايه شوي يا غيرمجاز لګښتونه شامل وي.

ډيويس د پخواني تفتيش د ټولو راپورونو کاپياني، چي کېداى شواى د ټېترا ټېک اى آر ډي (Tetra Tech ARD) د ځانګړي هدف په مالي شرحه يې د پام وړتاثير کړى واى، وغوښتي. ډيويس دې فيصلي ته ورسېد چي د 2012 په جولاى کي د ارنسټ او يانګ له خوا يوه د مطابقت بياکتنه ترسره شوه. هغه راپور درې داسي موندني په ګوته کړي چي په داسي لازمي فقرو پورې اړوندي وې چي په فرعي قراردادونو يا فرعي هوکړو کي نه وې شامل کړاى شوې، او د ورک شويو وسايلو په هکله د متحده ايالاتو نړيوالي پرمختيايي اداري (USAID) ته راپور نه وو ورکول شوى. ډيويس د راپور په وړاندې د ټېترا ټېک اى آر ډي (Tetra Tech ARD) په عکس العمل باندي بياکتنه وکړه او دې نتيجي ته ورسېد چي د قراردادي سموونکى عمل کافي وو.

ډیوییس د ټیټرا ټیک ای آر ډي (Tetra Tech ARD) د ځانګړي هدف د مالي شرحې په هکله یو نه تعدیل شوی نظر صادر کړ، او یاده یې کړه چې شرحه د تفتیش د مشخصي دورې ترلاسه شوي عواید، ترسره شوي لګښتونه، او میزان په مناسب ډول، او د پام وړ ټولو اړخونو په پام کې نیولو سره وړاندې کوي.

ډیویس په افغانستان کې د ځمکو اصلاح (LARA) پروګرام په هکله د موندنو هېڅ راپور ورنه کړ. له دې امله، سیګار هېڅ سپارښتنې نه کوي.

### 15-89-FA مالي تفتیش: د ختیځ او جنوب په سیمه ییزو قوماندانیو کې د متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیایي ادارې (USAID) له خوا د ولایتي حکومتولۍ د تشکیلاتو پروګرام

**د انتخاباتو او سیاسي پروسې د پیاوړتیا د ګروپ (CEPPS) له خوا د شویو لګښتونو تفتیش**

د 2008 د جون په 3 مه، د متحده ایالاتو نړیوالې پرمختیایي ادارې (USAID) د انتخاباتو او سیاسي پروسې د پیاوړتیا ګروپ (CEPPS) سره د 5 میلیونه ډالرو په ارزښت د همکارۍ یو 18 میاشتنی قرارداد لاسلیک کړ څو د ختیځ او جنوب په سیمه ییزو قوماندانیو کې په ولایتي سطحه د حکومتولۍ د تشکیلاتو (SNG) پروګرام حمایه کړي. په ولایتي سطحه د حکومتولۍ د تشکیلاتو (SNG) د پروګرام ابتدایي هدف دا وو چې د ولایتي حکومتونو د ظرفیتونو د انکشاف له لارې د والیانو او خلکو ترمنځ د پله په توګه عمل وکړي او په دې ډول د مؤکلینو اړتیاوې حل کړي. په ولایتي سطحه د حکومتولۍ د تشکیلاتو (SNG) په فعالیتونو کې د عامو خلکو غیر رسمي غونډې، د والیانو د پالیسیو په هکله د معلوماتو خپرول، او د ولایتي انکشاف د پروژو او بودجو د څارنې حمایه کول شامل ول. له 14 تعدیلاتو څخه وروسته، د پروګرام د مالي تمویل پیسې 20.8 میلیونه ډالرو ته پورته شوې، او د اجرأتو دوره یې د 2013 د سپتمبر تر 30 مې پورې وغزول شوه. د سیګار مالي تفتیش، چې د ډیویس له خوا ترسره شو، د هغو 18,832,886 ډالرو په لګښتونو باندې بیاکتنه وکړه چې د 2008 د جون له 3 مې څخه د 2013 د سپتمبر تر 30 مې پورې په قرارداد پسې حساب شوي ول.

ډیویس د CEPPS په داخلي کنټرولونو کې دوه د پام وړکمزورتیاوې او درې مهم عیبونه، او د همکارۍ د هوکړې له شرایطو او مقرراتو سره د نه مطابقت درې پېښې په ګوته کړل. په مشخصه توګه، ډیویس وموندله چې CEPPS نه وو توانېدلې چې د کرایي موټرو په معاملو کې د سیالۍ له لارې د تدارکاتو د پروسې له پاره کافي اندازه حمایه کوونکي اسناد وړاندې کړي. ډیویس همدارنګه ګڼې داسې معاملې وموندلې چې په هغو کې CEPPS د هغو موټرو له پاره د پیسو د بیاترلاسه کولو غوښتنه کړې وه چې د کارمندانو په نومونو په نغدو پیسو اخیستل شوي ول، په داسې حال کې چې د هغوی نومونه هېڅکله هم CEPPS ته نه وو انتقال شوي. سیګار غواړي چې په دې هکله یوه احتمالي څېړنه وکړي. سربېره پر دې، ډیویس داسې معاملې وموندلې چې د تادیاتو د ثبوت یا نورو کافي اسنادو په واسطه نه وې حمایه شوي څو د لګښتونو مناسبوالی تائید کړي.

د داخلي کنټرول د دغو عیبونو او د نه مطابقت د پېښو په نتیجه کې، ډیویس په مجموع کې 75,740 ډالر د تر پوښتنې لاندې لګښتونو په توګه په ګوته کړل چې په دې کې 75,740 ډالر د اسنادو په واسطه نه وو حمایه شوي. ډیویس هېڅ غیرمجاز لګښتونه په ګوته نه کړل.

ډیویس هېڅ داسې پخواني تفتیشونه، بیاکتنې، یا ارزونې په ګوته نه کړل چې د ولایتي حکومتولۍ پروګرام لاندې د CEPPS فعالیتونو پورې اړه ولري. CEPPS او د متحده ایالاتو نړیوالې پرمختیایي ادارې (USAID) همدارنګه وښودله چې د دې پروګرام په هکله پخوا د تفتیش راپورونه نه وو خپاره شوي.

ډیویس د انتخاباتو او سیاسي پروسې د پیاوړتیا د ګروپ (CEPPS) د ځانګړي هدف د مالي شرحې په هکله یو نه تعدیل شوی نظر صادر کړ، او یاده یې کړه چې شرحه د تفتیش د مشخصي دورې ترلاسه شوي عواید، ترسره شوي لګښتونه، او میزان په مناسب ډول، او د پام وړ ټولو اړخونو په پام کې نیولو سره وړاندې کوي.

د تفتیش د نتایجو په اساس، سیګار سپارښتنه کوي چې د متحده ایالاتو په نړیواله پرمختیایي اداره (USAID) کې د قراردادونو مدیر دې:

1. د ټولو هغو 75,740 ډالرو تر پوښتنې لاندې لګښتونو چې په راپور کې یاد شوي دي، د مجازتوب په هکله فیصله وکړي، او څنګه چې مناسبه وي، بېرته دې یې ترلاسه کړي.
2. CEPPS ته سپارښتنه وکړي چې په راپور کې یادې شوې د داخلي کنټرول ینځه موندنې دې حل کړي.
3. CEPPS ته سپارښتنه وکړي چې په راپور کې یادې شوې درې د نه مطابقت موندنې دې حل کړي.

## 16-4-FA مالي تفتیش: د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو د وزارت له خوا په افغانستان کې د افغان ښځو د حقونو د خوندیتابه پروګرام

### د ښځې د افغان ښځو له پاره موسسې له خوا د شویو لګښتونو تفتیش

د 2011 د مارچ په 3 مه، آی اېن اېل ښځې د افغان ښځو له پاره موسسې (WAW) ته د 5.7 میلیونه ډالرو په ارزښت یو قرارداد ورکړ څو په افغانستان کې د افغان ښځو د حقونو د ودې او خوندیتابه پروګرام حمایه کړي. د دغه پروګرام هدف دا وو چې د افرادو او بشري حقونو په هکله خبرتیا ته وده ورکړي، پراخ کمپاینونه ترسره کړي، او د ښځو او نجونو په مقابل کې د تاوتریخوالي مخه ونیسي او راکم یې کړي. له دوه تعدیلاتو څخه وروسته، د پروګرام د مالي تمویل مبلغ له 6.8 میلیونه ډالرو څخه ډېرو ته زیات شو، او د اجرأتو دوره د 2014 د جون تر 3 مې پورې وغزول شوه. د سیګار مالي تفتیش، چې د ډیویس په واسطه ترسره شو، په هغو 6,803,484 ډالرو باندې بیاکتنه وکړه چې د 2011 د مارچ له 5 مې څخه د 2014 د جون تر 3 مې پورې په یاد قرارداد پسې حساب شوي ول.

ډیویس د ښځې د افغان ښځو له پاره (WAW) په داخلي کنټرولونو کې یوه د پام وړ کمزورتیا او یو مهم عیب، یوه د نه مطابقت پېښه، او د قرارداد له شرایطو او مقرراتو سره د نه مطابقت دوه د پام وړ پېښې په ګوته کړل. په مشخص ډول، ډیویس وموندله چې ښځې د افغان ښځو له پاره (WAW) موسسې د پیسو د تبادلې نرخ په صحیح توګه نه دی محاسبه کړی، چې دا د ښځې د افغان ښځو له پاره (WAW) موسسې له خوا د متحده ایالاتو په حکومت پسې د 204,844 ډالرو اضافه بېل لګولو سبب ګرځېدلی دی. سربېره پر دې، ډیویس وموندله چې ښځې د افغان ښځو له پاره (WAW) د نیویارک مېشتو پستونو له پاره د متحده ایالاتو په حکومت پسې 126,219 ډالره حساب کړي دي، خو ونه توانېدل چې د دغو لګښتونو له پاره کافي اندازه حمایه کوونکی اسناد وړاندې کړي. ښځې د افغان ښځو له پاره (WAW) همدارنګه په حکومت پسې غیرمجاز لګښتونه لکه د یادې موسسې د اجرائیه رییس د مالیې جریمې او له ایران څخه پېرودل شوي مواد حساب کړي دي. د حمایه کوونکیو اسنادو په هکله د ډیویس د بیاکتنې په اساس، ښځې د افغان ښځو له پاره (WAW) په حکومت پسې د یادې موسسې د اجرائیه رییس پر عایداتو افغاني مالیې، او په مالیه باندې راغلي جریمې حساب کړي دي. سربېره پر دې، ښځې د افغان ښځو له پاره (WAW) یوه اندازه ایراني مواد پېرودلي دي، چې په دې کې د ګاز سلنډرونه، قالینې، پلاستیکي چوکۍ، او کېبل لینونه شامل دي؛ په داسې حال کې چې د متحده ایالاتو د حکومت قراردادونه له ایران څخه د موادو د پېرودنې اجازه نه ورکوي. سربېره پر دې، ډیویس وموندل چې ښځې د افغان ښځو له پاره (WAW) د سیالۍ له لارې تدارکات نه دي ترلاسه کړي یا په نورو ټکو حکومت ته یې کافي اندازه حمایه کوونکې اسناد نه دي وړاندې کړي چې وښیي چې څنګه یې مناقصې ته له وړاندې کولو څخه پرته د دفتر له پاره په 717,933 ډالر ځای نیولی دی.

د داخلي کنټرول د دغو عیبونو او د نه مطابقت د پېښو په نتیجه کې، ډیویس په مجموعي توګه 1,083,283 ډالر په تر پوښتنې لاندې قیمتونو کې په ګوته کړل چې له دې جملې څخه 844,152 ډالر د اسنادو په واسطه نه حمایه شوي لګښتونه او 239,131 ډالر غیرمجاز لګښتونه ول.

ډیویس د افغانستان په پروګرام کې د افغان ښځو د حقونو په برخه کې تر انکشاف او خوندیتابه لاندې د ښځې د افغان ښځو له پاره (WAW) موسسې کوم پخواني تفتیشونه، بیاکتنې، یا ارزونې په ګوته نه کړل. ښځې د افغان ښځو له پاره (WAW) او د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت وښودله چې د تفتیش داسې پخوانۍ موندنې نشته چې هغه د ځانګړي هدف په مالي شرحه باندې د پام وړ تاثیر وکړي.

ډیوډ د نامناسب او غیرحمایه شوي پروګرام د لګښتونو، لکه د اسعارو د تبادلې د نامناسب استعمال شوي نرخ، د سیالۍ له لارې د تدارکاتو د مناقصو د نشتوالي، او د اداري لګښتونو د کافي اندازې حمایه

کوونکيو اسنادو د نه وړاندې کولو له امله د ځانګړي هدف د مالي شرحي په هکله يو تعديل شوی نظر صادر کړ.

د تفتيش د نتايجو په اساس، سيګارسپارښتنه کوي چې د متحده ايالاتو د بهرنيو چارو په وزارت کې د قراردادونو مسؤل مدير دي:

1. د ټولو هغو 1,083,283 ډالرو تر پوښتنې لاندې لګښتونو چې په راپور کې ياد شوي دي، د مجازتوب په هکله فيصله وکړي، او څنګه چې مناسبه وي، بېرته دې يې ترلاسه کړي.
2. ښځې د افغان ښځو له پاره (WAW) ته دې سپارښتنه وکړي چې د راپور د داخلي کنټرول دوه موندنې حل کړي.
3. ښځې د افغان ښځو له پاره (WAW) ته دې سپارښتنه وکړي چې د نه مطابقت درې موندنې حل کړي.

# پلټنې

## د پلټنې راپورخپورشو

په دې درې مياشتنی موده کې سيګار يو د پلټنې راپور خپور کړ. راپور ومونده چې په داسې حال کې چې د برېښنا د دستګاه يوه پروژه له ټاکلې بودجې څخه بشپړه شوه او دا چې د قرارداد د اجرأتو معيارونه يې پوره کول، د برېښنا دستګاه ونه ازموېل شوه اوله بشپړتيا څخه يې له 18 مياشتو څخه ډېر وروسته وخت پورې د چلښت وړ ګڼل کېده.

> **بشپړې شوی پلټنې**
> - IP-78-15 پلټنه: په کابل کې د نشه يېزو توکو پرضد د مبارزې په مرکز کې د برېښنا دستګا تعميراتي جوړښت د قرارداد شرايط پوره کړي ول خو د برېښنا سيستم د پروژې له تکميل څخه له 18 مياشتو ډېرې مودې څخه وروسته د چلښت وړنه ګڼل کېده.

### IP-78-15 پلټنه: په کابل کې د نشه يېزو توکو پرضد د مبارزې په مرکز کې د برېښنا د دستګاه پروژه

**تعميراتي جوړښت د قرارداد شرايط پوره کړي ول خو د برېښنا سيستم د پروژې له تکميل څخه له 18 مياشتو ډېرې مودې څخه وروسته د چلښت وړنه ګڼل کېده.**

د 2011 په سپتمبر کې، د متحده ايالاتو د بهرنيو چارو وزارت د BSCEC JV MSCC (BSCEC) په نامه يوه افغاني شرکت ته د 1.3 ميليونه ډالرو په ارزښت د ثابت قيمت د ډيزاين/جوړښت يو قرارداد ورکړ څو د افغانستان په کابل ښار کې د قانون نافذونکيو اته ودانی د برېښنا له محلي تجارتي دستګا سره ونښلوي. اته ودانی – چې يوه د متحده ايالاتو د نشه يېزو توکو پر ضد د مبارزې اداره او اوه نورې د افغان حکومت دواير دي – ټول په يوه مشخصه ساحه کې موقعيت لري چې په ټوليز ډول د نشه يېزو توکو پرضد د مبارزې مرکز ګڼل کېږي. دغه ساحه، چې د کابل په شمالي لمنو کې پرته ده، د هغو ادارو له پاره يو خوندي موقعيت برابروي چې د نشه يېزو توکو د قاچاق د مخنيوي او د شکمنو کسانو د توقيف په برخو کې کار کوي.

د نشه يېزو توکو پرضد د مبارزې په مرکز کې هر تعمير ته له ډيزلي جنراتورونوڅخه برېښنا ورکول شوې ده. په 2007 کال کې د USACE له خوا د يوه ورکول شوي قرارداد په اساس، د کابل د شمال د برېښنا د سب سټېشن او د نشه يېزو توکو پرضد د مبارزې د مرکز تر منځ په دې تمه د تجارتي برېښنا يو لين نصب شوی وو چې په راتلونکې کې د يوې پروژې له لارې د نشه يېزو توکو پرضد د مبارزې په مرکز کې د برېښنا يو سيستم نصب کړای شي. د BSCEC د 2011 پروژه – چې د متحده ايالاتو د بهرنيو چارو د وزارت د نشه يېزو توکو او د قانون د نفاذ د نړيوالو چارو (INL) د بيرو له خوا تمويل کېږي د درې دستګاوو د جوړولو غوښتنه وکړه، چې دغه درې واړه، به په ګډه د قانون د نفاذ اتو تعميرونو ته تجارتي برېښنا برابروي.

قرارداد د ثابت قيمت په پيسو بشپړشو، او يوازې 5,381 ډالر په کې تر وروستی تعديل لاندې منفي شول څو د قراردادي له خوا د دفاعي چارو د بيمې قېمت پرې تاديه شي. د دې پلټنې هدفونه دا ول چې

معلومه کړي چې آیا: (1) کار د قرارداد د شرایطو او د اجرأ وړ تعمیراتي معیارونو په اساس بشپړ شوی دی، او (2) تعمیرونه تجارتي برېښنا ته لکه څنګه چې په پام کې نیول شوې وه لاس رسی لري.

د سیګار د 2015 د جنورۍ یوې کتنې وموندله چې د BSCEC تعمیراتي کار د قرارداد له شرایطو سره برابر وو. که څه هم چې سیګار وموندل چې د پروژې تعمیراتي چارې په شرایطو برابرې وې، سیګار نشوای کولی چې فیصله وکړي چې آیا د برېښنا سیستم د هغوی د ساحوي لیدنو پر وخت فعال وو ځکه چې په هغو وختونو کې په سیستم کې هېڅ تجارتي برېښنا موجوده نه وه. په داسې حال کې چې د INL چارواکو بیان کړه چې دغه سیستم د 2015 د جنورۍ په 14 مه وازمویل شو، او دا چې ټولو برېښنایي اجزاوو په صحیح توګه کار کاوه.

سره له دې چې د قرارداد کوونکي مدیر استازي وویل چې قرارداد اصلاً بشپړ شوی دی او دا چې INL د برېښنا د دستګا پروژه د 2013 په جون کې له قراردادي څخه تسلیم کړه، خو هغه برېښنایي سیستم چې تعمیرونو ته یې برېښنا ورکوله نه وو ازمویل شوی او د 2015 تر جنورۍ پورې د چلښت وړ ګڼل کېدل. د هغه ځنډ په جریان کې، د BSCEC یو کلنه د ضمانت دوره، پرته له دې چې داسې کومه ازموینه وشي چې آیا د برېښنا سیستم د چلښت وړ وو که نه، پای ته ورسېده.

د INL چارواکو دغه ځنډ د افغانستان د برېښنا شرکت سره وروسته خبرو اترو او مذاکرو پورې وتاړه داسې چې (1) د نښلولو یا اتصال یو فیس چې تجارتي برېښنا نوي برېښنایي سیستم ته راوړي، او (2) داسې ګامونه چې د USACE له خوا جوړ شوي هغه د برېښنا لینونه ترمیم کړي چې د کابل د شمالي د برېښنا له سب سټېشن څخه هغه نوي سیستم ته ځي چې د نشه ییزو توکو پرضد د مبارزې په کتار تعمیرونو کې جوړ شوی دی. د INL چارواکو واضح کړه چې د افغان حکومت چارواکي لا هم اړتیا لري چې د افغانستان د برېښنا شرکت سره د بلونو د ترتیباتو په هکله کار وکړي او د هرې تأمین شوې تجارتي برېښنا لګښتونه تادیه کړي. تمه ده چې دغه ترتیبات به مخکې له هغه وشي چې دغه تعمیرونه افغان حکومت ته په لاس ورکول شي، چې تمه ده چې د 2015 تر ډسمبر پورې به ورته تسلیم کړای شي.

سربېره پر دې، سیګار وموندله چې له INL سره د تادیاتو په برخه کې یوې اوږدې شخړې دې ته لاره هواره کړه چې BSCEC خپل وروستی آویز د پروژې له پاره د تخصیص کړای شوې مالي تمویل د مودې له تېرېدلو څخه لږ مخکې وخت پورې وځنډوي. د INL چارواکې په دې لټه کې دي چې د روان کال فنډونه برابر کړي او د قراردادي وروستی آویز پرې تادیه کړي او دا مني چې په قراردادي باندې به د چټکې تادیې د قانون یوه کوچنۍ جریمه راشي.



**د نشه ییزو** توکو پر ضد د مبارزې په یوه مرکز کې د برېښنا د یوې دستګا او دهغې اړوند د برېښنا د کېبلونو په هکله د سیګار یوې پلټنې وموندله چې، سره له دې چې د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت له قراردادي څخه پروژه ومنله، د برېښنا هغه سیستم چې ودانیو ته یې برېښنا ورکوله نه وو ازمویل شوي او تر 18 میاشتې وروسته وخت پورې د چلښت وړګڼل کېده. (د سیګار عکس)

## په دې درې میاشتنۍ موده کې نوې پلټنې اعلان شوې

په دې درې میاشتنۍ موده کې، سیګار پنځه نوې پلټنې پیل کړې. هره پلټنه به وارزوي چې آیا (1) تعمیراتي چارې د قرارداد د شرایطو او اجرأ وړ تعمیراتي معیارونو په اساس بشپړې شوې یا بشپړېږي، او (2) د مرکز برخې، که وي، چې نیول شوې دې هغسې کارول کېږي چې اراده یې شوې وه او په صحیح توګه یې مراقبت کېږي. دا پلټنې به د دغو ودانیو تعمیراتي چارې وارزوي:

- د افغان ملي اردو د ځمکنیو ځواکونو د قوماندانۍ، د ګارنیزیون د حمایوي واحد، او د اردو د حمایوي قوماندانۍ
- په کندهار کې د دریم افغان هوایي ټولي د ځانګړي ماموریت د ځانګې د مرکزونو
- په بلخ پوهنتون کې د ښځو د لیلیو
- په پروان ولایت کې د سالنګ روغتون
- د بغلان محبس

### نوې پلټنې

- د افغان ملي اردو د ځمکنیو ځواکونو قوماندانۍ، د ګارډنیزیون یونټو او د اردو حمایوي قوماندانۍ
- په کندهار کې د دریم افغان هوایي ټولي د ځانګړي ماموریت د ځانګې مرکزونه
- په بلخ پوهنتون کې د ښځو لیلیې
- په پروان ولایت کې سالنګ روغتون
- د بغلان محبس

## د سیګار د سپارښتنو وضعه

د عمومي مفتش د 1978 قانون، هغسي چې تعدیل شوی دی، له سیګار څخه غوښتنه کوي چې د خپلو سپارښتنو په هکله راپور ورکړي. په دې درې میاشتنی موده کې، سیګار د تفتیش او پلټنې په 12 راپورونو کې موجودې 28 سپارښتنې بندې کړې. په پنځو راپورونو کې داسې سپارښتنې موجودې وې چې په نتیجه کې یې 5,561,021 ډالر چې غیرمجاز یا د اسنادو په واسطه د نه حمایه شویو قراردادونو لګښتونه ول او د متحده ایالاتو حکومت پسې حساب شوي ول بېرته تر لاسه شول.

له 2009 څخه د 2015 تر سپتمبر پورې، سیګار 197 تفتیشونه، خبرتیایي لیکونه، او د پلټنې راپورونه خپاره کړل او د پیسو د بېرته ترلاسه کولو، د موسسې د ځارنې د انکشاف، او د پروګرام د مؤثرتیا د ډېرولو له پاره یې 609 سپارښتنې وکړې. سیګار د دغو سپارښتنو له جملې څخه 81% بندې کړې دي. د یوې سپارښتنې بندول په عمومي توګه د سیګار ارزونه ښيي یعنې چې تفتیش شوې اداري یا سپارښتنه تطبیق کړې یا دا چې مسئله یې په بل مناسب ډول حل کړې ده. په ځینې حالتونو کې به یوه بنده کړای شوې سپارښتنه د تفتیش د تعقیبي کار موضوع وي.

د عمومي مفتش د 1978 قانون، هغسي چې تعدیل شوی دی، همدارنګه له سیګار څخه غوښتنه کوي چې له پخوانیو راپورونو څخه، چې د هغو په هکله اصلاحي عمل نه وي بشپړ شوی، د هرو مهمو سپارښتنو په هکله راپور ورکړي. په دې درې میاشتنی موده کې، سیګار په 39 د تفتیش او پنځو د پلټنې په راپورونو کې د سپارښتنو په هکله د ادارې د چارو ځارنې ته ادامه ورکړه. په دې درې میاشتنی موده کې، تر 12 میاشتو پورې داسې پخوانی سپارښتنې نه وې چې هلته دې ادارې په یوه داسې اصلاحي پروګرام باندې لاس پورې کړی وای چې سیګار باور لري چې په ګوته شوې ستونزه حل کړي یا سپارښتنو ته په بل ډول ځواب ووایي. خو 11 داسې د تفتیش راپورونه شته چې تر 12 میاشتو ډېر پخواني دي چې په هغو کې سیګار اړوندو ادارو ته انتظار کوي چې هغوی هغه اصلاحي چارې بشپړې کړي چې موافقه پرې شوې ده.

## ځانګړې پروژې

د سیګار د ځانګړیو پروژو اداره د دې له پاره جوړه شوې وه چې رامنځته کېدونکې ستونزې وارزوي او چټک، د عمل وړ راپورونه فدرالي ادارو او کانګرس ته ورسوي. دغه ټیم د افغانستان د بیارغونې د ټولو اړخونو په هکله یو لړ ارزونې ترسره کوي او راپورونه چمتو کوي. یاده اداره له مفتشینو، تحلیلګرانو، څېړونکیو، قانون پوهانو، د موضوع له کارپوهانو، او نورو کارپوهانو څخه تشکیل شوې ده چې هغوی کولی شي چې د رامنځته کېدونکیو ستونزو په هکله په چټکۍ او ګډه سره خپلې تجربې عملي کړي.

په دې درې میاشتنی موده کې، د سیګار د ځانګړیو پروژو ادارې د تجارت او ثبات د عملیاتو د وظیفوي ځواک (TFBSO) اړوند د تر ځمکې لاندې ګازو د تصفیې د پروژې په هکله یوه بیاکتنه خپره کړه. ادارې همدارنګه د متحده ایالاتو نظامي قوماندانانو ته ولیکل چې د افغان ملي اردو او ملي پولیسو په استازیتوب د ګنو وروستیو تدارکاتو د ضرورت او د احتمالي ضیاع په هکله معلومات وغواړي.

سربېره پردې، د ځانګړیو پروژو ادارې د متحده ایالاتو نړیوالې پرمختیایي ادارې (USAID) ته دوه لیکونه ولیکل چې د تره خېلو د برېښنا په دستګاه کې د عملیاتو په هکله یې معلومات وړاندې کول او د متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیایي ادارې (USAID) له خوا د حمایه شویو روغتیایي مرکزونو د صحیح جغرافیوي کوارډینیټونو د معلوماتو د اهمیت په هکله یې تاکید کاوه. سیګار همدارنګه په ټول افغانستان کې په ولایتونو کې د متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیایي ادارې (USAID) له خوا د حمایه شویو روغتیایي مرکزونو څخه د خپلې رواني بیاکتنې د برخې په توګه د متحده ایالاتو نړیوالې پرمختیایي ادارې ته ولیکل چې د سیګار په واسطه د وروستیو ترسره شویو ساحوي پلټنو نتایج وړاندې

### ځانګړې بشپړې شوې پروژې

- SP-15-80 بیاکتنه: د تره خېلو د برېښنا دستګاه
- SP-15-82 خبرتیایي لیک: د پي سي اېچ د مرکزونو د کوارډینېټونو غبرګون
- SP-15-85 استعلام د افغان ملي اردو او ملي پولیسو له پاره تدارکات
- SP-16-1 خبرتیایي لیک: په هرات کې د متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیایي ادارې له خوا حمایه شوي روغتیايي مرکزونه
- SP-16-2 بیاکتنه د TFBSO د سي اېن جي ګاز پمپ

کړي څو په هرات کې د متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیایي ادارې له خوا د 23 تمویل شویو روغتیایي مرکزونو په هکله د متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیایي ادارې د موقعیتي ارقامو اوعملیاتي شرایطو صحت معلوم او تایید کړي.

### 15-80-SP بیاکتنه د تره خېلو د برېښنا دستګاه

سیګار د 2015 د اګست په 7 مه د متحده ایالاتو نړیوالې پرمختیایي ادارې (USAID) ته ولیکل چې د سیګار د 2015 د جون د 26 مې هغه یادښت ته ځواب ورکړي چې د سیګار د یوې پخوانۍ څانګړې پروژې په هکله یې معلومات ورکول (وګورئ سیګار 15-65-SP)

د متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیایي ادارې (USAID) د جون د 26 مې د ځواب په اساس، سیګار وموندل چې د 335 میلیونه ډالرو په ارزښت جوړه شوې د تره خېلو د برېښنا دستګاه، چې په څرګنده په کابل کې د برېښنا د برابرولو یو "حیاتي واحد" دی، ډېره لږ استعمال شوې پاتې دی. په څانګړې توګه د متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیایي ادارې (USAID) او د افغانستان د برېښنا شرکت له خوا ورکول شوي معلومات ښیي چې د تره خېلو د برېښنا د دستګاه یوازې یوه برخه فعالیت ته دوام ورکوي.

په حقیقت کې، د سیګار تحلیلونو وښوده چې د برېښنا تولید اصلا د وخت په تېرېدلو سره کم شوی دی. سربېره پر دې چې هغه له خپل بشپړ ظرفیت څخه ډېره ټیټه چلول کېږي، دغه د برېښنا دستګاه کابل ته د برېښنا ورکولو په برخه کې ډېره لږه مرسته کوي. سیګار په خپل لیک کې همدارنګه دې ته اشاره کړې وه چې قوي شواهد شته چې د تره خېلو د برېښنا دستګاه اصلا په دې هدف جوړه شوې وه چې کابل ته په دوامداره توګه برېښنا ورکړي، او لکه څنګه چې د متحده ایالاتو نړیوالې پرمختیایي ادارې (USAID) روښانه کړې ده، "نه دا چې له مرکزي اسیا څخه د راغلي برېښنا د بندېدا په صورت کې د یوې ملاتړې دستګاه یا برېښنا ته د ډېر ضرورت په وخت کې د مرستندوی په توګه کار وکړي."

سربېره پر دې، د متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیایي ادارې (USAID) د عمومي مفتش د دفتر په وینا، د تره خېلو د برېښنا د دستګاه غیرمنظم استعمال د یادې دستګاه د خرابېدو سبب وګرځېد. د دستګاه دغه لږ استعمال په ښکاره توګه د وسایلو د مخکې له وخته خرابېدا سبب وګرځېد، چې په نتیجه کې یې مخکې له مخکې حساب شوي د چلښت او مراقبت لوړ قیمتونه لا پسې لوړ شول، او کېدای شي چې "ویرجنه ناکامي" رامنځته کړي.

په داسې حال کې چې د متحده ایالاتو نړیوالې پرمختیایي ادارې (USAID) موافقه کړې، او د هغو اندېښنو د ځوابولو له پاره یې یو شمېر ګامونه اخیستي دي چې د متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیایي ادارې (USAID) د څانګړي عمومي مفتش د ادارې له خوا راپورته کړای شوي وې، د هغوعملونو په نتیجه کې لا تر اوسه پورې د تره خېلو د برېښنا دستګاه په پراخه توګه نه ده کارول شوې. ارزانه او باوري برېښنا د افغانستان د اقتصادي ودې او ثبات له پاره مهمه ده. خو له کابل څخه بهر د 335 میلیونه ډالرو په ارزښت د برېښنا د ډیزلي دستګا جوړښت داسې نه ښکاري، چې له هغه وخت راهیسې چې یاده دستګا له پنځو کلونو څخه ډېر وړاندې افغان حکومت ته سپارل شوې ده، د دغه مهم هدف په ترلاسه کولو کې یې مرسته کړې وي.



**د سیګار د څانګړیو پروژو** اداره د 335 میلیونه ډالرو په ارزښت د تره خېلو د برېښنا د دستګا د استعمال بیاکتنه جاري ساتي. په دستګا کې د کنټرول تخته دلته لیدل کېږي. (د USAID عکس)

### 15-82-SP خبرتیايي لیک: د پي سي ایچ د مرکزونو د کواردېنېټونو غبرګون

د 2015 د اګست په 18 مه، سیګار USAID ته ولیکل، او د سیګار د یوې پخوانۍ څانګړې پروژې په هکله د USAID د غبرګون یادونه یې وکړه (وګورئ SIGAR 15-67-SP) په ځواب کې، د متحده ایالاتو نړیوالې پرمختیایي ادارې (USAID) سیګار ته د 586 داسې روغتیايي مرکزونو یو تازه لست ولېږه چې د پي سي ایچ له خوا حمایه کېدل، چې دا شمېر د هغه 641 له شمېر څخه کم دی چې سیګار په اصل کې د هغو ارزونه کړې وه.

د تازه لست له ارزولو څخه وروسته، سیګار نوې بې نظمۍ وموندلې چې یاده اداره یې دې باور ته ورسوله چې ښايي چې تازه کړای شوی لست تېروتنې ولري. د مثال په توګه، سیګار وموندل

چې 60 مرکزونو په يوه لست کې هم مکاني جغرافيوي معلومات نه درلودل او دا چې تازه شوی لست د 15 مرکزونود موقعيتونو هيڅ کوارډينېټونه نه وړاندې کوي چې سيګار په خپل د 2015 د جون په ليک کې پرې اندېښنه ښودلې وه.

سربېره پر دې، تازه کړای شوي لست د 513 مرکزونو نوي کوارډينيټونه وړاندې کړل؛ البته، د سيګار تحليلونو وښودله چې دغه نوي موقعيتونه له اصلي کوارډينيټونو څخه په اوسط ډول 55 کيلومتره ليرې ول، چې ځينې موقعيتونه ان سلګونه کيلومتره ليرې ول. په پنځو ولايتونو کې د مشخصو اندېښنو له امله، د متحده ايالاتو نړيوالې پرمختيايي ادارې (USAID) د پي سي ايچ له خوا د حمايه کېدونکي هر مرکز له پاره د موقعيت نوې ډېټا وړاندې کړه. دغو مشاهدو سيګار دې ته جوړ کړ چې باور وکړي چې يا د متحده ايالاتو د نړيوالې پرمختيايي ادارې (USAID) اصلي ارقام يا نوې ډېټا سخته غلطه ده.

وروسته له هغه چې سيګار د متحده ايالاتو د نړيوالې پرمختيايي ادارې (USAID) له چارواکو سره په واشنګټن ډي سي او افغانستان کې ملاقاتونه وکړل، د متحده ايالاتو د نړيوالې پرمختيايي ادارې (USAID) ټيم دې ته ژمنتيا وښوده چې دغه تېروتنې له منځه وېسي او سيګار ته تازه ارقام په لاس ورکړي. د دغو تېروتنو د اصلاح کولو په برخه کې د متحده ايالاتو د نړيوالې پرمختيايي ادارې (USAID) اقدام د دغو روغتيايي مرکزونو د موقعيت په هکله د صحيح او باوري معلوماتو د ساتنې له پاره ژمنتيا وښودله.

خو سيګار د مکاني جغرافيوي ارقامو او د پروګرام د مؤثرې څارنې په وړاندې کولو کې د هغو ارقامو د ګټورتيا له امله د متحده ايالاتو د نړيوالې پرمختيايي ادارې (USAID) د بېلابېلو چارواکو له خوا د ضد او نقيض بيانونو له امله په دوه لارې کې ولاړ دی. سيګار همدارنګه د يو شمېرهغو بيانونو له امله اندېښنه لري چې د متحده ايالاتو د نړيوالې پرمختيايي ادارې (USAID) يوه نامعلوم ويناد ته يې نسبت کيږي او د هغو ارقامو په هکله يې خبرې کړې دي چې سيګار په خپله اصلي څېړنه کې د شامل کړای شوي تحليل د بشپړولو له پاره کارولې دي. د 2015 د جولای د يوې ليکنې په اساس، د متحده ايالاتو د نړيوالې پرمختيايي ادارې (USAID) ويناد ويلي وو، "زه باور لرم چې د ارقامو په هکله د سيګار لومړنی غوښتنه د ځرنګوالي له مخې غير رسمي وه. سيګار له دې استعلام څخه مخکې د ارقامو په هکله له موږ سره اندېښنې شريکې نه کړې."

دا د سيګار د غوښتنې يوه ډېره غلطه شرحه ده. هغه کوارډينيټونه چې سيګار په پيل کې تحليل کړي ول د يوې رسمي او رواني جنايي څېړنې د يوې برخې په توګه غوښتل شوي ول. د سيګار د اصلي استعلام له صدور څخه مخکې هېڅکله – چې هغه د ټولو هغو روغتيايي مرکزونو نژدې 80% په ګوته کړل چې د PCH له خوا حمايه شوي ول – د متحده ايالاتو نړيوالې پرمختيايي ادارې (USAID) د سيګار څېړونکيو ته د لا ډېرې معتبرې ډېټا او ارقامو په هکله خبر نه وو ورکړی.

سره له دې چې د PCH پروګرام د 2015 د جون په 30 مه پای ته ورسېد، د متحده ايالاتو نړيوالې پرمختيايي ادارې (USAID) څرګنده کړې وه چې هغوی به د نړيوال بانک تر مديريت لاندې يوه پروګرام له لارې د روغتيايي مرکز د عملياتو حمايه کولو ته دوام ورکړي. سيګار د متحده ايالاتو نړيواله پرمختيايي اداره (USAID) دې ته هڅوي چې د هغو روغتيايي مرکزونو صحيح مکاني جغرافيوي موقعيتونه چې هغه به يې د نړيوال بانک د ميکانيزم له لارې حمايه کوي، مخکې تر دې چې د متحده ايالاتو نړيواله پرمختيايي اداره (USAID) د دغه ميکانيزم کارول پيلوي، ژرترژره تر لاسه کړي. سيګار به په افغانستان کې د متحده ايالاتو د نړيوالې پرمختيايي ادارې (USAID) له خوا د حمايه کېدونکيو روغتيايي مرکزونو څارنې ته دوام ورکړي.

### SP-85-15 استعلام د افغان ملي اردو او افغان پوليسو تدارکات

د 2015 د سپتمبر په 11 مه، سيګار د متحده ايالاتو نظامي قوماندانانو ته وليکل څو د ګڼو هغو وروستيو تدارکاتو په هکله معلومات وغواړي چې د افغان ملي اردو او افغان ملي پوليسو په استازيتوب شوي دي. په دې کې د ګڼو هدفونو له پاره کارېدونکي عرادې، M16 ټوپکونه، او مهمات شامل ول چې د قرارداد ارزښت يې په مجموع کې له 630 ميليونه ډالرو څخه ډېر وو. سيګار اندېښنه لري چې د متحده ايالاتو د ماليه ورکوونکيو پيسې ښايي د تجهيزاتو او عرادو د داسې مقدارونو په پېروډنه باندې ولګول شي چې د

افغان ملي اردو او افغان ملي پوليسو له اړتياوو څخه ډېر وي. سيګار همدارنګه اندېښنه وښوده چې دغه ډول په لويه پيمانه ترلاسه شوي توکي کېداى شي چې د دې سبب وګرځي چې هغه تجهيزات او عرادې مخکې له وخته له مخې ليرې کړاى شي چې افغان ملي اردو او افغان ملي پوليسو ته مخکې ورکول شوي او د استهلاک موده يې لا ډېره پاتې ده. د متحده اياالتو د دفاع وزارت دغه استعلام ته ځواب ورکړ، او سيګار دا مهال دغه ځواب تر کار لاندې نيولى دى.

## 16-1-SP خبرتيايي ليک: په هرات کې د متحده اياالتو د نړيوالې پرمختيايي ادارې (USAID) له خوا حمايه شوي روغتيايي مرکزونه

سيګار د 2015 د اکتوبر په 20 مه د متحده اياالتو نړيوالې پرمختيايي ادارې (USAID) ته وليکل چې، د هغو وروستيو پلټنو نتايج وړاندې کړي چې سيګار د دې له پاره ترسره کړې چې د متحده اياالتو د نړيوالې پرمختيايي ادارې (USAID) له خوا په هرات کې د تمويل شويو روغتيايي مرکزونو د موقعيتونو د ارقامو صحت او د چلښت شرايط معلوم او تاييد کړي. څلوېښت نورې ساحې د امنيتي شرايطو له امله د نه لاس رسي وړ وګڼل شوې. د ساحې پلټنې د هغو روغتيايي مرکزونو له پاره د متحده اياالتو د نړيوالې پرمختيايي ادارې (USAID) او افغان حکومت له خوا د ساتل شويو مکاني جغرافيوي معلوماتو د رواني ازموينې برخه دي چې د هغو صحت د مؤثرې څارنې له پاره ضروري دى.

په هرات کې د 23 ساحو له جملې څخه د هرې يوې د ليدنې پر وخت، سيګار لږ تر لږه 25 د وخت، نېټې، او موقعيت په حساب په نښه شوي عکسونه واخيستل؛ د مرکز يوه عمومي ارزونه يې وکړه؛ د نورو معلوماتو تر څنګ يې د مرکز مکاني جغرافيوي کوارډينېټونه ثبت کړل، دا چې آيا مرکز پرانستى دى او کار ترې اخيستل کېږي، او آيا مرکز برېښنا او اوبه او هم په خپل صحن کې درملتون لري؛ او هم يې د مرکز له کارمندانو او له يوه ولسي کس سره چې په پام کې وه چې د روغتيايي مرکز له خوا يې خدمت وشي، مرکې وکړې.

له 23 ساحوي پلټنو څخه معلومه شوه چې د 23 مرکزونوله جملې څخه د 7 مرکزونو مکاني جغرافيوي کوارډينېټونه له هغو کوارډينېټونو څخه له پنځو کيلومترو څخه ډېر ليرې ول چې د متحده اياالتو نړيوالې پرمختيايي ادارې (USAID) او افغان حکومت وړاندې کړي ول. ټول 23 واړه روغتيايي مرکزونه پرانستلي ول او چلېدل، او د هغو 23 ولسي وګړو له جملې څخه چې مرکې ورسره وشوې، 18 يې څرګنده کړه چې دغه مرکزونه په ښه کاري حالت کې دي. ساحوي پلټنو يو لړ ستونزې په ګوته کړې چې په هغو کې په ګڼو موقعيتونو کې برېښنا، اوبو، يا اړتياوړ درملو ته ناکافي او غيرمنظم لاسرسى شامل ول، چې دغه حالت داسې اندېښنې راپورته کوي چې د متحده اياالتو نړيواله پرمختيايي اداره (USAID) د داسې خدمتونو تاديات کوي چې تطبيقوونکي شريکباني يې خلکو ته نه وړاندې کوي.

همدارنګه، دا د اندېښنې خبره ده چې هغه اسناد چې د متحده اياالتو نړيوالې پرمختيايي ادارې (USAID) په هرات کې د پاتې کلينيکونو (چې د امنيتي شرايطو له امله لاس رسى ورته نه کېږي) د موقعيت د پېژندنې او موجوديت په هکله وړاندې کړي دي په عمومي توګه کمزوري دي. له مکاني جغرافيوي کوارډينېټونو سره هېڅ عکسونه نه دي لګول شوي، او د يادو مرکزونو د ساحوي ليدنو يا نورو څارنو په هکله هېڅ راپورونه نه دي شامل کړاى شوي.



**په هرات ولايت** کې د متحده اياالتو د نړيوالې پرمختايى ادارې (USAID) له خوا حمايه شويو روغتيايي مرکزونو د طبي اضافي شيانو د له منځه وړلو له پاره د استعمالېدونکيو سرخلاصو له منځه وړونکيو ماشينونو د موجوديت په شمول، چې ناروغان او د خواوشا ماشومان د ککړو بېکاره موادو له خطر سره مخامخ کوي، يو شمېر اندېښنې راوپارولې. (د سيګار عکس)

## 16-2-SP بياکتنه د TFBSO CNG سټېشن يا پمپ

د 2015 د اکتوبر په 22 مه، سيګار د TFBSO د ترځمکې لاندې ګاز د پروژې په هکله د متحده اياالتو دفاع وزارت ته راپور ورکړ. د TFBSO د يوې څېړنې په اساس، وظيفوي ځواک تقريبا 43 ميليونه ډالر ولګول چې د افغانستان په شبرغان کې د متراکم طبيعي ګاز (CNG) پمپ جوړ کړي. د پروژې اصلي هدف دا وو چې په افغانستان کې په موټرو کې په تجارتي شکل د ګازو د اچونې اسانتيا وښيي او دا د هغې پراخې هڅې يوه برخه وه چې د افغانستان د کورني طبيعي ګاز له ذخايرو څخه ګټه واخيستل شي او د انرژي په وارداتو باندې د هېواد تکيه کمه کړي.

که څه هم چې TFBSO د سي اېن جي سټېشن په جوړولو کې خپل عاجل هدف ته ورسېد، خو دا څرګنده وه چې دغه کار يې د متحده ایالاتو مالیه ورکوونکيو ته په ډېر لوړ قیمت تمام شو. د دې په مقايسه، سیګار وموندل چې په پاکستان کې د سي اېن جي د یوه سټېشن جوړول له 500,000 ډالرو څخه ډېر لګښت نه غواړي. سربېره پر دې، داسې نښه نشته چې TFBSO دې د سټېشن د پراخو هدفونو د ترسره کولو امکانات یا د جوړوني له پیل څخه مخکې د پروژې د بریالیتوب په لار کې موجود خنډونه په پام کې نیولي وي.

د دې پروژې د ډېرو جنجالي اړخونو له جملې څخه یو دا دی چې، کله چې د متحده ایالاتو د دفاع وزارت څخه غوښتنه وشوه، هغه ونشوای کولی چې داسې اسناد وړاندې کړي چې د پروژې لوړقیمت حمایه کړي یا دا چې د ټولې پروژې د انکشاف، پیل، یا پایلې په هکله کومې پوښتنې ځواب کړي. د معلوماتو له پاره د سیګار د ابتدايي غوښتنې په ځواب کې، د متحده ایالاتو د دفاع وزارت یوه چارواکي څرګنده کړه چې د دې حقیقت په پام کې نیولو سره چې د TFBSO عملیات ودرېدلي وو، نوموړي وزارت دا معلومات نه لرل چې د سیګار پوښتنې ځواب کړي.

البته، د سیګار د څانګړې پروژې د دې راپور له ترلاسه کولو څخه وروسته، هماغه چارواکي څرګنده کړه چې وزارت "پوره چمتو دی" چې سیګار ته د TFBSO د فعالیتونو په هکله د سیګار د بیاکتنې اړوند اسناد او چارواکي په لاس ورکړي. د 2015 د اکتوبر په 13 مه، سیګار بیا د متحده ایالاتو د دفاع وزارت ته مراجعه وکړه چې له هغو چارواکو سره خبرې وکړي، د دفاع وزارت ونشوای کولی چې هیڅوک هم، په غوښتل شوي وخت کې دننه، په ګوته کړي، چې هغه وکولی شي چې د پروژې د عملي کېدلو د ارزونې یا د راپور ورکول شویو اضافي 30 میلیونو ډالرو په هکله د سیګار پوښتنې ځواب کړي.

که څه هم چې د متحده ایالاتو د دفاع وزارت ونه توانېد چې د TFBSO پروژې اړوندې پوښتنې ځواب کړي، سیګار د دې هڅو په لړ کې چې ضروري اسناد ترلاسه کړي - له TFBSO څخه د هغه له بندېدلو څخه مخکې او دTFBSO قراردادیانو ته د لیکونو لېږلو له لارې – کافي اندازه شواهد ترلاسه کړل چې د هغو په اساس یې د څانګړې پروژې دا راپور صادر کړ. د TFBSO د فعالیتونو اړوند راتلونکیو پروژو له پاره به، سیګار د متحده ایالاتو د دفاع وزارت سره په دې هیله رابطې ته دوام ورکړي چې په وزارت کې داسې یو څوک په ګوته کړي چې هغه کولی شي چې د وظیفوي ځواک د فعالیتونو او لګښتونو په هکله خبرې اترې وکړي او غوښتل شوي اسناد د سیګار د قانوني صلاحیتونو په اساس برابرکړي.



**د سیګار څانګړې** پروژې په دې درې میاشتنۍ موده کې د TFBSO د ځمکې لاندې ګاز څخه د **استفادې** د پروژې په هکله چې د متراکم طبیعي ګاز دغه پمپ یې جوړ کړ بیاکتنه وکړه. (د منځنۍ اسیا د پرمختیایي ګروپ عکس)

## د عبرت درسونه

سیګار د ژورو بیاکتنو یا د عبرت د درسونو پروګرام (Lessons Learned Prorgram (LLP- پروګرام پیل کړ څو له 2001 کال راهیسې په افغانستان کې د بیارغونې د شویو هڅو هراړخیز تحلیلونه وکړي څو تر ټولو ښې تجربې او د عبرت درسونه په ګوته کړي او د هغو عمومي ستونزو په حلولو کې ترې کار واخلي چې د متحده ایالاتو د بیارغونې هڅې هلته ورسره مخامخ کېږي. د ژورو بیاکتنو یا د عبرت د درسونو پروګرام (LLP) څلور رواني پروژې لري چې د ستراتیژۍ او پلان جوړونې په هکله د ادارو ترمنځ همغږي، افغانستان ته د مرستو په مدیریت کې له بهرنیو شریکانو سره د متحده ایالاتو همغږي، د نشه یېزو توکو پرضد د مبارزې مؤثرتیا او په افغانستان کې د اداري فساد په هکله د متحده ایالاتو نظرونه او غبرګونونه څېړي. د ژورې بیاکتنې یا د عبرت د درس یوه پروژه چې په دې

دري میاشتنی موده کې اعلان شوي ده به په دې هکله بیاکتنه وکړي چې د متحده ایالاتو هڅو څنګه په افغانستان کې د خصوصي سکټور له انکشاف او اقتصادي ودې سره مرسته وکړه.

## د عبرت د درسونو نوې پروژه

په دې دري میاشتنی موده کې، د عبرت د درسونو پروګرام (LLP) یوه داسي پروژه اعلان کړه چې هغه به په افغانستان کې د خصوصي سکټور د انکشاف او د اقتصادي ودې په هکله د متحده ایالاتو د هڅو په تاثیر باندې بیاکتنه وکړي.

د عبرت د درسونو نوې پروژه
• د خصوصي سکټورانکشاف او اقتصادي وده

### د خصوصي سکټور انکشاف او اقتصادي وده

په 2001 کې، په افغانستان کې د دوه لسیزو جګړې، ټکر، او جابرانه رژیمونو له امله د رامنځته شویو ستونزو څخه وروسته، متحده ایالاتو او د هغوی متحدینو د یوه قوي افغاني اقتصاد د جوړولو اهمیت ته پام وکړ. افغانانو ته د بشري امنیت او معیشتونو په ورکولو او حکومت ته د عوایدو په برابرولو سربېره، د اقتصادي ودې یوه لویه انګېزه هغه ژور اټکل وه چې اقتصادي وده به د ثبات او دولت او نړیوالو ځواکونو دواړو ته حمایې ته لاره هواره کړي. له 2001 کال راهیسي په اکثرو ترسره شویو سروې ګانو کې، افغانانو پراخه اقتصادي وده او د کاري فرصتونو برابرول د فزیکي امنیت له پاره یو لومړیتوب ښودلی دی.

په 2001 کې د پیل د ټکي په پام کې نیولو سره، د افغانستان اقتصاد د پام وړ پرمختګ کړی دی، چې په 10 کلونو کې یې په کلني سړي سر عاید (GDP) کې دوه برابره پرمختګ کړی او د مخابراتو په څېرسکټورونو کې یې د پام وړ بریالیتوب ترلاسه کړی دی. خو د افغانستان اقتصادي ودې، حتی مخکې له دې چې وده په 2013 کې 3.7% ته او په ورپسې کال کې 2% ته راښکته شي، لا تراوسه پوري توقعات نه دي پوره کړي. وده تر ډېره حده، د مرستندویانو له خوا د شویو مرستو په واسطه چې د پاینبت ورنه ده د تعمیراتو او خدمتونو په سکټور کې د لګښتونو له لارې شوې ده. د کاري فرصتونو رامنځته کولو نه یوازې دا چې له 2001 څخه وروسته رامنځته شوي توقعات نه دي پوره کړي بلکه هر کال کاري قوې ته د نویو ورداخلېدونکیو کارکوونکیو غوښتنې یې هم نه دي پوره کړي.

بیا نو یوه مهمه پوښتنه دا ده چې د بیارغونې له هڅو ور اخوا، د نن ورځې د افغان اقتصاد ځانګړتیاوې تر کومه حده د مرستندویانو له خوا د حمایه شویو پالیسیو او پروګرامونو نتیجه ده، او تر کومه حده هغه د شرایطو او تحرکاتو (د مثال په توګه بې امنیتي او نه ثبات) پایلې دي. د یو شمېر دلایلو په اساس، د دې پوښتنې ډېره محدوده سیستماتیکه او هراړخیزه ارزونه موجوده ده. اکثر هغه مقیاسونه چې موسسې یې د خپلو پروګرامونو د بریالیتوب د اندازه کولو له پاره کاروي په فعالیتونو او نتایجو (مثلا په روزل شویو خلکو، د کاري فرصتونو په میاشتو) باندې لړ تمرکز کوي او نتایج اکثر وختونه د پروژو په محدودو وختونو کې ارزول کیږي، او اوږدمهالی تاثیر یې لکه اقتصادي وده یا د فقر کموالی په کې په پام کې نه نیول کیږي. همدارنګه، له یوې خوا د پروژو د چټک تطبیق د فشار له امله، له پیله سخته څارنه او ارزونه ترسره نه شوه.

د دې مسئلې د حلولو له پاره به، دا پروژه وارزوي: (1) هغه حد چې تر هغه پوري د خصوصي سکټور د انکشاف او اقتصادي ودې له پاره د متحده ایالاتو یوه هراړخیزه او ثابته ستراتیژي موجوده وه، او دا چې هغه د وخت په تېرېدلو سره په سیاسي او امنیتي وضعه کې څنګه بدله شوه؛ (2) هغه حد چې تر هغه پوري انفرادي پروګرامونه او پروژې د تولې یادي شوي ستراتیژۍ او هدفونو سره سرخوري؛ (3) هغه حد چې تر هغه پورې ستراتیژي، پالیسي، پروګرامونه، او پروژې له چاپېریال سره ښه سمون

کوي؛ (4) د متحده ایالاتو د ادارو او نورو سکتورونو او مرستندویانو (لکه نړیوال بانک، د برتانیا د نړیوالي پرمختیا اداري، د ملګرو ملتونو د ادارو) ترمنځ د پروګرام جوړوني د یووالي سطحه؛ او (5) هغه حد چي د متحده ایالاتو د حکومت د بیارغوني هڅي، په خانګړي توګه د کاري فرصتونو په برابرولو، تجارت، پانګه اچونه، او د ګټو د زنځیرونو انکشاف، د پلان شویو نتایجو لکه د نوي یا د لوړ ارزښت اقتصادي فعالیت سبب وګرځېدي.

## څېړني

د راپور ورکولو د دوري پرمهال، د سیګار څېړنو یو ځل بیا د پام وړ نتایج رامنځته کړل. د متحده ایالاتو حکومت ته په لګښتونو کي تقریبا 123.7 میلیونه ډالر وسپمول شول؛ د جریمو، خسارو یا تاوان اخیستنو، او استردادونو مبلغونه په مجموعي توګه له 26.7 میلیونه ډالرو څخه ډېرشول. سربېره پر دي، دوه کسان ونیول شول، پنځه جنایي اتهامات ولګول شول، اوه محکومیتونه رامنځته شول، او نهه محاکمي وشوي. سیګار 18 نوي څېړني پیل کړې او 22 نوري یې بندي کړې، او په دي توګه یې د ټولو روانو څېړنو شمېر 306 ته ورساوه. وګورئ 2.1 شکل.

د دي ربعي لاسته راوړني د جنایي جریمو، خسارو یا تاوان اخیستنو، او استردادونو، خصوصي فیصلو او د سیګار له روانو څېړنو څخه د متحده ایالاتو د حکومت ټولي سپماوي 944.5 میلیونه ډالرو ته رسوي. د څېړنو په نتایجوکي 103 توقیفونه، 136 جنایي تورونه، 100 محکومیتونه، او 78 محاکمي شامل دي.

## د څېړني په نتیجه کي 116 میلیونه ډالر د متحده ایالاتو حکومت ته وسپمول شول.

د سیګار یوي څېړني هغه تورونه تایید کړل چي میتاس انرژي افغانستان (میتاس) د متحده ایالاتو د انجنیرۍ قول اردو (USACE) ته د داوطلبی یوه تقلبي کڅوره یا پکیج وړاندي کړي وه. بیا میتاس د مناقصي له پروسي څخه واېستل شو، او په نتیجه کي یې د متحده ایالاتو حکومت ته 116,272,883 ډالر وسپمول شول.

د 2015 په اپریل کي، سیګار داسي معلومات ترلاسه کړل چي میتاس د متحده ایالاتو د انجنیرۍ قول اردو (USACE) ته په افغانستان کي د شمال د برېښنا د سیستم د IV فېز (NEPS IV) پروژې له پاره یوه مناقصه سپارلي ده، چي متوقع قیمت یې د 100 او 250 میلیونه ډالرو تر منځ وو. په یادو تورونو کي داسي معلومات هم شامل وو چي د میتاس رییس، عبدالمجید فنا، پخوا د متحده ایالاتو د حکومت له خوا هغه وخت چي فنا د بلي کمپنۍ رییس وو رد او منع شوی وو.

د سیګار او افغان چارواکو تر منځ د همغږۍ له لاري، له بېلابېلو موندنو څخه معلومه شوه چي د مناقصي په هغي کڅوړي کي چي د میتاس له خوا سپارل شوي وه داسي ښکارېدل چي جعلي اسناد او جعلي تصدیقونه موجود دي چي فنا او د میتاس نورو چارواکو برابر کړي ول. د متحده ایالاتو د انجنیرۍ قول اردو په ناخبرۍ سره هغه جعلي اسناد د اعتباري په توګه قبول کړي ول او داسي یې ګڼلي وه چي میتاس یو باکفایته خدمت وړاندي کوونکی دی. سیګار د متحده ایالاتو د انجنیرۍ په قول اردو (USACE) کي له چارواکو سره رابطه وکړه، هغوی وویل چي میتاس یو له هغو شرکتونو څخه دی چي دا وړتیا لري چي د NEPS IV د قرارداد د ورکولو له پاره انتخاب شي. سیګار د متحده ایالاتو د انجنیرۍ قول اردو (USACE) له چارواکو سره له نژدې څخه کار وکړ او د متحده ایالاتو د انجنیرۍ

2.1 شکل

**د سیګار څېړني: د 2015 د سپټمبر له 30 مې راهیسې د پرانستو څېړنو شمېر**




سرچینه: د سیګار د څېړنو ریاست، 10/8/2015

قول اردو (USACE) ته یې د خپلو موندنو یو مفصل راپور وړاندې کړ. بالاخره، د متحده ایالاتو د انجنیری قول اردو (USACE) فیصله وکړه چې میټاس غیرمسؤل دی او میټاس یې د مناقصې له پروسې څخه واېست. د میټاس د مناقصې فسخه، چې په مجموع کې 116,272,883 ډالر وه، د متحده ایالاتو حکومت ته یوه مهمه سپما ښیي.

سربېره پر دې، سیګار داسې معلومات ترلاسه کړل چې ښیي چې د میټاس چارواکو د افغانستان د پانګه اچونې د ملاتړ اداري (آیسا) د جواز ورکولو د مدیر په شمول د آیسا چاراکو ته په لوړه اندازه رشوتونه ورکړي دي. آیسا داسې یوه اداره ده چې د افرادو او شرکتونو په چاڼولو او هغو افرادو او موسساتو ته د جوازونو په صادرولو کې یو مهم رول لري چې په افغانستان کې تجارتونه کوي. په مقابل کې، د جوازونو مدیر میټاس ته د آیسا جعلي اسناد ورکړل، چې بیا وروسته د متحده ایالاتو د انجنیری قول اردو (USACE) ته د مناقصې د یوې جعلي کڅوړې د یوې برخې په توګه تسلیم کړای شول. د جواز ورکولو مدیریت په آیسا کې له ډېرو قوي او بانفوذه موقفونو څخه یو دی. سیګار پخوا له بېلابېلو سرچینو څخه داسې معلومات ترلاسه کړي ول چې د جواز ورکولو مدیر په رشوت او فساد کې سخت ښکېل دی.

د فساد د لوړې کچې او د موضوع د حساسیت له امله، سیګار خپلې څېړنیزې موندنې مستقیما د جمهوري ریاست په ارګ کې د جمهور رییس غني ځانګړیو مشاورینو ته ورسولې. ارګ بیا موضوع د افغانستان لوی څارنوالی ته راجع کړه، چې په نتیجه کې یې په آیسا کې د جواز ورکولو مدیر له وظیفې څخه ګوښه کړای شو. دغه موضوع د سیګار او د افغانستان د لوی څارنوالی د ادارې له خوا په ګډه څېړل کیږي.

## د متحده ایالاتو د هوایي ځواک پخوانی تورن محاکمه کړای شو

د 2015 د اګست په 21 مه، د آیووا په شمالي ولسوالی، مرکزي ناحیه کې، د متحده ایالاتو د هوایي ځواک یو پخوانی افسر ادم پوډینزله دې امله محاکمه کړای شو چې د ډېرو غټو دروغو بیان یې ورکړی وو، او له استخدام څخه د وروسته وخت په خبرو اترو او ځرګندېدلو باندې له لګېدلې محدودیت څخه یې سرغړونه کړې وه. پوډینز د دوه موازي درې کلنو دورو له پاره په تر نظارت لاندې امتحاني دوره محکوم شو. د هغه د اعتراف د موافقې د یوې برخې په توګه، پوډینز د آیووا په کرول سیمه کې د خپل کور او څو افغاني قالینو په شمول، د جرم په ګټه پیرودل شوي توکي چې ارزښت یې نژدې 150,000 ډالر وو تسلیم کړل.

په 2010 کال کې، د متحده ایالاتو د هغه وخت د هوایي خواک تورن، په افغانستان کې په ایګرز کمپ کې وظیفه ترسره کوله، چې هلته هغه د افغان ملي اردو او افغان ملي پولیسو له پاره د لباس او بوټانو د تهیه کولو له پاره د متحده ایالاتو د حکومت د څو میلیوني قراردادونو نظارت کاوه.

د 2010 په ډسمبر کې، د افغانستان له ترک کولو څخه مخکې، پوډینز له یوه افغان شرکت سره چې د متحده ایالاتو د حکومت ګڼ داسې قراردادونه یې په لاس کې لرل، چې د پوډینز له خوا اداره کېدل، د راتلونکي وخت د وظیفې په هکله خبرې اترې وکړې. دا یو داسې حقیقت وو چې وروسته پوډینز له قانون نافذوونکیو چارواکو سره په یوه مرکه کې ترې انکار وکړ. د 2011 په جنوری کې له پوځ څخه له وتنې څخه مخکې، پوډینز له خپلې قوماندانی څخه یوه حقوقي سپارښتنه ترلاسه کړه چې نوموړی یې له یاد افغاني شرکت سره له کار کولو څخه منع کاوه. پوډینز هغه حقوقي مشوره له پامه وغورځوله، د 2011 په مارچ کې، افغانستان ته ستون شو او له افغاني شرکت سره یې کار پیل کړ.

# د سیګار مستقیم لین پراختیا

د 2014 په فبروري کې، د سیګار مستقیم لین د فیس بک د ټولنیزې رسنۍ په کارولو سره د پراخ لاس رسي یوه هڅه پیل کړه. د پراخ لاس رسي پروګرام د افغانستان د بیارغوني په هڅه کې د اداري فساد، تقلب، ضیاع او بدې استفادې په وړاندې په مبارزه کې سلګونو زرو افغانانو ته د سیګار د ماموریت په رسولو کې بریالی شوی دی.

په دا وروستیو وختونو کې، دغه مستقیم لین په پښتو ژبه د اعلان یوه پاڼه تیاره کړه چې د سیګار د ماموریت او مسؤلیتونو په هکله تفصیل وړاندې کوي. د سیګار د عامه چارو د ټیم په مرسته، اعلان د سیګار د فیس بک په پاڼه باندې ولګول شو. دغه پست له 600,000 څخه ډېر کسانو ته "ورسېد" کسانو ته رسېدنه د فیس بک د کاروونکیو له هغه شمېر څخه معلومېږي چې پست یې کتلی وي. د هغو کتونکیو له جملې څخه، له 48,000 څخه ډېرو کسانو پست "خوښ" کړ او له 270 څلې څخه ډېر شریک (بیا پست) کړای شو. د پست د شریکولو ډېرښت خلکو ته رسېدا په چټکۍ سره ډېره کړه. سربېره پر دې، کتونکیو له 180 څخه ډېرې فیس بکي تبصرې وکړې.

دا مهمه ده چې په یاد ولرو چې دغه تبصرې تولې مثبتې وې. له پخوانیو اعلانونو سره پست شوې تبصرې ګډې وډې وې؛ هم منفي وې او هم مثبتې. سیګار په اعلان باندې شوې پخوانۍ تبصرې تحلیل کړې او ورته معلومه شوه چې په افغانستان کې د سیګار د رول په هکله سم پوهاوی نه وو موجود. هغه څه چې سیګار وموندل دا وو چې د فیس بک اکثرو تعقیبوونکیو باور درلود چې سیګار یو خصوصي امریکایي شرکت دی. دغه حالت په ستراتیژۍ کې یو بدلون رامنځته کړ او دې نتیجې ته ورسېد چې کله چې سیګار باید مخکې له دې چې له خلکو نه د تقلب، ضیاع، او بدې استفادې په هکله پوښتنې وکړي په کار دی چې د سیګار او د هغه د ماموریت په هکله خلک وپوهوي. په الفاظو کې دغه بدلون، چې د سیګار د موسسې په هکله یې روښانه تشریح وړاندې کوله د دې سبب شوه چې کتونکي د پښتو اعلان په هکله مثبتې او حمایوي تبصرې وکړي.

دغه شمېرې، چې په 2.2 جدول کې یې تفصیل وړاندې شوی دی ښیي چې د افغانستان ښتانه وګړي د سیګار د ماموریت په هکله خبر شوي دي. د دری او انګلیسي ژبې د پخوانیو پستونو نتایجو هم ورته عالي نتایج او په پراخه کچه خلکو ته رسېدا وښودله.

له هغه وخته چې مستقیم لین د فیس بک کارول پیل کړي دي، سیګار ته له 120 څخه ډېر اضافي شکایتونه راغلي دي، چې اکثر یې د ټولنیزو رسنیو له لارې د ارتباطو له امله دي.

سربېره پر دې، مستقیم لین د یوې بلې داسې پروژې په پلانولو باندې کار پیل کړی دی چې هدف یې دا دی چې د سیګار اموریت د مستقیم لین له معلوماتو سره یو ځای خلکو ته ورسوي. پروژه به د سیګار معلوماتي لڼدیزونه په دری کې خپاره کړي، دا به د هغو پښتو معلوماتو په څېر وي چې په فیس بک باندې خپاره شوي ول، خو په کاغذ کې به چاپ شوي وي. دغه چاپ شوي مواد به د یوه پنځه ورځني پروګرام په ترڅ کې په کابل کې په داسې ځایونو کې چې د خلکو ګڼه ګوڼه وي خپرېږي. دا پروژه داسې یو فرصت دی چې تاوان یې لږ او د لاسته راوړنې احتمال یې ډېر دی.

همدارنګه یوه پروژه تر پلان لاندې ده چې د لویو لوحو له لارې به افغانان د سیګار د ماموریت په هکله خبروي او هغوی به دې ته رابلي چې د اداري فساد، درغلۍ، د امکاناتو د ضیاع، او له هغو څخه د بدې استفادې د پېښو په هکله راپور ورکړي. د پښتو او دری ژبو په کارولو سره د دغو پروګرامونو له لارې، سیګار د مستقیم لین په هکله د خبرتیا ساحه پراخوي او په افغانستان کې د بیارغوني په هڅو کې د ضیاع، درغلۍ، او بدې استفادې د موندلو او په هکله یې د راپور ورکولو په برخه کې پراخ مراقبت ته وده ورکوي، چې ګټه یې بالاخره امریکایي مالیه ورکوونکیو ته رسېږي.

جدول 2.2

| د فيس بک د مستقيم لين د اعلان نتايج | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | خوښوني (لايکونه) | | شريکوني | | رسېدنه | |
| ژبه | په فيس بک کې د پست کولو مياشت | شمېر | د سلنې ډېربنت | شمېر | د سلنې ډېربنت | شمېر | د سلنې ډېربنت |
| دری | د 2014 جون<br>د 2015 جولای | 10,485<br>43,831 | %813 | 159<br>349 | %119 | 250,000<br>529,920 | %112 |
| انګليسي | د 2014 می<br>د 2015 می | 4,493<br>28,385 | %532 | 83<br>85 | %2 | 136,356<br>306,304 | %125 |
| پښتو | د 2014 می<br>د 2015 سپتمبر | 6,549<br>48,718 | %644 | 143<br>272 | %90 | 213,824<br>687,465 | %222 |

يادونه: * ريچ "Reach" د فيس بک يوه اصطلاح ده، او د هغو خلکو شمېر ښيي چې پست يې ليدلی دی.

سرچينه د سيګار د خبرنو رياست، 10/5/2015




Special Inspector General for Afghanistan Reconstruction (SIGAR)

سيګار اداره د امريکا د متحدو ايالتونو د کانګرس له خوا د بروزو او د بيارغاونې د کړنو د تفتيش او څيړنې د ترسره کولو لپاره په کال ۲۰۰۸ کې د قانون د ۱۲۲۹ مادې له صلاحيتونو سره سمه جوړه شوه. د سيګار اداره د طرفينونو د لېږلو او اغېزمن کولو او همدارز د بيا رغاونې په پروګرامونو کې د درغليو، تقلب او بې ځايه کې احيستنې د مخنيوي په موخه منځته راغله.

د امريکا متحدو ايالتونو له کال ۲۰۰۲ څخه تر ۳۰ جون ۲۰۱۳ ميلادي کال پورې شاوخوا ۱۰۹ بيليون امريکايي ډالر د افغانستان د بيارغاونې د مرستې په توګه ځانګړې کړيده و، نوموړې مرستې د افغان ملي امنيتي ځواکونو د جوړونې، د ښه حکومتدارۍ د ودې، د پراختيايي مرستو د ترسره کولو او د مخدره موادو او فساد په وړاندې د مبارزې د هڅو لپاره په کار اچول شوې دي.
هاټ لاين (شکايتونو ته د رسيدګۍ شعبه)
د سيګار اداره د د درغليو، د پيسو د ضاع او د مالي سوء استفادې په اړه د شکايتونو هم راټولوي.
تاسو کولای شئ د تقلب، درغليو او ناوړه کې احيستنې په اړه هرډول شکايت له افغانستان او متحدو ايالتونو څخه د فکس، پُست او آنلاين لارې په پښتو، درې او انګليسي ژبو د سيګار ادارې ته ورسوئ.
زمونږ تحليلګران د هر شکايت له اروني وروسته پريکړه کوي چې آيا نوموړې معلومات د سيګار په مسؤليتونو کې راځي که نه. هر شکايت چې د سيګار ادارې د صلاحيتونو په ساحه کې راځي نو د لازياتو څيړنو لپاره اړونده پرسونل ته سپارل کيږي.
هغه کسان چې د سيګار له ادارې سره اړيکه نيسي، ددوئ د غوښتنې په صورت کې ددوئ پيژندګلوي نه په ډاګه کيږي.
افغانستان:
د اړيکو شميره: ۰۷۰۰۱۰۷۳۰۰
متحده ايالتونه:
له مرکزي دفتر سره د اړيکو شميره:
بريوال: ۱-۸۶۶-۳۲۹-۸۸۹۳
د فکس شميره: ۷۰۳-۶۰۱-۴۰۶۵
ايميل: sigar.hotline@mail.mil

**دا پښتو اعلان** د سيګار د مستقيم لين د پراخي شريکوني د يوې برخي په توګه جوړ شوی او په فيس بک پست شوی وو .




**د سیګار څېړنیز** تحلیلګر شکور صدیقي په ویرجینیا کې د افغانستان د هنرونو او کلتور د 2015 د اکتوبرپه فستیوال کې خبرې وکړې. صدیقي د سیګار د ماموریت، نظر، او اجرأتو په هکله خبرې وکړې؛ د افغانستان د بیارغونې د هڅو په هکله یې خبرې اترې وکړې؛ او غوښتنه یې وکړه چې افغانان دې د بیارغونې د پروګرامونو او فعالیتونو د اړوندې درغلۍ، ضیاع، او بدې استفادې په هکله راپور ورکړي. (د سیګارعکس چې جورج میلینډیز اخیستی دی)

د 2011 له مارچ څخه تر نومبر پورې، پوډینز د متحده ایالاتو د حکومت له چارواکو سره شخصا او د ایمیل له لارې د خپل افغاني مستخدم په استازیتوب لابي ګري کوله. د هغه د لابي ګرۍ هڅې عین د هغو قراردادونو په هکله وې چې هغه په 2010 کې د متحده ایالاتو د هوایي ځواک د افسر په توګه مدیریت کول. په مقابل کې، د هغه افغان مستخدم ومنله چې هغه ته د کال 500,000 ډالر ورکړي، چې د هغې له جملې څخه 250,000 ډالر مخکې تر مخکې افغانستان ته د پوډینز په رسېدلو سره ورکول شوي ول. پوډینز په مکرر ډول او په دروغو د متحده ایالاتو د حکومت قرارداد کوونکیو چارواکو ته ویلي وو چې هغه ته پوځي ځارنوالانو "خوندي لاره" ورکړې چې اجازه ورکوي چې نوموړی د خپل افغان مستخدم استازیتوب وکړي، او په ګڼو مواردو کې د متحده ایالاتو پوځي کمپاونډونو ته په غیرقانوني توګه ننوتی دی او امنیتي ساتونکیو ته یې ویلي دي چې نوموړی لا هم د متحده ایالاتو له اردو سره په وظیفه کې فعال دی او دا چې نوموړی لا هم د متحده ایالاتو د قراردادونو یو چارواکی دی.

سیګار، د دفاع د جنایي څېړنو ادارې (DCIS)، د هوایي ځواک د ځانګړیو څېړنو ادارې (AFOSI)، د اردو د جنایي څېړنې څانګې (CID)، او د فدرالي تحقیقاتو ادارې په ګډه دغه قضیه وڅېړله.

## د متحده ایالاتو د سمندري ځواک له احتیاطي غړو سره په وظیفه کې د غفلت له امله د امیرالبحر له خوا د سمندري انضباط چلند وشو.

د 2012 د جون په 27 مه، د افغانستان په غزني ولایت کې د 1 لویې لارې په اوړدو کې په یوه پلچک کې یوه چمتو کړای شوې چاودونکې وسیله وچاودله چې د متحده ایالاتو د اردو څلورعسکر یې ټپیان کړل. د 2012 د جولای په 18 مه، په عین پلچک کې، د یوې چمتو کړای شوې وسیلې چاودنې د متحده ایالاتو د اردو دوه عسکر ووژل او دوه نور یې ټپیان کړل.

پلچکونه داسې جوړښتونه دي چې د هغو له لارې تر سرک لاندې اوبه تېرېږي. یاغیان له هغو څخه د لویې لارې په اوږدو کې د چمتو کړای شویو چاودونکیو وسیلو د ځای پرځای کولو له پاره په پراخه کچه ګټه اخلي، چې د دې له پاره ضروري ده چې د پلچکونو مخې ته د اوسپنیزو سیخانو مخنیوونکي سیستمونه ولګول شي. د 2012 په اګست کې، وروسته له هغه چې په غزني ولایت کې د ولایتي بیارغونې د ټیم لارښود انجنیر راپور ورکړ چې دوه افغان قراردادیان په غزني ولایت کې د لویې لارې په اوږدو کې د پلچکونو مخې ته د مخنیوونکیو سیستمونو د لګولو په برخه کې د متحده ایالاتو له حکومت سره په قراردادونو کې په درغلۍ کې په بېلابېلو مورادو کې شکمن پېژندل شوي دي، یوه څېړنه پیل شوه.

افغان مرکزي تعمیراتي شرکت (AMCC) ته یو قرارداد ورکول شوی وو چې د 2011 په جنورۍ کې د 125 پلچکونو مخې ته مخنیوونکي سیستمونه ولګوي. د متحده ایالاتو د سمندري ځواک احتیاطي بریدمن قوماندان متیو ج. کوک، چې د افغان مرکزي تعمیراتي شرکت (AMCC) سره د قرارداد کولو د مدیر استازی (COR) وو، افغان مرکزي تعمیراتي شرکت (AMCC) ته د 361,689 ډالرو 75% تادیات د قرارداد د اجرأ کولو له پاره منظور کړل. منیب برادرز تعمیراتي شرکت (MBCC) ته له قراردادونو څخه یو ورکول شو چې د 2011 په جنورۍ کې د 125 پلچکونو مخې ته مخنیوونکي سیستمونه نصب کړي. د متحده ایالاتو د سمندري ځواک احتیاطي بریدمن قوماندان مایکل ج. سیرنوسکا د منیب برادرز تعمیراتي شرک (MBCC) له پاره د قرارداد کوونکي افسر استازی وو. هغه منیب برادرز تعمیراتي شرک (MBCC) ته دا منظوري ورکړه چې د قرارداد د اجرا کولو له پاره د 541,360 ډالرو پوره تادیات ترلاسه کړي.

په 1 لویه لاره باندې د پلچکونو مخې ته د مخنیوونکیو سیستمونو (CDSs) یوې تعقیبي سروې په ګوته کړه چې په غزني ولایت کې یو غټ شمېر پلچکونه تر پوښښ لاندې نه دي نیول شوي. د قرارداد کوونکي مدیر د استازو په توګه، کوک او سیرنوسکا وظیفه لرله چې معلومه کړي چې افغان مرکزي تعمیراتي شرکت (AMCC) او منیب برادرز تعمیراتي شرک (MBCC) د قرارداد د مقرراتو،

شرایطو، او مشخصاتو په پام کې نیولو سره د قرارداد تخنیکي او مدیریه شرایط پوره کړي دي. کوک او سیرنوسکا وظیفه لرله چې د قراردادونو مدیر په لیکلي ډول د نه قانع کوونکیو اجرأتو او/یا بې کفایتیو څخه خبر کړي. د تادیاتو له پاره د افغان مرکزي تعمیراتي شرکت (AMCC) او منیب برادرز تعمیراتي شرکت (MBCC) دواړو سپارنو عیبونه لرل چې باید کوک او سیرنوسکا دواړه پرې پوهېدلي وای. په دغو عیبونو او بې کفایتیو کې دا هم وو چې هغوی د پلچکونو مخې ته د مخنیوونکیو سیستمونو د نصبولو د بېلابېلو ساحو له پاره عین عکس کارولی وو؛ د پلچکونو مخې ته د مخنیوونکیو سیستمونو ساحې د موقعیت د سیستم کوارډینیتونه، چې په ډېرو حالتونو کې، د غوښتل شوي پلچک له ساحې څخه په میلونو فاصله لیرې ول؛ په قرارداد کې د غوښتل شویو څلوروعکسونو څخه لږ شمېرعکسونه سپارل؛ د پلچکونو مخې ته د مخنیوونکې سیستم د تنصیباتو داسې عکسونه چې هغه په څرګند ډول په دې کې پاتې راغلي وو چې د قرارداد مشخصات پوره کړي. له دغو عیبونو سره سره، کوک او سیرنوسکا په دې کې پاتې راغلي ول چې له اړتیا سره سم د قراردادونو مدیران خبر کړي، او د افغان مرکزي تعمیراتي شرکت (AMCC) او منیب برادرز تعمیراتي شرکت (MBCC) د تادیاتو سپارنې یې تایید کړې وې.

د 2015 د اپریل په 7 مه، کوک د نظامي عدالت د یونیفورم کوډ له 92 مې مادې څخه د سرغړونې له امله د وظیفې د ترک په لړ کې د 32 مې مادې استعماع ترلاسه کړه. د 2014 د جولای په 9 مه، کوک ته له 92 مې مادې څخه د سرغړونې له امله د امیرالبحر له خوا انضباطي سزا ورکول شوه، او هغه ته په خپلو هغو وظایفو کې چې هغه په کې د خپل یوه قرارداد د ورځنې مدیریت په څارنه کې د پاتې راتګ له امله پرېښی وو د اخطار یو انضباطي لیک ورکول شو.

د 2015 د جولای په 9 مه، سیرنوسکا ته د نظامي عدالت د یونیفورم کوډ له 92 مې مادې څخه د سرغړونې له امله د امیرالبحر له خوا د وظیفې د ترک انضباطي سزا ورکول شوه. سیرنوسکا ته په خپلو هغو وظایفو کې چې هغه په کې د خپل یوه قرارداد د ورځنې مدیریت په څارنه کې د پاتې راتګ له امله پرېښی وو د اخطار یو انضباطي لیک ورکول شو.

## د متحده ایالاتو د اردو دوه منسوبینو په رشوت اخیستلو اعتراف وکړ

د 2015 د جولای په 2 مه، د متحده ایالاتو د ولسوالی په محکمه، د کنټاکي په لویدیځه ولسوالی کې، د متحده ایالاتو د اردو بریدګي رامیرو پینا له یوه حکومتي چارواکي څخه د یو ځل غیرقانوني رشوت اخیستلو په جرم باندې اعتراف وکړ.

د 2015 د سپتمبر په 18 مه، د متحده ایالاتو د ولسوالی په محکمه، د فلوریډا په شمالي ولسوالی کې، د متحده ایالاتود سمندري ځواک متقاعد مشر قوماندان بریدګي ډونالډ پ. بنچ له یوه حکومتي چارواکي څخه د یو ځل غیرقانوني رشوت اخیستلو په جرم باندې اعتراف وکړ.

په دواړو کسانو باندې د رشوت اخیستنې څېړنه وشوه چې تمرکز په کې په هغو افغان قراردادیانو باندې وو چې د افغانستان په بګرام هوایي ډګر کې یې د بشري مرستو د انګړ (HA Yard) اړوند حکومتي قراردادونو د ورکړې په بدل کې د متحده ایالاتو نظامي پرسونل ته رشوتونه ورکول. د HA Yard موسسه د هغو لباسونو، خوړو، د ښوونځیو د لوازمو، او نورو شیانو له پاره د ذخیره کولو د یوه مرکز په توګه کار کوي چې د افغانانو له پاره د بشري مرستو په حمایه کې نظامي یونټونو ته ورکول کیږي. د HA Yard موسسه، د قوماندان د چټک غبرګون د پروګرام له لارې، د متحده ایالاتو قوماندانانو ته دا وړتیا په لاس ورکوي چې د بشري مرستو چټکو اړتیاوو ته ځواب ووایي.

پینا په HA Yard موسسه کې د پروژې د پېرودونکې مدیر په توګه په خپل موقف کې له افغان خدمت وړاندې کوونکیو څخه 100,000 ډالر او یو رولیکس ساعت چې 25,000 ډالر قیمت یې درلود په غیرمشروع رشوتونو کې ترلاسه کړي ول. پینا د رشوت د پیسو له جملې څخه 22,000 ډالر کور ته خپلې مېرمنې ته چې په فورټ کمپبیل کې اوسېدله د مبارکۍ په کارډونو کې لېږلي ول. هغه به په یو ځل له درې څخه تر څلورو نوټونو پورې چې له 300 څخه تر 400 ډالرو پورې به کېدل په هر کارډ کې هر ځل لېږل څو په پست خونه کې پاکټ ته د چا پام ور وانه وړي. سربېره پر دې، پینا د رشوت پیسې داسې

**جنایي معلومات:** د لوی ژوري له برخې اخیستنې څخه پرته د حکومتي څارنوال له خوا لګول شوی لیکلی تور. د جنایي معلوماتو وظیفه دا ده چې مدعی علیه دهغه پر ضد د لګول شوي تور د څرنګوالي په هکله، او د هغه قانون په هکله خبر کړي چې دغه ډول یو تورلګوي، څو هغه د محاکمې له پاره تیاری ونیسي او د دې مخه ونیسي چې هغه د عین سرغړونې له امله بیا محاکمه نه کړای شي.

سرچینه بلیک لا ډکشنري

کارولي وي چې یو هارلي ډیویډسن موټرسایکل یې پرې اخیستی وو او خپل او د خپلې کورنی شخصي لګښتونه یې پرې تادیه کړي ول.

بنچ په HA Yard موسسه کې د رییس په توګه په خپل موقف کې له افغان خدمت وړاندې کوونکیو څخه 25,000 ډالر په غیرمشروع رشوتونو کې ترلاسه کړي ول څو د هغوی د قراردادونو بریالی تایید او له پروسو څخه تېرېدل یقیني کړي اوهغوی ته په HA Yard کې مالونه برابر کړي. بنچ هم د پېنا په څېر ډېرې پیسې خپل کور ته خپلې مېرمنې ته د مبارکۍ په کارډونو کې لېږلي وې. دغې جوړې یادې په یوه کور باندې چې هغوی جوړاوه لګولي وې.

## د قراردادونو مدیر په جرم اعتراف کوي

د 2015 د جولای په 31 مه، د الاباما په شمالي ولسوالی کې، تیریسا میبیري د دې تورونو په مقابل کې په ملامتیا اعتراف وکړچې د متحده ایالاتو د دفاع د وزارت د عمومي مفتش (DOD IG) له خوا د یوه ترسره کېدونکي تفتیش په وړاندې یې خنډ جوړ کړی وو. نوموړی تفتیش د افغان هوایي ځواک له پاره د Mi-17 هلیکوپټرونو د ترمیم او پېرودنې په برخه کې کېده.

سیګار ته د یوه شخص له خوا چې غوښتل یې چې محرمیت یې باید خوندي وساتل شي د یوه ټیلیفوني شکایت په رارسېدلو سره د 2013 د اګست په 15 مه یوه څېړنه پیل شوه. دغه څېړنه په ریډسټون ارسینل کې د نان سټنډرډ روټري وینګ ایرکرفټ (NSRWA) پروګرام د اداري او دوه قراردادیانو؛ اویا بالتیکا (AVB) او ایم ډي هیلیکاپټرز آی اېن سي (MDHI) ترمنځ د غیرقانوني روابطو په هکله وه.

د 2011 په وروستیو او 2012 کې، د متحده ایالاتو د دفاع وزارت عمومي مفتش (DOD IG) هغه قراردادونه چې د روسیه جوړ Mi-17 هلیکوپټرو د بیارغوني او د هغوی له پاره له 8 میلیونه ډالرو څخه د اضافي ارزښت د پرزو د اخیستني په هکله وو تفتیش کړل. د تفتیش هدف دا وو چې وښیي چې آیا د متحده ایالاتو اردو د هغو پرزو له پاره صحیح قیمتونه تادیه کړي دي، آیا هغه پرزې ضروري وې، او آیا د قرارداد کولو له پاره مناسبې پروسې تعقیب شوې وې.

په NSRWA کې د قراردادونو یوې مدیرې، تیریسا میبیري، د متحده ایالاتو د حکومت په استازیتوب د پرزو قرارداد تایید کړ او د هغه په تطبیق کې یې یو مهم رول درلود. د تفتیش په ټول بهیرکې، د متحده ایالاتو د دفاع وزارت عمومي مفتش (DOD IG) میبیري ته د قراردادونو د اسنادو له پاره ګنې غوښتنې ور وړاندې کړې څو د اضافي پرزو یا سپیرپارټس په پېرودلو کې نیول شوي تصمیمونه توجیه کړي. میبیري او د هغې ترلاس لاندې کارمندانو د هغې په لارښوونه یو شمېرغلط او زاړه اسناد سره چمتو کړل، چې بیا هغې DOD IG ته د هغه د غوښتنو په ځواب کې ورکړل.

د میبیري او نورو موضوعاتو څېړنه پېچلې وه، چې له 150 څخه ډېرې مرکې یا مصاحبې په کې وشوې، د لوی فدرالي منصفه هیئت له خوا 137 احضاریې، د ایمیل له لارې د لټون د ځلورو حکمونو، د انټرنټي موادو د لټون، او لږ تر لږه د 500,000 اسنادو بیاکتنه په کې شامل ول. دغه څېړنه د سیګار، د فدرالي تحقیقاتو د اداري (FBI)، د دفاع د جنایي څېړنو د اداري (DCIS)، او د متحده ایالاتو د اردو د جنایي څېړنو د قوماندانی (USACID) له خوا په ګډه ترسره شوه.

## څېړنې د متحده ایالاتو حکومت ته د نږدې 7.4 میلیونه ډالرو د سپما ګټه ور ورسوله

د سیګار د یوې څېړنې او خپلواکو تفتیشونو په نتیجه کې د ملکي تخنیکي مرستو پروګرام (CTAP) فسخه شو او د متحده ایالاتو حکومت ته 7,445,950 ډالر سپماوې وشوې.

د ملکي تخنیکي مرستو پروګرام (CTAP) په اصل کې د متحده ایالاتو د نړیوالي پرمختیایي اداری (USAID) له خوا تمویل شوی پروګرام وو، چې د افغانستان د مالیې وزارت له خوا اداره

کېده. د ملکي تخنیکي مرستو د پروګرام (CTAP) هدف دا وو چې د افغانستان د حکومت په بېلابېلو وزارتونو او ریاستونو کې په کارپوه تخنیکي مشاورین په کار وګومارل شي. مشاورین به چې په کار وګومارل شول، هغوی به د جیګپوړو چارواکو د لارښوونې له لارې د یادو حکومتي ادارو په ظرفیت جوړونه کې مرسته کوله. د ملکي تخنیکي مرستو پروګرام (CTAP) د خپل پنځه کلن کار په بهیر کې نږدې 36 میلیونه ډالر ولګول. د سیګار د یوې څېړنې له لارې ترلاسه شویو معلوماتو، او همدارنګه خپلواکو تفتیشونو په پروګرام کې د خپلوۍ پالنې تورونه تایید کړل. په نتیجه کې، د متحده ایالاتو نړیوالې پرمختیایي ادارې (USAID) د 2015 د جولای په 31 مه د ملکي تخنیکي مرستو پروګرام (CTAP) فسخه کړ، د ژمنه شویو پیسو له جملې څخه 7,445,950 ډالر یې ترې ایسار کړل، او په راتلونکې وخت کې د نورو پیسو ورکړه یې رد کړه.

## د متحده ایالاتو قراردادي د رشوت د څېړنې په نتیجه کې محکوم شو

د 2015 د سپتمبر په 8 مه، د ټکزاس په ختیځه ولسوالۍ کې، جورج اې. ګرین د رشوتونو په ترلاسه کولو او د داسې مالي معاملو یا ټرانزکشنونو د جوړولو په جرم اعتراف وکړ چې د پیسو په هکله د راپور ورکولو د اړتیا مخه یې نیوله. د اعتراف موافقې ښودله چې ګرین ته به د 46 میاشتو په مخه حبس ورکول کیږي او دا چې 51,000 ډالر به چې هغه په رشوتونو کې ترلاسه کړي دي د جریمې په توګه ورکوي.

څېړنه وروسته له هغه پیل شوه چې د متحده ایالاتو نړیوالې پرمختیایي ادارې (USAID) داسې تورونه ترلاسه کړل چې د آی آر ډي یو کارمند، ګرین، د متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیایي ادارې (USAID) جنوبي سیمې د کرنیز انکشاف د پرورګرام د 65 میلیون ډالري قرارداد د ورکولو په بدل کې رشوت غوښتی او ترلاسه کړی یې دی. د آی آر ډي یوه افغان کارمند د ګرین امریکایي بانکي حساب ته 20,000 ډالر لېږلي ول او څو افغان قراردادیانو په ګډه په مجموعي توګه 25,000 ډالر د ګرین بانکي حساب او په ایټالیا کې د انتیک موټرو یوه کاروباري ته لېږلي ول. ګرین 16,000 ډالر د ګاڼې په بڼه د پیسو د اختلاس په توګه په دوبۍ کې ترلاسه کړل او د هغه د ښځې له پاره یې دې ته چمتووالی ونیو چې له 30,000 ډالرو څخه ډېر له رخصتۍ څخه په ستنېدلو سره له ایټالیا څخه متحده ایالاتو ته انتقال کړي.

سیګار د څېړنې په هره مرحله کې ښکېل وو، چې د لوی فدرالي منصفه هیئت له خوا 19 احضاریې، 23 مرکې، د ایمیل له لارې د لټون د څلورو حکمونو، او د ګرین د کور د فزیکي لټون وارنټ، او همدارنګه د کمپیوټر له لارې د جرم معلوموملو کتنه په کې شامل ول.

## د متحده ایالاتو د اردو غړی د توطیه جوړونې او رشوت اخیستنې په تورمحاکمه شو

د 2015 د سپتمبرپه 22 مه، د کلیفورنیا په شمالي ولسوالۍ کې د متحده ایالاتو د ولسوالۍ په محکمه کې د متحده ایالاتو د اردو پخوانی کارپوه انتوني ډ. ټران په 30 میاشتې نظربندۍ محکوم شو او امر ورته وشو چې 69,000 ډالر د تاوان په توګه وسپاري، او 100 ډالر د ارزونې د فیس په توګه تحویل کړي. هغه ته حکم وشو چې 11,437 ډالر او د هغه 2009 هونډا اکورډ چې 8,563 ډالر قیمت یې درلود د جریمې په توګه ورکړي. سربېره پر دې، ټران به د خپل سزا له پوره کولو څخه وروسته تر درې کلونو پورې تر نظارت لاندې ازادي ولري. د 2015 د جون په 9 مه، ټران له یوه حکومتي چارواکي څخه په یو ځل رشوت اخیستلو باندې اعتراف وکړ.

په ګردېز کې د پرمختګ په عملیاتي مرکز (FOB) کې د ورکو شویو تېلو په هکله له راپورونو څخه وروسته، سیګار د توطیه کوونکیو ټران، بریدګي جیمز اې. نوریس، ډلګی مشر سینیکا ډ. هامپټن، او یوه بل شخص څېړنه پیل کړه. څېړنې په مجموعي توګه د 59,000 ګیلن تېلو، چې د 600,000 ډالرو په خواوشا کې قیمت یې درلود، ورکېدل تایید کړل. او یاد شوي څلور کسان داسې په ګوته شول چې د تېلو د ورکېدلو په ارتباط یې د رشوت اخیستنې په یوه پلان کې لاس درلود.

# فدرالي قاضي د رشوت او د تېلو د غلا د دسیسې د څېړنې په نتیجه کې سختې سزاګانې ورکړې.

د 2015 د سپتمبر په 29 مه، د متحده ایالاتو د اردو لومړی بریدمن جیفري ب. ایډمونسن، د متحده ایالاتو د اردو پخوانی بریدمن کرسټوفرسیامپا، د متحده ایالاتو د اردو پخوانی بریدمن ایمانویل لوګو، او د متحده ایالاتو د اردو پخوانی بریدمن جیوفري ک. مونټاګو د متحده ایالاتو د ولسوالۍ د قاضي ټیرینس ډبلیو. بوایل له خوا د شمالي کارولینا په ختیځه ولسوالۍ کې، په افغانستان کې د وظیفې ترسره کولو پر وخت په رشوت اخیستنه او د تېلو په غلا کې د لاس لرلو له امله محاکمه شول.

د یادو څلورو مجرمینو له جملې څخه هر یوه مخکې په یوځل توطیه جوړونه او یو ځل رشوت اخیستنه باندې اعتراف کړی وو. په پلان کې د رول لرلو له امله، ایډمونسن په فدرالي محبس کې په اته کاله حبس محکوم شو او حکم ورته وشو چې 7,499,200 ډالر خساره تحویل کړي.

سیامپا په فدرالي محبس کې په 10 کاله حبس محکوم شو او حکم ورته وشو چې 10,353,000 ډالر خساره تحویل کړي.

مونټاګو په فدرالي محبس کې په پنځه کاله حبس محکوم شو او حکم ورته وشو چې 7,499,200 ډالر خساره تحویل کړي.

لوګو په فدرالي محبس کې په څلورکاله حبس محکوم شو او حکم ورته وشو چې 1,296,000 ډالر خساره تحویل کړي. څلوروارو توطیه کوونکیو د ځانګړې ارزونې له امله 200 ډالر تحویل کړل، او د هر یوه د حبس له اړوندې مودې پوره کولو څخه وروسته به د درې کلونو په مخه تر نظارت لاندې ازادي ولري.

دغه څلور واړه توطیه کوونکي په 2011 – 2012 کې په افغانستان کې د متحده ایالاتو د ځانګړیو ځواکونو له درېیم ګروپ سره د خدمت د څانګې په واحد کې، چې د شمالي کارولینا په براګ نظامي مرکز کې یو مېشت یونټ دی، په کار ګومارل شوي ول. هغوی ټول په کندهار هوایي ډګر کې په براون کمپ کې په کار ګومارل شوي ول، چې هلته د هغوی په وظیفو کې د تېلو، اوبو، او نورو تأميناتو له پاره د انتقال د څارنې چارې شاملې وې څو د افغانستان په جنوب کې د متحده ایالاتو نظامي یونټونه حمایه کړي. د انتقالاتو یا ټرانسپورټ د حرکت غوښتنلیکونه یا ټي ایم آرونه (TMRs) د بېلابېلو افغاني شرکتونو له خوا ترقرارداد لاندې ورکول کېږي.

د 2011 په فبروري کې افغانستان ته په رارسېدلو سره، د ګروپ جیګپوړي غړي ایډمونسن د ټي ایم آر د پروسې د څارنې له پاره سیامپا مقرر کړ او سیامپا ته یې د پلان شوې جنایي توطیې په جزیاتو کې روزنه ورکړه. لوګو او مونټاګو وروسته د هغوی د مقررۍ پر وخت له دغې پروژې سره یوځای شول؛ مونټاګو د سیامپا او لوګو په نسبت په لوړه درجه کې وو، او لوګو د 2011 په اګست کې د ټي ایم آر د پروسې په څارنه کې د سیامپا رول ترلاسه کړ.


**فدرالي منسوبین هغه** وسلې ضبطوي **چې** د تېلو د غلا په پیسو پېرودل شوې وې. (د DCIS عکس)

د پروژې د یوې برخې په توګه، توطیه کوونکیو په ټي ایم آرونو (TMRs) کې داسې تقلب وکړ چې وښیي چې په ساحه کې د متحده ایالاتو یوه نظامي واحد د تېلو ورانتقالول غوښتي دي، په داسې حال کې چې داسې کومه غوښتنه نه وه شوې. تقلبي ټي ایم آر یو ځانګړی افغان ټانکر لرونکی چې له یادو څلورو نظامي توطیه ګرانو سره یې توطیه کوله، وګوماره، څو جعلي ټي ایم آرونه تکمیل کړي. د افغاني شرکت ډرایورانو د کندهار په هوایي ډګر کې د تېلو په ډیپوګانو کې تقلبي ټي ایم آرونه کارول څو خپل 10,000 ګیلن اخیستونکي ټانکرونه بار کړي، ټانکرونه له بېس څخه وباسي، او غلا کړای شوي تېل په تور بازار کې خرڅ کړي. د ټانکرونو شرکت هغو څلورو توطیه کوونکیو ته د ټي ایم آرونو د تقلب د رسمي چارو د ترسره کولو له امله، او همدارنګه په غلطه د دې تایید له امله پیسې ورکولې چې غلا کړای شوي تېل قانوني نظامي یونټونو ته لېږدول کېږي. د غلا کړای شویو تېلو په ارزښت سربېره، متحده ایالاتو همدارنګه د ورکو شویو تېلو د انتقال له امله د تقلبي کارګو تادیات هم کړي دي.

د 2011 له فبروری څخه د 2011 تر ډسمبر پورې، د توطیه په نتیجه کې لږ تر لږه د 114 10, 000 ګیلنو په اندازه تېل د ټانکیو له لارې غلا کړای شوي دي. په نتیجه کې متحده ایالاتو ته د غلا شویو تېلو له امله د اوښتي تاوان ارزښت 8,661,000 ډالر او د تقلبي ټرانسپورټ د لګښتونو اندازه 1,692,000 ډالر وه.

څېړنه د SIGAR, CID, DCIS او ایف بي آی په واسطه ترسره شوه.

ټران اعتراف وکړ چې هغه له يوه افغان ډرايورڅخه تقريبا 20,000 ډالر په غيرمشروع توګه په رشوتونو کې اخيستي دي او په مقابل کې يې هغوی ته اجازه ورکړې ده چې تقريبا 12,000 ګيلنه تېل له بېس څخه غلا کړي. ټران اعتراف وکړ چې هغه د رشوت پيسې په خپلو شخصي شيانو کې چې هغه متحده ايالاتو ته لېږل، پټې کړې وې، او دا چې په هغو پيسې يې يو ډاج چلينجر موټر اخيستی دی. سربېره پر دې، ټران اعتراف وکړ چې هغه له هامپټن څخه د دې په مقابل کې چې د دغو جنايي فعاليتونو په هکله به مقاماتو ته خبر نه ورکوي نغدې پيسې ترلاسه کړې وې.

هغسې چې مخکې يې راپور ورکول شوی وو، توطيه کوونکيو نوريس او هامپټن اعتراف وکړ چې له محلي افغان ډرايورانو څخه به يې د ورځې تقريبا 2,000 ډالر اخيستل او په مقابل کې به يې ډرايورانو ته اجازه ورکوله چې له بېس څخه په زرګونو ګيلنه تېل وباسي. دواړو کسانو د رشوت پيسې په خپلو شخصي شيانو کې د پټولو له لارې متحده ايالاتو ته انتقال کړې وې. نوريس او هامپټن دواړو اعتراف وکړ چې په هغو پيسو چې هغوی د رشوت په پلان کې ترلاسه کړې وې هغوی قيمتي موټر اخيستي ول. هغه موټرونه د اعتراف د موافقو د يوې برخې په توګه د جريمې په ډول وسپارل شول.

## د متحده ايالاتو د اردو ډلګۍ مشر د ډېرو پيسې د قاچاق او د حکومتي ملکيت د غلا په جرم اعتراف وکړ

د 2015 د جولای په 15 مه، د پورتوريکو په ولسوالۍ کې، لويس رامون کزيلاس د درې ځلې د پيسو د قاچاق په جرم او يو ځل د حکومتي ملکيت د غلا په جرم اعتراف وکړ. په دغه اعتراف کې په افغانستان کې د متحده ايالاتو له اردو سره د 113,050 ډالرو قاچاق او د 6,302 ډالرو په قيمت د حکومتي ملکيت غلا کول شامل ول.

د 2013 په اپريل کې، کزيلاس د اردو له خوا د کندهار په هوايي ډګر کې مؤظف شوی وو. د هغه د وظايفو د يوې برخې په توګه، کزيلاس مسؤل وو چې له افغانستان څخه د متحده ايالاتو د ځواکونو د وتلو له پاره په چمتووالي کې د کوچنيو بېسونو په منحلولو کې مرسته وکړي. په دغو وظايفو کې د راتلونکي وخت د استعمال له پاره د متحده ايالاتو د حکومت د ملکيت بېرته ترلاسه کول او په افغان قراردادیانو باندې د له کاره لوېدلو شيانو خرڅول هم شامل ول. د 2013 د جون د 17 مې او د اګست د 9 مې ترمنځ، کزيلاس د اردو د يوې داسې درې کسيزې ډلې غړی وو چې د پرمختګ د عملياتو يوه مرکز ته لاړ څو د يوه بېس په منحلولو کې مرسته وکړي. په بېس کې د موجوديت پر وخت، کزيلاس د متحده ايالاتو د دفاع وزارت د اړوندو لپ ټاپونو په شمول سامان او وسايل غلا کړل. د 2013 په جولای کې، نوموړي نژدې اته بکسونه له بېس څخه په پورتوريکو کې خپلې مېرمنې ته ولېږل. په بکسونو کې يوه اندازه غلا شوې مالونه او نه تصفيه شوې امريکايي پيسې وې چې په مجموعي توګه يې شمېر 50,000 ډالر وو.

سربېره پر دې، د 2013 په اګست کې، کزيلاس د کندهار له هوايي ډګر څخه خپلې مېرمنې ته دوه بکسونه ولېږل چې د "د کورنی له پاره سوغاتونه" په توګه په نښه شوي ول. کزيلاس د خپل اعتراف په لړ کې وويل چې، سره له دې چې هغه داسې ښودلې وه چې په بکسونو کې ځای پرځای شويو شيانو په ترتيب سره 700 ډالر او 400 ډالر قيمتونه لرل، په يوه بکس کې د غلا شوي حکومتي ملکيت يوه برخه او همدارنګه 41,750 امريکايي ډالر ول، په داسې حال کې چې په بل بکس کې 20,800 امريکايي ډالر ول. دغه بکسونه په لويسويلې، کينټکي کې د متحده ايالاتو د ګمرکاتو له خوا ونيول شول.

## د متحده ایالاتو د اردو لومړی بریدمن د شیرینۍ ترلاسه کولو له امله محاکمه شو

د 2015 د سپتمبر په 29 مه، د شمالي کارولینا له براګ نظامي مرکز څخه بهر د متحده ایالاتو د اردو د 82 م مرستندوی غونډ لومړی بریدمن رابرټ وارن ګرین د متحده ایالاتو د ولسوالی د محکمي د قاضي تیرینس ډبلیو. بوایل له خوا د شمالي کارولینا په ختیځه ولسوالی کې، په افغانستان کې د وظیفې ترلاسه کولو پر وخت د غیرقانوني شیرینۍ د غوښتلو او ترلاسه کولو په هکله د هغه د پخواني اعتراف له امله، محاکمه شو. قاضي بوایل و ګرین ته په فدرالي محبس کې د 10 میاشتو د حبس سزا واوروله او ګرین ته یې حکم وکړ چې په غیرقانوني لارو چارو ترلاسه کړي 45,000 ډالر دې د جریمي په توګه تحویل کړي. له حبس څخه وروسته به ګرین تر یوه کاله پورې تر نظارت لاندې ازادي ولري.

په افغانستان کې په 2009 – 2008 کې د خدمت پر وخت، د هغه وخت لومړي بریدمن د لاریو له افغان موټروانانو څخه چې غوښتل یې چې د متحده ایالاتو د حکومت قراردادونه ترلاسه کړي، په ټولیز ډول 150,000 ډالر نغد غوښتي او ترلاسه کړي ول. د تادیاتو له ترلاسه کولو څخه وروسته، ګرین د لږ تر لږه 40 ټرانسپورټي قراردادونو تیارولو ته لاره هواره کړه چې لږ تر لږه 3 میلیونه ډالر ارزښت یې درلود او هغو افغان قراردادیانو ته ورکول شوي ول چې ده ته یې پیسې ورکړې وې. ګرین خپل غیرقانوني عواید متحده ایالاتو ته په هغو کڅوړو کې چې هغه خپلې مېرمنې ته لېږلې انتقال کړې وې، او هغه له خپلې وظیفې څخه د ستنېدلو پر وخت نغدې پیسې د بوټانو په منځ کې قاچاق کړې وې. د نغدو پیسو په عوایدو سربېره، ګرین له خپلو افغان قراردادیانو څخه قالینې، ګاڼه، او غمي ترلاسه کړي ول.

## ځنډوني یا تعلیقات او ممانعتونه

په دې ربعه کې، د سیګار د تعویق او مخنیوي پروګرام 18 اشخاص او 12 شرکتونه په افغانستان اومتحده ایالاتو کې د سیګار له خوا د ترسره شویو څېړنو د یوې برخې په توګه د ترلاسه شویو شواهدو په اساس تعلیق یا ممانعت ته راجع کړل. د دغو اشخاصو له جملې څخه درې تنه د جنایي تورونو په اساس د ځنډوني یا تعلیق له پاره معرفي شول چې دغه تورونه د هغوی په مقابل کې د داسې بد چلند له امله لګول شوي ول چې په افغانستان کې په بیارغوني پورې اړوند وو یا یې په دې برخه کې تاثیر کاوه. له 2008 کال راهیسې تر ننه پورې، د سیګار له خوا د شویو دغو معرفیو یا راجع کوونو شمېر تر 680 پورې رسېږي چې 361 اشخاص او 319 شرکتونه په کې شامل دي. وګورئ 2.2 شکل.

د 2015 د سپتمبر له پای راهیسې، د سیګار د دې هڅو په نتیجه کې چې له تعلیق او مخنیوي یا ممانعت څخه داسې کار واخلي چې په افغانستان کې د تقلب، اداري فساد، او کمزورو اجرأتو مسایل حل کړي، په مجموعي توګه 127 تعلیقات، 366 نهایي شوي ممانعتونه، او 28 داسې په خاصومنصبونو ټاکل شوي افراد او کمپنۍ په ګوته شوي دي چې د متحده ایالاتو له خوا د بیارغوني په تمویل شویو پروژو کې ښکېل ول. د پروګرام له پیل راهیسې 14 اضافي افراد او شرکتونه له قرارداد څخه د مستثنی کولو پرځای له حکومت سره د اداري مطابقت په موافقو کې نیول شوي دي. د 2015 د څلورمې ربعې په جریان کې، د سیګار د معرفیو یا راجع کوونو په نتیجه کې د دغې ادارې د تعلیق او مخنیوي د چارواکو له خوا 22 تعلیقونه او 23 نهایي شوي مخنیوي رامنځته شوي دي.

ځنډوني او مخنیوي د دې له پاره مهمې وسیلې دي چې یقیني شي چې اداره د مرستو قراردادونه یوازې مسؤلیت پېژندونکیو ادارو ته ورکړي. د سیګار پروګرام درې هغه ننګونې ځوابوي چې د متحده ایالاتو پالیسي او د قرارداد کولو احتمالي چاپېریال په افغانستان کې ورسره مخامخ دی: د چټک عمل اړتیا، په افغان اتباعو او افغان شرکتونو باندې د متحده ایالاتو د قضایي صلاحیت محدودیت او د انتخاب

**د ځانګړی نهاد نومول کیدل:** د ملي دفاع د 2015 د صلاحیت د قانون د 841 جز په اساس د عمومي خدمتونو د اداري په سیستم کې د قراردادونو د ورکولو د مدیریت له خوا د قراردادونو له ترلاسه کولو څخه د هغو افرادو او موسساتو محرومول چې د مرکزي قوماندانی (CENTCOM) د قوماندان له خوا معرفي شوي وي او دا احتمال موجود وي چې قرارداد یې لاسونو ته ورشي په داسې حال کې چې هغوی د یاغیانو یا ترهګرو ګروپونو ته د پام وړ مرسته رسولې وي. د ځانګړی نهاد نوموني د نامعینې مودې له پاره دي او د داسې یوه یادښت په توګه کار کوي چې قراردادونه او فرعي قراردادونه داسې افرادو او موسساتو ته ورکول شي چې د مرکزي قوماندانی د قوماندان له خوا په ګوته شوي وي د عامه پالیسی د یوې برخې په توګه ښایي محدود، ختم یا فسخه شي.

**د اداري مطابقت موافقې:** هغه موافقې چې د تعلیق او ممانعت یا مخنیوي د چارواکو او قراردادیانو ترمنځ د مذاکراتو په نتیجه کې د ممانعت د عوض په توګه شوي وي.

سرچینه: د سیګار تعلیقات او ممانعتونه

شکل 2.2

**د سيګار څېړنې: د ځنډونو يا تعليقاتو او مخنيويو يا ممانعتونو له پاره ډېرېدونکي راجع کووني، د 2011 د مالي کال 2 ربعه – د 2015 د مالي کال 4 ربعه**




سرچینه: د سیګار د څېړنو ریاست، 10/8/2015

هغه ننګوني چې د فرعي قراردادیانو د ګنو طبقو له په کار اچولو څخه په میراث کې راپاتې دي. سیګار د داسي لارو لټون ته ادامه ورکوي چې د دغو ننګونو په وړاندې په افغانستان او متحده ایالاتو دواړو کې د معلوماتي سرچینو او څېړنیزو وسایلو له لارې د حکومت غبرګونونه پراخ کړي. سیګار د داسې څېړنو د بشپړولو له لارې چې سیګار په کې برخه اخلي، د تعلیقاتو او مخنیویو له پاره اشخاص یا اداري معرفي کوي – دا داسي ګامونه دي چې شرکتونه یا اشخاص د فدرالي قراردادونو یا مرستو له ترلاسه کولو څخه مستثنی کوي.

په اکثرو مواردو کې، د سیګار معرفي یا راجع کوونه د یوې قراردادي اداري له خوا د جنايي تعقيب یا اصلاحي ګام له پاره د يوې ادعا د نه قبلولو له امله واقع کيږي او په دې توګه دا هغه اساسي ترمیم دی چې په اجرأتو کې د قراردادي غیرقانوني چلند څرګندوي. ادارو ته د معرفيو په ترسره کولو کې، سیګار د اداري له خوا د یو تعلیق یا مخنیوي د تصمیم له پاره بنسټونه جوړوي. سیګار په دې لړ کې د یوې اداري له پاره ټول اړتیاوړ حمایوي اسناد برابروي څو د اړوند قراردادي له خوا د ننګوني یا مقابلې په صورت کې، د هغه تصمیم ملاتړ وکړي. په افغانستان کې د قراردادونو د چاپیریال د بدلېدونکي ماهیت او د قراردادي د غیرقانوني چلند او/یا کمزورو اجرأتو په اساس، په یوه موقع سیګار ته دا ضروري ښکاره شوه چې افراد یا شرکتونه د اداري د تعلیق او مخنیوي د چارواکو له خوا د ګنو مواردو د په پام کې نیولو له پاره معرفي کړای شي.

د تعلیق او ممانعت په برخه کې د سیګار تاکید په دې حقیقت سره بنودل شوی دی چې د تعلیق او ممانعت له پاره د 680 معرفیو له جملې څخه 653 معرفي یا راجع کوونې د 2011 کال له دویمې ربعې راهیسې شوي دي. د 2015 د اکتوبرله 1 څخه مخکې، د 12 میاشتنۍ مودې په بهیر کې، د سیګار د تعلیق او ممانعت د پروګرام له خوا د معرفیو یا راجع کوونو په نتیجه کې 152 اشخاص او شرکتونه له حکومت سره له قرارداد کولو څخه واپستل شول. د دغې مودې په جریان کې د سیګار معرفی یا راجع کوونې د غلا، تقلب، کمزورې اجرا، له یاغیانو سره د مالي ملاتړ، او د بیارغونې د قراردادونو د یوې برخې په توګه د ناسم مدیریت ادعاوې بنیي چې ارزښت یې تقریبا 762.5 میلیونه ډالرو ته رسیږي.

## د بیمې شرکت او مالکان یې له دې امله منع شول چې د بیارغونې په قراردادي باندې یې د بیمې تقلبي پالیسي خرڅه کړې وه.

د 2015 د اګست په 27 مه، د متحده ایالاتو د تعلیق او ممانعت پروګرام چارواکي امریله د بیمې محدود شرکت (Umbrella Insurance Limited Company)، کریم تیمور، او خالد وردک د پنځو کلونو په مخه، چې د 2020 د مې 14 مه کیږي، د دفاع د کارمندانو د روغتیایي پوښښ د قانون [Defense Base Act (DBA)] له مخې د بیمې د تقلب په تورونو له لاس رسي څخه ایسار کړل. د دفاع د کارمندانو د روغتیایي پوښښ قانون (DBA) بیمه د قراردادي د کارمندانو له پاره د کارکوونکیو د اجورو بیمه ده چې له سمندرڅخه پورې غاړه هېوادونو کې د عامه کارونو د اجرأ پر وخت زخمي کیږي او د متحده ایالاتو قانون لازمي ګرځولي ده. د دفاع د کارمندانو د روغتیایي پوښښ قانون (DBA) بیمه د لګښتونو جبران دی او په کار دی چې د قرارداد له اجرأ کولو څخه مخکې وپېرودل شي او د قرارداد د اجرأ په ټوله دوره کې اعتبار ولري. د څو ادارو له خوا د یوې ترسره شوې څېړنې، چې سیګار او د اردو د جنایي څېړنو د قوماندانۍ اړوند په تدارکاتو کې د لویو تقلبونو یونټ، وښودله چې امریله، چې د بیمې یو کمپشن کار دی، په یوه افغان قراردادي چې د بیا رغونې په یوه قرارداد باندې کار کوي د دفاع د کارمندانو د روغتیایي پوښښ قانون (DBA) یوه غیرموجوده پالیسي خرڅه کړې وه. د دفاع د کارمندانو د روغتیایي پوښښ د قانون (DBA) د بیمې د دغې تقلبي پالیسی خرڅونې د افغان قراردادي کارمندان، په قرارداد باندې د هغوی کار پورې یوه اړونده پېښه یا بده واقعه کې، د هغوی د زخمي کېدنې په صورت کې د بیمې د نشتوالي له خطر سره مخامخ کړي ول. د دغې موندنې په نتیجه کې، امریله د بیمې محدود شرکت، تیمور، او وردک ټول د سیګار د تعلیق او ممانعت د پروګرام له خوا د 2015 د مارچ په 27 مه د ممانعت له پاره راجع کړای شول.

## قراردادیان د کندهار له هوایي ډګر څخه، د وسایلو او موټرو د غلا کولو له امله، منع کړای شول.

د 2015 د سپتمبر په 24 مه، سید ګردېزي او سګارا سمارا سینګاګی د متحده ایالاتو د اردو د تعلیق او ممانعت د چاروکي له خوا د سیګار د یوې معرفی په نتیجه کې چې په دواړو باندې یې تور لګولی وو چې د کندهار په هوایي ډګر کې له یوې ذخیرې څخه یې چې د سکای لینک ایوېشن له خوا چلول کېده، د 257,322 ډالرو په ارزښت د موټرو او وسایلو په غلا کې یې برخه اخیستي وه، منع کړای شول.

د سیګار له خوا د یوې ترسره شوې څېړنې په اساس، معلومه شوه چې د 2014 د نومبر په 28 مه، ګردېزي او سمارا سینګاګی، چې په هغه وخت کې یې په کندهار هوایي ډګر کې د قراردادي کارمند په توګه کار کاوه ذخیرې ته ننوتي ول او د یوه فورډ نیمه ټرک په کارولو سره یې چې یو 40 فټه اوږد ټریلر ورپورې نښتی وو او هغه هم په همدغې حوېلی کې وو، دوه ډیزلي فورک لفټونه (د موټرو د پورته کولو ماشینونه) له هغه ځای څخه ایستلي ول. بیا دواړه فورک لفټونه، ټرک، او ټریلر له کندهار هوایي

ډېر څخه اېستل شوي ول او د ګردېزي او سمارا سینګاکي له خوا په یوه نامعلوم افغان باندې خرڅ کړای شوي ول. کله چې د سیګار له څېړنو سره مخامخ شول، بیا دواړو اعتراف وکړ چې په دغې غلا کې یې برخه اخیستې وه او په چټک ډول د کندهار له هوایي ډګر څخه له کاره واېستل شول. د سیګار د څېړنې او د ممانعت له پاره د راجع کوونې په نتیجه کې، ګردېزی او سمارا سینګاکي دواړه له هغې نېټې څخه نیولې تر پنځو کلونو پورې، چې د 2020 د می په 3 مه پای ته رسېږي، منع کړای شول.

**د لوجیستیک قراردادیان او مالک یې د پخوانیو نظامیانو د غلط استازیتوب – او د ښځو تر مالکیت لاندې حالت او د مالي مسؤلیت نه منلو له امله منع کړای شول.**

د 2015 د جولای په 20 مه، د متحده ایالاتو د هوایي ځواک د تعلیق او ممانعت چارواکي جیمز میکایل اوبراین چې د "جیمزمیکایل وینیرټ" په نامه هم یادېږي، او د هغه شرکتونه، تامیرلین ګلوبل سروېسز آی این سي، او ارتیمیس ګلوبل آی این سي د یوې معرفی په اساس چې سیګار کړې وه او تامیرلین ګلوبل سروېسز آی این سي، او ارتیمیس ګلوبل آی این سي دواړه یې په کې په دې تورن کړي ول چې په نامناسب ډول یې ځانونه پخواني نظامیان – او د ښځو تر مالکیت لاندې شرکت ښودلي ول. دغه ښودنې یا استازیتوبونه د عمومي خدمتونو د ادارې (GSA) اړوند د قراردادونو د مدیریت له پاره سیستم (SAM) کې او د کمپنی د خدمتونو د انکشاف له پاره موادو کې شوي ول.

د سیګار له خوا یوې ترسره شوې څېړنې وښودله چې، د اوبراین له خوا د د دواړو شرکتونو د مالکیت او په هغو باندې د کنټرول په اساس، یو شخص چې له نظامي خدمت څخه د هغه د بې درناوې اېستنې له امله هغه نشوای کولی چې له دغو دواړو حالتونو څخه د یوه د لرلو ادعا هم وکړي، د شرکت موجود مسؤلیت تر پوښتنې لاندې راغلی دی. سربېره پر دې، د سیګار څېړنې وښودله چې اوبراین او تامیرلین له مالي پلوه مسؤلیت منونکي نه ول او دا د دې حقیقت له امله چې د هغوی پرضد د متحده ایالاتو د ولسوالی په محکمه کې په مجموعي توګه د 2.1 میلیون ډالرو دوه فیصلې شوې وې. دا فیصلې له دې امله شوې وې چې هغوی په دې کې پاتې راغلي ول چې په افغانستان کې خپلو فرعي قراردادیانو ته د متحده ایالاتو د ټرانسپورټ د قوماندانی د قراردادونو د برخې په توګه د کارګو د انتقال له امله تادیات وکړي. د ممانعت له پاره د هغوی په غوښتنو پسې، داسې معلومه شوه چې نه خو اوبراین او نه هم تامیرلین داسې څه اراده لرله چې د هغوی په مقابل کې شویو فیصلو ته قناعت ورکړي، چې بیا یې د حکومت د قراردادیانو په توګه خپل موجود مسؤلیت تر پوښتنې لاندې راوست. د دغو موندنو په اساس، هوایي ځواک اوبراین، تامیرلین ګلوبل سروېسز، او ارتیمیس ګلوبل د درې کلونو په مخه د هغوی د وړاندیز شوي ممانعت له نېټې څخه د 2018 د اپریل تر 18 مې پورې ایسار کړل.

## په دې درې میاشتنۍ موده کې د سیګار د څارنې نور فعالیتونه

### د عمومي مفتش مرستیال د سمندري ځواک په پوهنتون کې خبرې کوي

د 2015 د اګست په 25 مه، د عمومي مفتش مرستیال الویزي د سمندري ځواک په پوهنتون کې د هغه تقلب، ضیاع، او بدې استفادې په هکله خبرې وکړې چې د افغانستان د بیارغونې په هڅو کې له پیل څخه پېښ شوې دي. الویزي په افغانستان کې د متحده ایالاتو د مالیه ورکوونکیو د 110 بیلیونه ډالرو تاریخي پانګونې په نظارت کې د سیګار په رول باندې رڼا واچوله، او واضحه یې کړه چې هغه کوم ټکي دي چې دغه اداره بې جوړې اداره ګرځوي. د عمومي مفتش مرستیال د هغو درې برخو په هکله تفصیل وړاندې

کړ چې سیګار ورته په افغانستان کې د بیارغونې د عملیاتو د بریالیتوب، او همدارنګه په راتلونکي وخت کې د بیارغوني د عملیاتو له پاره ډېر اهمیت ورکوي: د پروژې مدیریت، د پرمختګ مدیریت، او ملکي – نظامي روابط. د مخکي تګ د یوې برخې په توګه، الویزې په ناستو کسانو کې له جیګپوړو چارواکو څخه غوښتنه وکړه چې د سیګار له خوا چمتو کېدونکي له تېر وخت څخه د عبرت درسونه وګوري، او کله چې په راتلونکیو عملیاتو کې د بیا رغونې له یوې پروژې سره مخامخ کیږي چې د اوو مهمو پوښتنو یو لست په پام کې ونیسي.

## ځانګړی عمومي مفتش د جورج ټاون پوهنتون د بهرني خدمت په پوهنځي کې خبرې کوي

د 2015 د سپتمبر په 10 مه، ځانګړي عمومي مفتش سوپکو د جورج ټاون پوهنتون د بهرني خدمت په پوهنځي کې د شواهدو په اساس پالیسي جوړوني او په افغانستان کې د بیا رغونې د صادقه ارزونې د ضرورت په هکله خبرې وکړې. سوپکو د معیارونو له ټاکلو؛ د حقیقي، درک وړمعیارونو له ټاکلو، او په صادقانه ډول د سنجول شویو نتایجو په اساس پالیسي جوړوني له تصامیموڅخه مخکې د نهایي هدفونو د په پام کې نیولو په اهمیت باندې ټینګار وکړ. ځانګړي عمومي مفتش – د CERP او د USAID د روغتیایي پروګرامونو په شمول د سیګار له کارڅخه مثالونه ورکړل – څو د شواهدو په اساس پالیسی جوړوني پروسه هغسې چې تشریح شوې ده وښیي.

## ځانګړی عمومي مفتش د امنیتي څېړنو له پاره د جورج سي. مارشال په اروپایي مرکز کې خبرې کوي.

ځانګړي عمومي مفتش د 2015 د سپتمبر په 16 مه د جیګپوړو چارواکو په اجرائیه سیمینار کې د 21 مې پېړۍ د ګډو ګواښونو: د ترهګرۍ، نشه ییزو توکو، او ناقانونه قاچاق تر منځ روابطو په هکله خبرې وکړې. سوپکو په افغانستان کې د نشه ییزو توکو پر ضد د مبارزې له یوې ارزونې څخه مخکې د سیګار د ماموریت او کار یوه خلاصه وړاندې کړه. په بیانیه کې، سوپکو په افغانستان کې د متحده ایالاتو له خوا له 2002 څخه د 2015 د سپتمبر تر نیمایي پورې د 8.2 بیلیونه ډالرو له لګښت سره سره، د نشه ییزو توکو د پراخې کرنې په هکله تفصیل وړاندې کړ. سوپکو په دې غوښتنې سره خبرې پای ته ورسولې چې د نشه ییزو توکو پرضد د مبارزې له پاره دې په ستراتیژیو بیاکتنه او په دې برخه کې قوي څارنه وشي.

## ځانګړی عمومي مفتش په رایل یونایټېډ سروېسز انستیټیوت کې خبرې کوي

د 2015 د سپتمبر په 22 مه، ځانګړي عمومي مفتش په رایل یونایټېډ سروېسز انستیټیوټ کې د سیګار د ماموریت په هکله خبرې وکړې، او د برتانیا د مرستو له خپلواک کمېسیون او نورو څارونکیو ادارو سره د سیګار د مشابهتونو او توپیرونو په هکله وغږېد. سوپکو همدارنګه د هغه کار په هکله تشریح ورکړه چې سیګار کړی دی، او د هغو اوو سختو خطرناکو سیمو په شمول چې د دغې ادارې د 2014 د ډسمبر د لوړ خطر په لست کې پرې تفصیل وړاندې شوی دی، د هغو خنډونو په هکله وغږېد چې د بیارغونې هڅې ورسره په افغانستان کې مخامخ دي. ځانګړي عمومي مفتش خپلې خبرې د فرصتونو د ساحو په ګوته کولو او د سختې څارنې له پاره د سیګار د ژمنتیا په دوام سره ټولې کړې.



**په سپتمبر کې**، څانګړی عمومي **مفتش سوپکو** په جرمني کې د امنیتي څېړنو له پاره د جورج سي. مارشال په اروپایي مرکز کې خبرې وکړې. (د مارشال سنټر له خوا اخیستل شوی عکس)

## څانګړی عمومي مفتش د پرنسټن پوهنتون د ووډرو ویلسن د عامه او نړیوالو چارو په پوهنځي کې خبرې کوي

څانګړي عمومي مفتش د 2015 د اکتوبر په 6 مه، د پرنسټن پوهنتون د ووډرو ویلسن د عامه او نړیوالو چارو په پوهنځي کې په ناکامو دولتونو او له کړکېچ څخه وروسته چاپېریالونو کې د بهرنۍ مرستې او بیا رغونې د اهمیت په برخه کې د ښه کار کولو په هکله خبرې وکړې. سوپکو د سیګار د ماموریت او کار، او همدارنګه د مرستو د مشروطیت د نظریې او اهمیت په هکله خبرې وکړې. د هغه وینا همدارنګه د عملي کېدلو وړمشروطیت په ممکنو مېکانېزمونو، ورسره تړلیو ستونزو، او د انکشاف په لارو رڼا واچوله.

## د څانګړي عمومي مفتش مرستیال په ډېنور پوهنتون کې د نړیوالو مطالعاتو په پوهنځي کې خبرې کوي

د څانګړي عمومي مفتش مرستیال الویزي د 2015 د سپتمبر په 28 مه په ډېنور پوهنتون کې د نړیوالو مطالعاتو په پوهنځي کې خبرې وکړې. الویزي د سیګار د ماموریت او کار یوه خلاصه وړاندې کړه، او د شواهدو په اساس پالیسي جوړونې د اهمیت په هکله یې د عمومي مفتش سوپکو پیغام منعکس کړ.

## سیګار د هم مسلکو ارزوونکیو له خوا د کارمندانو د مدیریت د ادارې ارزونه ترسره کوي

د 2015 د می له 12 مې څخه د سپتمبر تر 22 مې پورې، سیګار د بهرنیو هم مسلکو ارزوونکیو په واسطه د عمومي مفتش د ادارې اړوند د کارمندانو د مدیریت د ادارې یوه ارزونه (peer review) ترسره کړه. د هم مسلکو ارزوونکیو له خوا ارزونه د متحده ایالاتو د حکومت او د عمومي مفتش د فدرالي ادارو له پاره د تمامیت او کفایت په هکله د عمومي مفتشانو د شورا د تفتیش د عامو منل شویو معیارونو په اساس ترسره کېږي.




**د ویرجینیا په** روسلین کې د افغانستان د هنرونو او کلتور په کلني فستیوال کې، چېرې چې سیګار یوه معلوماتي غرفه لګولې وه، افغان او امریکایي هنرمندانو دودیزه او عصري **افغاني موسیقي او نڅا وکړل**. (د سیګارعکس چې شکور صدیقي اخیستی دی)

## سیګار د افغانستان د هنرونو او کلتور په کلني فستیوال کې برخه اخلي

د 2015 د اکتوبر په 4 مه، سیګار د افغانستان د هنرونو او کلتور په کلني سیمینار کې چې په روزلین، ویرجینیا کې ترسره شو، برخه واخیسته. سیګار یوه غرفه لګولې وه چې د سیګار انګلیسي او پاړسي خپرونې یې وړاندې کولې. د سیګار پرسونل په غرفه کې ناست ول او راتلونکیو خلکو ته به یې معلومات ورکول، چې په دې کې به داسې معلوماتي پاڼې هم وې چې د سیګار مستقیم لین او د فیس بک د تماس معلومات په کې لیکلي ول. د پروګرام له 2,500 څخه تر 3,000 غړو له جملې څخه اکثر به یې د سیګار له غرفې سره درېدل.

## سیګار د CIGIE څلور انعامونه ترلاسه کړل

د 2015 د اکتوبر په 22 مه، د سیګار کارمندانو د تمامیت او مؤثریت په هکله د عمومي مفتشینو شورا (CIGIE) څخه څلور انعامونه ترلاسه کړل. د سیګار یو ټیم د دې له پاره د سینټر په انعام وستایل شو چې په یوه ډاینامیک چاپېریال کې د تفتیش او څېړنیز کار په ترسره کولو کې یې د زړورتیا، غیرعادي سخا، او د وظیفې په وړاندې صداقت زړورتیا ښودلې وه او په دې توګه یې افغان حکومت حمایه کړی وو چې عواید راټول کړي او له دې لارې اوږدمالی پایښت رامنځته کړي. د سیګار د کارمندانو یوه بل ټیم ته له دې امله انعام ورکول شو چې د افغانستان د ټېلو په یوه یو بیلیون ډالري قرارداد کې یې په بریالیتوب سره څېړنه ترسره کړې وه، او دا د دې سبب شوه چې افغان جمهور رییس چټک ګام واخلي او له 200 میلیونه ډالرو څخه ډېر د متحده ایالاتو حکومت ته وسپمول شي. د سیګار یوه ځانګړي استازي هم (له نورو موسساتو څخه د 10 څېړونکیو په لړ کې) د ګډې، بریالی او عالي څېړنې د ترسره کولو

له امله انعام ترلاسه کړ چې په نتیجه کې یې 31.5 میلیونه ډالر چې د افغاني شیانو په سر د ډېرو بیلونو او ډېرو لګښتونو له امله شوي ول، د متحده ایالاتو حکومت ته بېرته ترلاسه کړل. د سیګار یوه درېیم ټیم ته هم د افغانستان د بیارغونې په قراردادونو کې د مالي تفتیش په پوښښ کې د خلاوو د په ګوته کولو په برخه کې د عالي کار انعام ورکول شو. د دغه ټیم د کار په نتیجه کې د متحده ایالاتوحکومت له 100 میلیونه ډالرو څخه ډېرې پیسې بېرته ترلاسه کړې.

## د سیګار بودجه

سیګار د ګډو او پرمختیایي تخصیصاتو د قانون، 2016 له لارې تمویلېږي. د 56.9 میلیونه ډالرو د تمویل سطحه (د 2015 د مالي کال په څېر) د 2015 د ډسمبر تر 11 مې پورې پرمخ ځي. دغه بودجه (1) د تفتیشونو او پلټنو، (2) څېړنو، (3) مدیریت او حمایې، او (4) د څېړنې او تحلیل د څانګو، او همدارنګه د ځانګړیو پروژو د ټیم او د ژورو بیاکتنو د پروګرام له لارې، د سیګار د نظارت فعالیتونه او لاسته راوړنې حمایه کوي.

## د سیګار پرسونل

د سیګار د کارمندانو شمېر کانګرس ته د تېر راپور راهیسې په خپل حال پاتې دی چې د ربعې په پای کې 193 کارمندان په کې کار کوي. د درې میاشتنی مودې په پای کې، د سیګار 31 کارمندان په کابل کې د متحده ایالاتو په سفارت کې او درې نور د بګرام په هوایي ډګر کې ول. سیګار په کابل کې په خپله اداره کې اوه ځایي افغان کارمندان استخدام کړي چې د څېړنو او تفتیشونو ریاستونه حمایه کړي. سربېره پر دې، سیګار خپل مقیم کارمندان افغانستان ته د لنډې مودې له پاره د کارمندانو په ورلېږلو سره حمایه کوي. په دې ربعه کې، سیګار 12 کارمندان په افغانستان کې په لنډمهالو کارونو باندې ګومارلي ول چې په مجموعي توګه 114 ورځې کار یې وکړ.



**د سیګار کارمندانو** د ویرجینیا په روسلین کې د افغانستان د هنرونو او کلتور په کلني فستیوال کې برخه واخیسته. (د سیګار عکس چې جورج میلینډیز اخیستی دی)

”زه لاهم د افغانستان ملي دفاع امنیتي ځواک (ANDSF) د اوږدې مودې دوام په اړه اندیښمن یم. خلاصه، افغانستان نشي کولی د خپلو امنیتي ځواکونو چارې سمبال کړي ــ په ځانګړي توګه د هغوی په اوسنۍ اندازې کې. پداسې حال کې چې د هغوی اوسنی شمیر ته د ګواښ له کچې سره د سیالۍ کولو لپاره اړتیا ده.“

*ــ د متحده ایالاتو اردو جنرال جان ایف. کمپبیل*

سرچینه: د سنا د وسله وال خدماتو کمیټه، د جنرال جان ایف. کمپبیل بیان، د امریکا متحده ایالات، قوماندان، د متحده ایالاتو ځواکونه ــ افغانستان، په افغانستان کې د اوضاع په اړه د سنا د وسله وال خدماتو کمیټې په وړاندې، د اکتوبر 6، 2015.

# 3
# د بیا رغونې
# نوی وضعیت



# د بیا رغونې نوې وضعیت محتویات

| | |
|---|---|
| **عمومي کتنه** | 65 |
| **د مالي وجوهو وضعیت** | 68 |
| **امنیت** | 84 |
| **حکومتولي** | 130 |
| **اقتصادي او ټولنیزه پرمختیا** | 160 |

**عکس په تېر مخ کې**
د افغان ملي اردو د قل اردو قوماندان ډګر جنرال داود شاه وفادار، کېڼ اړخ ته، په سهیلي افغانستان کې د کلیدي اراضي پرسر د جګړې ډګر څخه د لیدنې په موخه الوتکې ته د ختلو دمخه د متحده ایالاتو اردو ډګر جنرال پول بونټراګر سره روغبړ کوي. (د ډګرمن بیل کوپرنیل لخوا د قاطع ملاتړ ماموریت عکس)

# د بیا رغونې نوې وضعیت

## عمومي کتنه

ولسمشر اوباما د اکتوبر په 15، 2015 کې اعلان وکړ چې متحده ایالات به د 2016 کال په اوږدو کې د افغانستان څخه د متحده ایالاتو د سرتیرو ایستل ودروي او په 2017 کې د هغه د ولسمشرۍ دورې تر پای ته رسیدو پورې به دې هیواد کې زرهاو عسکر پرېږدي. ولسمشر اوباما وویل چې د متحده ایالاتو ځواکونه به دلته خپلو دوه حساس ماموریتونو ته دوام ورکړي ــ د افغان ځواکونو روزنه، او د القاعدې پرواندې د تروریزم سره د مبارزې عملیاتو ملاتړ کول.

د افغان دولت لپاره خورا لوی ماتې پدې ربع کې د طالبانو د لنډې مودې لپاره د سپتمبر په 28 نیټه د کندز ښار نیول و. دا په 2001 کې د ایتلاف ځواکونو د عملیاتو له پیل راهیسې په افغانستان کې د نومړې ډلې لومړی ځل و چې د یوه ولایت مرکز نیسي. د افغانستان ملي دفاع او امنیت ځواکونه (ANDSF) دوه اونۍ وروسته نومړی ښار د متحده ایالاتو ځواکونو د هوای ملاتړ په شتون سره ونیو. په هرصورت، دغه هوای بریدونو کې یو برید د بې پولې ډاکټرانو یو ځایی روغتون په نښه کړ چې د روغتیا کارمندانو او ناروغانو پشمول پکې لږترلږه 22 نفر ووژل شول. ولسمشر اوباما د بې پولې ډاکټرانو د سازمان رییس څخه بخښنه وغوښتله او وې ویل چې متحده ایالات به خپل د اردو طرزالعملونه له سره وارزوي. د متحده ایالاتو ځواکونه ــ افغانستان (USFOR-A) او د قاطع ملاتړ ماموریت (RS) قوماندان جنرال جان ایف. کمپبیل د نومړې پیښې په اړه د متحده ایالاتو بشپړو، بې پرې او رڼې پلټنې ژمنه کړې. په هرصورت، د بې پولې ډاکټرانو رییس د ژنیوا کنوانسیون پر بنسټ د حقیقت موندلو ماموریت غوښتنې ته دوام ورکړی.

د سپتمبر په 5، نړیوالو ډونرانو په کابل کې د افغان دولت چارواکو سره د مشر چارواکو دوهمې ناستې (SOM) لپاره وکتل ترڅو په توکیو کې په کال 2012 کې د ډونرانو غونډې په ترڅ کې موافقت شوې دوه اړخیز حساب ورکولو اقدامات له سره تازه کړي. له 41 هیوادونو څخه استازي او 11 نړیوالې اداري سره د افغان دولت وزیرانو او مشر چارواکو، د افغان مدني ټولنې استازو او خصوصي سیکتور په SOM کې ګډون وکړ. د SOM د پایلې په توګه، د توکیو دوه اړخیز حساب ورکولو کاري چوکاټ (TMAF) اوس د دوه اړخیز حساب ورکولو کاري چوکاټ له لارې په ځان بسیا (SMAF) ته اوښتی دی. اوسمهال به SMAF لږترلږه د اوسني دولت تر دورې پورې د افغان دولت او نړیوالې ټولنې فعالیتونه لارښود کړي.

په تیره ربع کې له هیلو ډکو ګامونو سربیره، د سولې او پخلاینې هڅې هغه مهال په ټپه ودریدې چې تایید شول د طالبانو مشر ملا محمد عمر په کال 2013 کې مړ شوی، په تعقیب یې د طالبانو په مینځ کې



د سپټمبر په 7 **ډیری وزیرانو او د دولت مهمو چارواکو** په کابل کې یو مطبوعاتي کنفرانس په لاره واچوو چې موخه یې خلکو ته د SOM د پایلو وړاندې کول و. په نوموړي کنفرانس کې له 60 څخه ډیر دولتونه، نړیوالې ادارې او نور د افغانستان چارواکي سره راټول شوي ول ترڅو د ځان – بسیا په لور د دې هیواد پرمختګ وارزوي. (د یوناما عکس)

د واک پر سر داخلي شخړې رامینځته شوې او طالبانو په کابل، کندز او نورو ځاینو بریدونه پیل کړل. د سولې خبرې لانورې د افغانستان او پاکستان ترمینځ دوه اړخیزو اړیکو د خرابوالي له امله پیچلې شوې، سربیره پردې چې د جولای په 7 نیټه د خبرو پرمهال پاکستان د کوربه په توګه قوي رول درلود. لکه څنګه چې جنرال کمپبیل په ګوته کړي، "د [افغانستان – پاکستان] اړیکو کې د مخ په لور هرو دوه ګامونو په لړ کې، بل ګام یې ظاهراً په شا ځي."

د افغانستان اقتصاد لکه څنګه چې نړیوال بانک وړاندوینه کړې وه په 2015 کې ندی ښه شوی. نړیوال بانک اوس واقعیی خالص داخلي تولیداتو (GDP) وده 1.9% وړاندوینه کوي او ترمینځنی کچې به وده یې ځنډنې وي. افغانستان د رکود سره مخ دی، چې ممکن د نړیوالو سرتیرو کم شوي شتون او د بهرنی مرستې د کچو راټیټیدلو له امله د غوښتنې یا تقاضا د کمیدو یوه پایله وي.

که څه هم د مالي کال 1394 (FY) لومړیو اته میاشتو کې داخلي عواید د مالي کال 1393 ورته دورې څخه شاوخوا 13% ډیرشوي، او بشپړ مخارج پرځای پاتې دي، د عوایدو او مخارجو ترمینځ د پام وړ تشې ډکولو کې یوڅه پرمختګ شوی دی. تر دې دمه عوایدو د ټولټال مصرفي بودجې له نیمایی (39%) څخه لږ تادیه کړي دي، چې پاتې برخه یې د ډونرانو د مرستې لخوا پوښل شوې ده. د افغانستان د مالیه وزارت (MOF) د نیم کال بودجې بیاکتنې په ګوته کړي دي چې د پراختیا بودجه کې چې لوی پروژې تر پوښښ لاندې راولي، د ډونر د بلاعوضه مرستو وروسته، شاوخوا 165 میلیون ډالر تشه شتون لري. د بدلونونو له مخې دغه مالي تشه ډیریدی شي او یا هم کمیدی شي، مګر افغانستان لاهم د وړاندوینې وړ راتلونکي لپاره د ډونر اساسي مرستې ته اړتیا لري.

ولسمشر اشرف غني په اکتوبر کې د افغانستان د ترياکو سره مبارزې نوې پالیسي، د نشه يیز توکو د عمل ملي پلان (NDAP) د راتلونکي پنځه کلونو لپاره لاسليک کړ. د امریکا متحده ایالاتو د افغانستان د ترياکو سره مبارزې هڅو لپاره د 350 ميليون ډالرو ژمنه کړې، پشمول د پلان د پلي کولو او ملاتړ.
په هرصورت، په افغانستان کې د ترياکو سره مبارزې کوم ریکارډ چې د متحده ایالاتو لخوا تعقيبيږي هڅونکی ندی. له 2002 کال راهیسې د ترياکو سره مبارزې په برخه کې د متحده ایالاتو مصرفونه دمخه له 8 ميلیارده ډالرو څخه ډير شوي، پداسې حال کې چې افغانستان لاهم د نړۍ د اپيوم ترټولو لوی توليد کونکی دی.
پدې ربع کې د ملګرو ملتونو د نشه يیز توکو او جرمونو سره د مبارزې (UNODC) دفتر راپور ورکړ چې پدې کال کې د تیر کال په پرتله د اپيومو توليد 48% کم شوی دی. دا کمیدل د پام وړ دي، مګر UNODC خبرداری ورکوي چې د راپور ورکولو ميتودولوژي يې د 2014 او 2015 ترمينځ توپير درلود، چې ممکن "د بدلون پراخولی يې واقعي شميرو څخه لوړ ښکاري."
د 2015 سپتمبر تر 30 پورې، له کال 2002 راهیسې د افغانستان بیارغونې او هوساینې لپاره شاوخوا 109.6 ميليارد ډالر مختص شوي دي. لدغه ټولټال څخه نږدې 92.3 ميليارده ډالر د بیارغونې اوه لوی وجهي صندوقونو ته مختص شوي او شاوخوا 8.9 ميليارده ډالر د احتمالي مصرف لپاره په ليکه کې پاتې دي.

# د مالي وجوهو وضعیت محتویات


د افغانستان د بیارغونې لپاره د متحده ایالاتو مرستې 70

د افغانستان د بیارغونې د تمویل لیکه 72

د افغانستان د امنیتی ځواکونو مالی صندوق 74

د قوماندان د چټک غبرګون پروګرام 76

د افغانستان د زېربنا صندوق 77

په افغانستان کې د سوداګرۍ او ثبات د عملیاتولپاره کاري ځواک 78

د امریکا دفاع وزارت د مخدره توکو له مینځه وړلو او د مخدره توکو سره د مبارزې فعالیتونه 79

د اقتصادي ملاتړ صندوق 80

د نشه ییزو توکو د کنټرول او د قانون د تنفیذ نړیواله اداره 81

د افغانستان لپاره د بیارغونې نړیوال تمویل 82

# د مالي وجوهو وضعيت

د سیګار قانوني حکم پوره کولو لپاره دا برخه په افغانستان کې د بیارغونې فعالیتونو لپاره د متحده ایالاتو مختص شوي، مکلف شوي او مصرف شوي مرستو وضعیت تشریح کوي. له 2002 مالي کال راهیسې د 2015 د سپتامبر تر 30 پورې متحده ایالاتو د افغانستان د هوساینې او بیارغونې لپاره شاوخوا 109.66 ملیارده ډالر مختص کړي. دا ټولټال په لاندې توګه تخصیص شوی:

- 65.04 میلیارده ډالر د امنیت لپاره (4.43 میلیارده ډالر د ترياکو سره مبارزې نوښتونو لپاره)
- 31.79 میلیارده ډالر د حکومتولۍ او پرمختیا لپاره (3.96 میلیارده ډالر د ترياکو سره مبارزې نوښتونو لپاره)
- 2.92 میلیارده ډالر د بشردوستانه مرستو لپاره
- 9.87 میلیارده ډالر د ملکي عملیاتو لپاره

شکل 3.1 د متحده ایالاتو لوی مالي وجوه ښیي چې دغه څو کې برخه اخیستې ده.

شکل 3.1

**د افغانستان بیارغونې څو لپاره د متحده ایالاتو ملاتړ کونکي مرستې** (میلیاردونه ډالر)




**ASFF**: د افغانستان د امنیتي ځواکونو مالی صندوق
**CERP**: د قوماندان د چټک غبرګون پروګرام
**AIF**: د افغانستان د زیربنا صندوق
**TFBSO**: په افغانستان کې د سوداګرۍ او ثبات د عملیاتو له پاره وظیفوي ځواک
**DOD CN**: د امریکا دفاع وزارت د مخدره توکو له مینځه وړلو او د مخدره توکو سره د مبارزې فعالیتونه
**ESF**: د اقتصادي ملاتړ صندوق
**INCLE**: د نشه یيزو توکو د کنټرول او د قانون د تنفیذ نړیواله اداره
**نورې**: نورې بودیجې

یادونه: شمیرې غیر اعشاري شوي دي.

[a] په نورې ادارو کې DOJ، د بهرنیو چارو وزارت، DOD، USAID، د مالیې وزارت، USDA، DEA، BBG او سیګار شامل دي.

سرچینه: DOD، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځوابونه، 10/20/2015، 10/16/2015، 10/15/2015، 10/8/2015، 10/22/2009، 10/14/2009او 10/1/2009؛ د بهرنیو چارو وزارت، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځوابونه، 10/20/2015، 10/13/2015، 4/15/2015، 4/15/2014، 6/27/2013، 10/5/2012، او 6/27/2012؛ د مالیې وزارت، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 7/9/2015؛ OMB، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځوابونه، 4/16/2015، 7/14/2014، 7/19/2013 او 1/4/2013؛ USAID، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځوابونه، 10/13/2015، 10/15/2010، 1/15/2010، او 10/9/2009؛ DOJ، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځوابونه، 7/14/2015 او 7/7/2009؛ USDA، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 4/2009؛ DFAS، "د مالي کال برنامې او فرعي حسابونو جون 2015 له مخې د 1002 AR(M) تخصیص وضعیت،" 10/19/2015؛ Pub. L. Nos. 113-235, 113-76, 113-6, 112-74, 112-10, 111-212, 111-118.




**د متحده ایالاتو اوه لوی صندوقونو ته چمتو شوی مقدار له مالي کال 2002 راهیسې په افغانستان کې د بیارغوني ټولټال مرستي له %84.2 ډیر (نږدې 92.31 میلیارده ډالر) استازیتوب کوي. لدغه مقدار څخه نږدې %92.1 (نږدې 85.01 میلیارده ډالر) مکلف شوي دي، او نږدې %85.7 (نږدې 79.10 میلیارده ډالر) مصرف شوي دي. د مختص شوي مقدار د اټکل له مخي شاوخوا 4.28 میلیارده ډالر لدغو صندوقونو نیټه پای ته رسیدلې.**

## د افغانستان د بیارغوني لپاره د متحده ایالاتو مرستي

د 2015 سپتمبر تر 30 پورې، په افغانستان کې د هوساینې او بیارغوني لپاره مجموعي تخصیصات شاوخوا 109.62 میلیارده ډالر کیږي، لکه څنګه چې شکل 3.2 کې ښودل شوي دي. دا ټولټال د بیارغوني تمویل څلور لوی کټګوریو باندې تقسیم شوي دي: امنیت، حکومتولي او پرمختیا، بشردوستانه، او څارنه او عملیات. لدغه فنډونو څخه شاوخوا 8.40 میلیارده ډالر د ترياکو سره مبارزې نوښتونو ملاتړ لپاره و چې دواړه (4.43 میلیارده ډالر) او حکومتولي او پرمختیا (3.96 میلیارده ډالر) کټګوریو کې شامل دي. د متحده ایالاتو تخصیصاتو په اړه ښپړ معلوماتو لپاره ضمیمه B وګورئ.

لکه څنګه چې په شکل 3.3 کې ښودل شوي د مدغم شوي او نور دوام لرونکي تخصیصاتو قانون 2015، د 2015 مالي کال لپاره اضافي 6.35 میلیارد ډالر چمتو کړي. امنیت د ترټولو لوی تخصیص کټګوري په حیث پاتی دی. د افغان ملي دفاع او امنیت ځواکونو (ANDSF) د روزنې، تجهیز او ملاتړ تخصیصات په ګډه د نورو ټولو بیارغوني مرستو کټګوریو څخه ډیره برخه جوړوي – د 2015 مالي کال تمویل له %64.7 ډیر.

شکل 3.2

**د 2015 کال د سپتمبر تر 30 پورې د تمویل کټګورۍ له مخې مجموعي تخصیصات** (میلیاردونه ډالر)




یادونه: شمیرې ګردي (صحیح عدد) شوي. DOD د FY 2011 ASFF څخه 1 میلیارد ډالر بیا پروګرام کړي. DOD د FY 2012 ASFF څخه 1 میلیارد ډالر بیا پروګرام کړي. Pub. L. No. 113-6 د FY 2012 ASFF څخه 1 میلیارد ډالر فسخ کړي. DOD د FY 2013 ASFF څخه 178 میلیون ډالر بیا پروګرام کړي. Pub. L. No. 113-235 د FY 2014 ASFF څخه 764.38 میلیون ډالر فسخ کړي. DOD د FY 2011 AIF څخه 101 میلیون ډالر او د FY 2013 AIF څخه 179.5 میلیون ډالر او د FY 2014 AIF څخه 55 میلیون ډالر ESF ته د USAID لخوا پلي شوي زیربنایی پروژو تمویل لپاره انتقال کړل.

سرچینه: DOD، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځوابونه، 10/20/2015، 10/16/2015، 10/15/2015، 10/8/2012، 10/8/2009، 10/14/2009، 10/22/2012، او 10/1/2009؛ د بهرنیو چارو وزارت، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځوابونه، 10/20/2015، 10/13/2015، 4/15/2015، 4/15/2014، 6/27/2013، 10/5/2012، او 6/27/2012؛ د مالیې وزارت، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 7/9/2015؛ OMB، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځوابونه، 4/16/2015، 7/14/2014، 7/19/2013 او 1/4/2013؛ USAID، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځوابونه، 10/13/2015، 10/15/2010، 1/15/2010، او 10/9/2009؛ DOJ، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځوابونه، 9/24/2015 او 7/7/2009؛ USDA، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 4/2009؛ DFAS، "د مالي کال برنامي او فرعي حسابونو سپتمبر 2015 له مخې د AR(M) 1002 تخصیص وضعیت،" 10/19/2015؛ Pub. 12 L. Nos. 113-235, 113-76, 113-6, 112-74, 112-10, 111-212, 111-118.

متحده ایالات غواړي خپلې د پراختیا مرستې لږترلږه 50% د افغانستان دولت مستقیم بودجې ته ورکړي.[1] دا مرسته یا خو مستقیم د افغان دولت نهادونو ته ورکول کیږي یا د څو اړخیزو وجهي صندوقونو له لارې چې دا هم د افغان دولت بودجه ملاتړ کوي.[2] له 2002 راهیسې متحده ایالاتو د مستقیم بودجې مرسته کې نږدې 9.59 میلیارده ډالر چمتو کړي دي. پدې کې د افغان دولت وزارتونو او نهادونو ته شاوخوا 5.52 میلیارده ډالر او نږدې 4.07 میلیارده ډالر درې څو ملیتي وجهي صندوقونو ته شامل دي ـ د نړیوال بانک د افغانستان بیارغوني وجهي صندوق (ARTF)، د ملګرو ملتونو د پراختیا برنامې د قانون او عامه نظم وجهي صندوق (LOTFA) او د آسیا پراختیایی بانک د افغانستان د زیربنا وجهي صندوق (AITF). جدول 3.1 افغان دولت او څو اړخیز وجهي صندوقونو ته د متحده ایالاتو د مستقیم بودجې مصرف شوې مرستې ښیي.

جدول 3.1

**له 2002 راهیسې افغانستان سره د متحده ایالاتو د مستقیم بودجې مرسته،** (میلیونونه ډالر)

| | |
|---|---|
| **له دولت څخه دولت ته** | |
| د امریکا دفاع وزارت | $4,946 |
| د بهرنیو چارو وزارت | 92 |
| USAID | 485 |
| **څو اړخیزو وجهي صندوقونو ته** | |
| LOTFA | $1,527 |
| ARTF | 2.433 |
| AITF | 105 |

یادونه: شمیرې غیر اعشاري شوي دي. ارقام هغه مقدارونه په ګوته کوي چې متحده ایالاتو د افغان دولت نهادونو او څو اړخیز وجهي صندوقونو ته د مستقیم بودجې مرسته کې مصرف کړي دي. د 2015 د سپتمبر تر 30 پورې USAID د دولت څخه دولت ته مرستې لپاره شاوخوا 1.3 میلیارده ډالر مکلف کړي دي.

سرچینه: DOD، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 6/25/2015؛ USAID، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 10/13/2015؛ نړیوال بانک، *ARTF، د 2015 اګست تر 22 پورې د مالي وضعیت په اړه د اداره کونکي راپور (د مالي کال 1394 د 8 مې میاشتې پای)*، مخ 5؛ UNDP، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 10/19/2015.

شکل 3.3

**د مالي کال، مقدار او کټګورۍ له مخې تخصیصات** (میلیاردونه ډالر)




یادونه: شمیرې غیر اعشاري شوي دي. DOD د FY 2011 ASFF څخه 1 میلیارد ډالر بیا پروګرام کړي. DOD د FY 2012 ASFF څخه 1 میلیارد ډالر بیا پروګرام کړي. Pub. L. No. 113-6 د FY 2012 ASFF څخه 1 میلیارد ډالر فسخ کړي. DOD د FY 2013 ASFF څخه 178 میلیون ډالر بیا پروګرام کړي. Pub. L. No. 113-235 د FY 2014 ASFF څخه 764.38 میلیون ډالر فسخ کړي. DOD د FY 2011 AIF څخه 101 میلیون ډالر او د FY 2013 AIF څخه 179.5 میلیون ډالر او د FY 2014 AIF څخه 55 میلیون ډالر ESF ته د USAID لخوا پلي شوي زیربنایي پروژو تمویل لپاره انتقال کړل.

سرچینه: DOD، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځوابونه، 10/20/2015، 10/16/2015، 10/15/2015، 10/8/2015، 10/22/2012، 10/14/2009، او 10/1/2009؛ د بهرنیو چارو وزارت، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځوابونه، 10/20/2015، 10/13/2015، 4/15/2015، 4/15/2014، 6/27/2013، 10/5/2012، او 6/27/2012؛ د مالیې وزارت، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 7/9/2015؛ OMB، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځوابونه، 4/16/2015، 7/14/2014، 7/19/2013 او 1/4/2013؛ USAID، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځوابونه، 10/13/2015، 10/15/2010، 1/15/2010، او 10/9/2009؛ DOJ، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځوابونه، 9/24/2015 او 7/7/2009؛ USDA، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 4/2009؛ DFAS، "د مالي کال برنامې او فرعي حسابونو سپتمبر 2015 له مخې د AR(M) 1002 تخصیص وضعیت،" 10/19/2015؛ Pub. L. Nos. 113-235, 113-76, 113-6, 112-74, 112-10, 111-212, 111-118.

## د افغانستان د بیارغونې د تمویل لیکه

له 2002 راهیسې کانګرس د افغانستان هوسایني او بیارغونې لپاره نږدې 109.62 میلیارد ډالر مختص کړي دي. لدغه مقدار څخه 92.31 میلیارد ډالر (84.2%) د بیارغونې اوه لوی فنډونو ته مختص شوي و، لکه څنګه چې جدول 3.3 کې ښودل شوي.

جدول 3.3

**مختص شوي، مکلف شوي او مصرف شوي مجموعي مقدارونه مالي کلونه 2002–2015** (میلیاردونه ډالر)

| | مختص شوي | مکلف شوي | مصرف شوي | پاتې |
|---|---|---|---|---|
| د افغانستان د امنیتي ځواکونو مالي صندوق (FFSA) | $60.67 | $56.92 | $55.79 | $3.07 |
| د قوماندان د چټک غبرګون پروګرام (PREC) | 3,68 | 2,28 | 2,27 | 0,02 |
| د افغانستان د زېربنا صندوق (AIF) | 0,99 | 0,79 | 0,48 | 0,32 |
| په افغانستان کې د سوداګرۍ او ثبات د عملیاتو لپاره کاري ځواک (TFBSO) | 0,82 | 0,76 | 0,64 | 0,12 |
| د امریکا د دفاع وزارت د نشه ای توکو د ممانعت او د نشه ای توکو پر ضد د فعالیتونو صندوق (DOD CN) | 2,86 | 2,86 | 2,86 | 0,00 |
| د اقتصادي ملاتړ صندوق(ESF) | 18,60 | 17,06 | 13,54 | 4,36 |
| د نړیوال نشه ای توکو کنټرول او د قانون حاکمیت (INCLE) | 4,69 | 4,33 | 3,54 | 1,05 |
| **تولټال 7 لوی فنډونه** | **$92.31** | **$85.01** | **$79.10** | **$8.93** |
| د بیارغونې نور فنډونه | 7,44 | | | |
| ملکي عملیات | 9,87 | | | |
| **تولټال** | **$109.62** | | | |

یادونه: شمیرې غیر اعشاري شوي دي. پاتې مقدار د شاوخوا 4.3 میلیارده ډالرو کمولو وروسته چې د مکلف کیدو دمخه يې نیټه پای ته رسیدلې، د بیارغونې اوه لوی صندوقونو تولټال مصرف پوټانشیل ښیې. د DOD CN مکلف شوي او مصرف شوي فنډونه د افغانستان لپاره مصرف کولو په موخه د اردو خدماتو او دفاع ادارو ته لیږدول شوي مقدارونه منعکس کوي. ارقام تر دې نیټې پورې د لیږدونو، فسخ او بیا پروګرام کولو فعالیت منعکس کوي.

سرچینه: سیګار، د امریکا دفاع وزارت، د بهرنیو چارو وزارت او USAID لخوا چمتو شوي د اړوند قانون جوړونې او درې میاشتنې مکلفیت او مصرف معلوماتو تحلیل، 10/20/2015.

شکل 3.4

**د مصرف کیدو لپاره پاتې مجموعي مقدار** (میلیاردونه ډالر)




د 2015 سپتمبر تر 30 پورې د بیارغونې اوه لوی فنډونو ته مختص شوي مقدار شاوخوا 8.93 میلیارده ډالر د ممکنه مصرف کیدو لپاره پاتې دي، لکه څنګه چې په شکل 3.4 کې ښودل شوي دي. دا فنډونه به د ANDSF روزلو، تجهیز، او پیاوړي کولو؛ د زېربنا لوی مقیاس روانو پروژو لکه کومې چې د AIF او ESF لخوا تمویل شوي، بشپړول؛ د ترياکو تولید او قاچاق سره مبارزې؛ او د قانون حاکمیت لوړولو، عدلي سیکټور قوي کولو او بشري حقونو هڅولو لپاره کارول کیږي.

د 2014 د دسمبر په 16 ولسمشر اوباما د مدغم او لانور دوام لرونکي تخصیصاتو قانون 2015 لاسلیک کړ، چې د پاتې مالي کال لپاره د متحده ایالاتو دولت تمویل کوي او اضافي 5.20 میلیارده ډالر د اوه لوی فنډونو څخه ځلورو لپاره چمتو کوي، لکه څنګه چې د حاشیه په 3.2 جدول کې ښودل شوي دي. د نوي پروژو لپاره AIF او TFBSO هیڅ اضافي تمویل ندی ترلاسه کړی. د 2015 د سپتمبر تر 30 پورې د مالي کال 2015 تمویل له 2.17 میلیارده ډالرو څخه ډیر مکلف شوي او لدغه مقدار څخه د 1.93 میلیارده ډالرو څخه ډیر مصرف شوي دي. د دغه فعالیت نږدې ټوله برخه د ASFF څخه وه.

جدول 3.2

**د مالي کال 2015 مختص شوي مقدارونه** (میلیونونه ډالر)

| | مختص شوي |
|---|---|
| د افغانستان د امنیتي ځواکونو مالي صندوق | $4,109.33 |
| د قوماندان د چټک غبرګون پروګرام | 10,00 |
| د اقتصادي ملاتړ صندوق | 831,90 |
| د نشه يیزو توکو د کنټرول او د قانون د تنفیذ نړیواله اداره | 250,00 |
| **تولټال لوی فنډونه** | **$5,201.23** |

یادونه: شمیرې غیر اعشاري شوي دي. ESF د 653(a) کانګرس مشورتي پروسې په جریان کې له وړاندوینې شوې 900 میلیون ډالرو څخه 831.9 میلیون ډالرو ته راکم کړی شو.

سرچینه: DOD، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 7/13/2015؛ د بهرنیو چارو وزارت، د سیګار د معلوماتو غوښتنو ته ځواب، 4/15/2015 او 10/20/2015؛ Pub. L. No. 113-235.

کانګرس د مالي کال 2013 لپاره د بیارغونې اوه لوی وجهي صندقونو ته له 8.08 میلیارده ډالرو څخه ډیر مختص شوي دي د 2015 د سپتمبر تر 30 پورې لدغه مقدار څخه نږدې 1.88 میلیارده ډالر د ممکنه مصرف کولو لپاره پاتي دي، لکه څنګه چې په جدول 3.4 او شکل 3.5 کې ښودل شوي دي.

جدول 3.4

**د مالي کال 2013 مختص شوي، مکلف شوي او مصرف شوي مقدارونه**
(میلیونونه ډالر)

| | مختص شوي | مکلف شوي | مصرف شوي | پاتي |
|---|---|---|---|---|
| د افغانستان د امنیتي ځواکونو مالي صندوق | $4,946.20 | $4,802.34 | $4,650.60 | $151.74 |
| د قوماندان د چټک غبرګون پروګرام | 200,00 | 42,07 | 37,24 | 4,84 |
| د افغانستان د زېربنا صندوق | 145,50 | 124,31 | 75,51 | 48,80 |
| په افغانستان کې د سوداګرۍ او ثبات د عملیاتو له پاره وظیفوي ځواک | 138,20 | 130,57 | 101,98 | 28,59 |
| د امریکا دفاع وزارت د مخدره توکو له مینځه وړلو او د مخدره توکو سره د مبارزې فعالیتونه | 255,81 | 255,81 | 255,81 | 0,00 |
| د اقتصادي ملاتړ صندوق | 1.802,65 | 1.737,64 | 435,09 | 1.302,54 |
| د نشه ییزو توکو د کنټرول او د قانون د تنفیذ نړیواله اداره | 593,81 | 579,87 | 239,02 | 340,85 |
| **ټولټال 7 لوی فنډونه** | **$8,082.17** | **$7,672.60** | **$5,795.25** | **$1,877.36** |

یادونه: شمیرې غیر اعشاري شوي دي. پاتې مقدار د شاوخوا 410 میلیارده ډالرو کمولو وروسته چې د مکلف کیدو دمخه یې نیټه پای ته رسیدلې، د بیارغونې اوه لوی صندوقونو ټولټال مصرف پوتانشیل ښیي. د DOD CN مکلف شوي او مصرف شوي فنډونه د افغانستان لپاره مصرف کولو په موخه د اردو خدماتو او دفاع ادارو ته لیږدول شوي مقدارونه منعکس کوي. ارقام تر دې نیټې پورې د لیږدونو، فسخ او بیا پروګرام کولو فعالیت منعکس کوي.

سرچینه: سیګار، د امریکا دفاع وزارت، د بهرنیو چارو وزارت او USAID لخوا چمتو شوي د اړوند قانون جوړونې او درې میاشتني مکلفیت او مصرف معلوماتو تحلیل، 10/20/2015.

شکل 3.5

**د 2013 مالي د مصرف کیدو لپاره پاتي مقدار** (میلیاردونه ډالر)




کانګرس د مالي کال 2014 لپاره د بیارغونې اوه لوی صندوقونو ته نږدې 5.63 میلیارده ډالر مختص کړي دي. د 2015 د سپتمبر تر 30 پورې لدغه مقدار څخه نږدې 1.49 میلیارده ډالر د ممکنه مصرف کولو لپاره پاتي دي، لکه څنګه چې په جدول 3.5 او شکل 3.6 کې ښودل شوي دي.

جدول 3.5

**د مالي کال 2014 مختص شوي، مکلف شوي او مصرف شوي مقدارونه**
(میلیونونه ډالر)

| | مختص شوي | مکلف شوي | مصرف شوي | پاتي |
|---|---|---|---|---|
| د افغانستان د امنیتي ځواکونو مالي صندوق | $3,962.34 | $3,962.34 | $3,666.04 | $296.31 |
| د قوماندان د چټک غبرګون پروګرام | 30,00 | 6,62 | 6,44 | 0,19 |
| د افغانستان د زېربنا صندوق | 144,00 | 132,91 | 3,87 | 129,04 |
| په افغانستان کې د سوداګرۍ او ثبات د عملیاتو له پاره وظیفوي ځواک | 122,24 | 106,82 | 84,92 | 21,90 |
| د امریکا دفاع وزارت د مخدره توکو له مینځه وړلو او د مخدره توکو سره د مبارزې فعالیتونه | 238,96 | 238,96 | 238,96 | 0,00 |
| د اقتصادي ملاتړ صندوق | 907,00 | 836,13 | 1,16 | 834,96 |
| د نشه ییزو توکو د کنټرول او د قانون د تنفیذ نړیواله اداره | 225,00 | 224,75 | 19,79 | 204,96 |
| **ټولټال 7 لوی فنډونه** | **$5,629.54** | **$5,508.53** | **$4,021.17** | **$1,487.36** |

یادونه: شمیرې غیر اعشاري شوي دي. پاتې مقدار د شاوخوا 121 میلیارده ډالرو کمولو وروسته چې د مکلف کیدو دمخه یې نیټه پای ته رسیدلې، د بیارغونې اوه لوی صندوقونو ټولټال مصرف پوتانشیل ښیي. د DOD CN مکلف شوي او مصرف شوي فنډونه د افغانستان لپاره مصرف کولو په موخه د اردو خدماتو او دفاع ادارو ته لیږدول شوي مقدارونه منعکس کوي. ارقام تر دې نیټې پورې د لیږدونو، فسخ او بیا پروګرام کولو فعالیت منعکس کوي.

سرچینه: سیګار، د امریکا دفاع وزارت، د بهرنیو چارو وزارت او USAID لخوا چمتو شوي د اړوند قانون جوړونې او درې میاشتني مکلفیت او مصرف معلوماتو تحلیل، 10/20/2015.

شکل 3.6

**د 2014 مالي د مصرف کیدو لپاره پاتي مقدار** (میلیاردونه ډالر)



## د افغانستان د امنیتي ځواکونو مالی صندوق

کانګرس د افغانستان امنیتي ځواکونو فنډ (ASFF) رامینځته کړ ترڅو د ANDSF تجهیزات، تحویلی، خدمات، روزنه، او تمویل برابر کړي، په بیله بیا تسهیلات او د زیربنا ترمیم، بیا نوي کول، او ساختماني چارې.[3] د ANDSF جوړولو لپاره لومړنی مسؤل نهاد د امنیتي لیږد ګډه قومانده – افغانستان دی.[4] مخکې لدې چې د ASFF فنډونه مکلف شي د افغانستان د سرچینو د څار شورا (AROC) لخوا باید یو مالي او د فعالیت پلان تصویب شي.[5]

د مدغم شوي او نور دوام لرونکي تخصیصاتو قانون 2015 د 2015 کال لپاره ASFF ته نږدې 4.11 میلیارد ډالر مختص کړي چې د ټولټال مجموعي تمویل مقدار له 60.67 میلیارد ډالرو څخه ډیروي.[6] د 2015 جون تر 30 پورې، د ASFF ټولټال تمویل له 55.15 میلیارد ډالرو څخه ډیر مکلف شوي، چې له دغه څخه له 53.48 میلیارد ډالرو څخه ډیر مصرف شوي دي.[7] شکل 3.7 د مالي کال له مخې ASFF لپاره چمتو شوي مقدارونه په ګوته کوي.

د امریکا دفاع وزارت راپور ورکړی چې د ربع په اوږدو کې مجموعي مکلفیتونه تر له 1.77 میلیارد ډالرو څخه ډیر شوي، او مجموعي مصرفونه نږدې 2.31 میلیارد ډالر ډیر شوي.[8] شکل 3.8 د ASFF لپاره چمتو شوي، مکلف شوي او مصرف شوي مقدارونو مجموعي پرتله وړاندې کوي.




**د ASFF فنډونو ترمینالوژي**

د امریکا دفاع وزارت لخوا د ASFF مختص شوي، مکلف شوي یا مصرف شوي فنډونه

**تخصیصات:** د ژمنو لپاره ټولټال شته پیسې

**مکلفیتونه:** د پیسو د تادیه کولو لپاره ژمنې

**مصرفونه:** هغه پیسې چې مصرف شوي

سرچینه: DOD، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 4/13/2010.

شکل 3.7

**د مالي کال له مخې د ASFF مختص شوي فنډونه**

(میلیاردونه ډالر)




یادونه: شمیرې غیر اعشاري شوي دي.

a د امریکا دفاع وزارت د ASFF FY 2011 1 میلیارد ډالر بیاپروګرام کړي دي.

b د امریکا دفاع وزارت د ASFF FY 2012 1 میلیارد ډالر بیا پروګرام کړي دي؛ نور 1 میلیارد ډالر په Pub. L. No. 113-6.

c د امریکا دفاع وزارت د ASFF FY 2013 178 میلیون ډالر بیاپروګرام کړي دي.

d د ASFF FY 2014 764.38 میلیون ډالر په Pub. L. No. 113-235.

سرچینه: DFAS، "د مالي کال برنامې او فرعي حسابونو سپتمبر 2015 له مخې د AR(M) 1002 تخصیص وضعیت،" 10/19/2015؛ DFAS، "د مالي کال برنامې او فرعي حسابونو مارچ 2015 له مخې د AR(M) 1002 تخصیص وضعیت،" 7/17/2015؛ Pub. L. Nos. 113-235, 113-76, 113-6.

شکل 3.8

**د ASFF فنډونه، مجموعي پرتله**

(میلیاردونه ډالر)



## د افغانستان د امنيتي ځواکونو بوديجوي فعاليتونه

د امريکا دفاع وزارت په ASFF کې د بودجې فعاليت درې ګروپونو ته فنډ مختص کوي:

- دفاعي ځواکونه (افغان ملي اردو، ANA)
- کورني ځواکونه (افغان ملي پوليس، ANP)
- اړوند فعاليتونه (د توقيف لومړني عمليات)

د هر بودجې فعاليت ته فنډونه بيا د فعاليت څلور فرعي ګروپونو ته مختص کيږي: زيربنا، تجهيزات او ټرانسپورټيشن، روزنه او عمليات، او پياوړتيا.[9] د AROC اداره بايد د هر خدمت اړتياو لپاره د اړتيا او اکتساب پلان تصويب کړي چې په کال کې له 50 ميليون ډالرو ډير وي او د غيرمعياري تجهيزاتو اړتيا چې له 100 ميليون ډالرو ډير وي.[10]

د 2015 د سپتمبر تر 30 پورې د امريکا دفاع وزارت د ANDSF نوښتونو لپاره نږدې 55.79 ميلیارده ډالر مصرف کړي دي. لدغه مقدار څخه نږدې 37.34 ميليارده ډالر د ANA لپاره، او نږدې 18.06 ميليارده ډالر د ANP لپاره مصرف شوي دي؛ پاتې 392.25 ميليون ډالر اړوند فعاليتونو ته ليږدول شوي دي.[11]

لکه څنګه چې شکل 3.9 کې ښودل شوي دي، د وجوهو ترټولو لويه برخه د ANA لپاره مصرف شوي دی — نږدې 15.36 ميليارده ډالر – د ANA ځواکونو پياوړتيا ملاتړ کړی دی. د ANP لپاره مصرف شوي فنډونو څخه ترټولو ډيره برخه – له 7.37 ميليارده ډالرو څخه ډير – هم د ANP ځواکونو پياوړتيا ملاتړ کړی دی، لکه څنګه چې په شکل 3.10 کې ښودل شوي دي.[12]

شکل 3.9

**د فرعي فعاليت ګروپ له مخې د ANP لپاره د ASFF مصرفونه، مالي کال 2005 - د سپتمبر 30، 2015**
(ميليارډونه ډالر)




شکل 3.10

**د فرعي فعاليت ګروپ له مخې د ANP لپاره د ASFF مصرفونه، مالي کال 2005 - د سپتمبر 30، 2015**
(ميليارډونه ډالر)




يادونه: شميرې غير اعشاري شوي دي.

سرچينه: DFAS، "د مالي کال برنامې او فرعي حسابونو سپتمبر 2015 له مخې د AR(M) 1002 تخصيص وضعيت،" 7/17/2015؛

**د بودجې فعاليت ډلې:** د هر اختصاص يا فنډ حساب اړوند کټګورۍ چې د اختصاص يا فنډ په واسطه تمويل شوي موخې، پروژې يا د فعاليتونو ډولونه په ګوته کوي

**د فرعي فعاليت ډلې:** محاسباتي ډلې چې امري مصرفونه د فعاليت برخو ته تقسيموي

سرچينه: DOD، منول *7110.1-M د امريکا د دفاع وزارت د بودجې لارښود منول،* په 9/28/2009 تکثير شوی؛ د نوي ځانګه، د *روغتيا تسهيلاتو آمر لاسي جزوه،* مخ 5، په 10/2/2009 تکثير شوی.

## د قوماندان د چټک غبرګون پروګرام

د قوماندان د بیړني غبرګون برنامه (CERP) په افغانستان کې د متحده ایالاتو قوماندانانو ته وړتیا ورکوي د خپل مسؤلیت په ساحو کې د هغه برنامو ملاتړ له لارې عاجل بشردوستانه هوسایني او بیارغوني اړتیاو ته ځواب ووایي چې سمدستي د ځایي خلکو سره مرسته پکې کیږي. د دې برنامې له لارې تمویل د کوچنیو پروژو لپاره دی چې د هرې پروژې لګښت د 500,000 ډالرو څخه لږ اټکل شوی وي.[13] د CERP تمویل شوې هره پروژه ممکن د 2 میلیون ډالرو څخه لوړه نشي.[14]

د مدغم شوي او نور دوام لرونکي تخصیصاتو قانون 2015 د CERP لپاره 10 میلیون ډالر مختص کړي دي، چې ټولټال مجموعي تمویل نږدې 3.68 میلیارد ډالرو ته لوړوي.[15] لدغه مقدار څخه د امریکا دفاع وزارت راپور ورکړی چې له 2.28 میلیارد ډالرو څخه ډیر مکلف شوی دی، چې بیا له دې څخه د 2015 د سپتامبر تر 30 پورې نږدې 2.27 میلیارد ډالر مصرف شوي دي.[16] شکل 3.11 د مالي کال له مخې د CERP تخصیصات ښیي، او شکل 3.12 د CERP پروژو لپاره د مختص شوي، مکلف شوي او مصرف شوي مقدارونو مجموعي پرتله ښیي.




**د CERP د فنډونو ترمینالوژي**

د امریکا دفاع وزارت لخوا د CERP مختص شوي، مکلف شوي یا مصرف شوي فنډونه

**تخصیصات:** د ژمنو لپاره ټولټال شته پیسې

**مکلفیتونه:** د پیسو د تادیه کولو لپاره ژمنې

**مصرفونه:** هغه پیسې چې مصرف شوي

سرچینه: DOD، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 4/14/2010.

شکل 3.11

**د مالي کال له مخې د CERP تخصیصات**

(میلیونونه‌ډالر)




شکل 3.12

**د CERP مرستې، مجموعي پرتله**

(میلیونونه‌ډالر)




یادونه: شمیرې غیر اعشاري شوي دي. په معلوماتو کې ممکن د ادارو ترمینځ انتقالات شامل وي.

سرچینه: د امریکا دفاع وزارت، د سیګار د معلوماتو غوښتنو ته ځوابونه، 10/20/2015 او 7/17/2015؛ OMB، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 1/4/2013؛ Pub. L. Nos. 113-235, 113-76, 113-6, 112-74, 112-10.

## د افغانستان د زېربنا صندوق

د افغانستان د زېربنا صندوق (AIF) په 2011 مالي کال کې رامينځته شوی و ترڅو د زېربنا هغه لوی، د لوړ لومړيتوب پروژو لپاره تاديه وکړي چې د متحده اياالتو ملکي – نظامي هڅې ملاتړ کوي. کانګرس د AIF لخوا تمويل کېدونکي پروژو د دواړه د امريکا دفاع وزارت او د بهرنيو چارو وزارت لخوا په ګډه انتخابول او اداره کول غوښتلي دي. AIF د FY 2011 څخه تر FY 2014 پورې تخصيصات ترلاسه کړي. د امريکا دفاع وزارت د AIF لپاره د FY 2015 مرستو غوښتنه نده کړې.

د AIF تمويل شوي هره پروژه اړ ده چې د پياوړتيا لپاره يې يو پلان شتون ولري او يوه شرح چې نوموړې پروژه څنګه په افغانستان کې د ترهګرۍ سره مبارزې ستراتيژي ملاتړ کوي.[17]

AIF په مجموعي ډول له 1.32 ميليارده ډالرو تخصيصات ترلاسه کړي دي؛ په هرصورت، لدغه فنډونو څخه 335.50 ميليون ډالر د USAID د بريښنا انتقال لينونو پروژو لپاره د اقتصادي ملاتړ صندوق (ESF) ته ليږدول شوي، چې په AIF کې پاتې مجموعي مقدار 988.50 ميليون ډالرو ته رسيږي.[18] شکل 3.13 د مالي کال له مخې د AIF تخصيصات ښيي.

د 2015 سپتمبر تر 30 پورې د AIF ټولټال تمويل نږدې 793.18 ميليون ډالر مکلف شوي دي. که څه هم AIF به اضافي تمويل لاسته نه راوړي، خو د AIF ډېری پروژې لا هم د پرمختګ په حال کې دي – د AIF مکلف شوي فنډونو 40% او تر 99% پورې فنډونه چې ESF ته ليږدول شوي د مصرف کېدو لپاره پاتې دي.[19] د AIF فنډونو يوازې 475.87 ميليون ډالر مصرف شوي دي، لکه څنګه چې شکل 3.14 کې ښودل شوي دي.




**د AIF د فنډونو ترمينالوژي**

د امريکا دفاع وزارت لخوا د AIF مختص شوي، مکلف شوي يا مصرف شوي فنډونه

**تخصيصات:** د ژمنو لپاره ټولټال شته پيسې

**مکلفيتونه:** د پيسو د تاديه کولو لپاره ژمنې

**مصرفونه:** هغه پيسې چې مصرف شوي

سرچينه: DOD، د سيګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 4/13/2012.

شکل 3.13

**د مالي کال له مخې د AIF تخصيصات**

(ميليونونه ډالر)




شکل 3.14

**د AIF مرستې، مجموعي پرتله**

(ميليونونه ډالر)




يادونه: شميرې ګردې شوي دي. له AIF څخه ESF ته د 55 ميليون ډالرو انتقال په تيره ربع کې راپور ورکړل شوي څخه د ټيټ مختص شوي مقدار پايله درلودله. تازه معلومات په تيره ربع کې راپور ورکړل شوي څخه د ټيټ مکلف شوي مقدار پايله درلودله. معلومات د AIF څخه د USAID اقتصادي ملاتړ صندوق ته لاندې انتقالات په ګوته کوي: 101 ميليون ډالر د مالي کال 2011 لپاره، 179.5 ميليون ډالر د مالي کال 2013 لپاره، او 55 ميليون ډالر د مالي کال 2014 لپاره.

سرچينه: DFAS، "د مالي کال برنامې او فرعي حسابونو سپتمبر 2015 له مخې د AR(M) 1002 تخصيص وضعيت،" 10/19/2015؛ DFAS، "د مالي کال برنامې او فرعي حسابونو جون 2015 له مخې د AR(M) 1002 تخصيص وضعيت،" 7/17/2015؛ Pub. L. Nos. 113-76, 113-6, 112-74, 112-10.

## په افغانستان کې د سوداګرۍ او ثبات د عملیاتو لپاره کاري ځواک

په 2010 کې، په افغانستان کې د سوداګرۍ او ثبات د عملیاتو لپاره کاري ځواک (TFBSO) په افغانستان کې خپل کارونه پیل کړل چې هدف یې د هیواد تیکاو او افغانانو لپاره د اقتصادي فرصتونو په رامینځته کولو او بیکاري کمولو سره د اقتصادي تاوتریخوالي سره مبارزه وه. د TFBSO صلاحیتونه د 2014 د دسمبر په 31 پای ته ورسیدل او TFBSO خپل عملیات د 2015 د مارچ په 31 ودرول. د TFBSO پروژو کې د خصوصي پانګوونې اسانولو، صنعتي پراختیا، د بانکي او مالي سیستم پراختیا، کرنیزې تنوع او تجدید، او د انرژۍ پراختیا فعالیتونه شامل و.[20]

که څه هم د امریکا دفاع وزارت په 2015 مالي کال د ملي دفاع واکمنۍ قانون کې 2015 کې د TFBSO پروژو لپاره د اضافي تمویل واک نه درلود، TFBSO د اداري ترلو پورې اړوند لګښتونو لپاره د حفظ او مراقبت، اردو حسابونو څخه د تمویل یوڅه مقدار ترلاسه کولو ته دوام ورکړ.[21] د 2015 د سپتمبر تر 30 اوږدو پورې، له 2009 مالي کال راهیسې د TFBSO لپاره له 822.85 میلیون ډالرو څخه ډیر مختص شوي دي. له دغه مقدار څخه له 758.79 میلیون ډالرو څخه ډیر مکلف شوي دي او له 638.54 میلیون ډالرو څخه ډیر مصرف شوي دي.[22] شکل 3.15 د مالي کال له مخې د TFBSO لپاره مختص شوي مقدارونه ښیي، او شکل 3.16 د TFBSO او د دې پروژو لپاره د مختص شوي، مکلف شوي او مصرف شوي مقدارونو مجموعي پرتله ښیي.




**د TFBSO د فنډونو ترمینالوژي**

د امریکا دفاع وزارت لخوا د TFBSO مختص شوي، مکلف شوي یا مصرف شوي فنډونه

**تخصیصات:** د ژمنو لپاره ټولټال شته پیسې

**مکلفیتونه:** د پیسو د تادیه کولو لپاره ژمنې

**مصرفونه:** هغه پیسې چې مصرف شوي

سرچینه: DOD، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 4/13/2010.

شکل 3.15

**د TFBSO مرستې، مجموعي پرتله**

(میلیونونه‌ډالر)




شکل 3.16

**د مالي کال له مخې د TFBSO تخصیصات**

(میلیونونه‌ډالر)




یادونه: شمیرې غیر اعشاري شوي دي. تازه معلومات په تیر ربع کې د راپور ورکړل شوي مکلفیت رقم څخه د ټیټ پایله درلوده. د TFBSO لپاره مختص شوي 822.85 میلیون ډالرو مقدار څخه 366.05 میلیون ډالر د متحده ایالاتو د پانګو د څارنې، ملکي کارمندانو، سفر، امنیت، او نورو عملیاتي لګښتونو تادیې د حفظ او مراقبت، اردو حساب څخه کیږي؛ د FY 2015 ټول تمویل له دغه حساب څخه وو.

سرچینه: د امریکا دفاع وزارت، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 10/16/2015، 7/8/2015 او 10/4/2011؛ Pub. L. Nos. 113-76, 113-6, 112-74, 112-10.




**د DOD CN د فنډونو ترمينالوژي**
د امريکا دفاع وزارت لخوا د DOD CN مختص شوي، مکلف شوي يا مصرف شوي فنډونه

**تخصيصات:** د ژمنو لپاره ټولټال شته پيسې

**مکلفيتونه:** د پيسو د تاديه کولو لپاره ژمنې

**مصرفونه:** هغه پيسې چې مصرف شوي

سرچينه: DOD، د سيګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 4/13/2010.

## د امريکا دفاع وزارت د مخدره توکو له مينځه وړلو او د مخدره توکو سره د مبارزې فعاليتونه

د امريکا دفاع وزارت د مخدره توکو له مينځه وړلو او د مخدره توکو سره د مبارزې فعاليتونو فنډ (DOD CN) د مخدره توکو تجارت او اړوند فعاليتونو سره مبارزې له لارې د افغانستان د ټيکاو د هڅو ملاتړ کوي. د امريکا دفاع وزارت د مخدره توکو قاچاقبرانو پروړاندې نظامي عملياتو ملاتړ؛ د افغانستان د مخدره توکو له مينځه وړو عملياتو پراخولو؛ او د افغان قانون پلي کونکو نهادونو ظرفيت جوړولو ـ په شمول د افغان سرحدي پوليسو ـ د مسلکي روزنې، تجهيز او تسهيلاتو، د ترياکو سره مبارزې مرستې لپاره DOD CN کاروي.[23]

د DOD CN فنډونه د کانګرس لخوا د ټولو نظامي خدماتو لپاره يوې واحدې بودجې ليکې ته مختص شوي دي. د امريکا دفاع وزارت فنډونه د ترياکو سره مبارزې مرکزي انتقال حساب (CTA) څخه نظامي خدماتو او د دفاع ادارو ته بيا پروګرام کوي، کوم چې د انتقال شوي فنډونو مکلفيتونه تعقيبوي. د امريکا دفاع وزارت د افغانستان لپاره د DOD CN حسابونه د هر مالي کال لپاره د يووستوي رقم په توګه راپور کړي دي.[24]

په تيره ربع کې، د امريکا دفاع وزارت راپور ورکړ چې د 2015 مالي کال لپاره د DOD CN مختص شوي فنډونه به په دې مالي کال کې د عملياتي اړتياو په برخه کې د پام وړ کمښت له امله اجرا نشي. دا فنډونه د امريکا دفاع وزارت نودو اړتياو تمويل لپاره له سره برنامه شوي دي. د بيا برنامه کولو فعاليت د DOD CN لپاره مجموعي تخصيصات 2.86 ميلیارده ډالرو ته راټيټ کړي، چې ټول د 2015 د سپتمبر تر 30 پورې د DOD CN پروژو لپاره د اردو خدماتو او دفاع ادارو ته ليږدول شوي دي.[25] شکل 3.17 د مالي کال له مخې د DOD CN تخصيصات ښيي، او شکل 3.18 د DOD CN CTA څخه د مختص شوي او ليږدول شوي مقدارونو مجموعه او پرتله ښيي.

شکل 3.17

**د مالي کال له مخې د DOD CN تخصيصات**
(ميليارډونه ډالر)




شکل 3.18

**د DOD CN مرستې، مجموعي پرتله**
(ميليارډونه ډالر)




يادونه: شميرې ګردې شوي دي. د تير کال تنظيمات د مکلفيت ختمولو او/يا څو کلونو د تدارک تمويل بيا په ليکه کولو په ګوته کولو لپاره په دوره ای ډول ترسره شوي دي. د امريکا دفاع وزارت د افغانستان ځانګړي ماموريت وزر چې د DOD CN پرځای د ASSF څخه تمويليږي، لپاره ډيرې اړتياو له امله د DOD CN د 2015 مالي کال څخه 125.13 ميليون ډالر بيا پروګرام کړل.
[a] د امريکا دفاع وزارت د مکلفيت او مصرف لپاره ټول فنډونه نظامي خدماتو او د دفاع ادارو ته بيا پروګراموي.

سرچينه: DOD، د سيګار د معلوماتو غوښتنې ته ځوابونه، 10/8/2009 او 7/13/2009 OSD محاسب، PA 15-23: د عامه 2015 (Omnibus) د تصويب دمخه غوښتنه، 6/30/2015، مخ 42.

## د اقتصادي ملاتړ صندوق

د اقتصادي ملاتړ صندوق (ESF) برنامې د هیوادونو لندمهاله او اوږدمهاله سیاسي، اقتصادي او امنیتي اړتیاو پوره کولو سره مرستې په واسطه د متحده ایالاتو ګټو ته پرمختګ ورکوي. د ESF برنامې د تروریزم سره مبارزې ملاتړ کوي؛ ملي اقتصاد ته وده ورکوي؛ او د خورا روڼ او شفاف حکومت لپاره د اغیزناک، د لاسرسي وړ، خپلواک حقوقي/قانوني سیستمونو رامینځته کولو کې مرسته کوي.[26]

ESF ته د مالي کال 2015 لپاره 831.90 میلیون ډالر مختص شوي و، چې مجموعي تمویل نږدې 18.60 میلیارده ډالرو ته رسوي، پشمول د AIF څخه ESF ته د USAID د بریښنا انتقال لینونو پروژو لپاره لیږدول شوي مقدارونو. لدغه مقدار څخه له 17.06 میلیارد ډالرو څخه ډیر مکلف شوي دي، چې نږدې 13.54 میلیارده ډالر یې مصرف شوي دي.[27] شکل 3.19 د مالي کال له مخې د ESF تخصیصات ښیي.

USAID راپور ورکړی چې د 2015 سپتمبر تر 30 پورې په تیر ربع کې راپور ورکړل شوي مقدارونو څخه مجموعي مکلفیتونه نږدې 946.24 میلیون ډالرو ته لوړ شوي او مجموعي مصرفونه له 197.40 میلیون ډالرو څخه ډیر شوي دي.[28] شکل 3.20 د ESF برنامو لپاره د مختص شوي، مکلف شوي او مصرف شوي مقدارونو مجموعي پرتله ښیي.




**د ESF د فنډونو ترمینالوژي**

د USAID لخوا د ESF مختص شوي، مکلف شوي یا مصرف شوي فنډونه

**تخصیصات:** د ژمنو لپاره ټولټال شته پیسې

**مکلفیتونه:** د پیسو د تادیه کولو لپاره ژمنې

**مصرفونه:** هغه پیسې چې مصرف شوي

سرچینه: USAID، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 4/15/2010.

شکل 3.19

**د مالي کال له مخې د ESF تخصیصات**
(میلیاردونه ډالر)




شکل 3.20

**ESF مرستې، مجموعي پرتله**
(میلیاردونه ډالر)




یادونه: شمیرې غیر اعشاري شوي دي. معلومات د ESF څخه AIF ته لاندې انتقالات منعکس کوي: 101 میلیون ډالر د FY 2011 لپاره، 179.5 میلیون ډالر د مالي کال 2013 لپاره، او 55 میلیون ډالر د مالي کال 2014 لپاره. د مالي کال2015 تمویل د کانګرس 653(a) مشورتي پروسې په جریان کې له وړاندوینه شوي 900 میلیون ډالرو څخه 831.9 میلیون ډالرو ته کم شوي.

سرچینه: USIAD، د سیګار د معلوماتو غوښتنو ته ځواب، 10/13/2015 او 7/16/2015؛ د بهرنیو چارو وزارت، د سیګار د معلوماتو غوښتنو ته ځوابونه، 10/20/2015، 4/15/2015 او 4/15/2014.

## د نشه يېزو توکو د کنټرول او د قانون د تنفيذ نړيواله اداره

د متحده ايالاتو د نړيوال ترياکو او قانون پلي کولو چارو دفتر (INL) د قانون حاکميت لوړولو او ترياکو توليد او قاچاق سره مبارزې لپاره د نشه يېزو توکو د کنټرول او د قانون د تنفيذ نړيواله اداره (INCLE) اداره کوي. د INCLE د INL ډېرى برنامې ګروپونه ملاتړ کوي، په شمول د پوليس، ترياکو سره مبارزه، او د قانون حاکميت او قضا.[29]

د بهرنيو چارو وزارت راپور ورکړ چې د 2015 مالي کال لپاره INCLE ته 250 ميليون ډالر مختص شوي و، چې د INCLE لپاره مجموعي تمويل له 4.69 ميلياره ډالرو څخه ډېرو ته رسوي. لدغه مقدار څخه له 4.33 مليارد ډالرو څخه ډېر مکلف شوي دي، چې نږدې 3.54 ميلياره ډالر يې مصرف شوي دي.[30] شکل 3.21 د مالي کال له مخې د INCLE تخصيصات ښيي.

د بهرنيو چارو وزارت راپور ورکړی چې د 2015 د سپتمبر تر 30 پورې مجموعي مکلفيتونه د 2015 د جون تر 30 پورې مجموعي مکلفيتونو په پرتله له 211.40 ميليون ډالرو څخه ډېر لوړ شوي دي. د 2015 د سپتمبر تر 30 پورې مجموعي مصرفونه د 2015 د جون تر 30 پورې د مجموعي مصرفونو څخه نږدې 83.83 ميليون ډالر ډېر شوي دي.[31] شکل 3.22 د INCLE لپاره د مختص شوي، مکلف شوي او مصرف شوي مقدارونو مجموعي پرتله ښيي.




**د INL د فنډونو ترمينالوژي**

د INL لخوا د INCLE او INL نور مختص شوي، مکلف شوي يا مصرف شوي فنډونه

**تخصيصات:** د ژمنو لپاره ټولټال شته پيسې

**مکلفيتونه:** د پيسو د تاديه کولو لپاره ژمنې

**مصرفونه:** هغه پيسې چې مصرف شوي

سرچينه: د بهرنيو چارو وزارت، د سيګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 4/9/2010.

شکل 3.21

**د مالي کال له مخې د INCLE تخصيصات**

(ميليونونه ډالر)




شکل 3.22

**د INCLE مرستې، مجموعي پرتله**

(ميليونونه ډالر)




يادونه: شميرې غير اعشاري شوي دي. په معلوماتو کې ممکن د ادارو ترمينځ انتقالات شامل وي.

سرچينه: د بهرنيو چارو وزارت، د سيګار د معلوماتو غوښتنو ته ځوابونه، 10/13/2015 او 7/14/2014.

## د افغانستان لپاره د بيارغوني نړيوال تمويل

د متحده ايالاتو له خوا چمتو شوې مرستې سربېره نړيواله ټولنه د افغانستان هوساينې او بيارغونې هڅو ملاتړ د تمويل لپاره د پام وړ مقدار چمتو کوي. لکه څنګه چې د سيګار تير درې مياشتنې راپورونو کې په ګوته شوي دي، د نړيوال تمويل ډيرى چمتو شوې برخه د وجهی صندوقونو له لارې اداره شوې. د وجهی صندوقونو له لارې چمتو شوې مرستې لومړی راټول او بيا د بيارغونې فعاليتونو لپاره توزيع کيږي. دوه مهم وجهي صندوقونه د افغانستان بيارغوني وجهی صندوق (ARTF) او د افغانستان لپاره د قانون او نظم وجهی صندوق (LOTFA) دی.[32]

## د افغانستان بيارغوني وجهی صندوق ته مرستې

د افغانستان عملياتي او پراختيايي بودجو ترټولو لوی نړيوال سهم د ARTF له لارې راځي. له 2002 څخه د 2015 د اګست تر 22 پورې نړيوال بانک راپور ورکړی چې 34 ډونرانو د 9.02 ميلیارده ډالرو څخه ډيرو ژمنه کړې، چې لدغه مقدار څخه 8.28 ميلیارده ډالر تاديه شوي دي.[33] د نړيوال بانک په وينا، ډونرانو د افغان مالي کال 1394 لپاره چې د 2014 د دسمبر 22 څخه د 2015 د دسمبر تر 21 پورې دوام لري، ARTF ته د نږدې 1.09 ميلیارده ډالرو ژمنه کړې ده.[34] شکل 3.23 د مالي کال 1394 لپاره ARTF ته ترټولو لس لوی ډونران په ګوته کوي.

له 2002 راهيسې د 2015 اګست تر 22 پورې، متحده ايالاتو له 2.78 ميلیارده ډالرو څخه د ډيرو ژمنه کړې او له 2.43 ميلیارده ډالرو څخه ډير يې تاديه کړي دي.[35] متحده ايالات او انګلستان ARTF ته ترټولو لوی دوه ډونران دي، چې په ګډه د ټولټال تمويل 47% مرسته ورکوي، لکه څنګه چې په شکل 3.24 کې ښودل شوي دي.

شکل 3.23

**د 2015 د اګست تر 22 پورې د مرستندويان له خوا د 1394 مالي کال لپاره د ARTF مرستې** (میلیونونه ډالر)




يادونه: شميرې ګردې شوي دي. 1394 مالي کال = 12/22/2014–12/21/2015.

*سرچينه: نړيوال بانک، ARTF: د 2015 د اګست تر 22 پورې په مالي حالت د مدير راپور (د FY 1394 د 8مې مياشتې پای)، مخ 1.*

ARTF ته مرستې د تمويل دوه ليکو باندې تقسيم شوې دي ـ د مکرر لګښت (RC) کړکۍ او د پانګووني کړکۍ.[36] د نړيوال بانک په وينا د 2015 د اګست تر 22 پورې د ARTF صندوق نږدې 3.52 ميلیارده ډالر افغان دولت ته د RC کړکۍ له لارې د مکرر لګښتونو لکه د ملکي کارمندانو معاشاتو لپاره مصرف شوي دي.[37] د RC کړکۍ د افغان دولت عملياتي لګښتونه پوښي ځکه چې د دولت داخلي عوايد د مکرر لګښتونو ملاتړ کولو لپاره لاهم ناکافي دي. د دې ډاډ ترلاسه کولو لپاره چې د RC کړکۍ کافي تمويل ترلاسه کوي، ARTF ته ډونران ممکن د خوښې وړ پروژو لپاره د خپل کلني مرستو له نيمايي څخه ډېر کې "ترجيح" (تخصيص) ونکړي.[38]

د پانګووني کړکۍ د پراختيا برنامو لګښتونه ملاتړ کوي. د نړيوال بانک په وينا د 2015 د اګست تر 22 پورې د پانګووني کړکۍ له لارې تمويل شوي پروژو لپاره له 4.10 مليارده ډالرو څخه د ډېرو ژمنه شوې ده، چې لدغه مقدار څخه له 3.06 ميلیارده ډالرو څخه ډېر مصرف شوي دي. نړيوال بانک د 19 فعال پروژو د نږدې 2.77 ميلیارده ډالرو ګډې ژمنې ارزښت سره راپور ورکړی دی چې نږدې 1.73 ميلیارده ډالر يې مصرف شوي دي.[39]

## د افغانستان لپاره د قانون او نظم وجهی صندوق مرستې

د ملګرو ملتونو د پراختيا برنامه (UNDP) د ANP معاشاتو ورکړې او د کورنيو چارو وزارت ظرفيت جوړولو لپاره LOTFA اداره کوي.[40] له 2002 څخه د 2015 د اکتوبر تر 15 پورې ډونرانو LOTFA ته د 4.32 ميلیارده ډالرو څخه ډېرو ژمنه کړې چې لدغه مقدار څخه له 4.07 ميلیارده ډالرو څخه ډېر تاديه شوي دي.[41] د 2015 د اکتوبر تر 15 پورې متحده ايالاتو د نوموړي صندوق د رامينځته کيدو راهيسې د نږدې 1.53 ميلیارده ډالرو ژمنه کړې ده او ټولې يې تاديه کړې دي.[42] شکل 3.25 له 2002 راهيسې LOTFA ته څلور ترټولو لوی ډونران په ګوته کوي.

د LOTFA د ملاتړ اومه مرحله د 2015 جنورۍ په 1 پيل شوې او د 2015 د جون په 30 پای ته رسيدلې. نوموړې مرحلې ټولټال د 293.07 ميليون ډالرو بودجه درلوده. د مرحلې په پای کې شاوخوا 223.48 ميليون ډالر د ANP او د مرکزي زندان رياست د کارمندانو معاشاتو پوښلو لپاره مصرف شوي دي. د معاشاتو او اړوند لګښتونو سربيره، 4.94 ميليون ډالر د ظرفيت جوړولو بيلابيل نوښتونو باندې مصرف شوي، او 1.74 ميليون ډالر د UNDP د برنامې مديريت واحد ته تللي دي.[43]

د LOTFA اتمه مرحله د 2015 جولای په 1 پيل شوې. نوموړې مرحله په پيلې توګه اټکل شوې 883.56 ميليون ډالر بودجه لرې او د 2016 د دسمبر تر 31 پورې د پرمخ تلو لپاره پلان شوی ده.[44]

شکل 3.24

**د مرستندويان لخوا د ARTF تاديه شوې مرستې، 2002 - د 2015 د اګست 22**

**ټولټال تاديه شوي:** 8.28 ميلیارده ډالر




يادونه: شميرې ګردې شوي دي. EU = اروپايی اتحاديه. په "نورو" کې 28 ډونران شامل دي.

سرچينه: نړيوال بانک، ARTF، د 2015 د اګست تر 22 پورې په مالي حالت د مدير راپور (د FY 1394 د 8 مې مياشتې پای)"، مخ 5.

شکل 3.25

**له 2002 راهيسي LOTFA ته د مرستندويان مرستې، د 2015 اکتوبر تر 15 پورې**

**ټولټال تاديه شوي:** 4.1 ميلیارده ډالر




يادونه: شميرې ګردې شوي دي. EU = اروپايی اتحاديه. په "نورو" کې 24 ډونران شامل دي.

سرچينه: UNDP، د سيګار د معلوماتو غوښتنې ته ځوابونه، 10/19/2015

# د امنیت محتویات


پدې ربع کې مهم مسایل او پیښې 85

درې میاشتنې مهم ټکې: د کندز ښخه وروسته: د ANDSF ارزول 87

په افغانستان کې د متحده ایالاتو ځواکونه 92

د ANDSF ځواک یوڅه کم دی 93

د دفاع او کورنیو چارو وزارتونو لخوا د پرله پسې دوهمې ربعې لپاره د RS ټیټ توقوعات 96

افغان سیمه ایز پولیس 98

د امنیت ساتنې ځواکونه 100

افغان ملي اردو 101

افغان ملي پولیس 108

په ANDSF کې د ښځو وضعیت 112

د ANDSF طبي/روغتیا پاملرنه 113

د ANDSF د محرم معلوماتو وضعیت 114

د نا چاودل شوي توکو لرې کول 114

د تریاکو سره مبارزه 116

بدیله پرمختیا/بدیل معیشت 121

# امنيت

د 2015 سپتمبر تر 30 پورې د متحده ايالاتو کانګرس د افغانستان ملي دفاعي او امنيتي ځواکونو (ANDSF) ته د ملاتړ چمتو کولو لپاره له 65 ميلیارده ډالرو څخه ډیر مختص کړي دي. دا له مالي کال 2002 راهيسې په افغانستان کې د متحده ایالاتو د بیارغونې د ټول تمویل 59.3% تشکیلوي. کانګرس د ANDSF جوړولو، تجهيز کولو، روزنې او تيکاو لپاره د افغانستان امنيتي ځواکونو وجهي صندوق (ASFF) رامينځته کړ، چې پدې کې د دفاع وزارت (MOD) او د کورنيو چارو وزارت (MOI) لاندې ټول امنيتي ځواکونه شامل دي. د متحده ايالاتو ډیری چمتو شوي فنډونه (مالي منابع) د ASFF له لارې ترتيب شوي او يا د امنيتي ليږد ګډه قومانده – افغانستان (CSTC-A) له لارې يا د دفاعي امنيت د مرستې اداري له لارې مکلف شوي دي. د ASFF لپاره مختص شوي 60.7 ميلیارده ډالرو څخه د 2015 سپتمبر تر 30 پورې 56.9 ميلیارده ډالر مکلف شوي او 55.8 ميلیارده ډالر مصرف شوي دي.[45]

دا برخه د افغان ملي اردو (ANA)، افغان ملي پوليسو (ANP)، د دفاع وزارت او د کورنيو چارو وزارت د ارزونو په اړه غږيږي؛ د افغان امنيتي ځواکونو جوړولو، تجهيز، روزنې او تيکاو لپاره د متحده ايالاتو د فنډونو د استعمال څرنګوالي په اړه عمومي لید وړاندې کوي؛ او په افغانستان کې د غيرقانوني ترياکو کښت او سوداګرۍ سره د مبارزې هڅو په اړه تازه معلومات وړاندې کوي.

## پدې ربع کې مهم مسایل او پيښې

### ولسمشر اوباما د متحده ایالاتو سرتيرو ایستل ودرول

د 2015 اکتوبر په 15 ولسمشر اوباما اعلان وکړ چې متحده ایالات به د 2016 په اوږدو کې تر ډیرې کچې د افغانستان څخه د متحده ايالاتو د سرتیرو ایستل ودروي او د هغه د ولسمشرۍ موديې پای ته رسيدو پورې د 2017 جنورې پورې به زرهاو سرتيري په دې هيواد کې وساتي. ولسمشر اوباما وويل چې د متحده ایالاتو سرتيري به دوه مهمو ماموريتونو ته دوام ورکړي ـــ د افغان ځواکونو روزنه او د القاعده پروړاندې د تروريزم سره د مبارزې عمليات.[46] هغه وويل چې متحده ايالات به:[47]

- د 2016 په اوږدو کې تر ډيره کچه په افغانستان کې د متحده ایالاتو سرتيرو اوسنۍ کچه يعنې 9,800 سرتيري وساتي
- په 2017 کې به دغه شمير 5,500 سرتيرو ته راټيټ کړي چې په کابل کې او يو کوچنی شمير به يې په نورو بیسونو کې پشمول د بګرام، جلال اباد او کندهار کې ميشته وي
- په ګډه د ناټو او ايتلاف ځواکونو سره کار کول ترڅو د دوه ماموريتونو ترسره کولو کې د متحده ايالاتو د سرتيرو شتون سره یوځای کار وکړي
- د افغان ولسمشر اشرف غني او د ملي یووالي حکومت ملاتړ ته دوام ورکړي په داسې حال کې چې هغوی حساس اصلاحات تعقيبوي

د اوباما د اداري اصلي پلان دا و چې په راتلونکي کال کې د متحده ایالاتو سرتیري دلته نیم کړي او بیا د 2017 په پیلیدو سره د متحده ایالاتو د سرتیرو شمیر شاوخوا 1,000 ته راټیټ کړي چې یوازې د متحده ایالاتو کابل سفارت کې به میشت وي. په هرصورت، ولسمشر اوباما وویل چې د افغانستان په مهمو سیمو کې امنیتي وضعیت لاهم خراب دی، او خطر شتون لري چې نورو سیمو کې هم خراب شي.[48] د هغه پریکړه د هغې ملي امنیت ټیم، کانګرس او نړیوالو ملګرو سره د مشورې وروسته ترسره شوې او هم یې د ولسمشر اشرف غني څخه د متحده ایالاتو دوامداره ملاتړ غوښتنه په پام کې نیولې ده.[49] د تر یوې کچې لوی ځواک لګښت په کال کې شاوخوا 15 میلیارده ډالر اټکل شوی دی، شاوخوا 5 میلیارده ډالر د 1,000 نفرو څخه ډیر چې د کابل میشته ځواک به یې مصرفوي.[50]

## د کندز نیول

د افغان دولت لپاره یو لوی شاتګ کې، پدې ربع کې طالبانو په 2001 کال کې په افغانستان کې د ایتلاف ځواکونو د عملیاتو له پیل کیدو راهیسي د لومړي ځل لپاره په موقتي توګه د یوه ولایت مرکز ونیو. د 2015 د سپتمبر په 28 د دوشنبه ورځې لومړیو شیبو کې طالب جنګیالي د افغانستان په شمال کې د 300,000 څخه ډیرو اوسیدونکی ښار، چې د ځیني مقیاسونو له مخې د افغانستان پنځم لوی ښار دی، د کندز په مرکز کې راڅرګند شول.[51] د برید پرمهال ترهګرو د ولایت ودانۍ او د پولیسو قومانداني ونیوله. دوی له سیمه ایز زندان څخه خپل جنګیالي هم آزاد کړل او یو سیمه ایز روغتون یې ونیو. اوسیدونکو راپور ورکړ چې د برید په ترڅ کې د ملګرو ملتونو (UN) سیمه ایز دفتر، د افغانستان استخباراتي اداري دفتر، دوه د راډیو مرکزونه، او د موټرو پلورنځي ولوټل شول او په یوه بانک هم برید وشو.[52] بریښنا او د تلیفون خدمات د ښار ډیری برخو کې له کاره غورځیدلي او د دار ځړونو راپورونو شتون درلود.[53]

د 2015 د اکتوبر په 6 د سنا د وسله وال خدماتو کمیټې پرورړاندې د وینا پرمهال د متحده ایالاتو ځواکونو – افغانستان (USFOR-A) او د قاطع ملاتړ ماموریت (RS) قوماندان جنرال جان ایف. کمپبیل وویل چې د افغان اردو قطعات په لویه کچه د برید په وخت کې د کندز څخه بهر ګومارل شوي ول، نو طالبان چې له ښار دننه یې برید پیل کړ تر ډیره د پولیسو قطعاتو سره په جګړه کې ښکیل ول. د منظم او ځانګړي ځواکونو سرتیري د هغه د وینا په وخت کې لاهم د ښار ځیني برخو څخه د ترهګرو کوچني او جلا ډلو پاکولو په حال کې ول، د کندز د نیول کیدو بشپړ دلایل له هم روښانه ندي.[54] په هرصورت، جنرال کمپبیل پخپله وینا کې وویل د کندز ښار ساتلو لپاره د افغان پولیسو د وړتیا نه درلودو کې "ضعیف رهبریت یا مشري" رول لوبولی دی: "زه بیرته ورځم رهبریت ته او رهبریت تو‌پیر رامینځته کوي. په هغه برخو کې چې دوی ستونزې درلودې، زه باور لرم چې د رهبریت په تړاو مهم ول."[55]

د رسنیو راپورونو له مخې، د ښار بیرته نیولو لپاره د ANDSF هڅې د کمینونو او د سړک غاړې ماینونو له امله ځنډنې شوې.[56] د متحده ایالاتو ځواکونو د ښار پاکولو په برخه کې ANDSF ته نږدې هوایی ملاتړ چمتو کړ. په هرصورت، لدغه هوای بریدونو یو برید د بې پولې ډاکټرانو یو روغتون باندې وشو چې په ترڅ کې لږترلږه 22 وګړي ووژل شول، پشمول د روغتیا کارمندانو او ناروغانو.[57] د بې پولې ډاکټرانو سازمان رییس د ژنیوا کنوانسیون پروتوکول له مخې د لومړي حقیقت موندلو ماموریت په لاره اچولو غوښتنه وکړه.[58] سربیره پردې، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه ماموریت (یوناما) اعلان وکړ چې دوی د کندز پیښې بیا کتنه کوي او خپلې موندنې به افغان دولت او د ناټو تر

"په کندز کې د افغان امنیتي ځواکونو متناقص فعالیت د دوی ډیری تشې په ګوته کوي."

*– جنرال جان ایف کمپبیل، د RS او USFOR-A قوماندان*

سرچینه: *د سنا د وسله وال خدماتو کمیټه، په افغانستان کې د اوضاع په اړه د سنا وسله وال خدماتو کمیټې پرورړاندې د متحده ایالاتو ځواکونه – افغانستان قوماندان جنرال جان ایف. کمپبیل بیان*، 10/6/2015.

# د کندز څخه وروسته: د ANDSF ارزول

- د 2012 جولای کې د حکومت د حساب ورکولو دفتر (GAO) اندیښنې راپورته کړې چې د ترټولو لوړې درجې کچې سرلیک چې د ANDSF قطعه یې تر لاسه کولی شي ــ د "خپلواک" څخه "د مشاورینو سره خپلواک" ته بدلول تر یو حد پورې د ترټولو لوړې کچې ارزول شوي قطعاتو شمیر کې د ډیروالي لپاره مسؤل و.[63]
- په 2014 جنوري کې د نوال څیړنو لپاره غیر انتفاعي مرکز (CNA) وړاندوینه وکړه چې ترهګري به په 2015 کې د ناټو ځواکونو کمیدو له امله خورا لوی ګواښ وي. CNA په درستی سره وړاندوینه کړې چې طالبان به ANDSF باندې فشار وساتي، مهم ښارونه به محاصره کړي، او په کابل او نورو ښارونو کې به لوی بریدونه ترسره کړي.[64]
- د 2014 فبروري کې سیګار تکرار کړه چې ANDSF ته درجه ورکولو لپاره د ارزونې کارول شوې وسیله په متناقض ډول کارول شوې او ګټوره نده. د ارزونې نوې وسیله رامینځته کړی شوې وه چې د لیوا تر کچې ارزونې یې وړاندې کړې، مګر د 2014 اکتوبر وروسته دغه توضیحات د امنیت نړیوال مرستندویه ځواک (آیساف) لخوا محرم شوي دي.[65]
- په 2014 دسمبر کې سیګار د ANDSF وړتیاوې خپل د لوړ خطر لست کې شامل کړې او د ضایع کیدو، درغلی او ناوړه ګټه پورته کولو ته حساس برخو ته د پام اړولو غوښتنه یې کړې ده.[66]
- مخکې پدې کال کې سیګار دوه تفتیشونه خپاره کړل چې راپور یې ورکړی چې هیڅ ډاډ شتون نلري د ANDSF پرسونل او معاشاتو معلومات درست وي.[67]
- پدې ربع کې سیګار یو تفتیش خپور کړ چې ښیي افغان سیمه ییز پولیس د لوژستیک کافي ملاتړ، خارنه او پلان نلري.[68]
- پدې ربع کې د متحده ایالاتو اردو سیګار ته وویل چې د دې د ارزولو اوسنی وسیله "د بشپړ ANDSF ارزولو یا تحلیل لپاره کارول کیدو په موخه نه وه." دې په عملیاتي کچه د ANDSF مؤثریت ټاکلو لپاره د متحده ایالاتو وړتیا په اړه پوښتنې راولاړې کړې دي.

جنرال جوزف ډانفورډ په 2014 مارچ کې خبرداری ورکړ چې "که چیرې موږ د 2014 پای کې ولاړ شو، نو د افغان امنیتي ځواکونو له مینځه تلل به پیل شي. امنیتي وضعیت به په خرابیدو شي، او زه فکر کووم چې یوازینی بحث د دغه له مینځه تلو سرعت دی."[69] په کندز کې اوضاع د نږدې نظارت غوښتنه کوي او ممکن د افغان ځواکونو وړتیاو او امنیتي لږی لید سنجولو لپاره کارول کیدونکې وسایلو د بیا ارزونې غوښتنه کوي.

یو له ترټولو مهمو پوښتنو څخه چې افغانستان ورسره مخ دی له اوږدې مودې راهیسې دا ده چې ایا افغان ملي دفاع او امنیتي ځواکونه (ANDSF) د متحده ایالاتو او ایتلاف ځواکونو وتلو وروسته امنیت ساتلی شي.

د 2015 سپتمبر په 28 طالب جنګالیو په شمال کې د 300,000 څخه ډیر نفوس لرونکي د کندز ښار کنټرول لاسته راوړ، چې ANDSF په شا کیدو ته اړ کړ.[59] ANDSF د دوه اونیو په موده کې ښار بیرته ونیو، مګر مهمې پوښتنې پرځای پاتې دي.

ایا دا به بیا پیښ شي؟ او ایا دا کابل کې پیښ کیدی شو؟ د اکتوبر په 6 جنرال جان ایف کمپبیل د سنا یوې کمیټې ته وویل چې طالبان به "هیڅکله افغان دولت ونه پرزوي."[60] په کندز کې د پیښو سربیره، د هغه بیان درست ښکاري. ANDSF تر دې دمه د هیواد په کچه د دولتي نهادونو محافظت کړی دی. مګر سیګار اندیښنه لري چې که چیرې ترهګر په مکرر ډول د ښارونو څخه بهر د افغان اردو سرتیري په شا کړي، نو ستیج ډراماتیک دی، که چیرې د پولیسو قطعاتو پروړاندې بریا لنډمهاله وي، نو د ANDSF مورال او د افغان دولت عامه ملاتړ باندې ټولیزه اغیزه هغومره مخالف کیدی شي لکه څومره چې د محاربې اصلي ډګرونو کې ماتې وي.

په افغانستان کې د متحده ایالاتو ملي امنیت ستراتیژې غوارې د دولت راپرزولو لپاره د طالبانو وړتیا رد کړي او د افغانستان امنیتي ځواکونو ظرفیت پیاوړی کړي. د دې او نورو موخو لاسته راوړو لپاره متحده ایالاتو د ANDSF جوړولو، روزنې، تجهیز کولو او ثبات لپاره له 65 ملیارده ډالرو څخه ډیر چمتو کړي دي. سیګار په خورا توجه سره دغه تمویل او د کارولو څرنګوالی یې تعقیبوي. په هرصورت، د هغه څه ډیری برخه چې سیګار یې تعقیبوي کمیتي دی او غیر عیني فاکتورونه لکه رهبریت او جګړې ته لیوالتیا نه په ګوته کوي. ANDSF د خپلو دشمنانو په پرتله ډیر وسایل په واک کې لري، مګر دا حقیقت پخپله د بریا تضمین ندی. لکه څنګه چې کمپبیل ANDSF ته ویلي، "طالبان د D-30 توپونه نه لري، دوی د [کشف الوتکې] نلري، دوی د Mi-17s، Mi-35s، MD-530، چورلکې نلري. دوی زریداره هموي (Humvees) نلري."[61] سره لدې هم طالبان جګړه کولی شي.

سیګار او نورو نهادونو د وړاندوینې وړ راتلونکې کې د هغه ګواښونو پروړاندې د ANDSF ظرفیت په اړه له اوږدې مودې راهیسې اندیښنه لري چې دغه نهاد ورسره مخ کیږي. د مثال په توګه:

- په 2010 جون کې سیګار موندل چې په خپلواک ډول د اردو او پولیسو د فعالیت وړتیا درلودونکې ګڼل شوي قطعاتو کې وروسته د دوی د وړتیا کچې کې د پام وړ تشې ولیدل شوې. دا تر یو حد پورې د دې حقیقت له امله و چې یوځل یوې قطعې ترټولو درجه لاسته راوړه، نو د ایتلاف ځواکونه ورسره نوره مرسته نه کوي، لکه د ځواک محافظت، تحویلي یا تخصص.[62]

مشرى لاندې RS ماموریت ته راپور کړي ترڅو د ملکیانو ساتنه وشي.[70] د 2015 اکتوبر په 7 ولسمشر اوباما د بې پولې ډاکټرانو رییس څخه د هغوی تسهیلاتو باندې هوای برید ترسره کیدو لپاره بخښنه وغوښتله او وې ویل چې متحده ایالات به خپل نظامي طرزالعملونه وارزوي.[71] افغان دولت د بشپړو او رڼو پلټنو څېړنو په برخه کې د همکارۍ ژمنه وکړه.[72] جنرال کمپبیل د پیښې په اړه د متحده ایالاتو هراړخیز، رڼو څېړنو ژمنه وکړه. هغه د چارواکو په نښه کولو او بوختیا مقرراتو په برخه کې د متحده ایالاتو پرسونل لپاره د متحده ایالاتو ځواکونو د عملیاتو چارواکو او د بوختیا مقرراتو او د ځواک په کچه روزنې د بیاکتنې لارښوونه هم وکړه.[73]

په کندز د طالبانو برید یوه بشپړه ناخبري نه وه. د ولایتي شورا رییس راپور ورکړ چې ځایي چارواکو په سیمه کې د ترهګرو د پرمختګ څخه له میاشتو راهیسې خبرداری ورکاوه.[74] پدې کال کې دوه ځله ترهګرو په کندز برید وکړ.[75] د 2015 جولای په 2 ملګرو ملتونو راپور ورکړ چې د بې پولې ډاکټرانو روغتون په کندز کې د لنډې مودې لپاره هغه مهال ترلی و چې افغان ځواکونو وربانديې چاپه واچله یا یرغل یې وربانديې وکړ او د تورونو له مخې یې د روغتیا کارمندان وګواښل کله یې چې دلته د ترهګرو لټون کاوه چې د هغوی په باور دلته یې درملنه کیږي.[76] د یوه خبر له مخې، ترهګرو د برید څخه اونۍ دمخه په ښار کې وسلې او مهمات ځای په ځای کړي ول.[77] د 2015 اګست په 13 د ارتباطاتو لپاره د RS د پرسونل معاون قوماندان جنرال ویلسن شوفنر وویل په شمال کې د ANA بوخت سرتیري خپاره ول نو پدې سره یوبله لیوا دلته اضافه شوه او د لیوا معاون قوماندان وګومارل شو.[78]

د 2015 اکتوبر په 9 د افغان دولت یوه ویاند راپور ورکړ چې د کندز ښار ډېری برخه بیا د دولت تر ولکې لاندې ده که څه خال خال مقاومت شتون لري او اخ او ډب جریان لري ځکه چې امنیتي ځواکونه کور په کور لټون کوي.[79] د 2015 اکتوبر په 13 طالبانو د کندز ښار نیول کیدو څخه 15 ورځې وروسته په مکمل ډول د ښار څخه د وتلو اعلان وکړ.[80]

## کانګرس ته د جنرال کمپبیل وینا

د 2015 د اکتوبر 5 اونۍ په جریان کې، جنرال جان کمپبیل په افغانستان کې د اوضاع په اړه د سنا وسله وال خدماتو کمیټې او د پارلمان وسله وال خدماتو کمیټې پروړاندې وینا وکړه.[81] جنرال کمپبیل وړاندیز وکړ ولسمشر اوباما د 2016 تر پای پورې د متحده ایالاتو کابل سفارت کې میشت د متحده ایالاتو سرتیرو شتون راکمولو لپاره خپل اصلي پلان بیاکتنه وکړي.[82] کمپبیل وویل د 2014 په نیمایي کې لدغه پلان جوړیدو راهیسې ډیرڅه بدل شوي دي، لکه د عراق او مینځني ختیځ اسلامي دولت (ISIL) راپورته کیدل، د پاکستان نظامي عملیاتو له امله په افغانستان کې د القاعده د شتون ډیریدل او د نوي افغان ملي یووالي دولت رامینځته کیدل چې د متحده ایالاتو سره کار کولو ته لیوالتیا لري. هغه وویل چې د متحده ایالاتو اردو به په کابل کې د سفارت شاوخوا 1,000 سرتیرو شتون سره د روزنې - مشورې او - مرستې او د تروریزم سره مبارزې ماموریتونو خورا محدود شوې وړتیا ولري.[83]

پدې وروستيو کې د کندز سقوط سربېره، کمپبيل وويل چې هغه باور لري طالبان به افغان دولت ته ماتې ورنکړي، او د سوله ايزې بياپخلاينې هرډول عمل به "څو مياشتې" وخت ونيسي.[84] هغه ISIL د عملياتي عاجل حالت په توګه درجه بندي کړ په لړترلږه 25 ولاياتو کې د ISIL شتون راپوروونو سره، مګر تر ډيرې کچې په ننګرهار کې.[85] د "خورا سخت" محاربوي فصل په لړ کې هغه وويل ANDSF بشپړ او د ودې په حال کې دی چې دا د يوه ځوان او نوي رامينځته شوي ځواک لپاره د پام وړ فعاليت دی چې ډيرې خلې ازمول شوی. جنرال کمپبيل ومنله چې ANDSF ځينې وختونه متزلزل شوی، مګر وې ويل چې نوموړی ځواک په تدريجي توګه تکامل کوي، وده کوي او د ډير شوي مرګ ژوبلې سره سره په کلکه جنګيږي.[86]

جنرال کمپبيل وويل د افغانستان دښمنان، پشمول د طالبانو، القاعده، د حقاني شبکه، ISIL، او نورې ترهګرې ډلې به د 2015 پاتې موده کې او لدې وروسته د پام وړ ننګوني رامينځته کړي.[87] هغه پدې توګه خپلې خبرې پايله کړې چې متحده ايالات ارتيا لري ستراتيژيک زغم تجربه کړي او افغانستان ته خپلې ژمنې پياوړې کړي.[88]

## د طالبانو د مشرۍ بدلون

په تيره جولای کې افغان چارواکو اعلان وکړ چې د طلبانو مشر ملا محمد عمر په کال 2013 کې د پاکستان په يوه روغتون کې مړ شوی دی.[89] طلبانو وروسته ومنله چې هغوی د دې لپاره د هغه مړينه پټه ساتلې وه چې د متحده ايالاتو او افغانستان پروړاندې جګړه کې يې يووالی وساتل شي.[90] دغه خبرونو د نوي مشر ملا اختر منصور د مشر کيدو دمخه بيلابيل ډلو ترمينځ درزونه رامينځته کړل. د سولې پلان شوې خبرې رد شوې.[91]

د امريکا دفاع وزارت يو پخواني چارواکي **پژواک افغان خبري** اژانس ته وويل چې هغه باور لري د پاکستان استخباراتي اداره کې يوازې يو څو تنه د ملا عمر له مړينې خبر ول مګر دغه معلومات يې د دې لپاره پټ ساتل چې طالبان بنه کنټرول کړي.[92] د دفاع مخکينی معاون وزير ډيوډ سيډني اضافه کړه چې په 2010 کې پاکستان د سولې خبرو کې هيڅ ليوالتيا نه درلوده او د طالبانو شاوخوا 40–50 غړي يې بنديان کړي ول.[93]

## د ANDSF غړي د هلکانو څخه ناوړه جنسي ګټه پورته کوي

پدې ربع کې د **نيو يارک** *ټايمز* راپور ورکړ چې د متحده ايالاتو ځواکونو ته لارښوونه شوې چې د ANDSF غړو لخوا په ځوان هلکانو جنسي تيري باندې سترګې پټې کړي. د راپور په ځواب کې ولسمشر د ANDSF هغه غړو د له دندې ګوښه کولو غږ وکړ او وې ويل چې د امنيتي ځواکونه هغه غړي چې پدې عمل کې ښکيل وي بايد محکمه شي. هغه وويل د هلکانو جنسي ناوړه ګټه پورته کول د زغملو وړ ندي، که څه هم هغه وويل چې دغه "لوی کلتوري محرک وخت ته اړتيا لري" څکه چې د افغانانو د بچه بازي دود سلهاو کلونه پخوانی دی.[94] د 2015 د اکتوبر په 6 د سنا وسله وال خدماتو کميټې ته خپله وينا کې جنرال کمپبيل وويل چې د **نيويارک** *ټايمز* مقاله کې راغلي ييښې د 2010–2012 کلونو دي. هغه ويل چې د متحده ايالاتو هيڅ کومه داسې پاليسي شتون نه لري چې دا ډول جنسي ناوړه ګټه پورته کولو عمل باندې سترګې پټې کړي او د لږترلږه 2011 کال راهيسې پلې شوې پاليسي د متحده ايالاتو د خدمت هر غړي څخه غوښتنه کوي چې د بشري حقونو څخه هرډول شکمن سرغړونو په اړه خپل سلسله مراتب ته راپور ورکړي، چې هغوی به بيا دغه مسله پخپل وار سره افغان مقاماتو ته راپور ورکوي.[95] د 2015 سپتمبر په 22 جنرال کمپبيل د RS ماموريت ته د متحده ايالاتو او غير متحده ايالاتو

---

***بچه بازي:*** شفاهي ژباړه يې د "هلکانو سره لوبيدل" دي او زوړ افغان دود دی چې ځورواکي سړي د ځوان هلکانو څخه جنسي ناوړه ګټه پورته کوي. طالبانو دغه عمل په مرګ محکوم کړ، مګر بچه بازي د طالبانو له راپرزيدو راهيسي له سره ژوندی شوی. پدې عمل کې ځوان هلکان، چې د چای هلکانو په نوم هم پيژندل کيږي، پيسه لرونکي او ځواکه سړو باندې د ساتيرۍ او غير مشروع جنسي اړيکي لپاره پيرل کيږي. لدې چې ښځې د عام خلکو پروړاندې د نڅا اجازه نلري، نو هلکان د نڅا لپاره او د ښځينه و حرکاتو او کړنو لپاره برابريږي. هلکانو باندې جنسي تيری کيږي، تښتول کيږي، قاچاق کيږي او حتی د دوی د والدين لخوا د کورنۍ حيثيت او پيسو لپاره پلورل کيږي. هغه راپورونه چې بچه بازي د تاوتريخوالي پرته او رضايت له مخې بيانوي نه په ګوته کوي چې دغه بالغ هلکان د رضايت عمر ته ندي رسيدلي.

---

ګومارل شوي پرسونل ته بیان تکثیر کړ چې سلسله مراتب ته د جنسي ناوړه ګټه پورته کولو په اړه سمدستي راپور ورکړي.[96]

سناتور پیټریک لیحي (D-VT) د ناوړه جنسي ګټه پورته کولو دغه عمل وغانده، هغه ووېل چې دا عمل د متحده ایالاتو قانون، د لیحي تعدیلاتو څخه سرغړونه ده.[97] په هرصورت، پدې ربع کې CSTC-A راپور ورکړ چې د لیحي تعدیلاتو په اړه دواړه د کورنیو چارو وزارت او د دفاع وزارت ترنن نیټې پورې کافي پرمختګ کړی دی. CSTC-A ووېل چې دا اداره په منظم ډول د ټولو هغه افرادو لپاره د لیحي ارزونه ترسره کوي چې د متحده ایالاتو تمویل شوي روزني کې ګډون لپاره ټاکل کیږي، مګر وې نه ویل چې ایا کوم څوک د لیحي سرغړونو له امله رد شوی دی که نه. CSTC-A په ګوته کړي چې دا اداره به د لیحي تعدیلاتو څخه سرغړونو کې ګرم موندل شوي ANDSF قطعاتو ته د تجهیزاتو یا فنډونو نه ورکولو په برخه کې د امریکا دفاع وزیر لخوا هر راز پریکړه پلي کړي.[98]

د RS یوه ویاند *ټایمز* ته ووېل چې د افغان اردو یا افغان پولیس پرسونل لخوا د ماشومانو څخه ناوړه جنسي ګټه پورته کول د افغانستان داخلي قوانینو حاکمیت اړوند مسله ده. پداسي حال کې چې جنسي ناوړه ګټه پورته کول افغان قوانینو کې په ګوته شوي، د بچه بازي (له هلکانو ناوړه جنسي ګټه پورته کول د بچه بازي بشپړه بنه نده) په اړه کوم ځانګړي مقررات شتون نلري. د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسون (AIHRC) وړاندیز کړی چې دغه عمل باندې بندیز ولګوي او د بشري حقونو نړیوالي اعلامیه او د بشري حقونو نورو کنوانسیونونو د مقرراتو په رڼا کې ورته جزا وټاکي.[99]

**د لیحي تعدیل:** په عام ډول د دې د سنا سپانسر په نوم پیژندل شوی، د 2013 د ملي دفاع واکمنۍ د تخصیصاتو قانون برخه 826، Pub. L. 112-239، وړاندې کوي چې CSTC-A د ANDSF کومې قطعې غړو د روزنې، تجهیزاتو یا نورو مرستو لپاره د متحده ایالاتو فنډونه نشي کارولی که د متحده ایالاتو دفاع وزارت مؤثق معلومات ولري چې نوموړي قطعې د "بشري حقونو څخه سرغړونه کړې."

سرچینه: Pub. L. No. 112-239، د مالي کال 2013 لپاره د ملي دفاع واکمنۍ د تخصیصاتو قانون، مخ 1833؛ CSTC-A، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 9/25/2015.

## ملګري ملتونه راپور ورکوي چې د جګړې شدت هیڅ نه کمیږي

د یوناما په وینا، په افغانستان کې د جګړې شدت هیڅ نه کمیږي او امنیتي وضعیت لانور خراب شوی دی.[100]

ملګرو ملتونو د 2015 میی 1 څخه د 2015 جولای تر 31 نیټې پورې 6,096 امنیتي پیښې ثبت کړي دي، چې د ولسمشری ټاکنو دوهم پړاو په جریان کې د 2014 کال ورته دورې په پرتله 4.6% ډیرې دي.[101] پدغه شمیر کې 291 ترورونه او د تروررونو هڅې شامل دي، چې د 2014 کال ورته دورې په پرتله 11.4% ډیروالی ښیي.[102] ملګرو ملتونو راپور ورکړی چې وسله والې نښتې (53) په ګډه د سرک غاړې ماینونو یا د تعبیه شوي ماینونو (IED) پیښې (26) سره د دغه پیښو ډیره برخه وه، چې د ټولو امنیتي پیښو 79% برخه جوړوي.[103]

پداسي حال کې چې د تیرې ربعې په پرتله ډیرې امنیتي پیښې راپور شوي، لکه څنګه چې په شکل 3.26 کې ښودل شوي، په ترټولو اخرني راپور ورکولو دوره کې ډیرې ورځې وې، چې په پایله کې د تیرې ربعې په پرتله د پیښو د هرې ورځې اوسط یوڅه راټیټوي.[104] ملګرو ملتونو ووېل چې ډیرې پیښې په سهیلي او ختیځ سیمو کې راپور شوي چې په کندهار، ننګرهار، غزني، هلمند او کنړ کې د ټولو امنیتي پیښو 44.5% ترسره شوي دي.[105]

ملګرو ملتونو راپور ورکړی چې پدې کې په یو شمیر ولایتونو کې د ولسوالیو مرکزونو نیولو لپاره د دولت ضد عناصرو هڅې وې. په افغانستان کې د 364 ولسوالیو څخه د اوه ولسوالیو مرکزونه نیول شوي، د تیرو کلونو څخه د پام وړ لوړه شمیره، چې د راپور ورکولو دورې په جریان کې پنځه مرکزونه بیرته د ANDSF لخوا نیول شوي دي.[106]

**امنیتي پیښې:** راپور شوي پیښې چې پکې وسله والې نښتې، د سرک غاړې ماینونه، هدفي وژنې، انسان تښتول، ځان مرګي بریدونه، جرمي فعالیتونه، او ګواښونه شامل دي. حتمي نده چې راپور ورکړل شوي پیښې واقعیی پیښې وي.

سرچینه: سیګار، د ملګرو ملتونو عمومي منشي راپور، *په افغانستان کې اوضاع او د نړیوالې سولې او امنیت لپاره یې مفهوم*، *تحلیلونه*، 12/9/2014، مخ 6.

شکل 3.26

**په هره ورځ کې د راپور شوي امنیتي پېښو اوسط شمېره**




**د مودې په جریان کې ټولټال پېښې**

| | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 6,096 | 5,033 | 5,075 | 5,199 | 5,456 | 5,864 | 4,649 | 5,284 | 5,922 | 4,267 | 3,783 |

سرچینه: ملګري ملتونه، د عمومي منشي راپور، *په افغانستان کې اوضاع او د نړیوالي سولې او امنیت لپاره یې مفهوم*، 9/1/2015، 6/10/2015، مخ 4؛ 2/27/2015، مخ 4؛ 12/9/2014، مخ 5؛ 9/9/2014، مخ 6؛ 6/18/2014، مخ 5؛ 3/7/2014، مخ 5؛ 12/6/2013، مخ 6؛ 9/6/2013، مخ 6؛ 6/13/2013، مخ 5؛ او 3/5/2013، مخ 5.

ملکیان لاهم د ډېرى بریدونو ښکار ګرځي؛ له مى 1 څخه د جولاى تر 31 پورې یوناما 2,985 ملکي مرګ ژوبله (934 وژل شوي او 2,051 ټپي شوي دي) مستند کړې.[107] ملګرو ملتونو راپور ورکړى چې د یوناما لخوا په 2009 کال کې د ملکي مرګ ژوبلې د ثبت کولو له پیل راپدیخوا د 2015 اګست 7 نېټه ترټولو خونړۍ ورځ وه چې 355 ملکي مرګ ژوبله (42 مړینه او 313 ټپیان) یې درلوده.[108] یوناما د ملکي مرګ ژوبلې 78% د 2015 کال لومړۍ نیمایی کې د ځانمرګي او پیچلي بریدونو څخه د دولت ضد عناصرو ته نسبت ورکوي.[109]

**پیچلى برید:** یو وړاندوینه شوى او همغږى شوى برید چې پکې ځان وژونکې وسیله شامل وي، لېترلږه یوبل ډول وسیله، او له یو څخه ډیر بریدګر پکې دخیل وي. د یوه برید لپاره چې پیچلى ملاحظه شي دغه درې واړه عناصر باید پکې شتون ولري.

یادونه: د امریکا دفاع وزارت د "پیچلي برید" تعریف کې ځان وژونکې وسیلې ته اړتیا نشته.

سرچینه: یوناما، "د افغانستان د 2015 د نیمایی کال راپور، په وسله وال شخړو کې د ملکیانو محافظت،" 8/2015.

## د دفاع وزارت څه دبره یوکال بې له تایید شوي وزیر څخه کار ته دوام ورکړى

د افغانستان دفاع وزارت له 2014 سپتمبر 29 راپدیخوا، کله چې غني لوړه وکړه، تایید شوى وزیر نلري.[110] د 2015 جولاى په 4 افغان پارلمان د دفاع وزارت لپاره د ولسمشر غني دریم نوماند معصوم ستانکزى رد کړ، هغه د میی میاشتې راپدیخوا د سرپرست وزیر په توګه کار کوي.[111] د دفاع وزارت لپاره دوهم نوماند د پارلمان د رایى ورکنې مهالویش کولو دمخه د 2015 اپریل په 8 له نوماندۍ لاس په سر شو. غني د ملي امنیت شورا کې نظامي مشاور جنرال محمد افضل لودین د اپریل په 6 ونوماو.[112] په هرصورت، جنرال لودین وویل هغه نه غواړي نوماندي یې په هیواد کې د تفرقې لامل شي.[113] لدې

## د دفاع سرپرست وزير معصوم ستانکزی

| | |
|---|---|
| **د وزير** | په توګه تاييدي رد شوی؛ د 2015 مۍ له 21 نيټي راهيسي د سرپرست وزير په توګه خدمت کوي. |
| **مليت** | پښتون |
| **قوم** | ستانکزی |
| **د ولسمشر اشرف غني** | لخوا نومول شوی |
| **تجربه** | - د متحده اياالتو د سولي انسټيټيوټ کې د جينيک رانډولف افغانستان زده کونکی<br>- د سولي عالي شورا رييس<br>- د افغانستان د سولي او بياپخلايني برنامي اجرايوي رييس |
| **شاليد** | د سولي عالي شورا پخواني چارواکي او د افغانستان د سولي او بياپخلايني برنامي اجرايوي رييس په توګه، وزير ستانکزی د طالبانو سره د سولي خبرو کي يو حتمي اړخ و. په 2011 کي ستانکزی په يوه ځانمرګي بريد کي خورا جدي ټپي شوی و چې په دغه بريد کې د سولي عالي شورا مشر برهان الدين رباني هم وژل شوی و. |



**د دفاع سرپرست** وزير معصوم ستانکزی
(د کوربر فاونډيشن عکس د مارک ډارچينګر لخوا)

سرچينه: افغان بيوګرافياني، ستانکزی، معصوم، 6/19/2015؛ پژواک *افغان نيوز*، "ستانکزی د يرغل ستراتيژی بدلون غواړي،" 9/21/2015؛ *طلوع نيوز*، "پارلمان ستانکزی د دفاع وزير په توګه رد کړ،" 7/4/2015؛ *طلوع نيوز*، "غني ستانکزی د دفاع وزارت ته نوماند کړ،" 5/21/2015؛ USIP، "د افغان ولسمشر کرزي مشاور، د USIP مخکينی مل، د انسټيټيوټ کارمندانو سره مشوره کوي،" 1/11/2013؛ د RS خبرونه، "وزير ستانکزی: د افغانستان راتلونکی روښانه دی،" 5/12/2011.

مخکې په جنوري کې وکيلانو د ولسمشر لخوا دفاع وزارت ته نومول شوی د افغان ملي اردو لوی درستيز جنرال شيرمحمد کريمي ته د باور رايی ورنکړه.[114]

## د امريکا دفاع وزارت سيګار ته د USFOR-A ورکړي معلوماتو بياکتنه کوي

پدې ربع کې د امريکا دفاع وزارت سيګار ته خبر ورکړ چې دغه وزارت به د متحده اياالتو مرکزي قوماندې (CENTCOM)، پشمول د USFOR-A او CSTC-A لخوا د سيګار درې مياشتني راپور مسودو په اړه ورکړل شوي نظرياتو ته ځوابونه ترلاسه کړي، بياکتنه به يې وکړي او راټول به يې کړي. په تيرو وختونو کې سيګار د خپلو مسودو په اړه د CENTCOM نظرونه ترلاسه کړي و چې قوماندې درست قضاوت کړی دی. سيګار انديښمن دی چې د مدغم سپارلو ترلاسه کول به د CENTCOM اصلي سپارنو څخه معلوماتي ارزښت کم کړي، او د بدلون اغيزه به نظارت کړي.[115]

## په افغانستان کې د متحده اياالتو ځواکونه

د USFOR-A په وينا، د 2015 اګست تر 22 نيټي پورې د متحده اياالتو ځواکونو شاوخوا 8,550 سرتيري په افغانستان کې په خدمت بوخت و او شاوخوا 7,000 پرسونل د نورو ايتلافي هيوادونو څخه ول.[116] په افغانستان کې په دندو بوخت د متحده اياالتو ځواکونو څخه شاوخوا 3,550 د RS ماموريت ته ګومارل شوي دي.[117]

په 2015 جنوري 1 کې د RS ماموريت له پيل راهيسي د متحده اياالتو 11 پرسونل په محاربه کې وژل شوي او د متحده اياالتو د اردو 50 پرسونل په محاربه کې ټپيان شوي دي. سربيره پردې، د امريکا دفاع وزارت 17 ملکيان يا قراردادیان د دندو په جريان کې وژل شوي او اووه يې ټپيان شوي دي.[118] پدې کې د 2015 اکتوبر په 1 نيټه په جلال اباد کې د C-130 الوتکې راپرځيدو له امله د متحده اياالتو د خدمت شيږ غړو او پنځه ملکي قراردادیانو له لاسه ورکول شامل دي.[119]

په 2015 کې د متحده ایالاتو ځواکونو پروړاندې پنځه دنني یا داخلي بریدونه ترسره شوي دي، چې پکې درې سرتيري وژل شوي او 15 نور ټپیان شوي دی. د 2015 په جریان کې د یوه داخلي برید له امله د متحده ایالاتو درې ملکي قراردادیان وژل شوي او یو یې ټپي شوی دی.[120]

د 2015 سپتمبر په 22 د ګرجستان یو سرتیری وژل شوی چې د RS ماموریت له پیل کیدو راهیسې په افغانستان کې د بهرنیو ځواکونو وژل شوي سرتیرو شمیر (پشمول د متحده ایالاتو) 12 ته رسوي. د ګرجستان جمهوریت د متحده ایالاتو وروسته د ناټو تر مشرۍ لاندې د RS ماموریت ترټولو لوی ګډون کونکی دی.[121]

د 2015 اکتوبر په 1 تورن جنرال ګارډن ډیویس په کابل کې د یوې لمانځغونډې په ترڅ کې د تورن جنرال تود سیمونیټ څخه د CSTC-A مشري په غاړه واخیستله.[122]

"هیڅ څوک نشي کولی د نیسیر سره استدلال وکړي چې احساس کوي پرمختګ باید ګړندی وي، مګر موږ اړتیا لرو دغه د اوږدې مودې لید سره تقویت کړو، ترڅو هغوی اتل کړو څوک چې پوهیږي چې بریا د ننګونو سره تر لاسه کیږي او دوی د ستراتيژیک زغم سره په لاسو کې ونیسو ترڅو د ټیکاو لرونکي پرمختګ ملاتړ وشي."

*تورن جنرال تود سیمونیټي، د CSTC-A تلونکی قوماندان*

سرچینه: د RS خبرونه، "د ګډ امنیتي لیږد قوماندانۍ – افغانستان نوي قوماندان ته ښه راغلاست وایی،" 10/1/2015.

## د ANDSF ځواک یوځه کم دی

د USFOR-A په وینا پدې ربع کې د ANDSF ګومارل شوی ځواک 324,716 (پشمول د ملکیانو) و. لکه څنګه چې په جدول 3.6 کې ښودل شوي، دا د ANDSF د 360,004 پای ځواک 90.2% دی، چې پکې د دفاع وزارت ملکي کارمندان هم حسابیږي. (معمولا د 352,000 پرسونل د پای ځواک کې د دفاع وزارت ملکي پرسونل شامل ندي). د نوي ګومارل شوي ځواک شمیر له 2015 میی راهیسې د 7,228 کمښت او له 2015 فبروري څخه د 4,089 کمښت په ګوته کوي.[123] لکه څنګه چې د راتلونکي مخ جدول 3.7 کې ښودل شوي، پدې ربع کې د ANA ځواک 342 کم شوي، پداسې حال کې چې د ANP ځواک 6,886 کم شوی.[124] په هرصورت، د ANP ځواک کې 5,788 کموالی د CSTC-A یوه تفتیش په تعقیب ثبتونو کې شوي سمونونو له امله و؛ د نورو معلوماتو لپاره د دې برخې پانه 108 وګورئ. سیګار له اوږدې مودې راهیسې د ډیرو دلایلو لپاره د افغانستان امنیتي پرسونل د شمیرو اعتبار او معتبریت تر پوښتنې لاندې راوستی (د *متحده ایالاتو لپاره د سیګار* د اپریل 2015 *درې میاشتنی راپور* کې "د ANSF تر پوښتنې لاندې شمیرې په افغانستان کې جګړه پیچلې کوي"، مخونه 3–15 وګورئ). د ANA پرسونل ځواک وروستي بې ارزښته راپور ورکولو کې دغه ځواک د جګړې فصل په جریان کې کم شوی او د ANP پرسونل ځواک معلوماتو سره له پوښتنې پرته مسایل هیڅ داسې کوم علایم نلري چې وښیي معلومات لانور د اعتبار وړ شوي دي.

جدول 3.6

| د ANDSF ګومارل شوي ځواک شمیر، جولای 2015 | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| **د ANDSF برخې** | **تصویب شوي پای – د هدف لاندې نیول شوي د پای شمیره** | **د هدف نیټه** | **د 2015 جولای پورې اوسني ګومارل شوي** | **د هدف له مخې جواز % (سلنه)** | **د اوسني ګومارل شوي او د تصویب شوي پای – د هدف لاندې نیول شوي د پای شمیرې ترمنځ توپیر** | **توپیر (%)** |
| افغان ملي اردو پشمول د افغان هوای ځواک[a] | 195,000 | دسمبر 2014 | 160,461 | %82.3 | (34,539) | (%17.7) |
| ANA او د AAF ملکي پرسونل | 8,004 | - | 7,048 | %88.1 | (956) | (%11.9) |
| **ANA + AAF ټولټال** | **203,004** | | **176,420** | **%86.9** | **(26,584)** | **(%13.1)** |
| افغان ملي پولیس | 157,000 | فبروري 2013 | 148,296 | %94.5 | (8,704) | (%5.5) |
| **ANDSF ټولټال د ملکي پرسونل سره** | **360,004** | | **324,716** | **%90.2** | **(35,288)** | **(%9.8)** |

یادونه: ANA = افغان ملي اردو؛ AAF = افغان هوایی ځواک؛ ANDSF = افغان د ملي دفاع او امنیت ځواکونه.
[a] د افغان ملي اردو او افغان هوای ځواک شمیرې د افغان ملي اردو پشمول د افغان هوای ځواک راپور ورکړل شوي ټولټال شمیر سره مساوي ندی. زده کونکي، لنډمهاله، دایمي او شاګردان (TTHS) ممکن د غیر تلفیق شوي 8,911 پرسونل توپیر ټول یا یوې برخې استازیتوب وکړي.

سرچینه: د امریکا دفاع وزارت، *په افغانستان کې د امنیت او ثبات په لور د پرمختګ په اړه راپور*، 12/2012، مخ 56؛ USFOR-A، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 9/11/2015.

جدول 3.7

**د ANDSF ګومارل شوي ځواکونو شمیر، فبروري 2014 – جولای 2015**

| | 2/2014 | 5/2014 | 8/2014 | 11/2014 | 2/2015 | 5/2015 | 7/2015 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ANA په شمول د AAF | 184,839 | 177,489 | 171,601 | 169,203 | 174,120 | 176,762 | **176,420 |
| ANP | 153,269 | 152,123 | 153,317 | *156,439 | 154,685 | 155,182 | 148,296 |
| **ټولټال ANDSF** | **338,108** | **329,612** | **324,918** | **325,642** | **328,805** | **331,944** | **324,716** |

یادونه: ANA = افغان ملي اردو؛ AAF = افغان هوایی ځواک؛ ANP = افغان ملي پولیس؛ ANDSF = افغان د ملي دفاع او امنیت ځواکونه. د افغان ملي اردو او هوایی ځواک شمیرو کې ملکي پرسونل هم شامل دي؛ د ANP لپاره شته معلومات نه په ګوته کوي چې ایا ملکي پرسونل پکې شمیرل شوي یا نه.
* د 2014 نومبر کې د ANP راپور شوې شمیرې داسې ښکاري چې د افغان یونیفارم پولیس ځیني یې دوه ځل حساب کړي وي؛ واقعیی شمیره ممکن 151,272 وي.
**د افغان ملي اردو او افغان هوای ځواک ملاتړي غړو شمیر د هغه ټولټال سره مساوي ندی چې افغان ملي اردو د افغان هوای ځواک پشمول جولای 2015 کې راپور ورکړی؛ زده کونکي، لنډمهاله، دایمي، او شاګردان (TTHS) ممکن د ناشامل شمیر ټولو یا یوې برخې استازیتوب وکړي.

سرچینه: CSTC-A، د سیګار د معلوماتو غوښتنو ته ځوابونه، 7/1/2014، 3/31/2014، او 10/6/2014؛ RS، د وضاحت لپاره د سیګار غوښتني ته ځواب، 3/14/2015؛ USFOR-A، د سیګار ارزونو ته ځوابونه، 4/10/2015 او 7/12/2015؛ USFOR-A، د سیګار د معلوماتو غوښتنو ته ځوابونه، 6/29/2015، 3/24/2015، 12/28/2014 او 9/11/2015.

پدې ربع کې د قل اردو په کچه او لدې ټیټو کچو کې د ANDSF ځواک شمیر توضیحات محرم پاتې ول. د همدې لپاره به سیګار پدې اړه د دې راپور یوې محرم ضمیمه کې راپور ورکړي.

## د ANDSF ځواک کمیدل دوام لري

د دفاع او کورنیو چارو وزارت لخوا RS ته چمتو راپورونو په وینا د ANDSF د ځواک کمیدو کچه دوام لري. افغان ملي اردو د 2015 جولای کې د ځواک میاشتني کمیدو 2.4% کچه درلودله چې د مۍ میاشتې 2.3% څخه لوړه ده؛ او په 2013 کې د 3.52% او په 2014 کې 3.62% څخه په هره میاشت کې یو سلنه ډیر د ځواک کمیدل چې افغان ملي اردو ورسره مخ وه.[125] د راپورونو له مخې د افغان ملي پولیسو د ځواک کمیدو کچه له مۍ څخه تر جولای پورې په 1.9% کې وه.[126] پدې ربع کې USFOR-A راپور ورکړ چې RS نور د ځواک میاشتني کمیدو موخه نه تعقیبوي. د نورو معلوماتو لپاره د دې برخې پاڼه 101 وګورئ.

## USFOR-A د MAAR ارزوني پروسه روښانه کوي

د تیرو دوه ربعو په جریان کې سیګار د ANDSF د ارزوني میاشتني راپور (MAAR)، د ارزوني یو نوي توکي په کارولو سره د ANA، افغان یونیفارم پولیس (AUP)، افغان د پولو ساتني ځواک (ABP)، او د عملیاتو د همغږۍ مرکزونه – سیمه ییز (OCC-Rs) د ارزونو په اړه راپور ورکړی. لکه څنګه چې د ANDSF ارزوني لپاره تیر سیستمونه ول، سیګار وموندل چې MAAR د ANDSF د وړتیا یو روښانه انځور نه وړاندې کوي. پدې ربع کې USFOR-A سیګار خبر کړ چې د ANDSF قطعاتو لپاره د هر اړخیزې ارزوني په موخه د MAAR کارول ناسم دي، څکه چې MAAR د ANDSF ساحوي دریځ مخکیني راپور ورکولو څخه خورا ډیر توپیر لري. USFOR-A درې دلایل وړاندې کوي:[127]

- MAAR یوازې د ANA د شپږ قل اردو ګانو قومنداني، د ولایتي ABP او AUP شپږ قوماندانیو عناصر، او د ANCOP قوماندانی ارزوي، پداسې حال کې چې د ANA یا ANP قل اردوګاني، کنډکونه یا د ټیټې کچې عملیاتي قطعات نه ارزوي.
- د MAAR د ارزوني کټګورۍ په مساوي توګه نه سنجول کیږي. ځیني کټګوري د نورو کټګوریو په پرتله د قطعي بشپړې وړتیا سره همکاري کوي، نو پدې توګه د درجه ورکووني پرته له سنجش څخه اوسط ایستل مناسب ندي.

- د MAAR ارزوني پروسه د وخت په تیریدو او سیمو له مخي توپیر لري، چي دا د ارزوني بشپړتیا، اعتبار، او دقت کي د توپیرونو پایله لري او په کلکه د یو په یو پرتله کولو مخه نیسي.

USFOR-A راپور ورکړی چي روزنه، مشوره او مرسته د قل اردو گانو/پولیسو قوماندانی په کچه د لږ شمیر مشاورینو لخوا پرمخ وړل شوي څوک چي MAAR کي معلومات دننه کوي. MAAR یو له هغه ډیری وسیلو څخه دی چي د RS لخوا د ایتلاف روزونکو او مشاورینو هڅي لارښود کوي.[128]

سیگار ته د USFOR-A ځواب جدي اندیښنه راولاړه کړي چي متحده ایالات د ANDSF وړتیا او د نوموړي ځواک جوړولو، روزني، تجهیز کولو او تیکاو په موخه د متحده ایالاتو د 65 میلیارده ډالرو پانگوني سنجولو لپاره هیڅ معتبر سیستم نلري.

پدي شرایطو کي سیگار نشي کولی پدي ربع کي د ANA قل اردوگانو یا د پولیسو قطعاتو او د دوی عملیاتي وړتیاو پرمختگ وارزوي. په راتلونکي کي USFOR-A سیگار ته د غیر محرم معلوماتو ورکولو وړاندیز کړی چي "هر اړخیزه ارزونه" چمتو کوي.[129] دا خبره روښانه نه وه چي ولي USFOR-A مخکي دا ډول ارزونه نه چمتو کوله سره لدي چي سیگار په هرو دریو میاشتو کي د ANDSF وړتیا د ارزونو غوښتنه کوي. د نورو کارولو وړ او څیړلو وړ ارزونو په نه شتون کي به سیگار د ارزوني معلومات د USFOR-A لخوا راپور شوي په توگه چمتو کړي.

USFOR-A دا هم وویل چي په تیره ربع کي سیگار ته چمتو شوی MAAR کي د قوماندانیو په کچه منعکس شوي کمیدني د جگړي فصل د پام وړ فشارونو ته د نسبت ورکول کیدی شي. ANDSF د جگړي فصل کي په یو شمیر برخو کي د کمښت سره مخ شو، مگر په ځینو برخو کي بیرته د رغیدو په حال کي دی ځکه چي دوی تجربه ترلاسه کوي. نوري برخي به تر هغه وخت پوري بیرته ونه رغول شي چي د جگړي فصل دوام لري ځکه چي بیا دغه وخت به ANDSF وخت ولري ترڅو وکولی شي خپل ځواک له سره ورغوي.[130]

د 2015 اکتوبر په 6 د سنا وسله وال خدمتونو کمیتي ته د خپلي وینا په لړ کي جنرال کمپبیل په کندز کي جگړه شرح کړه او د ANDSF ډیری تشو باندي یي تاکید وکړ: د اطلاعاتو شریکولو کي ضعف، د متقابل همغږۍ نه شتون، او د ځواک ناسم کارول.[131] هغه وویل د افغانستان هري برخي خوندي ساتلو لپاره د محاربوي ځواک او شمیر پرته ANDSF په لنډمهاله ډول د طالبانو لخوا د سیمو نیولو وړتیا پروراندي جگړه کي ستونزه لري، هغوی د لندي مودي لپاره دغه سیمي نیسي او کله چي د ANDSF متقابل برید سره مخ شي نو بیرته په ځای خلکو کي ځان ورگډوي.[132] جنرال وویل ANDSF اړتیا لري په تاکتیکي او عملیاتي سطح د خپلو ځواکونو غبرگون ښودل، د انعطاف وړتیا او چمتو والی پرمختللی کړي. هغه اضافه کړه د ANDSF مشران اړتیا لري غوره تشخیص وکړي چي کله باید برید وشي، کله دفاع وشي او چیري خطر وانگیرل شي.[133] هغه وویل، اوس نو کله چي ANDSF خپل عملیات په مشوره پلان کوي او د امنیتي ارکانونو په اوږدو کي همغږي کوي نو دوی پایلي ترلاسه کوي.[134]

"دوی (ANDSF) د هیواد هري برخي محافظت کولو لپاره لازم محاربوي قوت او شمیر نلري."

— جنرال جان ایف. کمپبیل، د *RS* او *USFOR-A* قوماندان

*سرچینه: د سنا د وسله وال خدماتو کمیته، په افغانستان کي د اوضاع په اره د سنا وسله وال خدماتو کمیټي پروراندي د متحده ایالاتو ځواکونه – افغانستان قوماندان جنرال جان ایف. کمپبیل بیان،* 10/6/2015.

## په افغانستان کي د کنټرول سنجول

ملگرو ملتونو راپور ورکړی چي پداسي حال کي چي ANDSF د ولسوالیو مرکزونو اکثریت برخو باندي قاطع کنټرول لري، د دولت ضد عناصر او نور غیرقانوني وسله وال گروپونه په ډیری کلیوالو سیمو کي د خلکو گواښلو ته دوام ورکوي.[135] هغه سیمي چي د ترهگرو لپاره خوندي ځاینونه یا د

**خونډي ځای:** هغه ساحه چيرې چې ترهګر په مؤثر ډول خلکو باندې اغيزه لرې او د افغان دولت محدود شتون له امله د تګ راتګ غير محدود آزادي ولري.

**د فعاليت ساحه:** هغه ساحه چيرې چې ترهګر په فعال ډول د افغان دولت کنټرول سره جګړه کوي ترڅو خلکو باندې اغيزه ولري او د تګ راتګ آزادي ترلاسه کړي.

سرچينه: USFOR-A، د سيګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 9/6/2015.

هغوی فعاليت سيمو په توګه نده ارزول شوي هغه د افغان دولت تر کنټرول لاندې سيمې په نظر کې نيول کيږي.[136]

## د دفاع او کورنيو چارو وزارتونو لخوا د پرله پسې دوهمې ربعې لپاره د RS ټيټ توقوعات

پدې ربع کې RS خپلې وړاندويني کره کړې لکه څنګه يې چې په تيره ربع کې د دفاع او کورنيو چارو وزارتونو لخوا د 2016 تر پای پورې ترلاسه کيدونکو ظرفيت کچوتوقعات ټيټ کړي ول.[137]

USFOR-A راپور ورکړی چې د فعاليت چاپيريال کې بدلونونو له امله، د لازمي فعاليت (EF) دفترونو پلانونو باندې له سره تمرکز کړی او د ماموريت د پای وړاندوينه يې له سره ارزولې ده. اوس RS وړاندوينه کوي چې په 2016 کې د دوی د ماموريت پای ته رسيدو سره، تمه کيږي د دفاع وزارت 69% فعاليتونه بايد ټيکاو لرونکي يا بشپړ وړ وي (ترټولو لوړه او دوهمه لوړه درجه)، په تيرو دوه ربعو کې د 74% او 90% وړاندوينو څخه ټيټ. په ورته توګه د کورنيو چارو وزارت لپاره هم د ټيټو توقعاتو وړاندوينه شوې، چيرې چې تمه کيږي 57% فعاليتونه بايد "ټيکاو لرونکي" يا "بشپړ وړ" وي چې د تيرو ربعو 68% او 86% وړاندوينو څخه ټيټ و.[138]

د RS EF هر رياست او د جنډر چارو دفتر په هر وزارت کې د دفترونو د لازمي فعاليت ظرفيتونو يا وړتياو ارزولو لپاره د اقدام او مرحلو د لازمي فعاليت پلان (POAM) کاروي.[139] دغه مرحلې په جدول 3.8 کې ښودل شوي د پنځه مرحلو درجه ورکولو سيستم پراساس ارزول کيږي.[140] بيا د رياست يا څانګې مکمل ارزوني ټاکلو لپاره دغه د مرحلو ارزوني سره ترکيب کيږي. له بل پلوه په بشپړ ډول د وزارت ارزوني ټاکلو لپاره د ټولو رياستونو ارزوني سره ترکيب کيږي.[141]

پدې ربع کې RS د ارزوني پروسې لاندې د وزارت ظرفيت او وړتياو EF-2 (روڼتيا، حساب ورکول، او څارنه) رامينځته کولو لپاره اړينو مرحلو شمير څخه يوه کمه کړې.[142] دا د دفاع وزارت لپاره د ارزوني ټولټال مرحلو شمير له 46 څخه 45 ته او د کورنيو چارو وزارت لپاره له 38 څخه 37 ته راکموي.[143]

پنځه درجې هغه درجه منعکس کوي په کوم چې افغان سيستمونه پرځای دي، فعاليت کوي، او په مؤثر ډول کارول کيږي. تر ټولو لوړه درجه "ټيکاو لرونکي وړتيا" ښيي چې افغان وزارت کولی شي څانګړی ماموريت يا فعاليت د ايتلاف مشورې يا مداخلې پرته ترسره کړي.[144] تر دې ربعې پورې نه د دفاع وزارت او نه هم کورنيو چارو وزارت هيڅ کوم لازمي فعاليت د "ټيکاو لرونکي وړتيا" درجه نده ترلاسه کړې، په هرصورت، د دفاع وزارت دوه EF-5 (ټيکاو) مرحلې او د کورنيو چارو وزارت څلور مرحلې ـ دوه په EF-4 (د ځواک توليد) او دوه په EF-5 کې د "بشپړ وړ" درجه ترلاسه کړې، لکه څنګه چې په جدول 3.8 کې ښودل شوي دي.[145]

پدې ربع کې، د RS ارزونه په ګوته کوي چې د دفاع وزارت خپل د "بشپړ وړ" او "تر يو ځای کچې وړ" پراختيا مرحلو سلنه د تيرې ربعې 37% څخه 55.6% ته لوړه کړې ده. د کورنيو چارو وزارت درجه هم لوړه شوې ده، چې د تيرې ربعې 36.8% په پرتله د "بشپړ وړ" او "تر يو ځای کچې وړ" پراختيا مرحلو 59.5% سلنه ده.[146]

د RS اوسنی ارزوني مطابق، د دفاع وزارت يوه د EF-7 (اطلاعات) مرحله د دوهمې مسلسل ربعې لپاره د "نده طرح شوې" درجه کې پاتې ده.[147] او د EF-8 (ستراتيژيک ارتباطات) درې مرحلې د

جدول 3.8

**د 2015 تر اګست پورې د ناټو سیستم په کارولو سره د وزارت ارزونه**

| د درجه ورکولو معنی | EF-1 | | | EF-2 | | | EF-3 | | | EF-4 | | | EF-5 | | | EF-6 | | | EF-7 | | | EF-8 | | | جندر | | | تولټال | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | ربع2 | ربع3 | +/- | ربع2 | ربع3 | +/- | ربع2 | ربع3 | +/- | ربع2 | ربع3 | +/- | ربع2 | ربع3 | +/- | ربع2 | ربع3 | +/- | ربع2 | ربع3 | +/- | ربع2 | ربع3 | +/- | ربع2 | ربع3 | +/- | ربع2 | ربع3 | +/- |
| **د دفاع وزارت د ارزول** | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| درجه 5<br>د ټيکاو درلودو ورتيا | 0 | 0 | = | 0 | 0 | = | 0 | 0 | = | 0 | 0 | = | 0 | 0 | = | 0 | 0 | = | 0 | 0 | = | 0 | 0 | = | 0 | 0 | = | **0** | **0** | **=** |
| درجه 4<br>بشپړ ور/مؤثر | 0 | 0 | = | 0 | 0 | = | 0 | 0 | = | 0 | 0 | = | 0 | 2 | + | 0 | 0 | = | 0 | 0 | = | 0 | 0 | = | 0 | 0 | = | **0** | **2** | **+** |
| درجه 3<br>يو څه ور/مؤثر | 1 | 2 | + | 0 | 0 | = | 3 | 4 | + | 2 | 5 | + | 8 | 9 | + | 1 | 1 | = | 2 | 2 | = | 0 | 0 | = | 0 | 0 | = | **17** | **23** | **+** |
| درجه 2<br>پيل شوي (د پراختيا په حال کې) | 3 | 4 | + | 3 | 4 | + | 1 | 0 | - | 4 | 1 | - | 4 | 1 | - | 2 | 2 | = | 1 | 1 | = | 0 | 0 | = | 0 | 2 | + | **18** | **15** | **-** |
| درجه 1<br>طرح شوي/تصويب شوي | 2 | 0 | - | 2 | 0 | - | 0 | 0 | = | 0 | 0 | = | 0 | 0 | = | 0 | 0 | = | 0 | 0 | = | 3 | 3 | = | 1 | 1 | = | **8** | **4** | **-** |
| درجه 0<br>ندي طرح شوي/تصويب شوي ندي | 0 | 0 | = | 0 | 0 | = | 0 | 0 | = | 0 | 0 | = | 0 | 0 | = | 0 | 0 | = | 1 | 1 | = | 0 | 0 | = | 2 | 0 | - | **3** | **1** | **-** |
| **د EF تولټال** | **6** | **6** | **=** | **5** | **4** | **-** | **4** | **4** | **=** | **6** | **6** | **=** | **12** | **12** | **=** | **3** | **3** | **=** | **4** | **4** | **=** | **3** | **3** | **=** | **3** | **3** | **=** | **46** | **45** | **-** |
| **د کورنيو چارو وزارت د ارزول** | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| درجه 5<br>د ټيکاو درلودو ورتيا | 0 | 0 | = | 0 | 0 | = | 0 | 0 | = | 0 | 0 | = | 0 | 0 | = | 0 | 0 | = | 0 | 0 | = | 0 | 0 | = | 0 | 0 | = | **0** | **0** | **=** |
| درجه 4<br>بشپړ ور/مؤثر | 0 | 0 | = | 0 | 0 | = | 0 | 0 | = | 1 | 2 | + | 0 | 2 | + | 0 | 0 | = | 0 | 0 | = | 0 | 0 | = | 0 | 0 | = | **1** | **4** | **+** |
| درجه 3<br>يو څه ور/مؤثر | 1 | 3 | + | 0 | 0 | = | 0 | 2 | + | 2 | 2 | = | 8 | 9 | + | 2 | 2 | = | 0 | 0 | = | 0 | 0 | = | 0 | 0 | = | **13** | **18** | **+** |
| درجه 2<br>پيل شوي (د پراختيا په حال کې) | 4 | 3 | - | 1 | 2 | + | 4 | 2 | - | 1 | 0 | - | 4 | 1 | - | 0 | 0 | = | 3 | 3 | = | 0 | 0 | = | 0 | 2 | + | **17** | **13** | **-** |
| درجه 1<br>طرح شوي/تصويب شوي | 1 | 0 | - | 3 | 1 | - | 0 | 0 | = | 0 | 0 | = | 0 | 0 | = | 0 | 0 | = | 0 | 0 | = | 0 | 0 | = | 2 | 1 | - | **6** | **2** | **-** |
| درجه 0<br>ندي طرح شوي/تصويب شوي ندي | 0 | 0 | = | 0 | 0 | = | 0 | 0 | = | 0 | 0 | = | 0 | 0 | = | 0 | 0 | = | 0 | 0 | = | 0 | 0 | = | 1 | 0 | - | **1** | **0** | **-** |
| **د EF تولټال** | **6** | **6** | **=** | **4** | **3** | **-** | **4** | **4** | **=** | **4** | **4** | **=** | **12** | **12** | **=** | **2** | **2** | **=** | **3** | **3** | **=** | **0** | **0** | **=** | **3** | **3** | **=** | **38** | **37** | **-** |

يادونه: EF = لازمي فعاليت؛ ASI = افغان امنيتي نهادونه؛ EF1 = د څو کلونو بودجه جوړول او اجراکول؛ EF2 = روڼتيا، حساب ورکول او څارنه؛ EF3 = د ASI ملکي حکومتولي؛ EF4 = د ځواک توليد؛ EF5 = پياوړتيا؛ EF6 = ستراتيژي او پاليسي، پلان جوړول، سرچينه برابرول، او اجرا کول؛ EF7 = اطلاعات (استخبارات)؛ EF8 = ستراتيژيک ارتباطات. Q2 = جون 2015؛ Q3 = 25 اګست، 2015. د EF-2 د درجه ورکولو يوه کټګوري د Q3 2015 لپاره لرې کړل شوې.

سرچينه: USFOR-A، د سيګار د معلوماتو غوښتنو ته ځوابونه، 6/6/2015 او 9/4/2015.

دوهمې مسلسل ربعې لپاره د "پيل شوي" درجې ته ندي رسيدلې. په هرصورت، د EF-4 له شپږ مرحلو څخه پنځه د "تر يوې کچې پورې ور" په توګه ارزول شوي دي.[148]

د کورنيو چارو وزارت کې په تيرو دوه ربعو کې د EF-8 لپاره هيڅ ارزونې ندي ترسره شوي. پداسې حال کې چې EF-5 د اته "تر يوې کچې ور" درجه ورکړل شوي مرحلو او څلور د "پيل شوي" مرحلو څخه پرمختګ کړی چې دوه مرحلې يې "بشپړ ور" او نهه يې "تر يوې کچې ور"، او يوه يې د "پيل شوي" په توګه ارزول شوي دي.[149]

په دواړه دفاع او کورنيو چارو وزارت کې يوازې د جندر د چارو دفتر پرمختګ کړی چې له درې څخه يو يې د "طرح شوي" په توګه پاتې دی.[150]

د لازمي فعالیت دي دورې مهمو ټکو کې شامل دي:[151]

- **EF-1 (د څو کلونو بودجه جوړول او اجرا کول):** د دسمبر 2016 پورې د ALP تر 100% لپاره د ګرځنده پیسو پروګرام پلي کولو MOU مسوده چمتو او د بیاکتنې په حال کې ده
- **EF-2 (روڼتیا، حساب ورکول او څارنه):** د دفاع وزارت د وزارت دننه کنټرولونو پروګرام د پلي کولو پلان تصویب کړ
- **EF-3 (د ASI ملکي حکومتولي):** د دفاع وزارت د جنایي څیړنو څانګه، عمومي مفتش، او د استخباراتو یا اطلاعاتو دفتر موافق دي چې دواړه د قوماندانیو او د قل اردو په کچه د فساد د همغږۍ اداره رامینځته کړي
- **EF-4 (د خواک تولید):** د EF-6 سره په تړاو کې، د ملي امنیت پالیسي په پراختیا کې د ملي امنیت شورا ته د مشاورینو ملاتړ
- **EF-5 (تیکاو):** د دواړه دفاع او کورنیو چارو وزارتونو د شبکې عملیاتو مرکزونو سره د شبکې همغږۍ شوي زیان لیدني ارزوني او د 25 سیار ترمیم تسهیلاتو ځای په ځای کولو سره د ANA او ANP مرسته
- **EF-6 (ستراتیژي او پالیسي، پلان کول، سرچینه کول او اجرا کول):** د EF-4 سره په تړاو کې، د ملي امنیت پالیسي په پراختیا کې د ملي امنیت شورا ته د مشاورینو ملاتړ
- **EF-7 (استخبارات):** د ANDSF دمخه پلان شوي عملیاتو لپاره د اطلاعاتو شریکولو مرکز رامینځته کول
- **EF-8 (ستراتیژیک ارتباطات):** له 2012 راهیسي د لومړي ځل لپاره د افغان ملي ستراتیژیک ارتباطاتو کاري ډلو د بیا ځرګند کیدو پیل کول
- **د جنډر دفتر:** د شکایاتو کمیسون او د ښځو د څورونې کمیټې پلي کول

## د دفاع او کورنیو چارو وزارتونو د سواد زده کړې روزنې قراردادونه د تدارکاتو ملي کمیسون تصویب ته په تمه دي

پدې ربع کې USFOR-A راپور ورکړ چې د دفاع او کورنیو چارو وزارتونو د سواد زده کړې قراردادونه د بیاکتنې او تصویب لپاره د تدارکاتو ملي کمیسون ته سپارل شوي دي.[152] په ضمن کې وزارتونو د روزنې سیمه ییز مرکزونو کې د روزونکو - د روزنې فارغ شوي ښوونکو څخه په ګټه پورته کولو د سواد زده کړې روزنې ته دوام ورکوي.[153] USFOR-A راپور ورکوي چې د افغان ملي اردو او افغان ملي پولیسو ټول افسران او بریدملانو څخه تمه کیږي چې سواد ولري ترڅو پخپلو بستونو پاتې شي.[154] د افغان ملي اردو د پالیسي له مخې افسر باید بشپړ سواد لرونکی وي ـ لوست او لیک وکړی شي، او د یوې موضوع آند درک کړی شي ـ او بریدملان باید د لیک او لوست وړتیا ولري.[155]

## افغان سیمه ایز پولیس

د افغان سیمه ایز پولیس (ALP) غړي چې د "ساتونکو" په توګه پیژندل کیږي، ځایی اوسیدونکي دي چې د کلي مشرانو یا ځایی واک لرونکو لخوا د ترهګرۍ پروړاندې د خپلو ټولنو خوندي کولو، د تسهیلاتو ساتلو او د ترهګرۍ سره د مبارزې لپاره سیمه ایزو عملیاتو پر مخ وړو لپاره ګومارل شوي دي.[156] په 2015 جون 15 کې ALP د AUP قوماندې او کنټرول لاندې راغی. په هرصورت، ALP به

> "ALP لکه د نور ANDSF په څیر ښه ندي مجهز شوي یا روزل شوي. دوی ډیری ځله په لرې امنیتي پوستو کې د ANP په توګه غلط ګومارل شوي دي حتی که څه هم دوی یوازې خپلو ځای کلو کې باید فعالیت وکړي."
>
> *جنرال جان ایف. کمپبیل، د RS او USFOR-A قوماندان*

*سرچینه: د سنا د وسله وال خدماتو کمیټه، په افغانستان کې د اوضاع په اره د سنا وسله وال خدماتو کمیټي پروړاندې د متحده ایالاتو څواکونه – افغانستان قوماندان جنرال جان ایف. کمپبیل بیان، 10/6/2015.*

د AUP تشکيل کې جذب نشي (نهادي ځواک) او حتی که څه هم AUP د ANP قطعاتو څخه يوه ده، د ALP تشکيل به د ANP ټولټال مجاز ځواک څخه مستقل پاتې شي.[157]

په هرصورت د 2015 اګست تر 26 پورې ALP خپل د 30,000 ساتونکو هدف ندی پوره کړی. د ناټو ځانګړي عملياتو قطعي قوماندانی – افغانستان (NSOCC-A) په وينا، ALP د 28,073 پرسونل درلودونکی دی چې لدغه شمير څخه 21,889 بشپړ روزل شوي دي.[158] دا د 2015 مې 24 راهيسی له 25,179 څخه کم دي کله چې ALP د 28,356 پرسونل درلودونکی و.[159] NSOCC-A راپور ورکوي چې نور د ALP پرسونل وضعيت په اړه مستقيم پوهه نلري او د افغان ادارو راپورونو پورې وابسته دی. افغانان راپور ورکوي چې د 2015 لومړيو اوه مياشتو کې د ALP%2.2 ساتونکي په جګړه کې وژل شوي او %2.3 ټپيان شوي دي، او 0.09 معيوب شوي؛ چې د ځواک ټولټال کميدو کچه %11.9 ده. پداسي حال کې چې د ALP تر %93 غړي خپل قراردادونه نوي کوي.[160]

NSOCC-A اټکل کوي چې د ALP د هدف له مخې ټاکل شوي ټولټال ځواک ساتلو کلنی لګښت 117 ميليون ډالر دی؛ چې متحده ايالات يې د ASFF تر 112.5 ميليون ډالرو پورې مرسته ورکوي او پاتې برخه يې افغان دولت تمويل کوي.[161] د اټکل شوي مقدار څخه 469.7 ميليون ډالر د امريکا دفاع وزارت د 2015 اګست تر 31 پورې د ALP لپاره مکلف کړي او CSTC-A راپور ورکړی چې 307.9 ميليون ډالر د ASFF څخه و. د کورنيو چارو وزارت ته د ASFF د 45 ميليون ډالرو مصرف په تير جون کې ترسره شوی.[162]

NSOCC-A راپور ورکوي چې AUP ته د ALP ليږد وروسته، AUP د هيواد په کچه د ALP برنامې تفتيش پيل کړی چې پکې د ALP تاکتيکي ګومارنه او د پوستو موقعيتونه شامل دي.[163] پدې کال کې مخکې NSOCC-A د ځارنې عکسونو په کارولو سره د پوستو د موقعيتونو معتبر کولو هڅه وکړه مګر د ايتلاف ځواکونو پرشا کيدو او د درجې يا کورديناټ مآخذ نقطو نه شتون له امله يې محدود لاسرسی درلود.[164] د دغه محدوديتونو په پام کې نيولو سره NSOCC-A وکولی شو چې د 929 پوستو څخه يوازې 271 پوستې تاييد کړي چې لاهم فعالې دي.[165] د AUP په مشرۍ تفتيش د تليفون له لارې د پرسونل د حساب ورکولو سيستمونو، لوژستيک ملاتړ، د معاشاتو توزيع کولو ميتودونو، او د ALP ساتونکو تاکتيکي ګومارنې په برخه کې د ALP 127 ولسوالۍ او 43 اضافي ولسوالی وارزولې.[166] تمه کيږي چې پايله کيدونکي ارزونه او وړانديزونه به د ALP برنامه اصلاح کړي.[167]

يو وړانديز چې AUP د کورنيو چارو وزارت ته کړی هغه دا دی چې هغه غير رسمي مليشه ډلې بې وسلې او منع کړي چې ALP سره يوځای شوي دي. NSOCC-A د مليشه ډلې څخه د طالبانو پروراندې خوځښت (ATM) په توګه پيژندل شوي راپور ورکوي چې د افغانستان وزارتي مشران د هغوی په ALP کې ادغام کولو په اړه خبرې کوي. په هرصورت، اوسمهال هيڅ رسمي پلان شتون نلري چې ATM په ALP يا ANP کې شامل کړل شي.[168]

تفتيش پرځای دی ځکه چې د کندز له نيول کيدو وروسته خبري رسنيو راپور ورکړ چې په ښار کې د ALP غړي ـ څوک چې د دري اونيو روزنه ترلاسه کوي او مياشتنی معاش چې په ندرت له 120 ډالرو څخه ډيريږي، که چيرې د دوی قوماندان سهم واخلي ـ نو دوی د نشه بيز توکو په پيرلو سره او د اوسيدونکو څخه "ماليه" په راټولولو سره خپل معاشات تکميلوي او د ALP نورو غړو سره د جګړې په جريان کې په متقابل دزو کې عام ښاريان وژني.[169]

**تشکيل:** د دفاع او کورنيو چارو وزارت لخوا کارول کيدونکي پرسونل او تجهيزاتو اړتياو ليست چې پکې د مجاز کارمندانو بستونه او د تجهيزاتو توکي توضيح شوي وي. د تشکيل لغت په دري کې د "سازمان يا نهاد" معنی لري.

سرچينه: GAO، د *افغانستان امنيت*، GAO-08-661، 6/2008، مخ 18.

## د سيګار تفتيش

سيګار د ALP پروګرام لپاره د امريکا دفاع وزارت ملاتړ په اړه يو تفتيش تکثير کړی دی، چې دغه تفتيش موندلي ALP کافي لوژستيکي ملاتړ، ځارنه، او د دغه ځواک منحل کيدو يا ANP کې مدغم کيدو لپاره پلان نلري. د نورو معلوماتو لپاره برخه 2، مخ 25 وګورئ.

**د طالبانو پروړاندې خوځښت:** په ختيځ افغانستان کې د ډيرې جلاشوي ګروپونو لپاره يوه پراخه اصطلاح چې دوی په توندۍ د دولت يا ناټو مرستي پرته د طالبانو کنټرول سره مخالفت کوي. د طالبانو پروړاندې خوځښت د 2012 په اوړي کې هغه مهال مشهور شو کله چې ورته يوه ګروپ د غزني اندر ولسوالی کې د طالبانو يو بريد په بريالي توګه په شا وتمباو.

سرچينه: *RFE/RL*، "افغان کليوال بيرته طالبانو باندې بريد کوي،" 8/23/2012؛ *بهرنی پاليسي*، "د طالبانو پروړاندي راپورته کيدونکي خوځښت اناټومي،" 9/12/2012.

## د امنیت ساتنې ځواکونه

## د افغان عامه محافظت ځواک انتقال د ولسمشرۍ عمل ته په تمه دی

د افغان عامه محافظت ځواک (APPF) د کورنیو چارو وزارت تر صلاحیت لاندې د قراردادي تسهیلاتو او کتارونو امنیت خدماتو چمتو کولو لپاره رامنځته کړل شوی دولتي شرکت دی. په 2013 کې ولسمشر حامد کرزي امر وکړ چې نوموړی ځواک منحل او د ساتنې فعالیتونه یې ANP ته ولیږدول شي.[170] په هرصورت، د امریکا دفاع وزارت راپور ورکړی چې ولسمشر غني په 2015 فبروري کې د APPF منشور تعدیل کړ، او په ګوته یې کړل چې APPF به د یوه دولتي شرکت په توګه پرځای وي.[171] د 2014 سپتمبر تر 30 پورې متحده ایالاتو په APPF له 51 میلیون ډالرو څخه ډېر مصرف کړي دي.[172] د امریکا دفاع وزارت د "نبنلولو ستراتیژي" په اړه د افغان ولسمشرۍ فرمان 62 (PD) مقرراتو راپور ورکوي کوم چې په ګوته کوي چې APPF د متحده ایالاتو او ناټو قراردادیانو لپاره د امنیت لومړنی سرچینې په توګه به پرځای وي.

USFOR-A راپور ورکوي پداسې حال کې چې د امنیت خصوصي شرکتونه (PSC) د 2015 اګست په 29 لاسلیک شوي افغان PD 66 له مخې د ناټو او متحده ایالاتو ځواکونو سره د قرارداد کولو اجازه لري ترڅو ورته له تاسیساتو بهر امنیت چمتو کړي او د 2015 اکتوبر تر 6 پورې د PSCs سره فرعي قرارداد کولو لپاره د متحده ایالاتو او ناټو ځینې قراردادیانو ته محدود اجازه ورکوي، د PSC هیڅ قراردادونه شتون نلري.[173] د خطر مدیریت شرکتونه جواز لري چې د APPF لپاره مشورتي خدمات او د قوماندې او کنټرول فعالیتونه چمتو کړي.[174]

## د تسهیلاتو د ساتنې ځواک

د 2014 سپتمبر په 13 د ایساف قوماندان جنرال جان ایف کمپبیل او د افغانستان د ملي امنیت مشاور د افغان او د متحده ایالاتو/ناټو امنیتي تسهیلاتو د امنیت په اړه یوه تفاهمنامه (MOU) لاسلیک کړه. د MOU له مخې د دفاع وزارت به د 5,030 پرسونل د تسهیلاتو ساتنې ځواک (FPF) وګوماري ترڅو د مخکښ عملیاتو هغه بیسونو ته امنیت چمتو کړي چې افغان دفاع وزارت د لیږد په حال کې دي.[175] په هرصورت، دغه MOU افغان محافظت ځواک ته د متحده ایالاتو/ناټو تاسیساتو ساتنه هم چمتو کوي او د متحده ایالاتو/ناټو ځواکونو ته اجازه ورکوي چې د "ناټو/متحده ایالاتو د موافقت له مخې ټاکل شوي تاسیساتو دننه د امنیت وسله وال قرارداد شوي خدماتو څخه کټه پورته کړي."[176]

FPF به د دفاع وزارت لخوا وګومارل شي مګر د ANA منظم برخه به نه وي. د MOU د USFOR-A څخه غوښتنه کوي چې په 13.7 میلیون ډالرو د FPF لومړي کال معاشات تمویل کړي، د دې اختیار سره چې متحده ایالات به د یوه اضافي کال لپاره دغه ځواک تمویل کړي.[177] د MOU مطابق، دفاع وزارت به CSTC-A ته اجازه ورکړي چې "مالي ثبتونو پلټنه او تفتیش وکړي" او ډاډ ورکړي چې "دغه فنډونه به د متحده ایالاتو دولت هغه ټولو ادارو لخوا د تفتیش وړ وي چې د CSTC-A او د متحده ایالاتو ځواکونه – افغانستان د څارنې مسؤلیت په غاړه لري."[178]

د امریکا دفاع وزارت راپور ورکړ چې جنرال کمپبیل د 2015 جولای په 13 یو تفاهملیک لاسلیک کړ، چې پکې مستند شوي FPF د لنډمهاله ځواک په توګه رامنځته کړی شوی او د 2015 سپتمبر وروسته به د معاش هیڅ تمویل چمتو نه کړل شي. افغان دفاع وزارت د FPF پرسونل افغان ملي اردو ته ګوماري چې د 2015 سپتمبر تر 20 پورې 3,344 ته رسیدلي.[179]

## افغان ملي اردو

د 2015 سپتمبر تر 30 پورې، متحده ايالاتو د ANA جوړولو، روزنې، تجهيز او تيکاو لپاره د ASFF صندوق 38.1 ميلیارده ډالر مکلف کړي او 37.3 ميلیارده ډالر يې مصرف کړي دي.[180]

## د افغان ملي اردو پرسونل يو څه کميدل

د RS په وينا، د 2015 جولای تر 20 پورې د دفاع وزارت بشپړ ګومارل شوي ځواک شمير پشمول د افغان ملي اردو، افغان هوای ځواک او ملکيانو 176,420 پرسونل و.[181] دا له تيري ربعي راهيسي د افغان ملي اردو 342 پرسونل کموالی ښيي، کله چې د 2015 مېی بشپړ ګومارل شوي ځواک شمير 176,762 پرسونل و. دغه لږ کميدل د دوه ربعو د شميرو ډيروالي په تعقيب و.[182]

سيګار له اوږدې مودې راهيسې د افغان امنيتي پرسونل شميرو په اړه پوښتنې لري. د افغان ملي اردو پرسونل او معاشاتو معلوماتو د اعتبار او ګټورتيا په اړه پدې کال کې د سيګار يوه مخکينۍ تفتيش هيڅ ډاډ ندی موندلی چې معلومات معتبر دي، دا چې کنټرولونه او څارنه ضعيف دي، او دا چې د کمپيوټر سيستمونه خورا مهم ضعفونه لري او په بشپړ ډول ندي مدغم شوي. د نورو معلوماتو لپاره د *متحده ایالاتو کانګرس لپاره د سیګار د 2015 اپریل درې میاشتنې راپور*، مخ 23 وګورئ.

پدې ربع کې د قل اردو ګانو په کچه د افغان ملي اردو سرتيرو د ځواک ځيني توضيحات محرم پاتې دي. سيګار به دغه توضيحاتو په اړه د دې راپور محرم ضميمه کې راپور ورکړي.

## د افغان ملي اردو د ځواک کميدل

پدې ربع کې USFOR-A راپور ورکړ چې اوسمهال نه خو RS او نه هم افغان ملي اردو د ځواک د کميدو مياشتنۍ موخه نه تعقيبوي. غير رسمي 1.4% موخه چې ايساف هڅولي غير ريالیستيک ګڼل شوي. د ځواک د کميدو کچې به پرته د اوسط کولو يا برابرولو د مخکينۍ مياشتې پای ځواک ته اړوند د ورکړل شوي مياشتې لپاره راپور کيږي.[183]

د 2015 په جولای مياشت کې د افغان ملي اردو د ځواک کميدل 2.4% و او د افغان هوای ځواک د ځواک کميدل 0.6% و. د 2015 ميی مياشت په جريان کې د افغان ملي اردو او افغان هوای ځواک د ځواک کميدلو کچه 2.3% او 0.7% په ترتيب سره وه.[184]

RS د افغان ملي اردو سره کار کوي ترڅو د ځواک د کميدو وړاندوينه وکړي او د ځواک کميدو پروړاندې د راتلونکي مياشتني ګومارني موخې محاسبه کړي او د بشپړ تشکيل جوړښت پوره کړي، د روزنې کورس ظرفيتونو په پام کې نيولو سره. RS راپور ورکوي چې د مشر بريدمن افسر (NCO) د افسری بستونو ته د رتبو لوړول د محاربې ډګر څخه تجربه لرونکي افسرانو سره ډکيږي پداسې حال کې چې د وړ کمکي NCOs لپاره بستونه رامينځته کيږي چې د مشر NCOs رتبو ته ارتقا وکړي او د حساس مشرۍ تجربه لاسته راوړي.[185]

پدې ربع کې د افغان ملي اردو د قل اردو او په ټيټو کچو د ځواک کميدل محرم و. د همدې لپاره به سيګار پدغه اړه د دې راپور يوی محرم ضميمه کې راپور ورکړي.

## د افغان ملي اردو پياوړتيا

د 2015 سپتمبر تر 30 پورې متحده ايالاتو د افغان ملي اردو تيکاو لپاره د ASFF صندوق 15.7 ميلیارده ډالر مکلف کړي او 15.4 ميلیارده ډالر مصرف کړي دي.[186] د ASFF تيکاو تمويل ترتولو

### د سيګار تفتيش

د سيګار يو تفتيش به د امريکا دفاع وزارت تدارکاتو، مراقبت او د ANDSF لپاره د OCIE پيرودونو څارنه باندي تمرکز وکړي.

مهم استعمال د معاشاتو او تشويقي تادياتو لپاره دی؛ په نور استعمال کې د مهماتو تجديد، د سونګ توکو پيرود او نهادي پوښاک او انفرادي تجهيزاتو (OCIE) په څير توکي شامل دي. د خواړو لپاره تمويل د 2013 دسمبر 21 کې ودرول شو وروسته لدې چې CSTC-A د دفاع وزارت لخوا پراخه درغلی په اړه شکمن شو.[187]

د متحده ايالاتو کانګرس د ANDSF د روزنې، تجهيز، پياوړي کولو او تمويل لپاره ASFF ته فنډونه مختص کوي، په بيله بيا د تسهيلاتو د ترميم او ساختماني چارو لپاره. د امريکا دفاع وزارت اجازه لري ASFF افغان دولت ته (مستقيم بودجه) د مستقيم فنډونو چمتو کولو لپاره وکاروي.[188] د دې لپاره چې ډاډ لاسته راشي د متحده ايالاتو فنډونه لکه څنګه چې ټاکل شوي کارول کيږي، CSTC-A، د افغانستان دفاع وزارت او د ماليه وزارت (MOF) د مالي ژمنې يو دوه اړخيز ليک لاسليک کړ.[189]

د افغان مالي کال 1394 مالي ژمنې ليک د دفاع وزارت څخه غوړاي چې د بيري تعديلاتو سره اجابت ولري کله چې د يونيفارم پيرودلو لپاره د ASFF صندوق ترلاسه شوي مستقيم بودجه کاروي. د CSTC-A يوه تفتيش موندلې چې افغان دفاع وزارت د FY 1392 (دسمبر 2012 – دسمبر 2013) څخه د 27 ميليون ډالرو يونيفارم پيرلو کې د بيري تعديلات ندي مراعات کړي. د خپريدو په وخت کې، CSTC-A لاهم د جريمې ساتل مشخص کول.[190] د OCIE افغان تدارکاتو کې ستونزو وروسته، پشمول د افغان قرارداديانو لخوا د سکيمونو د افغان شرکتونو پرځای د چين څخه پيرل، تقلبي کيفيت، او د درغلی نور ډولونو، د متحده ايالاتو کانګرس د متحده ايالاتو شرکتونو پرته نورو شرکتونو څخه د OCIE پيرلو لپاره د ASFF کارول منع کړل. د FY 2013 ملي دفاع واکمنۍ قانون يو بند (برخه 826) غوښتنه لري چې بې له استثناتو يا معافيت څخه د يونيفارم د توليد په موخه د افغان ملي اردو او افغان ملي پوليسو لپاره د امريکا دفاع وزارت لخوا رسول کيدونکی ټوټې يا نساجي باندې د بيري تعديلات پلي شي.[191]

د افغان مالي کال 1394 مالي ژمنې ليک هم غوښتنه لري چې د دفاع وزارت د سونګ توکو مصرف او تحويلياني مستند کړي. CSTC-A د تعقيبي مياشتني سونګ توکو ټاکل د سونګ توکو د مصرف اسنادو د کفايت او درستی پراساس ترتيب کوي.[192]

## د افغان ملي اردو معاشات او تشويقي تاديات

CSTC-A راپور ورکړی چې له 2009 مالي کال راهيسې د 2015 سپتمبر تر 30 پورې متحده ايالاتو د افغان ملي اردو معاشاتو، خواړو او تشويقي تادياتو لپاره د ASFF له لارې 2.76 ميليارده ډالر چمتو کړي دي.[193] CSTC-A راپور ورکړی چې د افغان ملي اردو لپاره د معاشاتو، انعامونو او تشويقي تادياتو تمويل اوسط به د راتلونکي پنځه کلونو لپاره په کال کې 682 ميليون ډالر وي.[194]

CSTC-A يادونه کړې چې تمويل د افغان ملي اردو 100% مجاز، غير ګومارل شوي ځواک له مخې چمتو شوي دي. په هرصورت، کوم فنډونه چې مصرف شوي نه وي هغه په بل کال کې د اړتياو ملاتړ لپاره بل مالي کال ته ليږدول کيږي.[195] د بريښنايی تاديه سيستمونو کارولو په موخه د افغان دفاع وزارت هڅولو لپاره CSTC-A پلان لري چې 100% تمويل يوازې د تشکيل هغه مجاز بستونو لپاره چمتو کړي چې بريښنايی تاديه ورته کيږي، کله چې په 2016 کې د اوتومات تاديه دغه سيستم فعال شو؛ د نورو بستونو لپاره تاديات به 80% وي.[196] سربيره پردې، د افغان ملي اردو ټول پرسونل معلومات يا ثبتونه بايد د افغان بشري سرچينو د معلوماتو مديريت سيستم (AHRIMS) کې وردننه کړل شي او ټول

**د بيري تعديلات:** (سرليک 10 د متحده ايالاتو د قانون برخه 2533a) د امريکا دفاع وزارت پيرودل شوي نساجي ازاوې (د نورو توکو ترمينځ) چې تر 250,000 ډالرو پورې مصرف ورباندې راځي بايد متحده ايالاتو کې توليد شي کله چې اړوند تمويل يا فنډ څخه ورېکي کار اخيستل کيږي. دا قانون په 1941 کې پاس شوی، کله چې CSTC-A د ANDSF لپاره يونيفارم پيري يا د يونيفارم پيرلو لپاره افغان وزارتونو ته مستقيم بودجې تمويل ورکوي نو پلي کيږي.

سرچينه: د دفاع د تدارکاتو او اکتساب پاليسي، "د بيري تعديلات FAQ،" 10/5/2014.

### د سيګار د خبرتيا ليک

سيګار د امريکا دفاع وزارت، CENTCOM او USFOR-A ته يو د خبرداري ليک ليږلی چې خبرتيا ورکوي چې ANDSF ډيرى ژمي پرته له موسم مناسب پوښاک يا يونيفارم څخه تير کړي او د سوړ فصل بلې تشې سره مخ دی. د نورو معلوماتو لپاره برخه 2 مخ 22 وګورئ.

پرسونل ته باید د تشکیل بست وټاکل شي.[197] USFOR-A راپور ورکړی چې د 2015 اګست تر 24 پورې افغان دفاع وزارت د افغان ملي اردو نږدې ټول پرسونل ریکارډ AHRIMS کې دننه کړي او ګومارل شوي 97% پرسونل ته د تشکیل بست ټاکل شوی دی.[198]

## د افغان ملي اردو تجهیزات او ټرانسپورټیشن

د 2015 سپټمبر تر 30 پورې متحده ایالاتو د افغان ملي اردو تجهیزاتو او ټرانسپورټیشن لپاره د ASFF 12.8 میلیارده ډالر مکلف کړي او 12.7 میلیارده ډالر مصرف کړي دي.[199] لدغه فنډونو څخه ډیری د وسایط، الوتکو، د ارتباط تجهیزاتو، وسلو او اړوند تجهیزاتو لپاره کارول شوي دي. پدې کټګورۍ کې د متحده ایالاتو شاوخوا 54% د وسایط او اړوند پرزو لپاره و، لکه څنګه چې په جدول 3.9 کې ښودل شوي دي.[200]

لکه څنګه چې په تیره ربع کې کړي، د امریکا دفاع وزارت د تجهیزاتو ډیری کټګوریو کې د ډیروالي راپور ورکړی دی. په تیره ربع کې د امریکا دفاع وزارت وویل چې ډیروالی د محاربې ډګر کې زیان من شوي تجهیزاتو او نورو اوسني او وړاندینه شوي زیانونو بدلولو لپاره اړین تر یوې کچې پورې د دغه تجهیزاتو نوي کولو له امله و، په بیله بیا د نوي ځانګړي عملیاتو کنډک د تحویلۍ لګښت.[201] CSTC-A راپور ورکړی چې د نوي کولو پیرود شاوخوا 5 میلیون ډالر لګښت لري.[202] په نورو چمتو شوي تجهیزاتو کې پوښاک لکه یونیفارم، او انفرادي تجهیزات شامل دي. د افغان ملي اردو لپاره پیرودل شوي تجهیزات چې وروسته بیا مشخص شو چې نور د ANDSF لخوا پکار ندي یا د دفع کولو لپاره د امریکا دفاع وزارت ته لیږدول کیدی شي، وروسته لدې چې د متحده ایالاتو کانګرس خبر شو؛ تردې دمه 215 میلیون ډالر د امریکا دفاع وزارت ته لیږدول شوي دي، لکه څنګه چې په جدول 3.10 کې ښودل شوي دي.[203] CSTC-A راپور ورکوي چې د ASFF تخصیصاتو په کارولو سره د افغان ملي اردو لپاره په مجموعي ډول 456,000 وسلې، 104,400 د ارتباطاتو وسیلې، او 60,000 وسایط چمتو کړي دي.[204]

پداسې حال کې چې د افغان تحویلۍ د مودي مدیریت پروسو ته وده ورکولو په لور پرمختګ کیږي، CSTC-A راپور ورکړی چې د CORE-IMS په نوم پیژندل کیږي د ANDSF د توکو لیست او لوژستیک معلوماتو د مدیریت سیستم وړاندینه شوی وده په بشپړ ډول نده پلي شوې. په هرصورت، د

جدول 3.9

**د 2015 جون تر 30 پورې د متحده ایالاتو لخوا تمویل شوي د افغان ملي اردو تجهیزاتو لګښت**

| د تجهیزاتو نوع | پیرودل شوي | پیرودل شوي او افغان ملي اردو ته سپارل شوي | پیرود ته پاتي دي |
|---|---|---|---|
| وسلې | $631,737,933 | $522,370,326 | $24,983,028 |
| وسایط | 7,214,663,193 | 6,440,981,649 | باید مشخص شي |
| ارتباطات | 840,433,973 | 703,298,191 | 82,830,726 |
| الوتکې | 1,183,859,713 | 649,861,508 | 441,514,596 |
| مهمات | 2,291,847,017 | 2,180,830,996 | 380,830,461 |
| د ټرانسپورټیشن خدمات | 40,000,000 | 13,459,569 | 0 |
| C-IEDs | 341,550,056 | 341,550,056 | 74,059,985 |
| نور | 884,304,375 | 773,658,682 | 1,005,377 |
| **ټولټال** | **$13,428,396,260** | **$11,626,010,977** | **$1,005,224,173** |

یادونه: C-IED = د تعبیه شوي چاودیدونکي توکو (سړک غاړې ماین) پروړاندې. TBD = باید مشخص شي؛ مقدار دې پورې اړه لري چې څومره وران شوي او تخریب شوي تجهیزات د بدلون لپاره دي.

سرچینه: CSTC-A، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 9/4/2015.

**د سیګار ځانګړې پروژه**

سیګار USFOR-A او CSTC-A د معلوماتو غوښتنې یو لیک ولیږه چې لدوی څخه یې د کمیټونو له مخې د تجهیزاتو او وسایطو پیرودلو په اړه معلومات پکې غوښتلي چې دغه کمیټونه د ANDSF ارتیاو څخه ډیر دي او ایا دا ډول پیرودل د تجهیزاتو او وسایطو د وخت څخه وړاندې دفع کولو پایله لري پداسې حال کې چې د پام وړ کارولو وخت پکې وي. د نورو معلوماتو لپاره برخه 2 پاڼه 40 وګورئ.

جدول 3.10

**د متحده ایالاتو پیرودل شوي هغه تجهیزات چې افغان ملي اردو ته ندي لیږدول شوي** (میلیونونه ډالر)

| | پاتې | د امریکا دفاع وزارت زیرمې ته |
|---|---|---|
| وسایط[a] | $23.2 | $6.0 |
| د ستریرو اړوند توکي | 9.0 | |
| HMMWVs | 3.4 | |
| الوتکې | 146.9 | 3.1 |
| د دفتر تجهیزات | | 1.7 |
| کرین/فورک لیفټ | 1.1 | |
| د بدن زرې | | 3. |
| وسلې | | 1.1 |
| مهمات | | 13.6 |
| GPS/NVG | | 1. |
| ارتباطي تجهیزات | | 4.4 |
| نور | | 1.1 |
| **ټولټال** | **$183.6** | **$31.4** |

یادونه: د ډالر مقدارونه غیر اعشاري شوي او مجموعي دي. دمخه شته C-208s د الوتکو روزنې لپاره یو مناسب توکی دی، چې په پایله کې شپږ C-182 الوتکې (3.14 میلیون ډالر) د امریکا دفاع وزارت سټاک ته ولیږدول شوې. د ستریرو احاطه HMMWV یا نورو وسایطو په چت کې نصب ورضافه شوی احاطه ده چې سرتیري ته اجازه ورکوي تر یوې کچې محافظت پورې د وسایط په چت ودریږي. HMMWV = د لوړ تحرک، څو مقصدده ټایر لرونکي وسایط. GPS/NVG = د نړیوال موقعیت موندلو سیستم او د شپې لخوا د لید ګوګل توکي.
[a] وسایط او پرزې پکې شامل دي

سرچینه: CSTC-A، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 9/4/2015؛ OSD-P، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 9/23/2015؛ سیګار، د ANDSF تحلیلونه، 10/2015.

سافټویر ازمول بشپړ شوي دي، د لوژستیک مرکزي او سیمه ییز مرکزونو کي به د سرور نصب هغه وخت ترسره شي کله چې 165 نوي کمپیوټري ترلاسه او نصب شي. CSTC-A د دې سیستم لپاره اصلاح شوي پلي کول ندي چمتو کړي.[205]

د لوژستیک مسلکي پرسونل لومړی ډله کي شپږ اتیا افغانان ګومارل شوي ترڅو ANSDF ته د روزني او مرستي چمتو کولو په برخه کي په ملي او سیمه ییز مرکزونو کي کار وکړي.[206] د لوژستیک مسلکي پرسونل شته سیستم ته په سیمه ییز مرکزونو کي د تحویلیو لیستونه، د پلورونکو معلومات او د تحویلی زرهاو توکو لیست دننه کړی دی، او په سلهاو لیږدوني یې پروسس کړي دي، چې ځیني یې په دریو کلونو کي د تحویلی لپاره (پرزې او د تحویلی توکي په طبقو ګروپ شوي دي) د لیږدوني معلوماتو لومړی ځل دننه کول و.[207] په جولای کې هم د دفاع وزارت 18 پرسونل چې د اکتساب، ټیکنالوژي، او وسلو لوژستیکي تخصص لري د متحده ایالاتو بهرنی نظامي پلور پروسي، پشمول د مودي مدیریت (د اړتیاو رامینځته کیدو څخه تر د تحویلی پوری) په اړه د دفاع انستیټیوټ د امنیت مرستي مدیریت (DISAM) لخوا چمتو شوي روزنه کي ګډون کړی. د کورنیو چارو وزارت هم د DISAM روزنه لاسته راوړی.[208]

د مالي ژمني لیک چې د دفاع وزارت ته د افغان مالي کال 1394 لپاره فنډونه چمتو کوي د دفاع وزارت څخه غوښتنه لري چې د هغه وسایط ډولونه او شمیر مشخص کړي چې اړتیا ورته لري، داډ ورلندي کړي چې مراقبت یې د معیار کړنو په تعقیب ترسره شوی، او داډ ورلندي کړي چې مخکې لدې چې CSTC-A اضافي وسایط چمتو کړي دغه وسایط د ټاکلي موخي لپاره کارول کیږي.[209]

## د افغان ملي اردو زیربنا

د 2015 سپتمبر تر 30 پوري متحده ایالاتو د افغان ملي اردو زیربنا لکه د اردو قوماندانیو، ښوونځیو، بارکونو، د پولیس پوستو جوړښتونو، هوای ډګرونو او سړکونو لپاره د ASFF 6 میلیارده ډالر مکلف کړي او 5.6 میلیارده ډالر مصرف کړي دي[210]

د CSTC-A په وینا، د 2015 سپتمبر تر 30 پوري متحده ایالاتو د 5 میلیارده ډالرو په ارزښت د زیربنا 369 پروژې مکمل کړي دي، چې نورې 20 پروژې د 372.8 میلیون ډالرو په ارزښت رواني دي.[211]

پدې ربع کې د افغان ملي اردو د زیربنا ترټولو لوی پروژې په کونړ ولایت کې د 201 قل اردو د دوهمي لیوا لپاره د لیوا ګاریزون (د 115.7 میلیون ډالرو په لګښت) او د مارشال فهیم ملي دفاع پوهنتون دوهمه مرحله (چې لګښت یې له 72.2 میلیون ډالرو څخه 76.3 میلیون ډالرو ته ډیر شوی) چې د 2017 دسمبر کې به بشپړیږي، او د افغانستان دفاع پوهنتون دریمه مرحله (35.1 میلیون ډالر) چې د 2012 جولای کې یې قرارداد ورکړ شوی او په 2015 سپتمبر کې د بشپړیدو لپاره مهالویش شوی.[212] سربیره پردې، درې پروژې د 61.4 میلیون ډالرو په لګښت بشپړې شوي، پشمول د دفاع وزارت د قوماندانیو او ګاریزونونو دریمه مرحله (61.3 میلیون ډالر)، او د 34.9 ډالرو په لګښت څلور پروژې پدې ربع کې ورکړل شوي دي، پشمول د دفاع وزارت د ګاریزونونو نهایی مرحله (18.6 میلیون ډالر).[213] د CSTC-A په وینا، د پلان په مرحله کي 18 پروژو (181.6 میلیون ډالر) څخه درې پروژې (32.1 میلیون ډالر) د ښځو لپاره د تاسیساتو جوړولو لپاره دي.[214]

### د سیګار تفتیش

د سیګار یو روان تفتیش به د تخنیکي تجهیزاتو د حفظ او مراقبت پروګرام (A-TEMP) د افغان ملي اردو برخي سره د امریکا دفاع وزارت ملاتړ بیاکتنه وکړي. په ځانګړي توګه، سیګار پلان لري چې مشخص کړي (1) چې تر کوم حد پوري د افغان ملي اردو A-TEMP د دي ټاکل شوي موخي پوره کوي او (2) ایا د افغان ملي اردو د A-TEMP قرارداد مهم شرایط پوره کیږي که نه.



**د افغان ملي اردو د 201 قل** اردو د برېښنا کارخای د سونګ توکو فارم په کونړ ولایت کې جوړ شوی و.
(د CSTC-A عکس)

د دفاع وزارت انجینرانو او عامه کارونو پرسونل لپاره د روزنې پراختیا ډیرې برنامې په لاره کې دي. CSTC-A د انجینرۍ اته مشاورین لرې څوک چې د ځو اونیو بوختیاو په جریان کې د دفاع وزارت انجینرانو حفظ او مراقبت، ثبات او ساختماني چارو مسلو په اړه ښوونه کوي. د CSTC-A یو قرارداد په اړوند موضوعاتو کې متخصصین چمتو کوي چې د دفاع وزارت پرسونل د تاسیساتو حفظ او مراقبت پلان کولو او بودجې لپاره د افغان زیربنا کمپیوټر سیستم په اړه روزي. نوموړی قراردادي د دفاع وزارت انجینرانو ته د سروی تخنیک روزنه هم وړاندې کوي.[215]

د نجارۍ/ګل کارۍ، دننه/بهر برېښنا، نل دوانی، او سړک سروی او ډیزاین په برخو کې د روزنکو روزنې برنامې نهه میاشتې وروسته د افغان ملي اردو ښوونکو په اکسټ کې د قراردادیانو او د متحده ایالاتو هوای ځواک سیول انجینرۍ افسرانو تر نظارت لاندې د افغان ملي اردو انجینرۍ ښوونځي کې تدریس پیل کړ.[216]

سربېره پردې، د روزنې درې برنامې به پدې منې کې پیل شي:[217]

- د دندې په جریان کې د انجینرانو او عامه کارونو پرسونل لپاره د برېښنا کارخایونو، د اوبو تصفیه کولو دستګاه، او د ککړو اوبو تصفیه کولو دستګاه د حفظ او مراقبت په برخه کې د روزنې برنامه
- د انجینرانو او عامه کارونو پرسونل د روزنې لپاره د افغان ملي اردو سایټونو کې د ګومارنې لپاره د ګرځنده روزنې ټیم
- د انجینرانو لپاره د تاسیساتو مدیریت ورکشاپ

د افغان مالي کال 1394 لپاره د دفاع وزارت د مالي ژمنې لیک له افغان دولت غوښتنه کوي چې CSTC-A ته د لیږد او ثبات پلان وړاندې کړي، پشمول د زیربنا امنیت د هغه تاسیساتو لپاره چې د متحده ایالاتو تمویل سره جوړې شوي او افغان دولت ته لیږدول شوي دي.[218] CSTC-A راپور ورکوي چې د دفاع وزارت سره کار ته یې دوام ورکړی ترڅو د هغه اضافي تاسیساتو لیست په اړه پرېکړې ته ورسي کوم چې نور د ثبات یا ساتنې تمویل ته اړتیا نلري.[219]

## د سیګار د خبرتیا لیک

سیګار په کمپ براون کې د قوماندې او کنټرول مرکز د متحده ایالاتو لخوا تمویل شوي ساختماني چارو پلټنې د پایلو په اړه یو د خبرتیا لیک تکثیر کړ. د 5 میلیون ډالرو قرارداد نږدې یو کال وروسته لدې چې ودانۍ باید تکمیل شوې وی د راحتی لپاره پای ته ورسید. ودانۍ د محافظت ډیرې ستونزې درلودې او له نیمایی لږ یې بشپړ شوی و. د نورو معلوماتو لپاره برخه 2 مخ 21 وګورئ.



د **USFOR-A** د روزني يو ګرځنده ټيم په کابل کې روزنه پرمخ وړي. (د CSTC-A عکس)

## د افغان ملي اردو او د دفاع وزارت روزنه او عمليات

د 2015 سپتمبر تر 30 پورې متحده ايالاتو د افغان ملي اردو او دفاع وزارت عملياتو او روزني لپاره د ASFF فنډ 3.6 ميليارده ډالر مکلف او مصرف کړي دي.[220]

CSTC-A د متحده ايالاتو تمويل شوي 25 روان پروګرامونه راپور کړي دي: 18 په تخنيکي روزنه، څلور په مسلکي نظامي تعليم، دوه په لومړني روزني، او يو د انګلسي ژبې روزنه باندې تمرکز کوي.[221] د متحده ايالاتو تمويل شوي د روزني ترتولو لوی قراردادونو کې سيار روزنه، ځانګړي عمليات، د تعبيه شوي چاودېدونکي توکو پروړاندې مبارزه او د چاودېدونکي توکو دفع کول، او د الوتکي د مراقبت روزنه شامل دي.[222]

## افغان هوايي ځواک او د ځانګړي ماموريت قطعه

CSTC-A راپور ورکړی چې د FY 2010 او FY 2015 ترمينځ متحده ايالاتو د افغان هوای ځواک پراختيا لپاره له 2.3 ميليارد ډالرو څخه ډېر مکلف کړي دي، پشمول د تجهيزاتو او الوتکو لپاره 905 ميليون ډالر.[223] له تيرې ربعي راهيسې، د امريکا دفاع وزارت خپله د FY 2015 غوښتنه له 925.2 ميليون ډالرو څخه 683.3 ميليون ډالرو ته راکمه کړي. د روزني لپاره غوښتل شوی مقدار کم شوی، مګر د تجهيزاتو او الوتکو لپاره مقدار له 21.4 ميليون ډالرو څخه 173.5 ميليون ډالرو ته لوړ شوی دی. په هرصورت، د غوښتل شوي تمويل اکثريت د ساتني يا ثبات لپاره دی.[224] سربيره پردې، د FY 2016 غوښتنه د 548.3 ميليون ډالرو لپاره ده، چې د فنډ ډيری برخه د روزني او ساتني لپاره ده.[225]

د USFOR-A په وينا، پدې ربع کې د AAF الوتکو ليست کې شامل دي:[226]

- 11 د Mi-35 چورلکي (له تيرې ربعي څخه يو کم)
- 52 د Mi-17 چورلکي (څلور کم)
- 16 د MD-530 چورلکي (دوه کم)
- 26 د C-208 الوتکي
- 4 د C-130 الوتکي

### د سيګار ځانګړې پروژه

په 2015 فبروري کې سيګار د جورجيا ايالت کې د موډي هوای ځواک بيس کې د A-29 سوپر ټوکانوس په اړه د حقيقت موندني لپاره ليدنه ترسره کړه. سيګار به د برنامي او د افغان پيلوټانو د روزني روان نظارت پرمخ ويسي.

سربیره پردې، 20 د A-29 سوپر ټوکانوس، د ترهګرۍ پروړاندې مبارزې، نږدې هوایی ملاتړ، او هوایی کشف لپاره د سپک برید الوتکې پیرودل شوي مګر تر دې دمه ندي سپارل شوي. [227]

پدې ربع کې USFOR-A راپور ورکړی چې د AAF لومړي اته پیلوټانو د MD-530 چورلکي نظامي ډول د الوزولو لپاره وړتیا درلوده.[228] سربیره پردې، د افغان پیلوټانو د A-29 سوپر ټوکانوس روزنه په متحده ایالاتو کې جریان لري. لومړی ټولګی به دسمبر کې فارغ شي، چې دا د 2015 څلورمې ربعې کې د A-29 سوپر ټوکانوس لومړۍ تحویلي سره په یو وخت کې دي.[229] دغه بریا د الوتکې رالویدو په جریان کې د Mi-17 دوه پیلوټانو د مړینې په واسطه منحرف شوې.[230] د AAF لپاره د امریکا دفاع وزارت چارواکو سیګار ته وویل چې د پیلوټ له لاسه ورکول د الوتکې له لاسه ورکولو څخه خورا ډیره اغیزه لري.[231]

USFOR-A د داخلي او بهرني قرارداد مراقبت او لوژستیک مدیریت ملاتړ ترکیب د AAF لپاره د هدف په توګه راپور کړي. افغانان به ورځنی مراقبت او د وخت له مخې پلټنې ترسره کوي پداسې حال کې چې بهرني قراردادیان به د ډیپو په کچه درانده ترمیمونه او د الوتکې بشپړ ترمیم ترسره کوي. USFOR-A اټکل کوي چې د AAF ارګانیک مراقبت کاري ځواک پراختیا به له پنځه څخه تر اوه کاله پورې وخت ونیسي: د یوه زده کونکي مراقبت ګر روزنه 18 میاشتې وخت نیسي، او د ماهر کچې مراقبت کونکي لپاره دوه څخه تر درې کالو پورې وخت ته اړتیا وي. تمه کیږي چې د C-208 لپاره ترټولو ژر د ارګانیک مراقبت وړتیا به 2018 کې ترلاسه شي؛ او د C-130 او د نوي MD-530 لپاره د افغان ارګانیک مراقبت دریځ ترلاسه کولو اټکل شوې نیټه 2023 ده.[232]

CSTC-A راپور ورکړی چې د FY 2012 او FY 2015 ترمینځ متحده ایالاتو د SMW پراختیا کې 1.77 میلیارد پانګونه کړې، لدغه مقدار څخه یې له 935.8 میلیون ډالرو څخه ډیر د تجهیزاتو او الوتکې لپاره مکلف کړې دي.[233] د CSTC-A په وینا، د SMW د 45 الوتکو ټولګه کې د Mi-17 چورلکې او د PC-12 توربوپروب الوتکې شامل دي چې د اطلاعاتو، څارنې او کشف کارونه پرمخ وړي.[234] د NSOCC-A په وینا، 475 SMW غړي لري، چې لدغه څخه 102 پیلوټان دي، او ټول د دفاع وزارت برخه دي.[235] پنځه پنځوس نور پرسونل د داخلي، انګلسي ژبې بسیا، او امنیت شالید چک یا کتنې لاندې دي.[236]

NSOCC-A راپور ورکوي چې SMW د 2015 سپتمبر 1 پورې د 2014 په جریان کې د 400 په پرتله په Mi-17 کې 840 ماموریتونه ترسره کړي دي. د PC-12 پیلوټانو پدې کال کې د 2014 پرمهال د 205 په پرتله 972 ماموریتونه ترسره کړي دي.[237]

د NSOCC-A په وینا، د هوای چلند ډیرۍ نهادونه د هوای چلند سیستمونو پیچلتیا له امله د هغوی د ځینې مراقبتونو لپاره قرارداد کوي.[238] د SMW لپاره موخه له 80% ارګانیک څخه تر 20% قرارداد مراقبت دی.[239] د NSOCC-A په وینا د Mi-17 یا PC-12 میخانیکي کارکونکي بشپړ روزل 60 میاشتې وخت نیسي، چې د 2020 دوبي کې به SMW د ارګانیک مراقبت او ترمیم وړتیا ولري.[240] په 2014 اګست کې، SMW د پلټنې هیڅ ټیمونه نه درلودل؛ اوس دوی درې د 50 ساعته او یو د 100 ساعته مهالویش شوي پلټنې ټیمونه لري.[241] اوسمهال افغانان د Mi-17 ټولګې مهالویش شوي مراقبت شاوخوا 20% (د تیرې ربعې له 15% څخه ډیر) ترسره کوي. د PC-12 ټول مراقبت د دریمې ډلې قراردادیانو لخوا ترسره کیږي.[242]

**سورټي یا الوتنه (د برید پیل)** په نظامي هوای چلند کې سورټي د یوې انفرادي الوتکې محاربوي ماموریت دی چې د الوتکې د الوتنې سره پیل کیږي او په بیرته راستنیدو یې پای ته رسیږي. د مثال په توګه، په ماموریت کې چې شپږ الوتکې دخیل وي دا به شپږ سورټي یا الوتنې وي.

## افغان ملي پوليس

د 2015 سپتمبر تر 30 پورې متحده ايالاتو د افغان ملي پوليسو جوړولو، تجهيز، روزني او ساتني لپاره د ASFF فنډونو 18.4 ميليارده ډالر مکلف کړي او 18.1 ميلياره ډالر مصرف کړي دي.[243]

### د USFOR-A د افغان ملي پوليسو پرسونل د ځواک راپور بياکتنه

پدې ربع کې، USFOR-A د افغان ملي پوليسو د پرسونل راپور ورکولو ميتود په اړه د بياکتني راپور ورکړی چې د محاسبې ډيری ستونزې يا رابرسيره کړي دي چې د سمون وروسته يې د 5,788 کميدو پايله درلوده.[244]

بياکتني موندلي چې يو شمير قطعات په دواړه د کورنيو چارو وزارت قوماندانيو او نهادي ملاتړ (MOI HQ & IS) کې د AUP ارکان سره حساب شوي و، او دا چې کوم قطعات بايد په MOI HQ & IS کې حساب شوي وی، هغه نه و حساب شوي و.[245]

MOI HQ & IS ډيری ځانګې لري پشمول د جنايي څيړنو رياست، د پوليسو ځانګړي قطعو عمومي قومانداني، او اوه د معينانو دفترونه (ملاتړ، اداره، APPF، د ترياکو سره مبارزه، امنيت، اطلاعات، او ستراتيژي/پاليسي). د افغان پوليسو اکاډمي، د لوړو زده کړو قوماندانی، او د کابل روزنيز مرکز ټول د اداري معينيت کې شامل دي، پداسي حال کې چې د لوژستيک قوماندانيو پرسونل د ملاتړ يا حمايت معينيت لاندې دي.[246] په ABP کې د دې قوماندانی، د ګمرکونو پوليس او ښيړ زونونه شامل دي. په ANCOP کې د دې قوماندانی، د ټولي قومانده، او اته ليواګاني شامل دي. په AUP کې ترافيک، اطفايه/خلاصون، او د 34 ولاياتو قوماندانی، د سيمه ييز روزني مرکز او لوژستيک ملاتړ سره شامل دي.[247]

سربيره پردې، CSTC-A راپور ورکړی چې زده کونکي او د انتظار په حال کې پرسونل نور په ټولټال کې شامل ندي.[248]

بياکتنه او سمون وروسته لدې ترسره شو چې سيګار د 2015 جنوري يوه تفتيش کې راپور ورکړ چې هيڅ ډاډ شتون نه درلود چې د افغان ملي پوليسو د پرسونل يا معاشاتو معلومات دې درست وي. د 2015 سپتمبر په 27 طلوع نيوز راپور ورکړ چې ولسمشر غني د امنيتي ځواکونو اوسنی شمير او احتمال له مخې "خيالي" ځواکونو شتون تر پوښتني لاندې راوستی، او د دقيق شميرو د ډاډ لپاره يې يو تفتيش پيل کړی دی.[249] ملګرو ملتونو راپور ورکړی چې د فساد پروړاندې د نظارت او ارزوني خپلواکي ګډې کميټې د "فساد ته زيانمن" يوه ارزونه تکثير کړه چې د جګړې له امله شهيدانو او معيوبينو لپاره د تادياتو سيستم يې تر پوښني لاندې نيولی و.[250] بيا د 2015 اکتوبر په 6 پژواک افغان نيوز راپور ورکړ چې د کار، ټولنيزو چارو، شهيدانو او معيوبينو وزارت په نوموړي سيستم کې "خيالي" شهيدان موندلي او له 50,000 څخه ډير کارتونه يې رد کړي چې د جعلي معيوبيت درلودونکي افرادو او جعلي شهيدانو کورنيو ته ورکړل شوي و.[251]

پدې ربع کې USFOR-A راپور ورکړ چې د افغان ملي پوليسو بشپړ ځواک ټولټال 148,296 پرسونل دی، له تيرې ربعي راهيسې 6,886 کم او د پای مجاز 157,000 شمير څخه 8,704 کم، لکه څنګه چې په جدول 3.11 کې ښودل شوي دي.[252]

USFOR-A راپور ورکړی چې نه خو RS او نه هم ANP د ځواک کميدو مياشتنی موخه تعقيبوي. غير رسمي 1.4% موخه چې ايساف هڅولي غير رياليستيک ګڼل شوی. د ځواک د کميدو کچې به

**د سيګار تفتيش**

د افغان ملي پرسونل او معاشاتو معلوماتو په اړه د سيګار د 2015 جنوري يوه تفتيش موندلي چې معلومات د اعتبار په اړه هيڅ ډاډ نلري، کنټرولونه او څارنه ضعيف ده، او دا چې د کمپيوټر سيستمونه په بشپړ ډول فعال يا وصل ندي.

جدول 3.11

**د افغان ملي پوليسو ځواک، درې مياشتنى بدلون**

| | مجاز | | | ګومارل شوى | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| **د افغان ملي پوليسو قطعهې** | **ربع2 2015** | **ربع3 2015** | **درې مياشتنى بدلون** | **ربع2 2015** | **ربع3 2015** | **درې مياشتنى بدلون** |
| AUP | 93,045 | 90,139 | (2,906) | 95,389 | 86,754 | (8,635) |
| ABP | 22,742 | 22,955 | 213 | 22,021 | 21,775 | (246) |
| ANCOP | 15,192 | 15,223 | 31 | 15,017 | 15,169 | 152 |
| MOI HQs & IS | 27,077 | 28,523 | 1,446 | 22,827 | 24,598 | 1,771 |
| د افغان ملي پوليسو فرعي ټولټال سره بيرته يوځاى کولو ته اړ | - | - | - | (72) | - | 72 |
| **د افغان ملي پوليسو ټولټال** (د راپور له مخې) | **158,056** | **156,840** | **(1,216)** | **155,182** | **148,296** | **(6,886)** |

يادونه: ربعي د تقويم – کال دى؛ د Q2 2015 معلومات د 5/2015 پورې؛ د Q3 2015 معلومات د 7/2015 پورې دي. AUP = افغان يونيفارم پوليس؛ ABP = افغان د پولو ساتنې يا سرحدي پوليس؛ ANCOP = افغان د عامه نظم ملي پوليس؛ IS = د نهادي ملاتړ پرسونل.

سرچينه: USFOR-A، د سيګار د معلوماتو غوښتنو ته ځوابونه، 6/29/2015 او 9/11/2015؛ USFOR-A، د سيګار ارزوني ته ځواب، 6/29/2015.

پرته د اوسط کولو يا برابرولو د مخکينۍ مياشتې پاى ځواک ته اړوند د ورکړل شوي مياشتې لپاره راپور کيږي.[253]

د مۍ، جون او جولاى مياشتو په جريان کې افغان ملي پوليسو د ځواک 1.9%، 2.0% او 1.9% کميدل تجربه کړي دي.[254]

## د افغان ملي پوليسو پياوړتيا

د 2015 سپتمبر تر 30 پورې متحده اىالاتو د افغان ملي پوليسو ساتنې لپاره د ASFF صندوق $7.5 ميليارده ډالر مکلف کړي او 7.4 ميليارده ډالر مصرف کړي دي.[255] پدې کې د افغانستان لپاره د قانون او نظم وجهي صندوق (LOTFA) ته مرستې شامل دي چې د افغان ملي پوليسو معاشات ورکوي. د ASFF ټيکاو تمويل ترټولو مهم استعمال د معاشاتو او تشويقي تادياتو لپاره دى؛ په نور استعمال کې د مهماتو تجديد، د سونګ توکو پيرود او د OCIE په څير توکي شامل دي. د 2013 دسمبر 21 راهيسې متحده اىالاتو نور د خواړو لګښتونه ندي تمويل کړي وروسته لدې چې CSTC-A د کورنيو چارو وزارت لخوا پراخه درغلى په اړه شکمن شو.[256]

د امريکا دفاع وزارت راپور ورکړى چې د OCIE اړوند کوچني مقداورنه، چې د ANDSF لخوا د غير خدمت وړ يا د استعمال لپاره مناسب نه وي، د امريکا دفاع وزارت سټاک ته د ليږد په واسطه دفع شوي دي. د امريکا دفاع وزارت نور هم په ګوته کړي چې کله د ANDSF د دفع کولو وړتياوې رامينځته شي، نو د "امريکا دفاع وزارت سټاک ته د بيرته ستنولو" پروسه کې به OCIE يا ورته تحويلياني يا تجهيزات شامل نه کړل شي چې غير نظامي کولو ته اړتيا نلري.[257]

## د افغان ملي پوليسو معاشات

د 2015 اکتوبر تر 15 پورې د متحده اىالاتو دولت د افغان ملي پوليسو معاشاتو، خواړو او تشويقي تادياتو (په محاربه کې بوخت يا ځانګړي سيمو کې ګومارل شوي پرسونل لپاره اضافي تاديات) لپاره د LOTFA له لارې 1.53 ميليارده ډالر چمتو کړي دي.[258] د تقويمي کال 2015 لپاره LOTFA ته متحده

ایالاتو مرسته 112 میلیون ډالر ده چې د معاشاتو، تشویقي تادیاتو، او د ملګرو ملتونو د پراختیا برنامې د مدیریت فیس تمویل کولو لپاره و.[259] د 56.2 میلیون ډالرو لومړی توزیع په جون کې ترسره شوه.[260]

CSTC-A راپور ورکوي چې د LOTFA لپاره راتلونکي پنځه کلونو کې د متحده ایالاتو تمویل به د ایتلاف ملګرو مرستو پورې تړلې وي. کلني اټکل شوي مخارجو ترټولو لوړ 616.3 میلیون ډالر او ټیټ 608.1 میلیون ډالر دي، چې په کال کې اوسط یې 613.2 میلیون ډالر کیږي.[261]

د افغان مالي کال 1394 لپاره د کورنیو چارو وزارت ته د CSTC-A مالي ژمني لیک کې د فنډونو بریښنایی لیږد له لارې د افغان ملي پولیسو 100% معاشاتو چمتو کولو په موخه د کورنیو چارو وزارت لپاره د LOTFA مشرۍ کمیټې دستور شامل دی.[262] د بریښنایی تادیه سیسټم کارولو لپاره د کورنیو چارو وزارت هڅولو په موخه CSTC-A پلان لري چې د تشکیل یوازې هغه مجاز بستونو لپاره تمویل چمتو کړي چې بریښنایی تادیه ورته کیږي، کله چې دغه اوتومات سیسټم د کارولو لپاره په 2016 کې چمتو شي.[263] USFOR-A راپور ورکوي چې د 2015 اګست تر 30 پورې د کورنیو چارو وزارت د افغان ملي پولیسو نږدې ټول پرسونل معلومات AHRIMS کې دننه کړي او د ګومارل شوي پرسونل تر 93% ته یې تشکیل بست ټاکلی دی.[264]

د LOTFA مرستو سربیره CSTC-A راپور ورکوي چې د متحده ایالاتو د 238.4 میلیون ډالرو لومړۍ مستقیم مرسته په میی میاشت کې د مالیه وزارت ته د افغان ملي پولیسو د 2015 اګست پورې د معاشاتو پوښلو لپاره چمتو کړې وه.[265]

## د افغان ملي پولیسو تجهیزات او ټرانسپورټیشن

د 2015 سپتمبر تر 30 پورې متحده ایالاتو د افغان ملي پولیسو تجهیزاتو او ټرانسپورټیشن لپاره د ASFF صندوق 4.1 میلیارده ډالر مکلف کړي او مصرف کړي دي.[266] لدغه فنډونو ډیری یې د وسایطو، الوتکو، مهماتو، وسلو، او د ارتباط تجهیزاتو پیرلو لپاره کارول شوي، لکه څنګه چې په جدول 3.12 کې ښودل شوي دي.[267] پدې کټګورۍ کې له 58% څخه ډیر تمویل د وسایطو او وسایطو اړوند تجهیزاتو پیرلو لپاره کارول شوی.[268]

د افغان ملي پولیسو لپاره پیرل شوي تجهیزاتو کې پیچلي توکي لکه د لوړ تحرک، څو مقصده ټایر لرونکي وسایط (HMMWV)؛ د شپې لخوا د لید وسیلې؛ د نړیوال موقعیت موندلو سیستمونه؛ د چاودیدونکي توکو خنثی کولو تجهیزات؛ او بیومیتریک تجهیزات شامل دي. په عادي توکو کې امبولانسونه، پرزې، تفنګچې، ماشینداري، راډیوګاني، پوښاک، د غاښونو او روغتیا تجهیزات، او د ټرانسپورټیشن وسایل شامل دي.[269] CSTC-A راپور ورکړی چې په مجموعي ډول د افغان ملي پولیسو لپاره له 575,000 څخه ډیرې وسلې، 108,700 د ارتباطاتو وسایل، او 55,000 وسایط پیرل شوي دي.[270] د CSTC-A راپور له مخې د جون میاشتې راهیسې ټولټال پیرل شوي تجهیزات تر 900 میلیون ډالر ډیر شوي.[271] په تیره ربع کې د امریکا دفاع وزارت وویل چې خورا ډیر زیاتوالی د محاربې ډګر کې اوسني او وړاندوینه شوي تخریب او نورو زیانونو پوښلو لپاره و.[272]

د FY 1394 لپاره کورنیو چارو وزارت ته د ASFF فنډونو چمتو کونکی مالي ژمني لیک د کورنیو چارو وزارت څخه غواړي چې د هغه وسایطو نوع او شمیر مشخص کړي چې اړتیا ورته لري، ډاډ ورکړي چې د معیاري کرنو په تعقیب مراقبت یې ترسره کیږي، او مخکې لدې چې CSTC-A نور وسایط چمتو کړي، شته وسایط د ټاکلي موخې لپاره کارول کیږي.[273]

د افغان ملي پولیسو لپاره پیرودل شوي تجهیزات چې وروسته بیا مشخص شو چې نور د ANDSF لخوا پکار ندي د دفع کولو لپاره د امریکا دفاع وزارت ته لیږدول کیدی شي، وروسته لدې چې د متحده

جدول 3.12

**د 2015 جون تر 30 پورې د متحده ایالاتو لخوا د ANP تمویل شوي تجهیزاتو لګښت**

| د تجهیزاتو نوع | پیرودل شوي | پیرودل شوي او افغان ملي پولیسو ته سپارل شوي | پیرود ته په تمه دي |
|---|---|---|---|
| وسلې[a] | $272,449,808 | $205,851,400 | باید مشخص شي |
| وسایط [b] | 3,410,392,212 | 3,109,856,026 | باید مشخص شي |
| ارتباطات | 230,376,282 | 224,995,225 | 11,588,547 |
| الوتکې | 766,950,000 | 692,950,000 | 74,000,000 |
| مهمات | 738,345,011 | 419,352,362 | باید مشخص شي |
| د ترانسپورټیشن خدمات | 20,026,263 | 7,770,471 | 0 |
| C-IEDs | 115,581,810 | 115,581,810 | 2,165,915 |
| نور | 243,097,382 | 91,438,300 | 14,412,160 |
| **ټولټال** | **$5,797,218,768** | **$4,867,795,594** | **$102,166,622** |

یادونه: C-IED = د تعبیه شوي چاودیدونکي توکو (سړک غاړې ماین) پروړاندې. TBD = باید مشخص شي؛ مقدار دې پورې اړه لري چې څومره وران شوي او تخریب شوي تجهیزات د بدلون لپاره دي.
[a] د تیر درې میاشتني راپور څخه 727,337 کموالی د اړتیاو بدلون له امله دی.
[b] د وسایط لګښتونو کې وسایط او پرزې یا سپیرپارټ شامل دي.

سرچینه: CSTC-A، د سیګار د معلوماتو غوښتني ته ځواب، 9/4/2015.

ایالاتو کانګرس خبر شو؛ تردې دمه 18.4 میلیون ډالر د امریکا دفاع وزارت ته لیږدول شوي دي.[274] دا پروسه د هغه تجهیزاتو لپاره موجود ده چې CSTC-A افغان ملي پولیسو ته ندي لیږدولي او په بیله بیا هغه تجهیزات چې لیږدول شوي دي.[275]

د امریکا دفاع وزارت ته د پرزې کولو لپاره لیږدول شوي تجهیزاتو په اړه د سیګار ځیرنه ښیي چې پدې کې ډیری توکي شامل دي چې د ANDSF لپاره ګټور کیدی شو – لکه OCIE او مهمات. په هرصورت، د امریکا دفاع وزارت راپور ورکړی چې د امریکا دفاع وزارت سټاک ته د تجهیزاتو انتقال دمخه افغان ملي پولیسو سره مشوره شوی.[276] CSTC-A راپور ورکړی چې د 27.2 میلیون ډالرو په ارزښت مهمات د امریکا دفاع وزارت سټاک ته لیږدول کیږي ځکه چې افغان ملي اردو او افغان ملي پولیس نور دغه د ټیټ استعمال مهماتو ته اړتیا نلري او د دوی د ملي سټاک موځې پوره شوي دي. لدې چې دغه مهمات اوس په متحده ایالاتو کې د زیرمه کولو تاسیساتو کې دي او افغانستان ته د وړلو په انتظار کې دي، دا عمل به 14 میلیون ډالر وسپموي چې د ذخیره کولو لګښتونو کې مصرف کیدی شو.[277]

## د افغان ملي پولیسو زیربنا

د 2015 سپتمبر تر 30 پورې متحده ایالاتو د افغان ملي پولیسو زیربنا لپاره د ASFF صندوق 3.1 میلیارده ډالر مکلف کړي او 3 میلیارده ډالر یې مصرف کړي دي.[278]

د CSTC-A په وینا، د 2015 اګست تر 31 پورې متحده ایالاتو د زیربنا 729 پروژې بشپړې کړې دي (د 3.5 میلیارد ډالرو په ارزښت).[279]

د افغان ملي پولیسو د زیربنا اخرنی فعال پروژه د کورنیو چارو وزارت قوماندانیو دریمه مرحله (د 55.1 میلیون ډالرو په ارزښت) پدې مني کې د بشپړیدو لپاره مهالویش شوې.[280] پداسې حال کې چې پدې کال کې هیڅ نوی قرارداد ندی ورکړل شوی، پدې ربع کې د افغان ملي پولیسو د زیربنا شپږ پروژې (76.5 میلیون ډالر) تکمیل شوي، پشمول د ANCOP د لیوا او کنډک قوماندانی په پکتیا کې (23.4 میلیون ډالر)، او د لوژستیک او حمایت لیوا او د څلور لوژستیک او حمایت کنډک قوماندانی (23.3 میلیون ډالر).[281]



**د کورنیو چارو** وزارت د قوماندانیو اداري ودانی په کابل کې موقعیت لري. (د CSTC-A عکس)

CSTC-A راپور ورکوي چې 15 پروژې (62.3 میلیون ډالر) د پلان کولو په مرحله کې دي، لدغه پروژو څخه 14 (61.3 میلیون ډالر) د میرمنو لپاره د روزنیز، خوارو او ژوند کولو تاسیساتو جوړولو لپاره دي.[282]

د CSTC-A د انجینری شپږ مشاورین د کورنیو چارو وزارت انجینرانو ته د تاسیساتو مدیریت پالیسي، پلان کولو، د بودجې برنامه کولو او اجرا کولو په اړه په اونۍ کې ډیری ځله ښوونه کوي، په بیله بیا د قرارداد بیاکتنه او د پروژې پلان کول.[283] د CSTC-A یو قرارداد په اړوند موضوعاتو کې متخصصین چمتو کوي چې د کورنیو چارو وزارت پرسونل د تاسیساتو حفظ او مراقبت پلان کولو او بودجې لپاره د افغان زیربنا کمپیوټر سیستم په اړه روزي. نوموړی قراردادي د کورنیو چارو وزارت انجینرانو ته د سروی تخنیک روزنه هم وړاندې کوي.[284]

CSTC-A هڅه کوي چې د دفاع او کورنیو چارو وزارتونو ترمینځ یو تړون وشي چې له مخې یې د افغان ملي اردو د انجینری ښوونځي کې افغان ملي پولیسو ته اجازه ورکړي. افغان ملي پولیس د نجاری/ګل کاری، دننه/بهر برېښنا، نل دوانی، او د سړک سروی او ډیزاین په برخه کې ښوونکو ته اړتیا لري.[285] سربیره پردې، د روزنې درې برنامې به په دې مني کې شتون ولري:[286]

- د CSTC-A د روزنې او مشورې ټیم چې د زیربنا حفظ او مراقبت او ساتنې په اړه د افغان ملي پولیسو د لوژستیک افسرانو ورتیا لوړوي
- د قراردادي اړتیاو پراختیا، د کارونو بیان، او د پلي کولو څارنې په برخه کې د تاسیساتو 39 انجینرانو او پرسونل لپاره روزنیز پروګرام (یو مخکیني پروګرام د کورنیو چارو وزارت او افغان ملي پولیسو کې 29 فارغین ورکړي دي)
- د انجینرانو او د دوی د دفاع وزارت هم منسبانو لپاره د تاسیساتو د مدیریت ورکشاپ

## د افغان ملي پولیسو روزنه او عملیات

د 2015 سپتمبر تر 30 پورې متحده ایالاتو د افغان ملي پولیسو او د کورنیو چارو وزارت روزنې او عملیاتو لپاره د ASFF صندوق 3.7 میلیارده ډالر مکلف کړي او 3.6 میلیارده ډالر مصرف کړي دي.[287]

CSTC-A راپور ورکړی چې اوسمهال د افغان ملي پولیسو لپاره د متحده ایالاتو تمویل شوي اووه د تخنیکي روزنې رواني برنامې شتون لري: پنځه تخنیکي، یو لومړنی روزنه، او یو مسلکي نظامي روزنه.[288] د متحده ایالاتو تمویل شوي ترټولو لوی روزنه کې د عملیاتي تخصص روزنه، لکه د ځانګړي عملیاتو اطلاعات، د تجهیزاتو مراقبت، د تعبیه شوي چاودیدونکي توکو سره مبارزې کړنلارې، د چاودیدونکي توکو خنثی کول، او د راډیو حفظ او مراقبت روزنې شامل دي.[289]

## په ANDSF کې د ښځو وضعیت

پدې ربع کې USFOR-A راپور ورکړی چې په ANDSF کې په خدمت بوخت ښځو شمیر تر 415 ډیر شوی. د ANDSF بشپړ ځواک کې د کموالي سره، په خدمت کې بوخت میرمنو سلنه هم د 0.99% څخه 1.16% ته لوړه شوې ده.[290] پدې ربع کې RS د افغان ملي اردو او افغان ملي پولیسو لپاره د ANDSF ګومارل شوي ځواک شمیر کې د 3,753 میرمنو راپور ورکړی دی، پشمول د روزنې په حال کې زده کونکو او وروستي فارغین. له ټولټال څخه 817 افسران، 1,258 بریدملان، 1,154 سرتیري، او 524 زده کونکي ول.[291]

RS راپور ورکړی چې افغان ملي اردو خپل د ګومارنې هدف په کال کې 485 میرمنو ته راټيټ کړی ترڅو د روزنې اوسنې ظرفيت سره سمون ولري. د بارکونو محدود شمير د ميرمنو د شمير مخه نيسي چې لومړنی روزنه کې ځای په ځای شي.[292] USFOR-A راپور ورکړ چې د 2013 مارچ راپديخوا د ميرمنو د ګومارنې شمير په افغان ملي پوليسو کې دوه چنده شوی دی.[293] د افغان ملي پوليسو د ميرمنو ګومارنه د افغان ملي اردو ګومارنې په پرتله له سنتي پلوه ډيره بريالی ده ځکه چې د افغان ملي پوليسو ګومارنه په نوعي ډول د دوی خپلو ولاياتو کې کار کولی شي.[294]

د FY 2014 لپاره د ملي دفاع واکمنی قانون په ANDSF کې د ميرمنو ګومارنې، ادغام، برنامو او تاسيساتو لپاره د 25 ميليون ډالرو اجازه ورکړې. CSTC-A راپور ورکوي چې ټول 25 ميليون ډالر جمع يو څه اضافي تمويل مکلف شوی دی. څه دبره 4 ميليون ډالر د مستقيم بودجې توکو لپاره مکلف شوي وي لکه د پرمختياو رامينځته کول، عامه اړيکې او اعلانات، انعامونه او تشويقي تاديات او سفريه. په هرصورت، څه دبره 23 ميليون ډالر له بودجې پرته د پرمختياو جوړولو لپاره اجرا شوي، چې پکې د مارشال فهيم ملي دفاع پوهنتون کې د ښځو تاسيساتو او تحويليو لپاره 787,000 ډالر شامل دي.[295] سربيره پردې، د افغان ملي اردو د ميرمنو برنامو لپاره د افغان ملي اردو وجهي صندوق څخه د ناټو ټاکل شوي 10 ميليون ډالرو څخه CSTC-A د پرمختياو جوړولو لپاره 5.6 ميليون ډالر مکلف کړي دي.[296]

## د ANDSF طبي/روغتيا پاملرنه

له 2006 راهيسې، متحده ايالاتو د 188.2 ميليون ډالرو په ارزښت د ANDSF د روغتيا 184 تاسيساتو جوړول تمويل کړي او د شاوخوا 54.7 ميليون ډالرو يې د افغان ملي اردو لپاره د روغتيا تجهيزات پيرلي دي.[297] نور 150,000 ډالر د افغان ملي اردو او 200,000 ډالر د افغان ملي پوليسو تجهيزاتو پيرلو لپاره پدې مالي کال کې مهالويش شوي و، د مستقيم بودجې اکتساب لپاره د 1.76 ميليون ډالرو سربيره چې د تدارکاتو مسلو له امله ساتل شوي دي.[298] افغان ملي اردو د روغتيا اته سيمه ييز روغتونونه لري؛ افغان هوای ځواک پنځه کلينيکونه او پنځه ځانګې لري. افغان ملي پوليسو په کابل کې يوازې يو روغتون لري، مګر د پوليسو درملنې لپاره افغان ملي اردو سره تړون لري.[299] پدې وخت کې د روغتيا د هيڅ تاسيساتو جوړول ندي پلان شوي؛ په هرصورت، بګرام هوای ډګر کې د سهيلي کوريا روغتون به په دسمبر کې دفاع وزارت ته انتقال شي.[300] CSTC-A راپور ورکوي چې افغان ملي اردو اراده لري دغه روغتون افغان هوای ځواک او ځای ملکي خلکو ته د روغتيا خدماتو وړاندې کولو لپاره وکاروي.[301]

CSTC-A راپور ورکړی چې د 2015 اګست تر 17 پورې د ANDSF روغتيا پاملرنې سيستم کې 868 ډاکټران ګومارل شوي ول. ټولټال مجاز بستونو شمير 1,185 دی، چې 546 ډاکټران په افغان ملي اردو بستونو کې او 322 افغان ملي پوليسو بستونو کې دي. افغان ملي اردو او افغان ملي پوليس په ترتيب سره د 194 او 123 ډاکټرانو تشې يا نه شتون سره مخ دي.[302] د افغان ملي اردو اته سيمه ييز روغتونونو څخه اووه، پشمول د کابل ملي نظامي روغتون په بشپړ ډول فعال دي. پلان و چې په هلمند کې د افغان ملي اردو روغتون د 2015 جون تر پای پورې د خپل تشکيل 50% کارمندان ولري.[303]

ANDSF 2,582 رنځورپالان، مرستيال ډاکټران، او نور د روغتيا پرسونل لري چې 140 ډير دي، که څه هم 867 نور بستونه تش پاتې دي.[304] پداسې حال کې چې د ميی پای راهيسې د روغتيا پرسونل تشو بستونو شمير لوړ شوی دی، د مجاز بستونو شمير تر 242 ډير شوی چې بشپړه تشه ډيروي.[305]

پدې ربع کې CSTC-A راپور ورکړی چې افغان ملي اردو او افغان ملي پولیسو د 2015 جګړې فصل په جریان کې سرتیرو او پولیسو ته د روغتیا خدماتو چمتو کولو لپاره ګډ پلان رامینځته کړی دی.[306] د افغان هوای ځواک د روغتیا خدمات د افغان ملي اردو الوتني درملو سره دې وختونو کې وده کړې، چې په اونی کې د روغتیا تخلیه 30–40 ماموریتونه ترسره کوي.[307] CSTC-A د بیو روغتیا تجهیزاتو تخنیکي کارمندانو روزنې لپاره قرارداد کړی ترڅو د افغان ملي پولیسو تخنیکي کارمندان د دې جوګه شي چې د خپلو تجهیزاتو ساتنه وکړي.[308] په هرصورت، د روغتیا حساس تحویلی چې ټولټال 465,000 ډالر او په واکسینو کې نږدې 24 میلیون ډالرو په ارزښت و وروسته له هغه د ایتلاف لخوا پیرل شو چې د ANDSF تدارکاتو کې ستونزې وې.[309]

## د ANDSF د محرم معلوماتو وضعیت

پدې ربع کې د قاطع ملاتړ ماموریت د ANDSF پرسونل ځواک، د ځواک کمیدو، او ارزونو؛ د AAF؛ او د SMW په اړه ځینې معلومات محرم کړي دي. لکه څنګه چې سیګار د خپل وړ کونکي قانون له مخې اجازه لري، سیګار کانګرس ته د دغه معلوماتو درلودونکي محرم ضمیمه د دې راپور سره وړاندې کوي.

## د نا چاودل شوي توکو لرې کول

افغانستان لاهم په لویه کچه د ماینونو او د جګړې راپاتې چاودیدونکي توکو (ERW) باندې ککړ پاتې دی. د بهرنیو چارو وزارت (State) د سیاسي – نظامي چارو بیورو د وسلو لرې کولو او مخنیوي دفتر (PM/WRA) په افغانستان کې د جګړې قربانیانو خوندي کولو، د ژوند خوندي کولو بشر دوستانه مرستې چمتو کولو او د افغان وګړو امنیت او خوندیتوب ته وده ورکولو لپاره د وسلو کنوانسیوني تخریب کولو برنامه اداره کوي. له 2002 مالي کال راهیسې متحده ایالاتو افغانستان ته د وسلو تخریب او ماینونو ایستلو لپاره د بشر دوستانه مرستې په لړ کې 305.6 میلیون ډالر چمتو کړي دي. د PM/WRA FY 2014 ټول فنډونه تر دې ربعې پورې مصرف شوي دي. PM/WRA د دوه کالو تمویل لري؛ FY 2015 تمویل پدې وخت کې د مکلفیت لپاره ندی چمتو شوی.[310]

په 2015 جولای کې، په کابل کې د جنګلک صنعتي پارک له ماینونو او ERW پاک اعلان شو او افغان دولت ته وسپارل شو. د فابریکې کمپلیکس د 1990 لسیزې ملکي جګړې په جریان کې د تخریب کیدو دمخه افغانستان کې یو له خورا تولیدي ځایونو څخه و چې 3,000 کارګران پکې د دندو بوخت و. د ماینونو د پاکولو فعالیتونو بشپړیدو سره د مالیه وزارت پلان لري چې دلته یوه لوی مطبع یا چاپ خانه جوړه کړي چې شاوخوا 1,000 کارګران به پکې بوخت شي.[311]

د بهرنیو چارو وزارت پنځه افغان موسسو (NGOs)، څلور نړیوالو NGOs او د متحده ایالاتو د دولت قراردادي مستقیم تمویلوي چې د ERW سره ککړې سیمې پاکې کړي او د ترهګرو لخوا د سړک غاړې ماینونو او نور تعبیه شوي چاودیدونکي توکو (IEDs) جوړولو لپاره کارول کیدونکي کنوانسیوني وسلو پاکول ملاتړ کړي. د 2015 جون تر 30 پورې د بهرنیو چارو وزارت تمویل کړې پلي کونکي ملګرو له 172.3 میلیون میټر مربع (شاوخوا 66.5 میل مربع سیمه) څخه ډیره ځمکه پاکه کړې او شاوخوا 8.9 میلیون ځمکني ماینونه او نور ERW لکه ناچاودلي توکي (UXO)،

جدول 3.13

**د کنوانسيوني وسلو د له منيځه وړلو برنامې مقياسونه، جنوري 1، 2013 – جون 30، 2015**

| د نيټې حد | AT/AP تخريب شوي | UXO تخريب شوي | SAA تخريب شوي | پاکې شوي پارچې | په ماينونو ککړه ځمکه پاکه شوې (متر مربع يا m²) | د اټکل له مخې پاتې ککړه ساحه (متر مربع يا m²)* |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 1/1–3/31/2013 | 1,984 | 100,648 | 105,553 | 3,722,289 | 7,978,836 | 552,000,000 |
| 4/1–6/30/2013 | 1,058 | 18,735 | 49,465 | 1,079,807 | 5,586,198 | 537,000,000 |
| 7/1–9/30/2013 | 1,243 | 21,192 | 98,306 | 1,673,926 | 4,229,143 | 521,000,000 |
| 10/1–12/31/2013 | 8,211 | 2,460 | 54,240 | 3,064,570 | 5,729,023 | 518,000,000 |
| 1/1–3/31/2014 | 1,780 | 254,734 | 245,380 | 262,750 | 5,473,170 | 638,400,000 |
| 4/1–6/30/2014 | 1,077 | 3,264 | 25,362 | 3,227,697 | 5,163,035 | 519,000,000 |
| 7/1–9/30/2014 | 1,329 | 26,873 | 21,502 | 2,860,695 | 5,705,984 | 511,600,000 |
| 10/1–12/31/2014 | 465 | 20,274 | 58,369 | 538,499 | 1,604,410 | 524,600,000 |
| 1/1–3/31/2015 | 388 | 8,495 | 3,571 | 930,110 | 2,425,318 | 535,600,000 |
| 4/1–6/30/2015 | 434 | 3,037 | 2,748 | 980,748 | 3,390,216 | 535,600,000 |
| **ټولټال** | **17,969** | **459,712** | **664,496** | **18,341,091** | **47,285,333** | **535,600,000** |

يادونه: AT/AP = د ټانک/پرسونل ضد ماين. UXO = ناچاودل شوي توکي. SAA = د کوچني وسلو مهمات قطعي يا ټکرې د دې لپاره راپور شوي ځکه چې پاکول يې تر هغه وخت پورې د نورو شيانو په څير ورته پاملرنې ته اړتيا لري چې اصليت يې معلوم شوی نه وي. يو اکړ شاوخوا 4,047 ميټر مربع ساحه ($m^2$) وي.
* د ککړې ځمکې ټولټال ساحه د بدليدو په حال کې ده ځکه چې د پاکولو فعاليتونه خطر لرونکي ساحې کموي پداسې حال کې چې روانه سروی نوي ککړه ځمکه په ګوته کوي او ماين پاکولو لپاره د معلوماتو مديريت سيستم (IMSMA) ډيټابيس کې ور اضافه کوي.

سرچينه: PM/WRA، د سيګار د معلوماتو غوښتنو ته ځوابونه، 4/1/2015، 6/26/2015 او 9/28/2015.

ممنوع توکي (AO)، سټاکپيلډ مهمات، او لاسي چاوديدونکي توکي لرې کړي يا تخريب کړي دي (جدول 3.13 وګورئ).[312]

ټولټال اټکل شوې ککړه ساحه د بدلون په حال کې ده ځکه چې د پاکولو فعاليتونه خطر لرونکي سيمې کموي پداسې حال کې چې د رواني سروې فعاليتونه نوې ککړه ځمکه مومي. د دې ربعې په پيل کې، 535.6 کلوميټر مربع (206.8 ميل مربع) سيمه په ماينونو او د جګړې توکو باندې ککړه وه. PM/WRA د ماين لرونکي سيمه د ځمکي ماينونو باندې ککړې ساحې په توګه معرفي کوي، چې پدې توګه ککړه ساحه کې دواړه د ځمکې ماينونه او نور ERW شامل کيدی شي.[313] د ربع په جريان کې 6.5 کلوميټر مربع (2.5 ميل مربع) پاکه شوې. په هرصورت، رواني سروې د 29.8 کلوميټر مربع په مساحت (11.5 ميل مربع) اضافي ککړې سيمې په ګوته کړې دي، چې د ربعې تر پای پورې ټولټال ککړې سيمې مساحت 558.9 کلوميټر مربع (215.7 ميل مربع) ته رسوي.[314]

په 2015 اپريل کې USAID د 30.2 ميليون ډالرو افغان ملکي مرستي پروګرام (ACAP III) لاندې د 9.6 ميليون ډالرو خپله لومړۍ مرسته وړاندې کړه. د ACAP III موخه د جګړې قربانيانو پشمول د ماينونو او ERW قربانيانو ملاتړ دی. نوموړی پروګرام د قربانيانو اړتياوې پوره کولو لپاره سمدستي روغتيايي ملاتړ او نور غير پولي مرسته چمتو کوي. دا د دولت وزارتونو او نورو نهادونو ظرفيت هم پراخه کوي ترڅو د جګړې قربانيانو سره مرسته وکړي او د قربانيانو لپاره اطلاع رسووني او د مشورې هڅو ته وده ورکړي. ACAP III به د 2018 تر فبرورۍ پورې دوام وکړي. يوناما په خپل اګست راپور کې ويلي چې د تيرو کلونو ورته دورې په پرتله د 2015 لومړيو شپږو مياشتو په جريان

## د سيګار تفتيش

پدې ربع کې سیګار د ACAP II تمویل لپاره کارول کیدونکی د همکاری تړون پلي کولو په برخه کې د نړیوالي هوسايني او پراختیا شرکت لخوا پيښ شوي لګښتونو بیاکتني لپاره یو مالي تفتيش تکثير کړ. نوموړي تفتيش د نړيوالي هوسايني او پراختيا شرکت داخلي کنټرولونو کې دوه د توکو ضعفونه او یو مورد د همکاری تړون د شرایطو او مقرراتو سره اجابت نه درلودو په اړه پیدا کړل. د نورو معلوماتو لپاره برخه 2، مخ 32 وګورئ.

کې د ملکي مرګ ژوبلي شميره تر هروخت لوړه وه. دغه شېږ میاشتو په جريان کې د ملکي مرګ ژوبله کې ډیروالی د بریدونو ډيريدو له امله و؛ IEDs د ملکي مرګ ژوبلي دوهم لوی لامل دی، چې 4% يي د ERW څخه دي. امنيتي وضعيت په میرمنو او ماشومانو کې د مرګ ژوبلي ډيريدو لامل شوی؛ ACAP III به د میرمنو او ځوانانو لپاره د اقتصادي بیرته میشتنیدني خدماتو باندې تاکید ولري.[315]

## د ترياکو سره مبارزه

د 2015 سپتمبر تر 30 پورې متحده ایالاتو په افغانستان کې له 2002 راهیسې د ترياکو سره مبارزې هڅو لپاره 8.4 میلیارده ډالر چمتو کړي دي. کانګرس د دغه فنډونو ډیری برخه د امریکا دفاع وزارت د نشه ای توکو مخنیوي او نشه ای توکو فعالیتونو سره مبارزې (DOD CN) صندوق (2.9 میلیارده ډالر)، د افغان امنيتي ځواکونو صندوق (1.6) (ASFF میلیارده ډالر)، د اقتصادي ملاتړ صندوق (1.6) (ESF میلیارده ډالر)، او یوه برخه د بهرنیو چارو وزارت د نړیوال ترياکو کنټرول او قانون حاکمیت (INCLE) حساب (2.2 میلیارده ډالر) له لارې مختص کړي دي.[316] د USAID د بدیلي پراختیا برنامې هیوادونو سره د ترياکو تولید ته بدیل اقتصاد رامينځته کولو کې د مرستي له لارې د متحده ایالاتو د ترياکو سره مبارزې موخو ملاتړ کوي.[317] د بیارغوني تمویل سربیره، د متحده ایالاتو د نشه بیز توکو تنفیذ اداره (DEA) په افغانستان کې فعالیت ته د مستقیم تخصیصاتو له لارې تمویل ترلاسه کوي. (ضمیمه B وګورئ)

پدې ربع کې د ملګرو ملتونو د نشه بیز توکو او جرمونو دفتر (UNODC) راپور ورکړی چې د اپیوم تولید پدې کال کې د تیر کال په پرتله 48% کم شوی دی. دغه راالویدل د پام وړ کیدی شي، مګر UNODC خبرداری ورکوي چې د دې د راپور ورکولو میتودولوژي د 2014 او 2015 ترمينځ بدله شوي، چې د امکان له مخې د "بدلونونو کچه د واقعیی کچې څخه ډیره وښيي." د 2014 کال د اپیومو تولید 6,400 ټنه (14.1 میلیون پاونډ) اټکل شوی و؛ 2015 پایلې 3,300 ټنه اټکل شوي دي (7.3 میلیون پاونډ). د کښت کچې هم په 2014 کې د 224,000 هیکتاره څخه په 2015 کې 183,000 هیکتاره ته راکمې شوي، مګر په 2015 کې له اپیومو پاک ولایاتو شمیر راټیټ شوی چې بلخ ولایت هم یکې خپل دریځ له لاسه ورکړی دی. د اپیوم تولید ټیټو کچو سربیره، کښت لاهم د پام وړ پاتې دی او د له مینځه وړو کچې د تولید یا کښت محدودولو باندې لږ اغیزه لري، لکه څنګه چې په شکل 3.27 کې ښودل شوي دي.[318]

ولسمشر غني په اکتوبر کې د افغانستان د ترياکو سره مبارزې نوې ستراتيژي، د نشه بیز توکو د عمل پلان (NDAP) راتلونکي پنځه کلونو لپاره لاسلیک کړ. د NDAP درې موخې د اپیوم کښت کمول؛ د اپیوم او ترياکو اړوند توکو تولید او قاچاق کمول او د غیرمشروع مخدره توکو لپاره داخلي تقاضا کمول؛ او کارونکو لپاره د درملنې شرایطو ډیرول دي. پلان د دغه موخو ترلاسه کولو لپاره ځانګړي اهداف په ګوته کوي چې باید په کلني توګه بیاکتنه شي. سمدستي نوموړی پلان غواړي چې تر 2016 پورې کښت 10% او تر 2019 پورې 40% کم کړي؛ په لومړي کال کې د عامې روغتیا وزارت (MOPH) ته د درملنې 15 برنامې او تر 2019 پورې 75 برنامې ولیږدوي؛ او د برنامې ډیری برخو لکه له مینځه وړلو، د پولو کنټرول، او د پیسو مینځلو سره مبارزې په برخه کې سیمه بیز او نړیوال ملاتړ لاسته راوړي.[319]

متحده ایالاتو د افغانستان د ترياکو سره مبارزې هڅو لپاره، پشمول د پلان د پلي کولو او ملاتړ لپاره د 350 میلیون ډالرو ژمنه کړې. په هرصورت، په افغانستان کې د ترياکو تولید سره د مبارزې په اړه د متحده ایالاتو ریکارډ هڅونکی ندی. د ترياکو سره مبارزې په برخه کې له 2002 کال راهیسې د متحده

ایالاتو مصرفونه لادمخه له 8 میلیارده ډالرو څخه ډېر شوي، پداسې حال کې چې افغانستان لاهم د نړۍ ترټولو لوی د اپیومو تولید کونکی دی. د اپیومو کښت او د نشه ییز توکو کارولو محدود کول لانور قوي ننګونې کیږي چې په چین کې د پوډرو کارونکو ډېریدونکي شمیر د افغان تریاکو لپاره تقاضا لوړوي.[320]

د متحده ایالاتو سفیر پي.میشل مک کینلي په فبروري کې سیګار ته وویل چې د متحده ایالاتو د تریاکو سره مبارزې تازه پالیسي به د شپږو میاشتو په موده کې نهایی شي. په هرصورت، پدې ربع کې د بهرنیو چارو وزارت سیګار ته خبر ورکړ چې د متحده ایالاتو دولت لاهم د 2012 دسمبر ستراتیژۍ له مخې فعالیت کوي. پدې وروستیو کې د افغانستان اعلان شوي NDAP بیاکتنې وروسته، متحده ایالات به یوه اصلاح شوې ستراتیژي چمتو کړي چې NDAP بشپړ کړي.[321]

د ایتلاف شتون کمیدو او په ځینې ولایاتو کې نازک امنیتي اوضاع سره، د برنامو اجرا کولو او د پلي کیدو څارنې لپاره محدود سرچینې شتون لري. د مثال په توګه په تیره ربع کې د بهرنیو چارو وزارت سیګار ته خبر ورکړ چې امنیتي اوضاع د امریکایی کارمندانو د تریاکو سره مبارزې وزارت (MCN) دفترونو څخه د لیدنې مخه ونیوله.[322]

شکل 3.27

**د اپیوم د کښت او له مینځه وړو پایلې، 2015-2005** (زرهاو هکتاره)




یادونه: یو هکتار 10,000 میټر مربع یا شاوخوا 2.5 اکړ کیږي.

* UNODC یادونه کوي چې د دې اداري د راپور ورکولو میتودولوژي د 2014 او 2015 ترمینځ بدله شوې، چې د امکان له مخې "د بدلونونو پراخولی د هغه څه څخه ډېر ښکاري چې څه واقعیت و."

سرچینه: UNODC، د *افغانستان د اپیوم سروی 2015: لنډیز*، 10/2015، مخونه 4، 5؛ UNODC، د نړۍ د نشه ییز توکو راپور 2014، 7/2014، مخ 21.

## د نشه يي توکو د تقاضا کمښت

اوسمهال INL د درملني 97 بستري او بيروني ناروغ مرکزونو ملاتړ کوي چي په کال کې نږدې 30,000 افغانانو ته خدمت کوي. په تيره ربع کې MOPH د نشه بيز توکو استعمال خورا روستی ملي سروی پايلې خپرې کړې. لدې چي په وروستيو کلونو کې د اپيومو د کښت کچو لوړيدو دوام درلود، نو په ورته توګه د هيواد د روږدي کيدو ستونزې هم ډيرې شوي دي. د INL په وينا د نشه بيز توکو کارونکو شمير ممکن د نفوس له 10% ډير وي. په 2015 جنوري کې INL د درملني 13 برنامو لومړی تولګه د MOPH مسؤليت ته انتقال کړه او کلينيک کارمندان يې د افغان دولت کارمندانو ليست (تشکيل) ته وليږدول. د درملني نورې 15 برنامې به د 2016 جنوري تر پای پورې افغان دولت ته او پاتې يې د 2019 تر پای پورې وليږدول شي.

د INL په وينا، MOPH د جولای مياشتي راپديخوا د MCN، کولمبو پلان او INL سره د ليږد کاري ځواک مياشتني ناستو مشري کوله. INL په کال کې دوه ځله د ورته ملګرو سره ناسته ترسره کوي ترڅو د بودجې هرډول احتمالي ستونزو په اړه وغږيږي او حل يې کړي. INL د کولمبو پلان سره د دې پلان د نشه بيز توکو تقاضا کمولو برنامې لپاره د 2014 اکتوبر کې 7.6 ميليون ډالر او 2015 سپتمبر کې 12.9 ميليون ډالر مرسته کړې ده.[323]

ولسمشر غني د سيګار سره خپلې وروستی مرکه کې د نشه بيز توکو داخلي روږدي کيدو مسله راپورته کړه، او وې ويل چې شاوخوا 3.5 ميليون افغانان روږدي دي. ولسمشر غني وويل چې د افغانستان د اپيومو توليد د کرنې سيکتور کې يوازې د غوره عايد دندو په رامينځته کولو سره محدود کيدی شي. (د نورو معلوماتو لپاره د دې راپور برخه 1 وګورئ.)

**د کولمبو پلان:** د لانور اقتصادي او ټولنيزې پراختيا لپاره د دولتونو ترمينځ سيمه بيز سازمان په توګه رامينځته کړی شوی، دا په 1950 کې د اوه تمويل کونکي غړي هيوادونو سره د سری لنکا په کولمبو (په هغه وخت کې سيلون) کې په يوه کنفرانس کې رامينځته شو، او تر 26 غړي هيوادونو پورې غزيدلی دی. INL د نشه بيز توکو روږدي کيدو مشاورينو لپاره په ملي کچه روزنې او د تصديق سيستم رامينځته کولو لپاره د کولمبو پلان د کار ملاتړ کوي. د نړيوال درملنې نصاب لومړنی کچه په آسيا، افريقا او لاتين امريکا کې کارول کيږي. د درملنې دا مسليکتوب د درملنې پايلې پرمختللې کوي، د بيرته روږدي کيدو کچې راټيټوي او د درملنې سيستم باندې باور ډيروي.

سرچينه: د کولمبو پلان دار الانشا، ، په 4/7/2014 تکثير شوی؛ د بهرنيو چارو وزارت، INL، *د نړيوالو ترياکو د کنټرول ستراتيژۍ راپور: جلد I، د نشه بيز توکو او کيميکل کنټرول*، 3/2015، مخ 23.

## د نشه يي توکو پر وړاندې مبارزه کې د خلکو همکاري

د هيواد په کچه د نشه يي توکو پر وړاندې مبارزه کې د خلکو همکاری (CNCE) برنامه سره مالي مرسته کوي، چې موخه يې د کوکنارو کښت راکمول، د عامه پوهاوي په لوړولو سره د نشه يي توکو د استعمال مخنيوی او د حلالو حاصلاتو د توليد هڅول دي. له 2013 راهيسې INL په نوموړې برنامه 9.2 ميليون ډالر مصرف کړي دي. دغه برنامه د 2015 کال د اپريل په 4مه د شاوخوا 1.6 ميليونه ډالره اضافي لګښت سره د يو کال لپاره وغځول شو. د 2016 د کښت دمخه فصل تر هدف لاندې نيولو لپاره يو کمپاين د جولای په 25 پيل شو. په کمپاين کې په ملي او سيمه بيز کچو د نشه بيز توکو پروړاندې بيل بورډونه او راډيويي او تلويزيوني اعلانات شامل دي. د ټولنې ته اطلاع رسولو نوري برنامې په فراه، هلمند، کندهار، ارزګان، بادغيس، بدخشان، بغلان، دايکندي، ننګرهار، نيمروز او کنړ ولايتونو کې په لاره واچول شوې. MCN هم د مذهبي او مدني ټولنې مشرانو سره د اطلاع رسولو ناستې ترسره کړې.[324]

د برنامې برخې په توګه، د رسنيز ارتباطاتو دفتر سياره (سياره) د ترياکو سره مبارزې د رسنيز کمپاينونو مؤثريت څيړنه ترسره کوي. د نوموړي دفتر 42 راپور ورکونکي په ډيری ولاياتو کې ځای په ځای شوي ول، چې د کښت کچو پراساس ورته له رديف 1 څخه تر رديف 4 پورې درجه ورکړل شوې وه. راپور ورکونکو معلومات راټول کړل او د ترياکو سره مبارزې پاليسيو او پيغام رسولو وضعيت په اړه يې طرحې وسنجولې. سربيره پردې، د سياره دفتر د ليدونکو سروی راپوررونو سره د کمپاينونو مؤثريت ارزونه هم ترسره کړه.[325]

په تیره ربع کې د INL یوه خپره شوي ارزونه د افغان بزګرانو لخوا د اپیومو کښت کمولو لپاره د برنامو اغیزې په اړه وه. راپور پایله کړي چې د عامه معلوماتو کمپاینونو مؤثریت تحلیل کول مشکل دي. دی د 2008–2012 هلمند خواړو زون برنامې د عامه معلوماتو کمپاین برخه څیړلي، چې فعالیتونه یې د CNCE فعالیتونو ته ورته و. حتی MCN چې ادعا کوي د عامه پوهاوي کمپاینونه د تریاکو کښت په اړه پریکړو باندې د پام وړ اغیزه لري، خبرداری ورکړ چې د تریاکو سره مبارزې عامه پوهاوي مؤثریت په اړه هیڅ قطعي تحقیق څیړنه شتون نلري.[326]

## د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې وزارت ظرفیت جوړونه

په تیر کال کې د MCN سره د 18 میاشتو لاسلیک شوی MOU چې د 24 افغان ملي مشاورینو لپاره تمویل چمتو کوي د 2015 سپتمبر په 15 پای ته ورسید. د سیګار د معلوماتو غوښتنې په اړه پوښتنې ته په ځواب کې INL ونشو کولی چې مجموعي مصرفونو او مکلفیتونو په اړه مالي معلومات چمتو کړي. د INL په وینا، MCN د نهادي پراختیا په برخه کې د پام وړ پرمختګ کړی او د کارمندانو او برنامو پراختیا لپاره يې ورتیا ډیره شوې. د افغان ملي مشاورینو برنامه د 34 کارمندانو سره پیل شوې. MOU نوی نه شو، مګر که لازم و نو INL به په راتلونکي کې MCN ته د مشورې ملاتړ چمتو کړي. INL پایله کوي چې د ظرفیت جوړولو ملاتړ څخه د روزنې فرصتونو ته اوښتون به MCN ته ورتیا ورکړي چې خپل د انتقال پلان کې خورا لوی مسؤلیت په غاړه واخلي.

په اګست میاشت کې د میرمنو لپاره آسیایی پوهنتون 13 فارغینو په MCN کې د هغوی یو کلنه عملي دوره پیل کړه. نوموړي محصلین په وزارت کې د کارمندانو ظرفیت جوړولو او د جنډر پوهاوي لوړولو لپاره ګومارل شوي دي. MCN د INL فیډبیک له مخې د یولړ لنډمهاله او اوږدمهاله کورسونو لپاره چې افغان پوهنتونونو کې به تدریس کیږي، خپل پروپوزلونه اصلاح کړل. نوموړي کورسونه د کار اړوند مهارتونو او د MCN کارمندانو بشپړ ظرفیت لوړولو لپاره ډیزاین شوي و. INL د پنځه تازه شوي پروپوزلو څخه د دریو لپاره د تمویل اختیارونو په لټه کې دی.[327]

سیګار نشي کولی د MCN ظرفیت جوړولو هڅې وارزوي ځکه چې د نوموړې برنامې لپاره د فعالیت سنجولو هیڅ پلان (PMP) یا د ارزونې یا پرمختګ راپورونه وړاندې شوي ندي. په تیره ربع کې، INL سیګار خبر کړ چې نوموړې اداره د افغان ملي مشاورینو مؤثریت سنجولو لپاره میتودونه رامینځته کول چې باید په PMP کې شامل کړل شي. په هرصورت، مخکې پدې کال کې امنیتي اوضاع د MCN دفترونو څخه د امریکایی کارمندانو د لیدنې مخه نیولې.[328]

INL د 2015 کال لومړی ربعي جریان کې د MCN عامه مالي مدیریت سیستم د خطر خپلواک ارزونه پرمخ ویوړه. نوموړي راپور نتشي په ګوته کړي چې د ناسم مالي راپور ورکولو، د عملیاتو نابسیا او غیرمؤثریت، او د قوانینو او مقرراتو څخه سرغړونې احتمال ډیروي؛ د ځانګړې اندیښنې وړ برخې داخلي کنټرول، د برنامې مدیریت او نظارت، او د ټاکلي پانګو مدیریت وي. د MCN ارزونې لپاره د INL د رغولو پلان پدې ربع کې نهای شوی. INL د نوموړې رغونې پلان پلې کولو لپاره یو قراردادي

### د سیګار پلټنه

پدې ربع کې سیګار یو د پلټنې راپور خپور کړ چې په کابل کې د تریاکو سره مبارزې عناصرو تسهیلاتو (سټریپ مال) کې د برېښنا پروژې بیاکتنه ترسره کړې. دې پلټنې وموندل چې پروژه د بودجې سره بشپړه شوې او د قرارداد د فعالیت معیارونه یې پوره کړي دی. په هرصورت، د 2015 تر جنوري پورې د برېښنا دغه کارځای نه و ټیسټ شوی یا د کار وړ نه ګڼل شوی ــ د تکمیل څخه یو نیم کال پورې. INL د قانون حاکمیت اتـه اجزاو ملاتړ لپاره دغه پروژه تمویل کړه. د نور معلوماتو لپاره برخه 2، مخ 36 وګورئ.

ګوماري. پدې یو کلن پلان کې د ډیټابیسونو رامینځته کول، د پالیسیو او معیاري کړنو رامینځته کول، او د روزنې وړاندې کول شامل دي.[329]

## د والي په مشرۍ د له مینځه وړو برنامه

INL د والي په مشرۍ د تخریب (GLE) برنامه ته بودیجه ورکوي چې د کال په بیلابیلو وختونو کې ترسره کیږي چې د هر ولایت د کښت په دورې په تړاو لري. په 2008 کې د نوموړې برنامې له پیل راهیسې INL 9.9 میلیون ډالر مکلف کړي او 4.2 میلیون ډالر مصرف کړي دي. MCN د له مینځه وړو تولیزې پایلې تعقیبوي چې بیا په تعقیب یې د UNODC لخوا تاییدیږي. GLE ولایتي حکومتي ادارو ته محدود مالي ملاتړ چمتو کړی چې د تریاکو له مینځه وړو هڅو کې برخه اخلي. د INL په وینا، GLE د یوې لوی پروسې برخه ده چې له مخې ولایتي مقامات او کابل د غیرمشروع کښت پروړاندې د مشروع کښت هڅول بیلانس کوي. GLE د له مینځه وړو یوازینی برنامه ده چې د متحده ایالاتو دولت لخوا یې مالي ملاتړ کیږي. دا د INL د افغانستان تریاکو سره مبارزې بودجې له 2% لږه برخه جوړوي.[330]

د INL په وینا، د UNODC د اګست 2015 د له مینځه وړو راپور تولټال د 3,760 هیکتاره له مینځه وړو پایلې ښیې چې د تیرکال 2,692 هیکتاره پایلې څخه 40% ډیر دی. د دې کال د له مینځه وړو کمپاین پرمختللې پایلې لاهم د 2013 کال د تولټال 7,348 هیکتاره له مینځه وړو په پرتله کمې دي؛ د 2015 کال له مینځه وړو پایله د UNODC اوسني (ناتکمیل) اټیومو کښت د 115,843 هیکتاره اوسني اټکل 3% استازیتوب کوي (د افغانستان د 34 ولایاتو څخه د 28 لپاره د UNODC چمتو شوي اټکلونه). تر نن نیټې پورې په GLE د 4.2 میلیون ډالرو مصرف پر بنسټ، د برنامې مؤثریت او پانګووني ته بیرته ستنیدو په اړه جدي پوښتنې پرځای پاتې دي. د UNODC د اپیومو سروې راتلونکی راپور به د ملي ساحې نهایی اټکل او د ټولو ولایاتو لپاره د له مینځه وړو تولټال په ځان کې ولري.[331]

د GLE په اړه نورو معلوماتو لپاره، د متحده ایالاتو کانګرس لپاره د سیګار د 2015 *اپریل میاشتې درې میاشتنی راپور* وګورئ.

## د ښه اجراکوونکي نوښت

د INL د ښه اجراکوونکي نوښت (GPI) د ولایتي تریاکو کښت کمولو او مشروع کښت ډیرولو لپاره د MCN د هڅو ملاتړ کوي. تر دې دمه INL د GPI لپاره 73 میلیون ډالر مکلف کړي او 17.2 میلیون ډالر مصرف کړي دي. د GPI شرایطو له مخې، یو ولایت باید د جایزو ترلاسه کولو لپاره د ټاکلي معیارونو په لور د تایید وړ لاسته راوړنې ولري. د 2014 په اګست میاشت کې INL او MCN د GPI II اعلان وکړ، چې پکې د جایزې کټګورۍ د کښت سربیره عامه پوهاوي او قانون حاکمیت پشمول برخو لپاره "غوره اجرا کونکو" ته غزیږي. له سره ډیزاین شوی GPI د کلیوال بدیل معیشتونو لپاره نور ډیر ملاتړ چمتو کوي. موخه یې په انتخاب شوي ټولنو کې د مشروع کښت ګټورتوب ډیرولو او د کلیوال سیمو په دندو ګومارنې اختیارونو او عایداتو ډیرولو سره د تریاکو کښت کمول دي. د GPI II MOU نهایی شوی دی؛ افغان دولت او د متحده ایالاتو کابل سفارت د دې تفاهملیک اجرا کولو لپاره تنظیمات برابروي. د 2015 اګست تر 31 پورې د GPI تولټال 245 پروژې د 116 میلیون ډالرو څخه

په ډېر ارزښت سره تصویب شوي دي. شاوخوا 183 پروژې تکمیل شوې، 60 رواني دي، او دوه د بشپړېدو په حال کې دي.[332]

INL داړ وړاندې کوي چې د GPI برنامې لاندې وړاندیز شوې پروژې د ادارو ترمینځ مشورې له لارې د متحده ایالاتو دولت نورو کارونو سره تېکر نلري. INL او پلې کونکې ملګري یې د دوهم ځلې کار یا سیالیز فعالیتونو په څېر دامونو مخنیوي او د متمم فعالیتونو رامینځته کولو لپاره د USAID سره مشوره کوي. د افغانستان او پاکستان لپاره د بهرنیو چارو وزارت ځانګړی استازی د تریاکو سره مبارزې کاري ډلو منظم کوربه توب کوي ترڅو د بهرنیو چارو وزارت، امریکا دفاع وزارت، DEA، USAID او نورو اړوند ادارو پرسونل د تریاکو سره مبارزې برنامو همغږی ساتلو لپاره سره راټول کړي.[333]

## بدیله پرمختیا/بدیل معیشت

د USAID د بدیلې پراختیا برنامې د تریاکو تولید ته د بدیل اقتصاد رامینځته کولو لپاره هیوادونو سره د مرستې له لارې د متحده ایالاتو د تریاکو سره مبارزې موخو ملاتړ کوي. د INL تمویل هم په ډېرې برخو کې د برنامو ملاتړ کوي پشمول د رسولو کمول او بدیله پراختیا.[334]

## د افغانستان د حکومتولی او بدیل معیشت پیاوړتیا

د نشه یي توکو د قاچاق پر وړاندې په مبارزې کې د خپلو هڅو د یوې برخې په توګه د بدیل معیشت برنامو ملاتړ کوي. د آغاخان غیر دولتي بنیاد او د هغه همکاران د 11.9 میلیونه ډالرو د افغانستان د حکومتدارۍ او د بدیل معیشت (SAGAL) لاندې فعالیتونه پلې کوي چې له INL څخه یې ترلاسه کړې دي. پلې کوونکې د خپلواکو پروژو پرته د لاندې پنځو موخو په پام کې نیولو سره فعالیتونه ترسره کوي:

- د لوړ ځواک د حلال کښت د سیستمونو د کرهنیزو حاصلاتو ښه کول
- د حلال کښت سیستمونو لپاره د اقتصادي بیارستنیدنې لوړول
- مالي امکاناتو ته د بزګرانو د لاس رسي ښه کول
- د خطر لاندې خلکو د زیانمنیدو راکمول چې په حرام اقتصاد کې بوخت دي
- د سیمه ییزې حکومتدارۍ د سیستمونو ښه کول

د SAGAL فعالیتونه د هلمند او کندهار پشمول 16 ولایاتو کې پلې شوي دي. INL سیګار ته خبر ورکړ چې تر نن نیټې پورې 6.2 میلیون ډالر مصرف شوي دي.[335]

د INL په وینا، د SAGAL فعالیتونه د GPI II لپاره ملاتړ پشمول د متحده ایالاتو دولت لخوا مشروع معیشت او کلیوالو سیمو پراختیا په برخه کې تیرې او رواني پانګوونې بشپړوي. چیرې چې شونې وي، SAGAL به د کلیوالي ټولنې اړتیاو پیژندو لپاره د لانور غیر متمرکز GPI II پروژې انتخاب او نومولو پروسې ملاتړ وکړي. هر چیرې چې GPI II او SAGAL دواړه فعالیت کوي، نو د SAGAL پروژې ټیم به اړین ملاتړ چمتو کړي لکه پرمختللي تخنیکونو او ټیکنالوژیو ته لاسرسی، کرنیز اینپوټ یا خام مواد، بازارونو سره اړیکې، او د تولید وروسته فصل ارزښت ډیرولوپه موخه د

جدول 3.14

**د بدیل معشیت برنامې**

| اداره | د پروژې نوم | د پیل نیټه | د پای نیټه | ټولټال اټکل شوی لګښت (ډالر) | د 9/30/2015 پورې مجموعي مصرفونه (ډالر) |
|---|---|---|---|---|---|
| د بهرنیو چارو وزارت | د افغانستان د حکومتولی او د بدیل معیشت پیاوړتیا (SAGAL) | 7/21/2014 | 1/20/2016 | $11,884,816 | $6,162,146 |
| USAID | د سوداګریزي باغدارۍ او کرنې د بازار موندنې برنامه (CHAMP) | 2/1/2010 | 12/30/2016 | 45,296,184 | 44,141,069 |
| USAID | د شمال، ختیځ او لویدیځ لپاره د اقتصادي بدیل د پر مخ بیولو فعالیتونه (IDEA-NEW) | 3/2/2009 | 9/30/2015 | 159,878,589 | 155,860,217 |
| USAID | کندهار فوډ زون (KFZ) | 7/31/2013 | 8/30/2016 | 27,695,788 | 18,212,000 |
| USAID | د کرنیزې پراختیا سیمه ایزه برنامه (RADP) – سهیل | 10/7/2013 | 10/6/2018 | 125,075,172 | 37,871,187 |
| USAID | RADP – شمال | 5/21/2014 | 5/20/2019 | 78,429,714 | 10,988,400 |
| USAID | RADP – لویدیځ | 8/10/2014 | 8/9/2019 | 69,973,376 | 10,502,291 |

یادونه: د USAID لیست شوي پروګرامونه الزاماً د نوموړې ادارې د بدیل پراختیا صندوق څخه ندي تمویل شوي.

سرچینه: USAID، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 10/8/2015؛ INL، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 9/24/2015؛ USAID، د سیګار ارزونې ته ځواب، 7/12/2015.

ټولنو لپاره ډیر ظرفیت. هر چیرې چې شونې وي SAGAL د USAID پروژو کار بشپړوي او د متحده ایالاتو د بدیل معیشت تمویل شوې پروژې نوي سیمو ته غزوي. د برنامې کارمندان د عین ګټه پورته کونکو سره د کار کولو مخنیوي یا د سیالیز فعالیتونو مخه نیولو لپاره د USAID سره مشوره کوي.[336]

جدول 3.14 د SAGAL او د بدیل معیشت نورو برنامو په اړه د مالي لنډیز معلومات وړاندې کوي.

## کندهار فوډ زون

د کندهار فوډ زون یا خواړو زون (KFZ) د USAID د 27.7 میلیون ډالرو پروژه ده چې د نړیوالې هوسایني او پراختیا شرکت (IRD) لخوا د کډې ستراتیژۍ او د INL سره نږدې همغږۍ لاندې پلې شوې. د KFZ پروژه د کندهار په ولسوالیو کې د کوکنارو د فعالانو د پیژندنې او په نښه کولو لپاره طرحه شوې ده. IRD ته د 2016 اګست تر 30 پورې برنامه د یو کال لپاره وغزول شوه، چې ټولټال لګښت 27.7 میلیون ډالرو ته لوړوي.[337]

په لومړي دوه کلونو کې، KFZ په دوه ولسوالیو کې د 12 کانالونو رغول بشپړ کړل (ټولټال شاوخوا 168 کلومیتر یا 104.4 میل) چې له 19,000 هیکتاره څخه ډیره کرنیزه ځمکه خړوبوي او 33 د بدیل معیشت فعالیتونه وړاندې کوي لکه د بنایی حرفه روزنه، د میرمنو لپاره د سبزیجاتو تولید او پروسس کول، د زیرمه کولو دمخه او وروسته بازار موندنه او مدیریت، د شنو خونو رامینځته کول، او د میوه او سبزیجاتو لپاره د لمریز وچولو میکانیزمونو روزنې. KFZ د بدیلې پراختیا د اپریل 2014 کنفرانس هم په لاره واچو چې پکې د تریاکو سره مبارزې سرپرست وزیر، د کندهار والي، د ولسوالی دولتي چارواکو، د ټولنې پراختیا شوراګانو (CDCs)، ځایی شورا، د مختلف ولسوالیو څخه کلیوالو او نورو ډونرانو په ګډون 560 خلکو برخه اخیستې وه. نوموړي کنفرانس د KFZ لخوا د کانال بیارغونه او

نوري تکمیل شوې پروژې پرانیستي. USAID د 2015 اپریل او جون ترمنځ 2.9 میلیون ډالر او د 2015 جولای او سپتمبر ترمنځ 2.3 میلیون ډالر مصرف کړي دي.[338]

په تیره ربع کې USAID سیګار IRD د 2015 اګست تر 30 وروسته د KFZ یو کال غزولو په جریان کې د پلې کولو ملګري په توګه ساتلو په اړه خبر کړ، د دې حقیقت سربیره چې IRD مخکې د پراخه خلاف کاریو لپاره تعلیق شوی و. USAID سیګار ته خبر ورکړ چې د یوکال تمدید به KFZ ته وړتیا ورکړي چې تریاکو ته بدیل په توګه په اوږده موده کې د اوبو لګولو اضافي سیستمونو بیارغولو او د لوړ ارزښت فصلونو هڅولو باندې تمرکز په واسطه اوبو ته لاسرسی پرمختللی کړي. USAID پلان لري د KFZ پای ته رسیدو وروسته د کندهار سیمه کې د بدیلې پراختیا فعالیتونو ته دوام ورکړي. د INL او USAID ترمنځ همغږي د له مینځه وړو، عامه پوهاوي، او د نشه ییز توکو د تقاضا کمولو برنامو سره د USAID د بدیلې پراختیا هڅې بشپړوي. د برنامې د مؤثریت یوه مثال په توګه، د GLE برنامې لاندې په کندهار کې MCN په مشرۍ پرمختللې همغږي په ګوته کوي چې په 2014 کې د 68 هیکتارو په پرتله په 2015 کې د 396 هیکتاره تریاکو (د UNODC لخوا تایید شوي) د له مینځه وړو پایله یې درلوده. د INL هیواد په کچه عامه پوهاوي سربیره، سیاري هم د USAID د KFZ کار خپل رسنیز کمپاینونو کې برجسته کړی دی.[339]

KFZ په ناخوندې چاپیریال او ډیری لوړني شرایطو کې د فعالیت ننګونو سره مخ کیږي. سره لدې، د KFZ ځایی کارمنداو غړي کاري ساحو ته ورتګ او کټه اخیستونکو سره کار کولو کې بریالي ول؛ نوموړې پروژه د امنیتي پیښو سره نده مخ شوې. د 2015 سپتمبر نیمایی پورې، USAID د 2013 جولای کې د KFZ له پیل راهیسي IRD ته 18.1 میلیون ډالر ورکړي دي. د USAID په وینا، 100 کارمندان ــ دوه د متحده ایالاتو ملکیان، اته د دریم هیواد اتباع او 90 ځایی اتباع د KFZ برنامه باندې کار کوي. د ثبات نوښتونو اغیزي سنجولو کې د USAID د دریمې ډلې نظارت برنامې راپور ورکړی چې د محدود بودجې له امله د KFZ فعالیتونه محدود شوي دي، چې ډیری روزنیز کورسونه وړاندې شوي او د اوبو لګولو ځینې کانالونه په دوه ولسوالیو کې رغول شوي یا جوړ شوي دي.

USAID سیګار ته وویل چې د CDCs او د ټولنې استازو سره د له پیل راهیسي ستراتیژي په توګه د تریاکو کښت هڅونکي موارد په ګوته کولو کې، KFZ د زیربنا، کرنې، او بدیل معیشت نوري پروژې په ګوته کړي چې د ټولنې چلند به د مشروع اقتصاد په اړه بدل کړي. KFZ د MCN، والي، ولسوالانو، د اړوند وزارتونو رییسانو او د ولسوالۍ پراختیا شوراګانو سره نږدې کار کړی چې دوی د KFZ رول اسانولو لپاره سیاسي لیوالتیا، لارښود، مشرې او د ټولنې مرستې وړاندې کړي دي.[340]

افغان بزګرانو او ځایی ټولنو ته ګټې یې روښانه ندي. د مثال په توګه، IRD د هغه کورنیو سلنې لپاره د فعالیت شاخصونه ندي وړاندې کړي چې د مشروع معیشت څخه عاید ډیروالي راپور ورکوي یا د هدف لاندې سیمو کې د تریاکو کښت کې د بدلون سلنه. له نږدې دوه کالو وروسته، IRD په مشروع معیشت کې د متحده ایالاتو دولت مرستې یوې پایلې په توګه د میرمنو لپاره د فرصتونو ډیرولو یوازې پنځه فعالیتونو راپور ورکړی دی.[341]

د 2014 سپتمبر پورې، USAID لږترلږه 5 میلیون ډالر مصرف کړي دي، که څه هم د بدیل معیشت یا د زیربنا پروژې نه وې پلې شوې. د USAID خپلې مینځمهاله ارزونې (په 2015 مارچ کې) پایله کړې چې د اوبو لګولو پرمختیاو په پام کې نیولو سره د فعالیت دورې لاندې د اغیزې سنجول له وخت څخه مخکې و او دا چې په ټولنه کې د ترياکو کښت پېژندل شوي ټولو علتونو ریښو په ګوته کولو لپاره وړاندې شوې روزنې ناکافي وې؛ نوموړې ارزونې یوازې د 2014 نومبر پورې د فعالیت دوره پوښلې ده.[342]

## د کرنیزې پراختیا سیمه یزه برنامه

د کرنیزې پراختیا سیمه ییز برنامه (RADP) د افغان بزګرو د اقتصادي پرمختګ په دوامداره کولو او پراخولو کې مرسته کوي. د RADP درې پروژې د افغانستان په سویلي، لویدیځي او شمالي برخو کې په لار اچول شوې. دا پروژې هغه موخې شریکوي چې د غنمو، لوړ ارزښت فصلونو او مالدارۍ ارزښت لړۍ مؤثریت یا زرغونتیا او ګټورتوب باندې تمرکز کوي. د ارزښت لړۍ په کارولو سره دا پروژې د تولید، پروسس کولو، پلور، او د کرنې ارزښت لړۍ بشپړې پراختیا پروړاندې موانع باندې برلاسي کیدو لپاره د بزګرانو او کرنیز سوداګریو سره کار کوي.[343]

RADP – سهیل د 125 میلیون ډالرو پنځه کلنه هڅه په هلمند، کندهار، زابل او ارزګان ولایتونو کې فعالیت کوي. دا د 2013 اکتوبر کې پیل شوې او د 2018 اکتوبر تر پای پورې مهالویش شوې.[344] د RADP-سهیل برنامه د تولید کونکو، نهادونو، سوداګرو، او سوداګریو ظرفیت پیاوړې کولو باندې تمرکز کوي ترڅو د بازار غوښتنو ته ځواب وویل شي او د ارزښت لړۍ لوبغاړو لکه پرچون پلورونکو، د خام موادو تحویلګرانو، میلونو او کرنې ډیپوګانو ترمینځ د بازار اړیکې اسانه شي. پدې ربع کې RADP – سهیل د غنمو کښت، آفتونو مدیریت، تغذیه، او د لوړ ارزښت فصلونو په برخه کې زرهاو بزګرانو لپاره روزنه په لاره واچوله. RADP – سهیل د مالدارۍ واکسینونو، درملو، او د ناروغیو درملنې په برخه کې د ویټرنرۍ ساحوي واحدونو او زرهاو شپونکیو ملاتړ هم وکړ. دې د ژویو روغتیا پاملرنې خدماتو وړاندې کولو په موخه د پارا ویټرنرانو (د ټولنې میشته د ژویو د روغتیا کارکونکې څوک چې د ژویو لومړنی تشخیص او لومړنی درملنه کوي) لپاره هم روزنې پرمخ ویوړې.[345]

د RADP-شمال د 78 میلونو ډالرو پروژه د 2014 کال د مئ په میاشت کې پیل شوې. دا پروژه په بلخ، جوزجان، سمنګان، بغلان، کندز او بدخشان کې پلې کیږي. د ربع په جریان کې، RADP – شمال د خپل بقا کرنې او قرارداد فعالیتونو لپاره کټه پورته کونکې وټاکل، ازمېښتي ځمکې یې برابر کړې او د خربوزې ارزښت لړۍ لپاره یې د اړتیاو ارزونې په لاره واچولې، او د کشمیره زیرمه کولو روزنه یې پرمخ ویوړه. د بقا کرنې روزنه د غنمو ارزښت لړۍ په برخه کې وړاندې کیږي. د 70 میلیون ډالرو RADP – لودیز په هرات، فراه او بادغیس ولایتونو کې فعالیت کوي. دا پروژه د غنمو او لوړ ارزښت فصلونو، پشمول د باغونو او سبزیجاتو او مالدارۍ زرغونتیا په برخه کې د حاصلاتو ډیریولو په لټه کې هم ده.[346]

USAID پدې کال کې وروسته د شمال، ختیځ او لویدیز لپاره د اقتصادي بدیلونو پرمخ وړونکې نوښتونو (IDEA-NEW) برنامې ترلو وروسته د RADP – ختیځ پلان کوي، چې ننګرهار او ډیرې نور ولایات به پکې شامل وي. RADP – ختیځ به په ځانګړي توګه د جلال آباد سیمه کې د ارزښت

**د ارزښت لړۍ:** د کرنیز محصولاتو لپاره یو لړ لازمي توکي او خدمات ترڅو دغه محصولات له کښت ځایونو څخه نهایی پیرودونکي یا مصرف کونکي ته ورسوي. پدې کې د تولید عامل شرایط، د کښت ځای تولید، له زیرمه کولو دمخه ذخیره او پروسس کول، بازارموندنه او ټرانسپورټیشن، بشپړ پلور یا عمده پلور او پرچون پلور شامل دي.

سرچینه: USAID، د سیګار ارزونې ته ځواب، 4/12/2015.

لړۍ پیاوړي کولو، د خام موادو تحویلګرانو سره کار کولو، د بازار مینځګړیو او نورو کرنیز سوداګریو باندې تمرکز ولري، او د بزګرانو سره به مستقیم لږ کار کوي. RADP – ختیځ د غوښتنې مرحله کې دی او تمه لري چې د نومبر تر پای پورې یو قراردادي په ګوته کړي. د برنامې پلي کیدل به د جنوري 2016 کې د احتمال له مخې پیل شي، چې د IDEA-NEW تړلو او RADP – ختیځ پیل کیدو کې لنډ ځنډ رامینځته کوي.[347]

که څه هم ډیری پروژې د کار په حالت کې دي، د موخو پرورړاندې پرمختګ ندی درک شوی. د پلي کونکي ملګري په وینا، مخکې لدې چې د لاسته راوړنې شاخصونه تر سترګو شي دا به ډیر وخت وي. د مثال په توګه RADP – سهیل د غنمو کښت کونکي بزګرانو شمیر یا د ارزښت لړۍ کې ټاکل شوي بزګرانو شمیر لپاره ډیر شوی مؤثریت ندی ښودلی. په ورته ډول د مرستې پروژې یوې پایلې په توګه د ډیر شوي مالي ستنیدو سره د شرکتونو شمیر (کوچني، مینځني او لوی سوداګرۍ) په اړه هیڅ درې میاشتني معلومات شتون نلري. پدې ربع کې د بدیلې پراختیا یا کرنې دخالتونو څخه څه دبره 15,000 افرادو د لنډې مودې کرنې مؤثریت یا د خواړو امنیت روزنه او څه دبره 11,500 کورنیو ګټې لاسته راوړي دي؛ پداسې حال کې چې د متحده ایالاتو د مرستې څخه پایله کیدونکي د لوړ ارزښت فصلونو کښت کونکي بزګرانو شمیر یا د پرمختللي ټیکنالوژیو یا مدیریت کړنو لاندې هیکتارونو شمیر صفر دی. د روزنو یا روزل شوي افرادو راپور شوي شمیر سربیره، یوازې 11 خصوصي شرکتونو، تولید کونکي نهادونو، د میرمنو ډلو، او ټولنې میشته نهادونو راپور ورکړی چې دوی د روزنو څخه نوي ټیکنالوژۍ یا د مدیریت کړنې پلي کړې دي.[348] د RADP – سهیل مصرفونه په تیره ربع کې ټولټال 8.1 میلیون ډالر و او د 2015 جون تر 30 پورې د دې 50.9 میلیون ډالرو مکلف شوي مقدار څخه 70% مصرف شوي دي.[349] د بیلابیل فعالیت شاخصونو لپآره پرمختګ ممکن په راتلونکي کې ترڅو میاشتو پورې عملي نشي، مګر دوه کاله وروسته پایلې د مصرف شوي فنډونو په رڼا کې د نه منلو وړ دي.

د 2015 سپتمبر تر 30 پورې، USAID په مجموعي ډول په RADP – شمال 11.0 میلیون ډالر، په RADP – سهیل 37.9 میلیون ډالر، او په RADP – لویدیز 10.5 میلیون ډالر مصرف کړي دي.[350] د بدیل معیشت دې برنامې په اړه د معلوماتو لنډیز لپاره د دې راپور مخ 122 کې جدول 3.14 وګورئ.

## د سوداګریزې باغدارۍ او کرنیزې بازارموندنې برنامه

د سوداګریزې باغدارۍ او کرهنیزې بازارموندنې برنامه(CHAMP) د 45 میلیونو ډالرو په ارزښت د USAID برنامه دی چې د کرهنیزو تولیداتو د زیاتوالي او د خوړو د ثبات، د بازار موندنې د فرصتونو برابرولو او د کوکنارو د کښت د کموالي لپاره په لار اچول شوی. CHAMP د کلیوالي افغان بزګرو د غربت په کموالي کار کړی چې دا کار یې بزګرو سره د لږ ارزښت لرونکو حاصلاتو لکه غنم او جوارو پر ځای د لوړ ارزښت لرونکو حاصلاتو لکه میوې او شنې سبزۍ په کرلو د مرستې په کولو سره سرته رسولی.

د افغانستان په 17 ولایتونو کې کار کړی چې د ښې عملي پایلې لرونکې کرهنیزې روزنې، د زیرمو آسانتیاوې رامنځته کول لکه یخې کوټې او د ممیزو د وچولو آسانتیاو تر څنګ د بزګرانو سره د انګورو دودیزو ځمکنیو باغونو نه په د ډیرو حاصلاتو ورکوونکو لوړو باغونو بدل کړي. CHAMP د پټي

د صادراتو په زیاتولو کې له بزګرانو سره د سوداګرو د اړیکو په پیدا کولو او سوداګرو ته د لوړو بیو مارکیټونو په موندنه کې هم مرسته کوي. CHAMP بنځو ته په زیات شمیر فعالیتونو کې ونډه ورکوي او هڅه کوي چې د کرهنیز سکتور په اصلي برخه کې دوی ته ځای ورکړي. دغه برنامه د 2016 کال د دسمبر میاشتې پورې د دوه کالو لپاره وغځول شو تر څو د صادراتو د برخې کټي پیاوړي او افغاني صادرات په سیمه بیزو لویو بازارونو کې په کال کې 10,000 متریک ټنو ته ورسوي.

CHAMP په شیړو (منې، زرد آلو، بادام، انګور، هندوانې، خربوزې او انار) ارزښت لرونکو کړیو کې خپل فعالیتونو تر سره کوي. دا برنامه د باغونو او بازار موندنې په پیاوړتیا تمرکز کوي تر څو د متحده عرب اماراتو او هند په څیر د لوړو بیو بازارنو لپاره د لوړ کیفیت لرونکو میوو تولیداتو ته وده ورکړي.[351]

د 2010 کال راپدیخوا CHAMP بیلابیلې لاسته راوړنې لرې چې په هغې کې د 105,700 بزګرانو روزنه، د 3,000 بنځو روزنه، د کرهنیزو تخنیکونو پیاوړتیا؛ درې میلیونه ته نیږدې د نهالونو کینودلو او د ریښو وهلو په نتیجه کې 19,500 بزګرانو ته ګټه رسول؛ او د 29,500 ټنو په کچه او د 33 میلیونو ډالره په ارزښت نړیوالو بازارونو ته صادرات د لویو لاسته راوړنو له ډلې شمیرل کیږي. CHAMP د 230 زیرمو د جوړولو آسانتیا رامنځته کړه او د کرهنیزې سوداګرۍ په برخه کې یې 7,500 دندې رامنځته کړې.[352]

د 2015 سپتمبر تر 30 پورې USAID د CHAMP پروژو لپاره 44.1 میلیون ډالر مصرف کړي دي.[353] د دې برنامې په اړه د مالي معلوماتو لنډیز لپاره د دې راپور مخ 122 کې جدول 3.143.14 وګورئ.

## د شمال، ختیځ او لویدیز لپاره د اقتصادي بدیلونو پرمخ وړولو هڅونکي

د USAID د 160 میلیونو د IDEA-NEW برنامې ماموریت چې د کرنې قانوني اقتصاد د هیواد په شمال، ختیځ غربي برخو کې پراخ کړي. دغه د 2009 کال د مارچ په میاشت کې پیل شوی و او د 2015 په سپتمبر کې پای ته ورسید. د 2013 پورې، IDEA-NEW خپلې هڅې د ختیځو سیمو او سبزیجاتو او میوو په زنځیر باندې متمرکزې کړې وې.[354]

د تریاکو په اړه د IDEA-NEW څیړنه چې ننګرهار ولایت یې د مطالعې په توګه نیولی، ښایي چې "د IDEA-NEW برنامې لخوا د څیړنې او نظارت هیڅ میکانیزم ندی نیول شوی". . د مختلفو پروژو د فعالیتونو څیړل ښایي د تریاکو پر کښت اغیزه پریباسي. له ولسوالیو څخه په راپ،ر کې دا ترلاسه شوي چیرې چې IDEA-NEW پر خپل شتون او بزګرانو سره پر کار کولو توانیدلي ده، هلته د تریاکو د کرکیلې کچه ټیټه شوې. په هرصورت، زیاتره لرو پرتو سیمو کې چې قرارداتیانو د امنیتي ستونزو له امله سیمه پریښې، هلته د تریاکو کرکیله ډیره شوې. د زیربنا پرمختللې کولو، د اوبو لګولو سیستمونو پرمختللې کولو، د باغونو محصولاتو معرفي کولو او د لوړ ارزښت لرونکې فصلونو په لړ کې د IDEA-NEW لخوا شوي پیلې پانګوونې د تریاکو کښت کمولو لپاره کافي نه وې. اوږدمهاله تعهد لپاره اړتیا وه څو باور ترلاسه شي چې بزګرانو وړتیا درلوده چې نوې ټیکنالوژۍ ته دوام ورکولی شي. راپور خبرداری ورکوي چې د IDEA-NEW ارزیابی اغیزه پیچلې ده، ورکوي:

- د ولایتونو په سیمو کې نا امني

- نور عوامل پرمختيايي مرستي دي چې د ترياکو د کښت په کمښت کې مرسته کوي
- په سيمه کې د نورو نړيوالو ادارو زيات دخالت[355]

د 2015 د سپتمبر 30 څخه، USAID 159.9 ميلونه ډالر د IDEA-NEW فعاليتونو ته ورکړي دي.[356] د IDEA-NEW برنامې مالي معلوماتو او نورو معيشتونو لپاره د دې راپور مخ 122 کې جدول 3.14 وګورئ. مهرباني وکړئ د IDEA-NEW په اړه د نورو معلوماتو لپاره د *متحده ایالاتو کانګریس ته د* سيګار د 2015 *کال د اپریل میاشتې درې میاشتنی راپور وګورئ.*

## د مخنيوي عمليات او پايلې

د امريکا دفاع وزارت راپور ورکړی چې د 2015 کال د جولای 1 څخه د سپتمبر تر 14 افغان امنيتي ځواکونو او د قانون پلي کوونکو ادارو د مخدره توکو پروړاندې 23 عمليات ترسره کړي چې په پايله کې يې 50 تنه نيول شوي دي. زياتره ممنوع فعاليتونه د هيواد په شمالي برخه کې ترسره شوي دي. دغه عملياتونه متواتر ګزمې، د محاصرې او پلټنو عمليات، موټرونه او د نيوني عمليات رانغاړي.

دې کال کې د متحده ايالاتو ځواکونو له افغان ځواکونو سره د مخدره توکو د مبارزې لپآره لوژستکي او استخباراتي مرستي بندې کړې دي، په هرحال، DEA د افغان تحقيقي واحد د د پياوړتيا لپاره خپلې مشورې او پلوي جاري ساتي. د متحده ايالات ځواکونه لاتراوسه SMW ته لوژستکي مرستي ورکوي. SMW چې د ANDSF يوه قطعه ده، د ټاکلي او تاويدونکي وزر الوتکو ټولګه ده چې د ترياکو سره مبارزې او د ترهګرۍ پروړاندې مبارزې عملياتو ملاتړ کوي.[357] د SMW په اړه نور معلومات د دې راپور د امنيت برخې مخ 106 کې موندلی شئ.

د امريکا دفاع وزارت په وينا، امنيتي وضعيت او د ادارو ترمنځ د عملياتو د همغږۍ مرکز (IOCC) ترلږ په افغانستان کې د مخدره توکو پروړاندې د مبارزې خنډ ګرځيدلی. په ځانګړې ډول، اوسمهال د امنيتي ځواکونو کمښت او د طالبانو د بريدونو ډيروالي له امله په سهيل، سهيل لويديز او شمال کې د عملياتونو ترسره کول ډير ستونزمن دي، او بيا په ځانګړې ډول په موسی قلعه او کندز کې. IOCC د هدف کولو او پلان کولو يو مهم مرکز و چې د ترياکو سره مبارزې عملياتو سره مدغم و.

په هيواد کې د اطلاعاتو او برنامو د ترکيب په برخه کې د توانايي نه شتون د دې لامل ګرځيدلی چې د مخدره توکو سره د مبارزې ځواکونو لپاره عمليات نور هم ستونزمن شي. د نوموړي IOCC غړي بيرته په بحرين کې د سيمه ييز ترياکو د ادارو ترمينځ تلفيق خونه (RNIFC) کې ځای په ځای شوي دي. RNIFC په ځانګړي توګه خام يا پروسس شوي اپيوم نه په نښه کوي. دا مينځني ختيځ او ختيځې افريقا ته ډووز (بحري بادي کښتيو) په واسطه وړل کيدونکي افغان پوډرو غيرمشروع حرکات تعقيب کولو او مخنيوي لپاره رامينځته شوی. RNIFC په عربي سمندر کې د ډوو قاچاق تر هدف لاندې راولي او د ترياکو کليدي قاچاقبرانو باندې تمرکز لري.[358]

د امريکا دفاع وزارت په افغانستان کې د *امنيت او ثبات ته وده ورکولو په اړه خپل* د 2015 جون مياشتې راپور کې ويلي دي چې د افغانستان د ترياکو سره مبارزې پوليسو ته مستقيم نړيواله مرسته، په

### د سيګار تفتيش

پدې ربع کې سيګار په کندهار کې د SMW ډلې ملاتړي تاسيساتو د 24.2 ميليون ډالرو ساختماني چارو د تفتيش اعلان وکړ.

جدول 3.15

**د مخنيوي پايلې، مالي کلونه 2008–2015**

| | 2008 | 2009 | 2010 | 2011 | 2012 | 2013 | 2014 | *2015 | ټولټال |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د عملياتو شمير | 136 | 282 | 263 | 624 | 669 | 518 | 333 | 250 | 3,075 |
| نيول شوي کسان | 49 | 190 | 484 | 862 | 535 | 386 | 441 | 371 | 3,318 |
| نيول شوي چرس (کيلوګرام) | 241,353 | 58,677 | 25,044 | 182,213 | 183,776 | 37,826 | 19,088 | 24,405 | 772,382 |
| نيول شوي هيرويين (کيلوګرام) | 277 | 576 | 8,392 | 10,982 | 3,441 | 2,489 | 3,052 | 2,657 | 31,866 |
| نيول شوي مورفين (کيلوګرام) | 409 | 5,195 | 2,279 | 18,040 | 10,042 | 11,067 | 5,925 | 505 | 53,462 |
| نيول شوي ترياک (کيلوګرام) | 15,361 | 79,110 | 49,750 | 98,327 | 70,814 | 41,350 | 38,307 | 26,082 | 419,101 |
| نيول شوي لومړني کيمياوي مواد (کيلوګرام) | 4,709 | 93,031 | 20,397 | 122,150 | 130,846 | 36,250 | 53,184 | 234,981[a] | 695,548 |

يادونه:
[a] د 2014 او 2015 ترمينځ د کيميکلز توکو ټولټال ضبط کې د پام وړ توپير د 2014 د دسمبر په 22 د 135,000 ليټر کيميکلز توکو نيول او ضبط کول و.
* يوازې د 9/14/2015 تر اوږدو پورې د مالي کال برخه اي پايلې.

سرچينه: DOD، د امريکا د دفاع وزارت، د سيګار د معلوماتو غوښتنو ته ځواب، 7/29/2015 او 9/24/2015.

ځانګړي توکه د بهرنيو چارو وزارت لخوا تمه کيږي په 2016 کې خورا ډيره شي. په تيره ربع کې د امريکا دفاع وزارت سيګار ته ويل چې نوموړی وزارت به د 2014 وروسته هم د ترياکو سره مبارزې هڅو ملاتړ ته دوام ورکړي، د دغه وزارت د متحده ايالاتو هم منسبانو سره په ګډه، ترڅو د افغانستان څخه د نشه يیز توکو جريان مخه ونيسي، د ځو مليتي جنايي نهادونو مخه ونيسي او غير مشروع عايدات راکم کړي چې د تروريزم نړيوال فعاليتونه تمويلوي.[359]

په دې دوره کې هم د افغان عملياتو پر مهال د لاندنيو غير قانوني نشه يي توکو د نيولو پايلو راپور ورکړل شوی:

- 2,435 کلوګرام ترياک
- 60 کلوګرام هيرويين
- 8,877 کلو چرس
- هيڅ کيميکل توکي او اړوند مواد ندي نيول شوي[360]

لکه څنګه چې په جدول 3.15 کې ښودل شوي، د له مينځه وړو پايلې له 2012 راهيسې په کميدو دي.

د امريکا دفاع وزارت په وينا، د افغانستان تجربه لرونکي قطعو د ايتلاف مرستي پرته په بريالي توګه د مخدره توکو سره مبارزې پيچلي څيړني او عمليات پرمخ وړي دي. په هرصورت، د ايتلاف ځواکونو وتلو او د طالبانو لخوا ډير شوي پراخه بريدونو د ترياکو سره مبارزې په لړ کې د له مينځه وړو عملياتو په لاره اچولو لپاره د افغانستان وړتيا باندې اغيزه کړې، په ځانګړې توګه کندز، کندهار او هلمند ولايتونو کې. د امريکا دفاع وزارت د ترياکو سره مبارزې/ترهګرۍ ډلو اهدافو باندې بريد کولو لپاره د افغان ترياکو سره مبارزې ځواکونو کارولو باندې ډير تمرکز کوي. دا بايد نورې وړتياوې رامينځته کړي، د امنيت هڅې ملاتړ وکړي او روزنه او عمليات ډير کړي.[361]

**کيميکل توکي:** يوه ماده ده چې د نشه يیز توکو او روان اړولو يا سايکوټراپيک موادو د توليد، جوړولو او/يا چمتو کولو لپاره کارول کيږي.

سرچينه: UNODC، "د نوي توکو جوړولو مادو او کيميکلز څو ژبې قاموس،" 2009، viii.

## د هوايي چلند ملاتړ

د DEA سره د بهرنيو چارو وزارت د ترياکو سره مبارزې ملاتړ کې 35.57 ساعتونه الوتنې، 36 هوايي ماموريتونه، 602 پرسونل ټرانسپورت، او 33,071 پاونډ کارګو انتقال شامل دي. د DEA د له مينځه وړو وروستی ماموريت د 2015 مۍ کې ترسره شوی. سربيره پردې، په افغانستان کې هوای وينګ INL ته ټولټال د 33.4 ساعتونو هوای ملاتړ چمتو کړی، 128 هوايي ماموريتونه يې ترسره

کړي، 326 مسافرين يې ليږدولي، 10,630 پاونډ کارګو يې انتقال کړي. INL او DEA به د ټګ را ټګ لپاره د سفارت هوای چارو د هوای پانګو کارولو ته دوام ورکړي.

په کندهار هوایی ډګر کې د INL هوای ځانګي عنصر په رسمي ډول د 2015 جون کې وتړل شو، چې د هيواد سهيل او سهيل لوديز سيمو کې د تاکتيکي عملياتو ملاتړ کولو لپاره يې د INL وړتيا محدود کړي. دي عنصر په سهيلي افغانستان کې د DEA ماموريتونو ملاتړ لپاره د تاويدونکي وزر پانګي چمتو کړي دي. د INL په وينا، په نوموړي سيمه کې به د افغان ترياکو سره مبارزي پوليسو ځانګړې روزل شوي پوليسو قطعه فعاليت پيل کړي، د ترياکو له مينځه وړو ملي واحد (NIU) ډلګي سره چې د کندهار قانون حاکميت سيمه ايز مرکز کې به ميشته وي. د NIU افسران د امريکا دفاع وزارت لخوا تمويل شوي SMW الوتکو په کارولو سره خپلو عملياتو ته دوام ورکوي.[362]

# د حکومتولۍ محتويات


| | |
|---|---|
| مهمې پېښې | 131 |
| د ملي يووالي حکومت | 132 |
| د افغان دولت بودجې سره د متحده اياالتو مرسته | 134 |
| ملي حکومتولي | 140 |
| ځايی يا سيمه ايزه حکومتولي | 143 |
| پخلاينه او بيرته يوځای کيدل | 147 |
| د قانون حاکميت او د فساد سره مبارزه | 149 |
| بشري حقونه | 157 |

# حکومتولي

د 2015 د سپتمبر تر 30 پورې متحده ایالاتو په افغانستان کې د حکومتولی او اقتصادي پراختیا ملاتړ لپاره نږدې 31.8 میلیارده ډالر چمتو کړي دي. د دغه تمویل ډیری برخه چې له 18.6 میلیارده ډالرو ډیر کیږي د اقتصادي ملاتړ صندوق (ESF) ته مختص شوي و چې د بهرنیو چارو وزارت او د نړیوالې پراختیا لپاره د متحده ایالاتو اداري (USAID) لخوا اداره کیږي.

## مهمې پیښې

د سپتمبر په 5، نړیوالو ډونرانو د لوړ پوړو چارواکو دوهمې ناستې (SOM) لپاره د افغان دولت چارواکو سره وکتل ترڅو په توکیو کې د ډونرانو د 2012 ناستې پرمهال شوي دوه اړخیز حساب ورکولو اقدامات تازه کړي. د 41 هیوادونو او 11 نړیوالو ادارو څخه استازو یوځای د افغان دولت وزیرانو او لوړپوړو چارواکو، د افغان مدني ټولنې او خصوصي سکتور استازو په SOM کې ګډون وکړ.[363]

په تیره ربع کې د هیله مند ګامونو سربیره، د طالبانو لخوا په 2013 کې د طالبانو د مشر ملاعمر د مړینې تایید کولو او په کابل، کندز او نورو سیمو کې د طالبانو لخوا بریدونو وروسته پدغه ډله کې د واک پرسر داخلي شخړې په تعقیب د سولې خبرې ودریدې. د افغان دولت ډیری لوړ رتبه چارواکو پاکستان تورن کړ چې د سولې خبرې سبوتاژ کوي، چې پدې لړ کې د دفاع سرپرست وزیر وویل "د [افغانستان او پاکستان ترمینځ] نا اعلان شوې جګړه اعلان شوې جګړې ته اوښتې."[364] سربیره پردې، اجرایوي رییس عبدالله عبدالله وویل چې افغانستان به د طالبانو سره د سولې خبرو اسانولو کې نور د پاکستان د مرستې په لټه کې نشي.[365]

په اګست کې، د ټاکنیزو اصلاحاتو خانګړي کمیسون (SERC) د افغانستان د ټاکنو ترسره کولو میتود کې بدلون لپاره 11 وړاندیزونه کړي دي. لدې سمدستي وروسته، ولسمشر غني یو فرمان صادر کړ چې په ترڅ کې له 11 وړاندیزونو څخه اووه تصویب کړل. د ټاکنو ننګونو او شکایاتو په ګوته کولو لپاره د ټاکنیز سیسټم، ټاکنیزو حوزو او میکانیزمونو لپاره وړاندیز شوي بدلونونو پرسر اختلاف شتون درلود. ولسمشر غني د SERC موده هم د دسمبر تر پای پورې وغزوله. SERC تر د 2015 دسمبر 21 پورې د پاتې وړاندیزونو حقوقي، تخنیکي او عملي اړخونو باندې کار کوي.[366]

# د ملي يووالي حکومت

## تازه دوه اړخيز حساب ورکول

د سپتمبر په 5 نړيوالو ډونرانو، افغان چارواکو او نورو په کابل کې د دوهم SOM لپاره سره وکتل. نوموړې ناسته په هر کال کې ترسره کيدونکي د لوړ رتبه ناستو دوام و چې د جولای 2012 ټوکيو کنفرانس څخه د دوه اړخيزو ژمنو تعقيب کولو لپاره ترسره کيږي. د سپتمبر ناسته د دسمبر 2014 لندن کنفرانس کې د "په ځان بسيا درک کولو" په نامه د نوي افغان دولت لخوا د اصلاحاتو وړانديز شوي اجنډا راهيسې لومړۍ لوړ ناسته وه.[367] د SOM موخه د افغان اصلاحاتو برنامې د پرمختګ بياکتنه، د پاليسي مهمو مسلو باندې غږيدل، او د مخ په لور په ګډه د لارې پريکړه کول و.[368]

افغان دولت د لندن کنفرانس وروسته په نهه برخو کې د ځان ارزونې پرمختګ راپور وړاندې کړی چې له حکومتولۍ نيولې تر د اقتصادي همکارۍ پورې دي. نوموړی راپور خبر ورکوي چې افغان دولت ډيری سکتورونو کې د پام وړ ننګونو سره مخ دی، "لاهم د مؤثرې پراختيا نړدې هر نړيوال شاخص کې ترټولو شاته دی،" او دا چې ځينې مخکينۍ مثبت چارې د پام وړ ځنډنې شوي يا معکوس شوي دي. افغان دولت دا هم منلي چې نا امنۍ او مرستې پورې وابسته توب داسې يو وضعيت رامينځته کړی چې پکې "ډونران او [افغان] دولت تر يو حد پورې يوبل پورې تړلي چې ډېر ترې نشي کيدی."[369]

د ننګونو غير روښانه ارزونې سربيره، افغان دولت په مناسب ډول د خپلو اصلاحاتو پرمختګ په پام کې نيولو سره برياله و. لکه څنګه چې په جدول 3.16 کې ښودل شوي، افغان دولت ځانته د اصلاحاتو يو شمير برخو کې د کاميابۍ نمرې ورکړي دي. دولت يادونه کړې چې دا ارزونې بايد داسې تفسير شي چې په ګوته کوي "ايا دولت د پيل کولو په لور د قناعت وړ پرمختګ کړی، نه د پای تر ليکې پورې."[370]

د سپتمبر SOM يوې پايلې په توګه، اوس د ټوکيو دوه اړخيز حساب ورکولو کاري چوکاټ (TMAF) د دوه اړخيز حساب ورکولو کاري چوکاټ له لارې په ځان بسيا (SMAF) ته ليږدول شوی. اوس به SMAF لږترلږه د اوسني حکومت مودې تر پای ته رسيدو پورې د افغان دولت او نړيوالې ټولنې فعاليتونه لارښود کړي. SMAF شپږ برخې د پوښښ لاندې راوستي: (1) امنيت او سياسي ثبات ته وده ورکول (د درې اړوند شاخصونو سره)؛ (2) د فساد سره مبارزه، حکومتولي، د قانون حاکميت او بشري حقونه (14 شاخصونه)؛ (3) د مالي ټيکاو له سره راوستل او د عامه مالي چارو او سوداګريزې بانکدارۍ مدغم کول (نهه شاخصونه)؛ (4) د پراختيا پلان کولو او مديريت اصلاح کول، او د ښاريانو د پراختيا حقونو څخه ډاډ وړاندې کول (درې شاخصونه)؛ (5) د خصوصي سکتور پراختيا او هراړخيزه وده او پرمختيا (ځلور شاخصونه)؛ او (6) د پراختيا ملګرتياوې او د مرستې مؤثريت (اته شاخصونه).[371] د SMAF شاخصونو سربيره، د ورته شپږ برخو په اوږدو کې د لنډې مودې 39 محولات شتون لري چې بايد په ټوليز ډول د 2016 تر پای پورې بشپړ شي.[372]

جدول 3.16

| د افغان دولت د پرمختګ لپاره د ځان ارزول | |
|---|---|
| د امنيت او سياسي ټيکاو ډيرول | B |
| د فساد اصلي لاملونو په نښه کول | -B |
| د غوره حکومتولۍ جوړول | +B |
| د مالي ټيکاو په ځای کول | +B |
| د پراختيا پلان جوړونې او مديريت اصلاح کول | +C |
| د خصوصي سکتور تقويت کول، د ودې هڅول او د دندو رامينځته کول | +C |
| د ښاريانو د پراختيا حقونو څخه ډاډ وړاندې کول | -B |
| سيمه ييز اقتصادي همکاري | A |
| د پراختيا شراکتونو اصلاح کول | بې درجې |

سرچينه: GIROA، *د افغانستان په ځان بسيا ته لاره: د لومړۍ مرحلې د پرمختګ راپور*، 9/5/2015، مخونه 6–19.

په ټوليز ډول، د SOM ډونرانو د 2015 په اوږدو کې د 16 ميليارده ډالرو چمتو کولو، او د تيرې لسيزې په کچه يا دې ته نږدې د 2017 په اوږدو کې د ملاتړ ساتلو لپاره خپله ژمنه له سره تاييد کړه.[373] USAID وويل چې که څه هم نښې کولې د SMAF موخو او شاخصونو سره اجابت يا نه اجابت کولو پورې مستقيم تړلې مرستې نښې په ګوته کولې، د SMAF شاخصونو سره اجابت نه درلودل د ډونر باور ته زيان رسولی شي او مرستې کمولی شي.[374]

## د ټاکنيز اصلاحاتو ننګووني

د 2014 ولسمشرۍ ټاکنو چې نړيوالو څارونکو له خولې د پام وړ فساد پکې و، د ټاکنيزو اصلاحاتو لپاره د افغانستان اړتيا برجسته کړه.[375] لکه څنګه چې په جون کې د ملګرو ملتونو عمومي منشي په ښنه کړې، "په ديموکراتيک پروسه د افغان وګړو له سره باور پيدا کولو لپاره هراړخيز ټاکنيز اصلاحات خورا مهم دي."[376]

د ټاکنيزې پروسې له سره بشپړ ارزول د واک شريکولو معاملې يوه مرکزي برخه وه چې د متحده اېالاتو په مېنځګړيتوب د ولسمشر غني او د هغه سيال اجرايه رييس عبدالله ترمينځ د ولسمشرۍ ستونزمنو ټاکنو وروسته وشوه. د سپتمبر 2014 تړون چې د ملي يووالي حکومت رامينځته کيدو لامل شو د ټاکنيزو اصلاحاتو لپاره د سمدستي ځانګړي کميسون رامينځته کولو غوښتنه کوي چې د 2015 کال پارلماني ټاکنو دمخه يې اصلاحات بايد پلي شي، او هرڅومره ژر چې امکان ولري افغان ښاريانو ته د ښ‌برېښنايي تذکرو ويشل.[377]

د جولای په 16 د نوموړي کميسون د رامينځته کيدو په تعقيب، د ټاکنو سيستم کې د بنسټيز اصلاحاتو پلي کولو لپاره د SERC غړو د افغانانو اندونو او پروپوزلو راټولولو لپاره د افغانستان په اوږدو کې سفرونه وکړل. د اګست په 30، د يوې مياشتې غور او ارزونې په تعقيب، د SERC رييس اجرايوي رييس عبدالله عبدالله ته د وړانديزونو لومړی مرحله وړاندې کړه. د SERC د 11 ټکو وړانديزونه په ټاکنيز سيستم کې بدلونونو، د ټاکنو خپلواک کميسون (IEC) او د ټاکنيزو شکاياتو خپلواک کميسون (IECC) غړو لپاره تعليمي شرايطو، د رايي ورکونکو لستونه او د رايي ورکونکو بياځلي نوم ليکنه، د ټاکنيزو حوزو پولو او د رايي مرکزونو موقعيت، او د ټاکنيزو شکاياتو او نيوکو په ګوته کولو لپاره ميکانيزمونو په څير مسايلو باندې تمرکز لري.[378]

عبدالله ته د SERC د وړانديزونو ورکولو يوه ورځ مخکې د SERC 14 غړو څخه دوه و د دې لپاره استعفا ورکړه چې ادعا يې درلوده چې د SERC نورو غړو لخوا د اصلاحاتو دمخه ټاکل شوې تولګه رامينځته شوې. دغه نا رضايتي د پارلماني ټاکنو لپاره د ټاکنيز سيستم بدلولو لپاره پروپوزلونو په اړه وه. اوسمهال افغانستان د غير ليږد وړ رايي ورکولو يو وستوی سيستم لري. SERC يو موازي سيستم وړانديز کړی، پداسې حال کې چې د SERC اعتراض کونکي غړو د ګټونکی هرڅه ترلاسه کوي سيستم ته ترجيح ورکوله.[379]

د سپتمبر په 6، ولسمشر غني يو فرمان صادر کړ چې په ترڅ کې د لنډې مودې اصلاحاتو لپاره د SERC وړانديزونو څخه اوه منل شوي او د عدليه وزارت او د اداري چارو دفتر ته يې دنده سپارلې چې د منل شوي وړانديزونو پلي کول پيل کړي. په هرصورت، غني SERC ته ويلي چې ټاکنيز سيستم، ټاکنيزو حوزو، او د ټاکنو ننګونو او شکاياتو لپاره ميکانيزمونو ته وړانديز شوي بدلونونو ارزونې ته دوام ورکړي. غني د SERC موده هم تر د دسمبر تر پای پورې وغزوله. SERC به د 2015 دسمبر

**يو وستوی نه ليږدول کيدونکي رايي (SNTV):** په افغانستان کې د رايي ورکولو اوسنی کارول کيدونکی سيستم د 34 ولاياتو په کچه، د څو غړيو ټاکنيزو حوزو لپاره دی چې پکې يو رايي ورکونکی د يوه نوماند لپاره يوه رايي ورکولی شي. هغه نوماندان چې له ټولو ډيرې رايي ويسي د موجود څوکيو شمير ګټي. په هرصورت، افغانستان سهميه سيټونه هم لري چې د ميرمنو لپاره دي حتی که دوی ډيرې رايي هم نه وي ترلاسه کړي. د افغانستان د څيړنې او تحليل واحد (AREU) وايي چې SNTV د ګوندونو د پراختيا مخه نيسي ځکه چې نوموړی سيستم د نوماندانو ډلو ته اجازه نه ورکوي خپلې رايي مدغم کړي نو د يوه لپاره به ملاتړ په ټوليز ډول د ډلې سره مرسته وي. افغانستان د وانوتو ترڅنګ يو له هغه هيوادونو څخه دی چې د مقننه قوې ټاکنو لپاره SNTV کاروي.

**د SERC موازي سيستم:** د SERC لخوا وړانديز شوی يو سيستم چې دا به د ولسي جرګې دريمه برخه څوکې د سياسي ګوندونو لپاره مختص کړي. سياسي ګوندونه به د دوی غوره نوماندانو يو خلاص لست چمتو کوي. دغه نوماندان به داسې ټاکنيزې حوزې کې سره سيالي کوي چې ټول هيواد تر پوښښ لاندې راولي. يوازې هغه ګوندونه چې د ټولو رايو لږترلږه 3% رايي خپله کوي هغوی به په پارلمان کې د څوکيو درلودو مستعد وي. د خپلواک يا بې له سياسي ګوند څخه نوماندانو لپاره د SERC د کوچني ټاکنيزو حوزو وړانديز کړی چې له يو څخه تر پنځه پورې غړي لرونکي ټاکنيزو حوزو رامينځته کولو لپاره دي په ولاياتو کې تاسيس شي. جاپان او کوريا د هغه 33 هيوادونو له ډلې څخه دي چې د مقننه قوې ټاکنو لپاره موازي سيستم کاروي.

**ګټونکی هرڅه ترلاسه کوي (FPTP):** داسې يو سيستم چې يکې رايي ورکونکي ټاکنيزو حوزو يا ولسواليو کې ګومارل کيږي او کولی شي د يوه نوماند لپاره يوه رايي ورکړي. تر ټولو ډيرې رايي لرونکی نوماند بريالی کيږي. دا سيستم عموماً هغه ځايونو کې کارول کيږي چيرې چې يو فرد د يوې ولسوالۍ استازيتوب کوي. د SERC مخالفين استدلال کوي چې د FPTP سيستم به د مؤکلينو (رايي ورکونکو) او د هغوی د استازو ترمينځ اړيکي پرمختللي کړي. متحده ايالات او انګلستان د هغه 62 هيوادونو له ډلې څخه دي چې د مقننه قوې ټاکنو لپاره FPTP کاروي.

سرچينه: AREU، د *افغانستان ټاکنيز سيستم سمول*، 7/2012، مخونه 1، 3؛ ملي دموکراتيک انسټيټيوټ، "ټاکنيز سيستم: ميرمنې او ټاکنې،" n.d.، مخونه 16–17؛ د ټاکنيزو اصلاحاتو ځانګړی کميسون، "د SERC د اصلاحاتو وړانديزونو لنډيز I،" 8/30/2015، مخ 1؛ طلوع نيوز، "د ERC دوه غړو د کميسون ناستو سره پريکون وکړ،" 8/29/2015؛ د ACE د ټاکنيزې پوهې شبکه، "پرتله ييز معلومات: ټاکنيز سيستم (خونه 1) ټاکنيز سيستم د ملي مقننه قوې خونې 1 لپاره څه شی دی؟" په 10/5/2015 تکثير شوی، http://aceproject.org/epic-en/CDTable?question=ES005&set_language=en.

تر 21 پورې پدې کار وکړي چې څنګه دغه درې وړاندیزونه به کار وکړي.[380] د SMAF نوې لنډمهاله محوله غواړي چې SERC خپل وړاندیزونه چمتو کړي او افغان دولت د 2016 لومړی نیمای پورې د اصلاحاتو پلي کول پیل کړي.[381]

د ولسمشر غني لخوا منل شوي وړاندیزونو په مینځ کې SERC غوښتنه لري چې هرڅومره ژر امکان ولري د بریښنایي پیژند پاڼو ویشل پیل شي او د رایی ورکولو اوسني کارتونه منسوخ شي.[382] د 2009 راهیسي پلانونو شتون درلود چې په ټاکنو کې د درغلی فرصتونو کمولو لپاره بریښنایي پیژندپاڼې معرفي شي.[383] په هرصورت د بریښنایي پیژندپاڼي برنامې د دې ربعې په جریان کې د پام وړ پرمختګ ندی کړی. د جون په 28 USAID د پرمختګ نه شتون او د افغان دولت ادارو د روښانه ژمنتیا نه شتون له امله د دغه برنامې تمویل بند کړ؛ د اروپا اتحادیی د برنامې لپاره د معاشاتو مرسته پای ته ورسوله.[384] د بهرنیو چارو وزارت په وینا، افغان دولت په بریښنایي پیژندپاڼو کې د ملیت او/یا قوم لیکلو پرسر د رواني سیاسي شخړې له امله د دغه برنامې پلي کول ځنډولي دي.[385]

نړیوال ډونرانو د ټاکنیز مهالویش نه شتون او د ټاکنیزو اصلاحاتو په لور ناکافي پرمختګ له امله د افغانستان ټاکنیزو نهادونو لپاره خپل تمویل کم کړی دی. په پایله کې یې IEC د خپلو کارمندانو شمیر له 911 څخه 504 ته راکم کړ.[386] دواړه 504 او IECC د دولت منظم بودجې څخه د تمویل لپاره د افغان مالیه وزارت (MOF) سره رسمي موافقت کړی دی. افغان دولت بودجه کې چې د جولای له پیل څخه شروع او د 2015 پای کې د افغان مالي کال (FY) تر پای پورې دوام لري، د IEC او IECC کارمندانو کلیدي بستونو او ورځني عملیاتي مخارجو لپاره تمویل شامل دی. په 2015 کې وروسته، به MOF د افغان دولت 2016 کال بودجې څخه بشپړ ملاتړ ته د IEC او IECC کارمندانو اړولو لپاره د اداري اصلاحاتو او ټولنیزو خدماتو خپلواک کمیسون (IARCSC) سره کار وکړي.[387]

## د افغان دولت بودجې سره د متحده ایالاتو مرسته

### د بودجې-دننه ټرونونو لنډیز

د افغانانو لومړیتوبونو له مخې د حکومتولی پرمختګ او د پراختیا هڅو په لیکه کولو لپاره نړیوال ډونرانو د 2010 کابل کنفرانس کې ژمنه وکړه چې د ملکي پراختیا مرسته چې د افغان دولت له لارې د بودجې-دننه ده تر 50% لوړه کړي.[388] ډونرانو، د متحده ایالاتو پشمول دغه ژمنه د جولای 2012 ټوکیو کنفرانس کې او بیا وروسته دواړه د دسمبر 2014 لندن کنفرانس او د سپتمبر 2015 SOM کې تکرار کړه.[389]

د نړیوال بانک په وینا، ډونرانو په ټولیز ډول د 50% بودجې-دننه ژمنه پوره کړې، د ټوکیو کنفرانس ژمنو له نیمایی ډیر یې مصرف کړي دي، او د ډونر هغه بلاعوضه مرستې یې چمتو کړي دي چې د افغان دولت استعمال لپاره د مخ پر زیاتیدو احتیاطي دي ځکه چې فټ بریښي.[390] په هرصورت،

**د بودجې-دننه مرسته:** د ډونرانو هغه مرسته چې د افغان دولت پلانونو سره په لیکه کې وي، د افغان دولت بودجې اسنادو کې شامل شوي وي، او د پارلمان لخوا مختص شوي وي او د افغان خزانې سیستم له لارې اداره شي. د بودجې-دننه مرسته یا د ډونر او افغان دولت نهادونو ترمینځ مستقیم دوه اړخیز ټرونونو له لارې ورکول کیږي یا د څو ډونرانو وجهي صندوقونو له لارې.

**د بودجې-جلا مرسته:** د ډونرانو هغه مرسته چې د افغان ملي بودجې چوکاټ څخه بهر وي او د افغان دولت سیستمونو له لارې نه اداره کیږي.

سرچینه: سیګار، د متحده ایالاتو کانګرس *لپاره درې میاشتنی راپور*، 7/30/2014، مخ 130؛ د مالیه وزارت، "د لیږد او له هغې وروسته لپاره د مرستې مدیریت پالیسي،" 12/10/2012، مخ 8.

جدول 3.17

**د USAID د بودجې-دننه برنامې**

| د پروژې/وجهي صندوق سرلیک | د افغان دولت د بودجې-دننه ملګرې | خانګړی بانکي حساب؟ | د پیل نیټه | د پای نیټه | ټولټال اټکل شوی لګښت (ډالر) | تر 9/30/2015 پورې مجموعي مصرفونه (ډالر) |
|---|---|---|---|---|---|---|
| **له دولت څخه دولت ته دوه اړخیزې پروژې** | | | | | | |
| د برېښنا د انتقال غزولو او اتصال پروژه (PTEC) | د افغانستان برېښنا شرکت (DABS) | هو | 1/1/2013 | 12/31/2018 | $670,000,000 | $52,730,385 |
| د روغتیا خدماتو (PCH) برنامې لپاره د ملګرتیا قراردادونه | د عامې روغتیا وزارت (MOPH) | هو | 7/20/2008 | 12/31/2015 | 259,663,247 | 228,899,313 |
| د کجکي واحد 2 پروژه (د کجکي بند هایدرو پاور کارځای کې د توربین جنریټر واحد 2 نصب) | DABS | هو | 4/22/2013 | 12/31/2015 | 75,000,000 | 33,604,487 |
| د افغانستان د کاري ځواک پراختیا پروژه (AWDP) | د معارف وزارت (MOE) | هو | 9/18/2013 | 4/3/2016 | 30,000,000 | 1,321,456 |
| لومړنی تعلیم او سواد او مسلکي تعلیم او روزنه (BELT) - د درسي کتابونو چاپ او توزیع | د کورنیو چارو وزارت | هو | 11/16/2011 | 12/31/2015 | 26,996,813 | 24,436,268 |
| د ای – دولت د سرچینې مرکز (EGRC) | د مخابراتو او معلوماتي ټیکنالوژۍ وزارت (MOCIT) | هو | 8/28/2013 | 6/1/2016 | 3,900,000 | 30,000 |
| **د څو ډونرانو وجهي صندوقونه** | | | | | | |
| د افغانستان د بیارغونې وجهي صندوق (ARTF) (اوسنی قرارداد ورکړه یا اوارد)* | ډېری | هیڅ | 3/31/2012 | 3/31/2017 | 1,900,000,000 | 1,058,302,620 |
| د افغانستان د زیربنا وجهي صندوق (AITF)** | ډېری | هیڅ | 3/7/2013 | 3/6/2018 | 113,670,184 | 105,000,000 |

یادونه:
* USAID ARTF ته یو مخکینی اوارډ درلود چې د 2012 مارچ کې راټول شو او ټولټال 1,371,991,195 ډالر لګښت يې درلود. دا مهال د ARTF څخه مجموعي مصرفونه 2,430,293,815 ډالر دي.
** د 2014 اکتوبر په 9، USAID د AITF څخه 179,500,000 ډالر بیرته مکلف کړي دي.

سرچینه: USAID، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 10/8/2015.

MOF راپور ورکړی چې د ټولو دوه اړخیز او څو اړخیزو ډونرانو څخه یوازې 12 ډونرانو وکولی شو د ژمنې تر کچې د بودجې-دننه له لارې د پراختیا رسمي مرستې (ODA) 50% په لیکه کولو هدف ترلاسه کړي یا لدې ډېر، او یوازې نهه ډونرانو وکولی شو د مصرف تر کچې ورته هدف ترلاسه کړي یا ورڅخه ډېر.[391]

لکه څنګه چې په جدول 3.17 کې ښودل شوي، USAID تمه لري 1.07 میلیارده ډالر د مستقیم دوه اړخیزې مرستې فعال برنامو باندې مصرف کړي. نوموړې اداره غواړي چې د افغانستان بیارغونې وجهي صندوق (ARTF) سره هم د 1.9 میلیارده ډالرو مرسته وکړي، د USAID او نړیوال بانک ترمینځ د بلاعوضه مرستو مخکینې تړون لاندې د 1.37 میلیارده ډالرو سربېره. USAID د افغانستان زیربنا وجهي صندوق (AITF) ته 105 میلیون ډالر ورکړي دي.[392]

د متحده ایالاتو دولت په مارچ کې اعلان وکړ چې غواړي د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو (ANDSF) ملاتړ لپاره تمویل په لټه کې شي، پشمول د اردو او پولیسو، د 352,000 پرسونل شمیرې لپاره لږترلږه د 2017 پورې.[393] د امریکا دفاع وزارت (DOD) خپلې د FY 2015 بودجې کې د ANDSF لپاره 4.1 میلیارده ډالرو غوښتلې او ترلاسه کړې دي،[394] چې دا به د 2015 په اوږدو کې د 352,000 نهایی شمیر ځواک ساتلو کې مرسته کوي، او د FY 2016 بودجه کې یې د 3.8 میلیارده ډالرو غوښتنه کړې ده.[395]

مخکې، د 2012 شیکاګو کنفرانس کې متحده ایالاتو او ټلوالو يې ژمنه وکړه چې له مالي پلوه افغان امنیتي ځواکونه د دوی اټکل شوي 4.1 میلیارده ډالرو کلنۍ بودجې سره ملاتړ کړي. په هرصورت، دغه اټکل شوې بودجه د 228,500 پرسونل کم شوي ځواک لپاره وه.[396] د سپتمبر 2014 والز غونډه کې د ناټو ټلوالو او ملګرو د 2017 پای پورې د ANDSF مالي ټیکاو او په راتلونکي 10 کلونو کې د ANDSF مالي ټیکاو ته د پام وړ مرستې لپاره خپله ژمنه تازه کړه. نړیوالې ټولنې د 2015 څخه د 2017 پای پورې د ANDSF ټیکاو لپاره د نږدې 1 میلیارد یورو یا شاوخوا 1.29 میلیارده ډالرو اضافي مقدار ژمنه کړې ده.[397]

د 2015 لپاره د امریکا دفاع وزارت تمه لري چې د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د پراختیا برنامې (UNDP) د قانون او نظم وجهي صندوق (LOTFA) له لارې د کورنیو چارو وزارت (MOI) ته د پولیسو معاشاتو لپاره 108 میلیون ډالر مرسته وکړي.[398] د جون په 30، د کورنیو چارو وزارت اعلان وکړ چې LOTFA به د 18 میاشتو لپاره وغزول شي، چې وروسته لدې به د کورنیو چارو وزارت د پولیسو د معاشاتو تادیه کولو بشپړ مسؤلیت په غاړه واخلي.[399]

د امریکا دفاع وزارت تمه لري چې پدې کال کې د مستقیم مرستو په لړ کې د دفاع وزارت (MOD) ته 1.6 میلیارده ډالر او د کورنیو چارو وزارت ته شاوخوا 553 میلیون ډالر مرسته وکړي.[400]

## د بودجې-دننه ملکي مرسته

USAID د (1) افغان دولت اوه نهادونو سره دوه اړخیز تړونونو او (2) د څو ډونرانو دوه وجهي صندوقونو ARTF او AITF له لارې د بودجې-دننه ملکي مرسته چمتو کوي.[401] د USAID په وینا، د ټولې دوه اړخیزې مرستې فنډونه د هرې برنامې لپاره د مالیه وزارت لخوا رامینځته شوي جلا بانکي حسابونو کې اېښودل کیږي.[402]

ARTF چې د نړیوال بانک لخوا اداره کیږي، د افغان دولت عملیاتو، د پالیسي اصلاحاتو، او ملي لومړیتوب برنامو ملاتړ لپاره د افغان دولت دواړه عملیاتي او پراختیایي بودجې ته فنډونه چمتو کوي.[403] د څو ډونرانو وجهي صندوق AITF چې د آسیا پراختیایي بانک لخوا اداره کیږي، په افغانستان کې د زیربنا پروژو لپاره مرسته همغږې کوي.[404] د USAID په وینا، د بودجې-دننه مرستې ډیرې برخه د څو ډونرانو وجهي صندوقونو په ځانګړي توګه ARTF له لارې پرمخ ځي او همداسې به دوام ولري.[405]

د USAID په وینا، نړیوال بانک د ARTF د اداره کونکي په حیث د پام وړ خطرونو سره د ARTF فنډونو د مخکیدو لړترلړه کولو لپاره سیستماتیک لارې په کار اچوي. پدې کې د خطرونو په نښه کولو، څیړلو، تحلیل کولو او بیا د خطرونو په ګوته کولو او نظارت کولو لپاره پالیسیانې، کړنلارې او عملونه شامل دي. نړیوال بانک افغان دولت ته تخنیکي مرسته چمتو کوي ترڅو داډ ترلاسه کړي چې ورته سیستمونه په کار اچول شوي او پیاوړي دي.[406]

د USAID لپاره موجود د نړیوال بانک د مکرر لګښت نظارتي استازي لخوا د وروستي راپور په وینا، د افغان مالي کال 1394 لومړی ربعې لپاره د بیلګه شوي مکرر لګښت کړکی 46% مخارج د شرایطو وړتیا نه پوره کونکي ګڼل کیدل. د نظارتي استازي په وینا، د شرایطو نه پوره کولو ټولې وړتیاوې د ډیره کولو وړ وې او 48% يې د افغان دولت لخوا د اضافي اسنادو په رڼا کې رغول کیدی شي.

د شرایطو وړتیا نه پوره کونکي لګښتونه د حفظ او مراقبت او معاشاتو لګښتونو ترمینځ مساویانه ویشل شوي و. د مخارجو د شرایطو وړتیا نه پوره کولو اصلي دلایلو کې شامل دي: (1) د تدارکاتو اسنادو او فورمو له لاسه ورکول (41% د معاشاتو لست یا حاضرۍ پرته معاشاتو مصرفونو لپاره، 38% د معاشاتو لست له مخې د معاشاتو مصرفونو لپاره، او 37% د حفظ او مراقبت لګښتونو لپاره) او (2) د لګښت لپاره د مجاز تصویب له لاسه ورکول یا ورکول (41% د معاشاتو لست یا حاضرۍ پرته معاشاتو مصرفونو لپاره).[407]

پدې ربع کې USAID د USAID لخوا اداره کیدونکي نوې پراختیا ملګرتیا (NDP) د 800 میلیون ډالرو لپاره د مرستو د 100 میلیون ډالرو لومړۍ برخه ورکړه. NDP دمخه بودجه شوي یا غوښتل شوی تمویل کاروي او د ARTF له لارې ورکول کیږي.[408] NDP خپل، خپلواک شرایط لري چې د متحده ایالاتو او افغان دولت لخوا په دوه اړخیز ډول مزاکره شوي دي.[409] په اګست میاشت کې متحده ایالاتو او افغانستان د NDP اداره کولو لپاره یو تفاهملیک (MOU) لاسلیک کړ چې د 40 پراختیایی پایلو وړاندیز کوي او افغان دولت یې د ترلاسه کولو تمه لري. اوسمهال، د پراختیا 31 پایلو او شاخصونو باندې موافقت شوی او ننه نور یې باید وټاکل شي. USAID یادونه کړې چې 2017 لپاره او لدې وروسته پایلې او شاخصونه ممکن د افغانستان نامعلوم راتلونکي له مخې اصلاح شي. افغان دولت به د پراختیا هرې پایلې ترلاسه کولو لپاره د ARTF مکرر لګښت کړکۍ له لارې د متحده ایالاتو چمتو شوي فنډونو څخه 20 میلیون ډالر لاسته راوړي.[410]

د 100 میلیون ډالرو ورکړې تایید کولو لپاره پدې ربع کې پوره شوي پنځه شاخصونو کې شامل دي: (1) د پیسو نړیوال صندوق (IMF) لخوا د کارمندانو نظارت شوي برنامې (SMP) تصویب؛ (2) د ملکي هوای چلند مدیریت قرارداد لاسلیک کول؛ (3) د پولو څخه تیریدو یوه مرکز کې د ګمرکونو ریاست د بریښنایی تادیه سیستم په لاره اچول؛ (4) د تدارکاتو ملي کمیټې (NPC) رامینځته کول او منظم ناستې؛ او (5) د میرمنو، سولې او امنیت لپاره د ملي عمل پلان تصویب کول.[411] په مارچ کې د متحده ایالاتو یوه لوړپوړې چارواکي له خولې را اخیستل شوي چې د NDP کلیدي بڼه دا چې د فنډونو د ورکولو شرایط د "لنډمهاله نه اوسي، بکس چک کړئ، دا شی وکړئ، د دې اصلاح ترسره کول" و. له بلې خوا د NDP شرایط د "لانور اساسي اصلاحاتو یا پراختیا پایلو" اړتیاوې و.[412]

د 2014 دسمبر کې، د متحده ایالاتو کابل سفارت د افغان بودجې جدي تشې ته رسیدنې په موخه د سمدستي 25 میلیون ډالرو ورکولو لپاره د افغانستان مالي مدیریت معلوماتو سیستم (AFMIS) ته مستقیم لاسرسی یو له دوه شرایطو په توګه بیان کړ. AFMIS ته مستقیم لاسرسی د دې لپاره و چې د متحده ایالاتو چارواکي په واقعیی وخت کې د افغان دولت مصرفونو د تحلیل کولو وړتیا لاسته راوړي. په هرصورت، تخنیکي مسلو AFMIS ته د متحده ایالاتو د کابل سفارت وصل کیدو مخه ونیوله. د USAID په وینا، د سفارت کارمندان د افغان دولت بودجو په اړه مالي معلومات لاسته راوړي مګر د لانور توضیحي، دستوري راپوروںو د رامینځته کولو وړتیا نلري لکه د افغان دولت عواید په ولایت او سرچینې تقسیم شوي.[413] په هرصورت، د بهرنیو چارو وزارت اوس د متحده ایالاتو د دولت پرسونل لخوا د AFMIS خام معلوماتو بیاکتنې ارزښت تر پوښتنې لاندې راولي.[414]

## ANDSF ته د بودجې-دننه مرسته

د بودجې-دننه مرستې لویه برخه د افغان امنیتي ځواکونو لپاره ده. د امریکا دفاع وزارت افغان دولت ته د بودجې-دننه مرسته (1) د دفاع وزارت او کورنیو چارو وزارت ته د افغانستان امنیتي ځواکونو فنډ (ASFF) څخه مستقیم مرستو او (2) د څو ډونرانو LOTFA ته د ASFF مرستو له لارې چمتو کوي.[415] د UNDP لخوا اداره کېدونکي LOTFA اساسا د افغان ملي پولیسو (ANP) معاشات او تشویقي تادیات ورکوي.[416] د مستقیمې مرستې تمویل د مالیه وزارت ته چمتو کېږي، چې دا بیا د اړتیا له مخې دغه مرسته د دفاع وزارت او د کورنیو چارو وزارت ته مختص کوي.[417]

په فبرورۍ 2011 کې د دفاع وزارت حسابدار د امنیتي لېږد ګډې قومانده – افغانستان (CSTC-A) ته واک ورکړ چې د بودجې پراختیا او اجرا کولو، د اکتساب پلان کولو او تدارکاتو برخو کې د وزارتونو ظرفیت او وړتیا رامینځته کولو لپاره ASFF څخه د افغانستان دولت ته مستقیمې مرستې چمتو کړي. د دفاع وزارت او کورنیو چارو وزارت ته د ASFF سرچینو ټولې مرستې CSTC-A اداره کوي. CSTC-A د دغه فنډونو اجرا نظارت کوي او په رسمي ډول یې تفتیش کوي ترڅو د وزارتونو ظرفیت وارزوي او د مستند محاسباتي کړنلارو سره د سمو کنټرولونو او اجابت څخه ډاډه شي په بیله بیا د کلني ژمني مکتوبونو کې شته وړاندوینو اجابت.[418]

د ژمني لیکونه د دفاع او کورنیو چارو وزارتونو مرستې لپاره د CSTC-A شرایط بیانوي. د مالي کال 1394 ژمني لیکونه د دفاع وزارت لپاره 45 او د کورنیو چارو وزارت لپاره 48 شرایط لري.[419] CSTC-A وویل چې د 1394 مالي کال ژمني لیکونو کې د دفاع وزارت او د کورنیو چارو وزارت اجابت د شرایطو سره مکس و. د شرایطو ډېری - 35 د کورنیو چارو وزارت او 32 د دفاع وزارت لپاره ــ تر دې دمه د قناعت وړ پرمختګ کړی. جدول 3.18 د CSTC-A لخوا چې څنګه ارزول شوي د دریځ له مخې د شرایطو شمیرې وړاندې کوي.[420]

جدول 3.18

**د مالي کال 1394 لپاره د دفاع او کورنیو چارو وزارتونو د ژمني لیک شرایطو وضعیت**

| وضعیت | د دفاع وزارت ځانګړي شرایطو شمیر | د کورنیو چارو وزارت ځانګړي شرایطو شمیر |
|---|---|---|
| تر نن نیټې پورې د قناعت وړ پرمختګ | 35 | 32 |
| د وزارت د ناکامۍ له امله د مالي جریمې پرته ناکافي پرمختګ | 6 | 5 |
| د وزارت د ناکامۍ له امله د مالي جریمې سره ناکافي پرمختګ | 4 | 2 |
| د وزارت له کنټرول څخه وتلي فاکتورونو له امله ناکافي پرمختګ | 3 | 4 |
| نا تصفیه شوي | 1 | 1 |

سرچینه: CSTC-A، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 9/25/2015.

د CSTC-A په وینا، شرایط او اړوند جریمې د کورنیو چارو او دفاع وزارتونو څخه غواړي چې د افغانستان بشري سرچینو معلوماتو سیستم (AHRIMS) کې د پرسونل معلومات دننه کول د شرایطو پوره کولو بریالي مثالونه ول. د کورنیو چارو وزارت په قضیه کې د ډېرېدونکي جریمو تحمیل په تعقیب په AHRIMS کې د پرسونل د معلوماتو دننه کولو کې د دواړه د کورنیو چارو وزارت او د دفاع

وزارت لخوا د پام وړ پرمختګ شوی دی. وروسته لدې چې د کورنیو چارو وزارت د مارچ 1 نیټې موده له لاسه ورکړه چې باید AHRIMS ته یې د پولیسو ریکارډ یا ثبتونه خپلولي وی، CSTC-A د مارچ او اپریل لپاره د کورنیو چارو وزارت حفظ او مراقبت باندې 1% جریمه او په میی کې 5% جریمه وضع کړه. CSTC-A اوس خپل تمرکز په AHRIMS کې د خپلول شوي معلوماتو معتبر کولو ته اړولی دی.[421]

د ژمنې لیک هغه شرایطو لپاره چې نه و پوره شوي یا پلې شوي، CSTC-A فکر کوي چې حالات د دفاع یا کورنیو چارو وزارتونو کنټرول څخه بهر ول. عموما، دغه شرایط د لاندې دریو برخو څخه یوه کې و:

- د افغان ظرفیت او وړتیا په اړه اټکلونو پراساس شرایط چې د وړاندوینې سره سم یې تکمیل ندی کړی
- د هغه مقیاسونو او شرایطو پراساس شرایط چې هغه ډول د سنجش وړ یا د ارزولو وړ نه و لکه څنګه چې اصلا وړاندوینه شوي و
- هغه شرایط چې پلې کول یې لکه څنګه چې لیکل شوي د هغه کلیدي وړتیاو ته په بشپړ ډول زیان لرونکي کیدی شو چې د 2015 جګړې فصل کې د اجرآتو لپاره اړین دي.[422]

د شرایطو نه پوره کولو یا نه پلې کولو یو مثال د دفاع وزارت لخوا د وسلو د کلني لست چمتو کولو کې پاتې راتلل و. که چیرې د دفاع وزارت د دې شرط پوره کولو کې پاتې راغی، نو CSTC-A د وسلو راتلونکې تحویلي نه وړاندې کوي. د CSTC-A په وینا، د دفاع وزارت کلني راپورونو وړاندې کولو کې پاتې راغلی یا په بیله بیا د شپې لخوا د لید وسیلو یا وسلو راپور ورکولو کې پاتې راغلی. په هرصورت CSTC-A د ژمنې لیک شرط ندی پلې کړی، څکه چې پلې کولو یې د 2015 جګړې فصل په جریان کې د دفاع وزارت وړتیا باندې منفي اغیزه کولی شوه.[423]

CSTC-A د LOTFA ته خپلو مرستو لپاره شرایطو ټاکلو کې ستونزې سره مخ شوی دی. د 2014 دسمبر کې CSTC-A د ژمنې لیک یوه مسوده UNDP ته ولیږله چې CSTC-A ته اجازه ورکوي د UNDP اداري فیسونه وځنډوي، کم یې کړي یا وې ساتي ـ اداري فیسونه LOTFA ته د ټولټال 4.4 میلیارده ډالرو لپاره د CSTC-A مرستې 4% جوړوي ـ که چیرې UNDP د ژمنې لیک شرایط پوره نکړي. په هرصورت، UNDP د شرایطو او جریمو په اړه د مسودې ادبیاتو سره مخالفت وکړ. د CSTC-A او UNDP ترمینځ یو مصلحت د دې لامل شو چې د ژمنې واقعیی لیک څخه د بحث وړ ادبیات لرې او د CSTC-A پوښ لیک کې ځای پر ځای شي ترڅو د LOTFA فنډونو څارنې په برخه کې د لانور جدیت پلې کولو په اړه د CSTC-A مقصد په اړه وغږیږي. د CSTC-A په وینا، په 2015 مارچ کې لاسلیک شوی د ژمنې لیک الزاماً یو حقوقي قرارداد ندی، نو د LOTFA هر ډونر کولی شي پریکړه وکړي چې غواړي د کال په اوږدو کې پرته له قانوني انشعباتو خپله ژمنه وړاندې کړي یا نه.[424]

د دفاع وزارت مالي کال 1394 بودجې ته د CSTC-A ټولټال مرسته 89.47 میلیارده افغانی ده (د ډالرو پروړاندې د افغانیو 56 نرخ په کارولو سره شاوخوا 1.6 میلیارده ډالر).[425] د کورنیو چارو وزارت مالي کال 1394 بودجې ته د CSTC-A ټولټال مرسته 30.99 میلیارده افغانی ده (د تبادلې ورته نرخ په کارولو سره شاوخوا 553 میلیون ډالر).[426]

په فبرورۍ کې غني د "صداقت لپاره بې عیب اختیار" سره د افغان چارواکو یو مهم ګروپ درلودونکي ولسمشرۍ کمیسون لاندې د لوی قراردادونو تدارکاتو مرکزي کولو لپاره NPC رامینځته کړ.[427] د افغان دولت په وینا، NPC د 2015 اګست تر 17 پورې 219 پروژې تصویب کړې، 41

پروژې يې د سمون لپاره بېرته ستنې کړې او 28 پروژې يې رد کړې دي. افغان دولت د 919 میلیون ډالرو پروژې کې د شاوخوا 130 میلیون ډالرو سپمولو ادعا هم کوي چې د NPC لخوا څېړل شوي.[428] د تدارکاتو پورې تړلي فساد کمولو په موخه د غني هڅې د تدارکاتو پروسه ځنډني کړې او د CSTC-A په وینا د "[د افغان مالي کال] 1394 د تدارکاتو بحران" یې رامینځته کړی دی.[429] د دفاع وزارت 648 اړتیاو څخه، 329 د دفاع وزارت د تدارکاتو او کسب اداري ته سپارل شوي 149 قراردادونه ورکړل شوي دي، چې په تیره ربع کې ورکړل شوي قراردادونو څخه 31 ډېر دي. د کورنیو چارو وزارت هم د 925 ټاکل شوي اړتیاو ورته بندښت سره مخ دی، لدې څخه 378 د کورنیو چارو وزارت د تدارکاتو ریاست ته سپارل شوي، او 83 قراردادونه ورکړل شوي، چې په تیره ربع کې د ورکړل شوي قراردادونو څخه 47 ډېر دي. د CSTC-A په وینا، د تدارکاتو بندښت په بریالي توګه د بودجې-جلا قراردادونو څخه د بودجې-دننه تدارکاتو ته د اوښتون فرصتونه د تر پام وړ کچې پورې محدودوي.[430]

## ملي حکومتولي

### د ظرفیت جوړولو برنامې

د USAID د ظرفیت جوړولو برنامې غواړي چې د بودجې-دننه مرستي لپاره د افغان وزارتونو د چمتو والي وړتیا، اداره کولو او محاسبې ته وده ورکړي. دا برنامې د افغان دولت نهادونو د پراخه بشري او نهادي ظرفیت جوړولو ملاتړ ته عمومي مرسته هم چمتو کوي.[431] لکه څنګه چې په جدول 3.19 کې ښودل شوي، په فعال برنامو کې د USAID د 31 میلیون ډالرو د رهبریت، مدیریت او حکومتولی پروژه شامله ده چې غواړي د افغانستان مالي مدیریت سیستمونه او د عامي روغتیا وزارت او د معارف وزارت ظرفیت پیاوړی کړي ترڅو د بودجې-دننه ډېرې شوې مرستې لپاره د 2010 کابل نړیوال کنفرانس کې وړاندې شوي اړتیاوې پوره کړي.[432] USAID د بڼځو چارو وزارت د نهادي جوړښت او واکمند کولو پروژه هم تمویلوي، دا د 15 میلیون ډالرو پروژه د نورو شیانو ترمینځ د وزارت سره مرسته کوي خپل مالي مدیریت پرمختللی کړي، لکه څنګه چې د راتلونکي بودجې-دننه مرستي لپاره ورته اړتیا ده.[433]

جدول 3.19

**په ملي کچه د USAID د ظرفیت جوړولو برنامې**

| د پروژې نوم | د افغان دولت ملګری | د پیل نیټه | د پای نیټه | ټولټال اټکل شوی لګښت (ډالر) | تر 9/30/2015 پورې مجموعي مصرفونه (ډالر) |
|---|---|---|---|---|---|
| د رهبریت، مدیریت او حکومتولی پروژه (LMG) | د عامي روغتیا وزارت، د معارف وزارت | 9/25/2012 | 12/31/2015 | $38,341,106 | $36,207,450 |
| د افغانستان له حقوقي ادارو سره مرسته (ABLA) | پارلمان | 3/28/2013 | 3/27/2018 | 24,990,827 | 11,615,069 |
| د افغانستان د ښځو د چارو وزارتد تشکیلاتو د بیاسموني او پیاوړتیا پروژه (MORE) | د ښځو چارو وزارت | 12/20/2012 | 12/19/2015 | 14,182,944 | 7,237,481 |

سرچینه: USAID، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 10/8/2015.

پدې ربع کې USAID د ښځو چارو وزارت (MOWA) سره اته مشورتي غونډې وکړې ترڅو د نوي وزير ليډ په اړه پوهه شي او دا چې MORE څنګه مرسته کولی شي. د MORE لپاره د نوي وزير لومړيتوبونو کې د افغان ميرمنو د حقونو لوړ رتبه وکيلانو ګومارل شامل دي چې دوی به د وزير سره د ډونر همغږی، ستراتيژيک پلان جوړولو، د برنامې پلي کولو، او د ارتباطاتو او اطلاع رسولو په برخو کې مرسته وکړي؛ په غونډو، کنفرانسونو، روزنو او پريزنټيشنونو کې د کارولو لپاره د MOWA د زينب آډيتوريم نوي کولو ملاتړ کول؛ د پنځه کلن ستراتيژيک پلان رامينځته کولو کې MOWA مرسته کول؛ په کابل او ولاياتو کې د وزارت کارمندانو لپاره د MORE د بورسونو برنامې غزول؛ او د ولايتي پروفايلونو او د ښځو د وضعيت راپورونو د توليد په برخه کې د MOWA د کارمندانو روزل. د USAID په وينا، دا وړانديزونه د MORE اصلاح شوي برنامه کې شامل کړل شوي دي.[434]

په ورته ډول دې ربع کې، MORE د MOWA کارمندانو ته 76 بورسونه چمتو کړل چې افغان خصوصي پوهنتونونو کې ګډون وکړي؛ د MOWA 100 کارمندانو ته د انګلسي ژبې ټولګي وړاندې شو؛ د MOWA 80 کارمندان په افغانستان کې د ميرمنو لپاره ملي عمل پلان په اړه وروزل شو؛ او د ښځو حقونو په اړه د MOWA د ملي پوهاوي لوړولو کمپاين يې تمويل کړ.[435]

## ملي شورا

د دې ربعې ډيری برخه کې پارلمان رخصت و چې د روژې او د کوچني اختر رخصتيو په تعقيب و. په پايله کې پارلمان د څارنې يوازې يوڅو کارونه پرمخ ويوړل څکه چې نه خو د پارلمان عمومي ناستې او نه هم د کميسيونونو ناستې ترسره شوې.[436]

د ولسي جرګې د کاري دورې پای ته رسيدو څخه 30–60 ورځې دمخه د ټاکنو ترسره کولو *لپاره* د اساسي قانون اړتيا سربيره، د ولسي جرګې موده د 2015 جون په 22 کې پای ته ورسيده، پداسې حال کې چې هيڅ ټاکنې ندي ترسره شوي. ولسمشر غني د ولسي جرګې غړو موده وغزوله، مګر د اساسي قانون له پلوه دغه مشروعيت نلري. د USAID په وينا، د ولسي جرګې لپاره پارلماني ټاکنو کې ځنډ د افغان دولت څخه عامه ناهيلي توب ډير کړی دی. په پارلمان کې د دوه جرګو ترمينځ ډير شوي سياسي تناو شتون درلود، چې د مشرانو جرګې غړو د نوي پارلماني ټاکنو نه ترسره کيدو له امله د ولسي جرګې مشروعيت تر پوښتنې لاندې راوست.[437] د ټاکنو خپلواک کميسون د ولسي جرګې او ولسوالی شوراګانو ټاکنو لپاره دوه ممکن نيټې د 2016 ميې يا سپټمبر کې وړانديز کړي دي، مګر تر دې دمه يوه نيټه هم نده اعلان شوې.[438]

د بهرنيو چارو وزارت په وينا، د افغانستان پارلمان د ظرفيت او سياسي تکامل وده دوام لري. پداسې حال کې چې متمرد دی، پارلمان د خپل قانون جوړونې سهمونو د ساتنې وړتيا لري د اجرايوي څانګې او پروژارتونو د عامه پام کولو لاربشود سره. په هرصورت، د کارمندانو هڅې، فساد او د تعليم او تجربې ټيټو کچې په دوامداره ډول نومورې نهاد ته زيان رسوي.[439]

د دې ربعې په جريان کې پارلمان د دولت بيلابيل چارواکي احضار کړي چې په لاندې ډول دي:

- د سپتمبر په 19، د ترياکو سره مبارزې وزير د مخدره توکو کښت او روږدي کيدو ډيروالي، د روغتيايي مرکزونو نه شتون او د مخدره توکو پلور په اړه وپوښتل شو.
- د سپتمبر په 30، د کورنيو چارو وزير، د ملي امنيت (NDS) رييس، د ستر درستيز معاون، د امنيت ملي شورا مشاور معاون، او د سيمه ييز ارګانونو خپلواک رياست (IDLG) رييس د کندز سقوط په اړه لنډ معلومات وړاندې کړل.
- د اکتوبر په 3، د پولو او قبايل چارو وزير د طالبانو سره د راپور ورکړل شوي MOU په اړه وپوښتل شو چې د بغلان ولايت ډنډ غوري ولسوالی کې د سولې او ټيکاو لپاره پلي شوی و.
- د اکتوبر په 5، د شهيدانو، کار، او ټولنيزو چارو وزير او د کډوالو او بيرته راستنيدونکو چارو سرپرست وزير د کډوالی، د ځوانانو وزګاری، د طالبانو ګومارنه، او د نشه ييز توکو روږدي کيدو پشمول د ځوانانو مسلو باندې وغږيدل.[440]

USAID د افغانستان قانون جوړوني نهادونو پروژې (ALBA) سره د 23.5 ميليون ډالرو مرسته تمويل کوي ترڅو د افغانستان پارلمان سره مرسته وکړي چې د خپلواک او مؤثره قانون جوړوني، استازې او څارنيز نهاد په توګه فعاليت وکړي.[441] ALBA په خپلو برنامو کې د افغان ملکيت او ټيکاو ډيرولو لپاره مرسته د افغانستان پارلماني انستيټيوټ (API) له لارې چمتو کوي. API د اړتيا له مخې د پارلمان غړو او ملاتړي کارمندانو لپاره مسلکي روزني پرمخ وړي. د USAID په وينا، API په تيرو دوه کلونو کې د قانون مسودې جوړولو، لټون، قانون جوړوني پروسې، پارلماني څارنې، د کميټې پروسيژر، ملي بودجې، او نورو اداري او مديريت مسلو پشمول موضوعاتو باندې 70 مختلف روزني پرمخ وړې دي. سربيره پردې، API د مشرانو جرګې او ولسي جرګې کارمندانو لپاره د کلني روزني اړتياو ارزونه ترسره کوي.[442]

په جون کې USAID د ALBA د مينځمهاله فعاليت ارزوني قرارداد ورکړ. ارزوني موندلې چې که څه هم د ALBA لخوا وړاندې شوې ډيرى روزنې د ګډون کونکو لخوا ښې ترلاسه شوې، ډيرى تخنيکي روزنې خورا لنډې او کافي توضيحات يې نه درلودل. سربيره پردې، د قانون جوړوني ظرفيت جوړولو سره د ALBA ملاتړ ډيری څله د ALBA د کارمندانو لخوا د مستقيم تخنيکي مرستې په بڼه و د دې پرځای چې د قانون جوړوني تحليلونو، مسوده ليکلو، او تعديل فعاليتونو ترسره کولو لپاره د پارلماني پرسونل مهارتونو تدريس وکړي. پايله يې د ظرفيت جوړولو پرځای د ظرفيت ځای ناستي کول و. ارزوني يادونه کړې چې ډيرى فاکتورنه شايد د ALBA کنټرول هاخوا د ظرفيت ځای ناستي کول تاييد کړي، لکه د قانون جوړوني پراخولي کې د اجرايوي څانګې تناسب نلرونکي اغيزه، د قانون جوړوني څانګې د بودجې خپلواکی نه شتون، "د مغزونو تيښته"، ځکه چې مخکې روزل شوي کارمندان بل چيرې د لوړو معاشاتو دندو لپاره دا ځای پريږدي، او د قانون پاس کولو لپاره د اساسي قانون د وخت محدوديتونه.[443]

د تيرې ربعې په جريان کې، ALBA په ولاياتو کې د پارلمان د څارنو لاندې سفرونو ملاتړ وکړ:

- **کندز:** د مشرانو جرګې لومړي منشي د اګست په 8مه نېټه یوه عامه غونډه ترتیب کړه چې د افغان دولت د امنیتي مسلو اداره کول پکې وازمول، څه دېره 500 خلکو پکې ګډون وکړ.
- **بلخ، جوزجان، سرى پل او فارياب:** د بودجې او مالي چارو کمیسون پدغه څلور ولایاتو کې د پراختیا بودجې اجرا کولو په برخه کې د دولت د فعالیت بیاکتنه وکړه.[444]



**په کندز ولایت کې د امنیتي اوضاع په اړه د ALBA لخوا** سپانسر شوي پارلماني غونډه کې ګډون کونکي. (د USAID عکس)

# ځایی یا سیمه ایزه حکومتولي

## د کلیو د ټیکاو برنامې

USAID د ټیکاو ډېرى برنامې لري چې هدف يې د افغان حکومت سره مرسته کول دي ترڅو خپل شتون بې ثباته سیمو ته وغزوي او د سیمه ایزې حکومتولی ظرفیت رامینځته کړي. په فعال برنامو کې د USAID د کلیدي ساحو کې ټیکاو (SIKA) پروژې، د ټولنې د یووالي نوښت (CCI) برنامه، او د افغان ملکي مرستې برنامه III (ACAP III) شامل دي.[445] جدول 3.20 تر نن نېټې د برنامې ټولټال لګښتونه او مصرفونه لنډیز کوي.

جدول 3.20

**USAID فرعي ملي (کلیوال) برنامې**

| د پروژې نوم | د پیل نېټه | د پای نېټه | ټولټال اټکل شوی لګښت (ډالر) | تر 9/30/2015 پورې مجموعي مصرفونه (ډالر) |
|---|---|---|---|---|
| په کلیدي ساحو کې ټیکاو (SIKA) ختیځ | 12/7/2011 | 9/6/2015 | $145,000,000 | $137,289,015 |
| SIKA سهیل* | 4/10/2012 | 7/31/2015 | 82,076,234 | 78,916,121 |
| SIKA لویدیز | 1/29/2012 | 8/31/2015 | 54,000,000 | 50,730,931 |
| د افغانستان د ملکي مرستې برنامه (ACAP III) | 4/20/2015 | 2/14/2018 | 30,223,597 | 9,644,000 |
| د ټولنې د یووالي نوښت (شمال، لویدیز)** | 9/10/2013 | 12/2015 | 29,569,265 | 20,286,508 |

یادونه:
* د مصرف ډیټا کې د SIKA سهیل دواړه ګومارنو لپاره ټولټال شامل دی.
** تر 9/23/2015 پورې.

سرچینه: USAID، د سیګار د معلوماتو غوښتنو ته ځوابونه، 9/22/2015 او 10/8/2015.

د ټیکاو نوښتونو د اغیزې سنجولو (MISTI) برنامې د 2014 سپتمبر او نومبر ترمنځ په 107 ولسوالیو کې د راټول شوي معلوماتو پایلې پدې وروستیو کې د خپل استازیتوب یوې برخې په توګه خپرې کړې ترڅو مشخص شي چې ایا د USAID د پروژې فعالیتونه په ولسوالیو او کلیو کې د ټیکاو او ارتجاعیت په برخه کې د بدلون لامل شوي. د MISTI په وینا، ټیکاو د غوره حکومتولی او د خدمت مؤثره عرضه کولو کې د ځایی حکومت مشارکتي پروژو د بریالیتوب تولیز مقیاس و، پدې توګه د ښاریانو ژوند وده کوي او ځایی شکایات په ګوته کوي چې شاید په بل ډول د ترهګرو لپاره ملاتړ کې مرسته وکړي. له بل پلوه ارتجاعیت سنجوي چې ځایی مشران د حکومت ملاتړ سره یا لدې پرته د ځایی ستونزو حلولو لپاره د هغوی د ټولنو په حرکت راوستلو کې څومره غوره ورتیا لري.[446]

MISTI موندلي چې هغه کلي چې د USAID د ټيکاو برنامې يې ترلاسه کړي هغوی نسبت د هغه کليو ټيټ ټيکاو لري چې نوموړې مرستې لاسته نه راوړي. MISTI اټکل کړی چې هغه کلي چې د مرستې ترلاسه کولو لپاره انتخاب شوي په پيل کې تر يوې کچې ټيکاو لرونکي ول، د خورا لوړو توقعاتو سره چې د ولسمشرۍ ټاکنو په لړ کې د تاوتريخوالي او بې ثباتۍ له امله ناکراره شوي. MISTI دا هم موندلي چې هغه کلي چې د SIKA مرسته لاسته راوړي د افغان دولت فعاليت څخه ټيټ درک لري مګر د عنعنوي مشرانو فعاليت څخه لوړ درک لري.[447] USAID ځواب ورکړی چې پداسې حال کې چې دوی موافق دي په هغه کلو کې درکونه احتمالا لوړ و چې مرسته لاسته راوړي، مګر دوی باور نلري چې د ټيکاو ټيټې کچې دې د USAID د ټيکاو پروژو له امله وي.[448]

MISTI د USAID د ټيکاو برنامو او ترهګرۍ ترمينځ اړيکه هم سپړلې او د طالبانو لپاره يې پراخه ملاتړ موندلی چيرې چې د طالبانو تر کنټرول لاندې کليو کې د USAID د ټيکاو برنامې پلي شوي. سربيره پردې، د دولت تر کنټرول لاندې هغه کليو کې تاوتريخوالی ډير شوی چې د USAID د ټيکاو پروژې يې لاسته راوړي. MISTI پايله کړي چې ترهګر به د ټيکاو پروژو له امله قصداً کلي په نښه کړي.[449] USAID ځواب ورکړی چې پداسې حال کې چې دوی مخالفت نه کوي چې د تاوتريخوالي پيښې د دوی د ټيکاو پروژو ګاونډ کې پيښيږي، د USAID د ټيکاو پروژو او د تاوتريخوالي ترمينځ مستقيم، قطعي تړاو تثبيت شوی ندی. سربيره پردې، USAID د MISTI پايله تشريح کوي چې د طالبانو تر کنټرول لاندې کلو کې د ټيکاو برنامو د طالبانو لپاره ملاتړ ډير کړی دی ځکه چې په ګوته کوي "طالبانو د هغوی په کليو کې د برنامو ترسره کيدو ته اجازه ورکولو سره د پام وړ شهرت ترلاسه کړی دی."[450]



**د SIKA لويديز** سپانسر شوی د سيلابونو څخه د محافظت ديوال په بادغيس ولايت کې د ټولنې لخوا جوړيږي. (د USAID عکس)

## د سيګار تفتيش

سيګار د ټيکاو نوښتونو د اغيزو سنجولو (MISTI) پروژې يو روان تفتيش لري. نوموړی تفتيش پلان لري چې (1) وارزوي تر کوم حد پورې د MISTI قراردادي د قرارداد شرايطو سره په مطابقت کې د دريمې ډلې نظارتي خدمات چمتو کړي دي؛ (2) وارزوي چې تر کوم حد پورې USAID د ټيکاو برنامو پلان کولو او پلي کولو کې د MISTI برنامې پايلې ملاحظه کوي؛ او (3) په MISTI کې شته ننګونې په ګوته کړي، د USAID د ټيکاو بيارغونې برنامو ارزونې لپاره د دريمې ډلې نظارت په کارولو سره، او دا چې تر کوم حد پورې USAID دغه ننګونې په نښه کړي دي.

### په کليدي ساحو کې ټيکاو

د SIKA هدف د ولسوالی او ولايت په کچه د افغان دولت چاروا‌کو سره مرسته کول دي ترڅو د ځايی اوسيدونکو د پراختيا او حکومتولی انديښنو ته ځواب ووايی، او پدې توګه په حکومت باور رامينځته شي او ټيکاو يا ثبات تقويت شي.[451] د USAID د SIKA ځلور برنامې د "[افغان دولت] د غزولو په تکل، نه د بهرني شتون ډيرولو لپاره" لري، او ژمنه يې کړې چې SIKA "بايد د افغان جوړښتونو لاندې کار وکړي" ترڅو د افغانستان د کليو بياجوړوني او پراختيا وزارت سره مل وي.[452]

### د ټولنې د يووالي نوښت

د USAID د CCI برنامه د (1) ټولنو ترمينځ او په ټولنو کې د يووالي، (2) د سوله ايز او مشروع حکومتولی پروسو او لاسته راوړونو ملاتړ کولو، او (3) د افراطي تاوتريخوالي سره مبارزې له لارې د افغانستان د جګړې ځپلي او نور د لوموړيتوب ساحو کې د ټيکاو او پراختيا لپاره شرايط رامينځته کوي. CCI دامهال د هيواد شمال او لويديز کې د شپږ ولايتونو په 18 ولسواليو کې کار کوي.[453]

د جولای څخه د سپتمبر تر 10 پورې، 146 CCI فعاليتونه بشپړ کړي دي. د USAID په وينا، د CCI ټول فعاليتونه به د 2015 اکتوبر تر پای پورې بشپړ پلي شي او نوموړې برنامه به د 2015 دسمبر کې وتړل شي.[454]

د جولای راهيسې، په کابل کې امنيتي پيښو او ګواښونو ډيری ځله د CCI پرسونل سفر باندې د هغوی دفتر د تګ او بيرته راتګ لپاره اغيزه کړې يا د دوی له دفترونو څخه د متحده اياالاتو کابل سفارت ته د USAID سره د ناستې لپاره. د USAID په وينا، اغيزه يې لږه وه، ځکه چې د CCI کارمندانو ډيری کارونه له لرې، د بريښناليک او تليفون په واسطه پرمخ وړل. د CCI بهرني کارمندانو د امنيتي محدوديتونو له پلوه د افغانستان شمال او لويديز کې ولايتي دفترونو ته د کابل څخه سفر کولو کې د ننګونو سره مخ شوي. په هرصورت USAID راپور ورکوي چې دا اغيزه هم د لرې لارې مديريت وسايلو د استعمال ډيرولو سره کمه کړل شوې. پداسي حال کې چې په تيرې ربع کې په هغه ډيرې ولاياتو کې چې CCI فعاليت کوي امنيت کم شوی، د CCI فعاليتونه تر ډيرې کچې هماغسې پرمخ تللي څنګه چې پلان شوي ول.[455]

## ولايتي او د ښاروالی برنامې

USAID پدې وروستيو کې په ولايتي مرکزونو او ښاروالیو متمرکز دوه سيمه ايزې برنامې پيل کړي دي: د سيمه ايزو ادارو پياوړي کولو لپاره نوښت (ISLA) او د افغانستان د اميد او پراختيا قوي مرکزونو (SHAHAR) برنامې. جدول 3.21 تر نن نيټې د برنامو ټولټال لګښتونه او مصرفونه لنډيز کوي.

جدول 3.21

**USAID فرعي ملي (ولايتي او ښاروالی) برنامې**

| د پروژې نوم | د پيل نيټه | د پای نيټه | ټولټال اټکل شوی لګښت (ډالر) | تر 9/30/2015 پورې مجموعي مصرفونه (ډالر) |
|---|---|---|---|---|
| د افغانستان د اميد او پراختيا قوي مرکزونه (SHAHAR) | 11/30/2014 | 11/29/2017 | $73,499,999 | $6,584,726 |
| د سيمه ايزو ادارو پياوړي کولو لپاره نوښت (ISLA) | 2/1/2015 | 1/31/2020 | 62,364,687 | 2,475,394 |

سرچينه: USAID، د سيګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 10/8/2015.

## د سیمه ایزو ادارو پیاوړي کولو لپاره نوښت

د ISLA هدف د مالي او پراختیا پلان جوړولو، د اتباعو نمایندګي، د عامه خدماتو پرمختللي عرضه برخو کې د افغان دولت ولایتي حکومتولی ته وده ورکولو لپاره د افغان دولت وړ کول دي. ISLA غواړي د سیمه ایزو سیستمونو د پلان جوړول، عملیات، ارتباطات، نمایندګي کول، او د ښاریانو یا اوسیدونکو بوختیا پیاوړې کړي. دا باید د هغه خدماتو لامل شي چې د ټولو اوسیدونکو اړتیاو ته د روغتیا، تعلیم، امنیت، قضاء، او ښاري خدماتو په برخه کې خورا نږدې ځواب ووایي.[456]

ISLA به د پنځه سیمه ایز مرکزونو څخه خپل فعالیت پرمخ ویسي: کابل، مزار شریف، جلال اباد، کندهار، او هرات. دا پلان لري چې 16 ولایاتو کې کار وکړي چې د افغان دولت سره تړون په لاره کې دی: بادغیس، بغلان، بلخ، فراه، فاریاب، غزني، غور، هرات، کندهار، کنړ، لغمان، لوګر، ننګرهار، پروان، وردګ او زابل.[457]

په تیره ربع کې USAID راپور ورکړ چې IDLG د ISLA قرارداد کې پیژندل شوي 16 ولایاتو بیاکتنه ترسره کوله.[458] د اوږدو خبرو وروسته، IDLG پدې ربع کې موافقت وکړ چې د ISLA کاري طرح کې لیست شوي 16 ولایات وساتي.[459]

پدې ربع کې ISLA د اقتصاد وزارت د ظرفیت یوه ارزونه بشپړه کړه، او په IDLG کې د ورته ارزونې ترسره کولو لپاره د IDLG سره خبرو باندې بوخت دی.[460]

## د افغانستان امید او پراختیا لپاره قوي مرکزونه

د SHAHAR برنامې موخه د افغان ښاروالیو غوره اداري چارو او مالي ټیکاو رامینځته کول دي ترڅو د پرمخ وده کونکي ښاري نفوس اړتیاو پوره کولو جوګه شي. د ښاروالی حکومتونو ته ټاکل شوی ملاتړ، په بیله بیا د ښاروالی چارو عمومي ریاست او د ښاروالی مشورتي هیئت سره ملاتړ موخه د ښاروالی مالي مدیریت، د ښاري خدماتو وړاندې کولو او د ښاریانو مشورې پرمختللي کول دي. نوموړې برنامه به د مینځنۍ کچې 16 ولایاتي مرکزونو باندې تمرکز ولري چې د USAID ټاکل شوي دري اقتصادي زونونو کې موقعیت لري، او هم د سیمه ییز مرکزونو په توګه د کندهار، هرات، مزارشریف او جلال آباد ولایتي مرکزونو باندې به تمرکز ولري.[461]

پدې ربع کې SHAHAR د ښاریانو د لید لوري سروی ګانو لپاره د ساحې کار او د معلوماتو تحلیل بشپړ کړ چې د SHAHAR ټولي 20 ښاروالی یې تر پوښښ لاندې راوستي. د ټولټال 8,000 مرکو لپاره په هره ښاروالی کې د څلور سوه ځواب ویونکو سره مرکه شوې وه.[462]

SHAHAR د جلال آباد په استثنا د SHAHAR ټولو ښاروالیو لپآره د کال لومړي دوه ربعو (تر د جون 21 پورې) لپآره د ښاروالی د عایداتو راټولولو ارقام وارزول. SHAHAR وموندل چې د ټاکلي عاید (مکرر) ښاروالی راټولول د بودجه ای عایداتو یوازې 28% و، پداسې حال کې چې غیر ټاکلي عایداتو راټولولو اوسط 11% و، د ټولټال عاید راټولول نږدې 20% و. د SHAHAR په وینا، د ښاروالی عایداتو باید د بودجه ای عایداتو د 50% استازیتوب کولی.[463]

**سیمه ییز اقتصادي زون:** د افغانستان دننه هغه سیمې چې د ډیر تولید او سوداګری جغرافیه ایي مرکزونو په توګه د پراختیا پوټانشیل لري، او د لوړې او هراړخیزې اقتصادي ودې ته ژمنې دي. تمه کیږي دغه زونونه په کلیدي سکتورونو کې د پانګونو په واسطه چې د اقتصادي ودې پرمخ وړونکي ګڼل کیږي، د خواړو پرمختللي امنیت، اقتصادي پراختیا، د دندې رامینځته کولو او د سیمه ییزې سوداګرۍ ډیریدو لپاره د کتلیست په توګه عمل کوي.

سرچینه: USAID، "د سیمه ییز اقتصادي زون ستراتیژی مسوده،" 12/3/2013.

## پخلاینه او بیرته یوځای کیدل

په تیره ربع کې د طالبانو او افغان دولت ترمینځ د سولې لومړني مستقیم خبرو ژمني په 2013 کال کې د طالبانو مشر ملا محمد عمر د مړیني اعلان په تعقیب لادیري نا کراری ته لاره پرانیستله. د ملګرو ملتونو عمومي منشي په وینا، نه دا چې د سولې لاربنود وشو بلکه د ربع په جریان کې د جګړې شدت هم ډیر شو او جغرافیه یې هم خپره شوه.[464] د طالبانو مشرتابه ترمینځ اختلاف د سولې پروسې ته د طلبانو ژمنتوب په اړه شکونه وځیړول.

په خپل لومړي عامه پیغام کې، د طالبانو نوي مشر ملا اختر محمد منصور د 2015 اګست په 1 نیټه یو بیان خپور کړ، چې د جهاد په دوام یې ټینګار وکړ او ادعا یې وکړه چې د سولې پروسه د دښمن پروپاګند دی.[465] د قاطع ملاتړ ماموریت قوماندان جنرال جان ایف. کمپبیل په وینا، لاروښانه نده چې د ملا عمر مړینه او د طالبانو خپل مینځي جګړه به د بیاپخلاینې هڅو باندې منفي اغیزه وکړي که ګټور به وي.[466]

د سولې هڅه لانوره هغه وخت پیچلې شوه چې د افغانستان او پاکستان ترمینځ دوه اړخیزې اړیکې خرابې شوې سربیره لدې چې پاکستان د کوربه په توګه د جولای 7مې نیټې خبرو کې مخکې قوي رول درلود.[467] لکه څنګه چې جنرال کمپبیل مشاهده کړې، "د [افغانستان – پاکستان] اړیکو کې د مخ په لور هرو دوه ګامونو کې بل ګام په ښکاره د شا په لور اخیستل کیږي."[468]

د افغانستان او پاکستان دولتونه د اګست او سپټمبر په اوږدو کې په یوبل تورونو پورې کولو باندې بوخت و. په کابل کې د یولړ بریدونو په تعقیب، ولسمشر غني په پاکستان غږ وکړ چې په پاکستان کې دننه د طالبانو پټن ځایونو پروړاندې لاس په عمل پورې کړي. غني په روښانه توګه وویل، "موږ له پاکستانه نه غواړو چې طالبان د سولې خبرو ته راولي، مګر غواړو چې پخپله خاوره کې د طالبانو فعالیتونه ودروي."[469] مسله د اګست په نیمایي کې هغه مهال دیره شوه چې د افغانستان د دفاع سرپرست وزیر معصوم ستانکزي یو بیان ورکړ چې د افغان رسنیو لخوا ورڅخه داسې مطلب واخیستل شو چې د افغانستان او پاکستان ترمینځ اړیکي د "نا اعلان شوي جګړې [...] څخه اعلان شوي جګړې ته اوښتي دي."[470]

وروسته لدې چې افغانستان د پولې پر سر پیښې په اړه د پاکستان سفیر احضار کړ، پاکستان د افغانستان سفیر د دې اندیښنو لپاره احضار کړ چې افغان سیاسي مشران د پاکستان پروړاندې کمپاین کې بوخت ول.[471] په پیښور کې د پاکستاني طالبانو لخوا د پاکستان هوایي ځواک پروړاندې په سپټمبر کې د برید په تعقیب، پاکستان ادعا وکړه چې نوموړی برید افغان خاوره کې طرح شوی و. ویاند یادونه کړې چې که څه هم پاکستان باور نلري چې افغان دولت دې پدې برید کې ښکیل وي. افغان دولت د پاکستان ادعاوې رد کړې، او وې ویل چې افغانستان هیڅ کله د نورو دولتونو پروړاندې خپله خاوره نده کارولې او نه به یې کارولو ته اجازه ورکړي.[472]

د دواړه اړخونو تورونو سربیره، د پاکستان د لومړي وزیر د بهرنیو چارو او ملي امنیت مشاور سرتاج عزیز وویل، چې د سولې خبرو له سره پیل کولو لپاره هڅې جریان لري او که چیرې د افغان دولت لخوا غوښتنه وشي نو پاکستان به د سولې خبرو اسانولو ته لیواله پاتې شي.[473]

جنرال کمپبیل سنا ته وویل چې احتمال لري د افغانستان او پاکستان سیاسي او نظامي اړیکې پرمختګ وکړي، که څه هم یوازې په بدلیدونکي توګه او تبادلې پراساس.[474] په دوه اړخیزو اړیکو کې

د ننګونو سربیره، د بهرنیو چارو وزارت ووېل چې پاکستان د افغانانو په مشرۍ او د افغانانو تر واک لاندې بیاپخلاینې پروسې لپاره هڅو ته دوام ورکوي. د بهرنیو چارو وزارت په وینا، دواړه افغانستان او پاکستان د قوي دوه اړخیزو اړیکو جوړولو لپاره کار کړی او د دواړه خواو اندېښنو په ګوته کولو لپاره یې هڅې کړي.[475]

## د افغانستان د سولې او بیرته یوځای کولو برنامه

د افغانستان د سولې او بیرته یوځای کولو برنامه (APRP) د افغانانو په مشرۍ یوه برنامه ده چې د ټیټې درجې جنګیالي او د هغوی قوماندانان بیرته د افغان ټولنې سره یوځای کوي.[476] د نورو معلوماتو لپاره د امریکا متحده ایالاتونو کانګرس ته د سیګار د اکتوبر 2014 درې *میاشتنې راپور* 149–151 مخونه وګورئ.

د بهرنیو چارو وزارت په وینا، د سپتمبر تر 30 پورې، APRP ټولټال 10,578 بیرته یوځای کېدونکو ته لاره هواره کړې، چې د راپورونو له مخې 988 کې یې قوماندانان ول. ټولټال 143 بیرته یوځای کېدونکې د عمل تکرار کونکې یا بیرته ستنو شویو په توګه ثبت شوي دي. د بیرته یوځای کېدونکو ترټولو ډېر شمیر په بادغیس او بغلان ولایتونو کې و: په ترتیب سره 1,604 او 1,204.[477] د 2015 لپاره د بیرته یوځای کېدلو ترټولو مهم ولایات په شکل 3.28 کې ښودل شوي دي.

د بیرته یوځای کېدو د غوښتنو شمیر د 2015 جولای کې د ملا عمر د مړینې تایید په تعقیب کم شوی. د بیرته یوځای کېدونکو شمیر په جولای کې د جولای په 7 د سولې خبرو وروسته 133

شکل 3.28

**د ولایت او ربع له مخې د 2015 بیرته یوځای شوي (پنځه لوړ یا مهم ولایتونه)**




سرچینه: د بهرنیو چارو وزارت، SCA، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 10/8/2015.

(په جون کې د 17 څخه ډېر) و چې په اګست کې د ملاعمر د مړيني تاييد کېدو او د مشرۍ پرسر د طالبانو خپل مينځې جګړو وروسته د پام وړ حد پورې 40 ته راټيټ شو. په سپتمبر کې دغه شمير پوازې يو بيرته يوځای کيدونکي ته راټيټ شو. د UNDP په وينا، دغه د پام وړ کمښت تر يوې کچې د لوی اختر رخصتيو (سپتمبر 23–26) ته هم نسبت ورکول کيدی شي. د APRP ګډه دارالانشا تمه کوي چې د بيرته يوځای کيدونکو شمير په اکتوبر کې 200 ته لوړ شي وروسته لدې چې په خپل بندښت کې يې پروسس کړي.[478]

د APRP موخ د جګړې ډګر څخه د جنګياليو او قوماندانانو لرې کول دي. د بهرنيو چارو وزارت په وينا، د خورا وروستي اټکل له مخې د فعال طالب جنګياليو شمير له 20,000 څخه 30,000 ته رسيږي.[479]

د افغانستان د سولې عالي شورا د بهرنيو چارو وزارت ته راپور ورکړی چې د APRP بيرته يوځای کيدونکو برنامې څخه ترلاسه شوي معلوماتو د ترهګرانو مشرۍ، جوړښت، عملياتو، سيمو، پټن ځايونو، د تمويل سرچينو، ملاتړي هيوادونو، د ګومارنې ميتودونو، موخو او اهدافو، د نړيوال او سيمه ييز تروريستي سازمانونو سره اړيکو، ايدلوژيکي سرګذشت، او طرفدارانو په اړه د پراخه پوهې رامينځته کيدو کې مرسته کړې.[480]

په مارچ کې متحده ايالات اعلان وکړ چې د UNDP د APRP ملاتړ لپاره به تر 10 ميليون ډالرو پورې چمتو کړي. د بهرنيو چارو وزارت په وينا، د دې مرستې موخه د سولې خبرو کې د APRP ولايتي هڅو ملاتړ کول، د APRP د ستراتيژيک ارتباطاتو ظرفيت لوړول، او د څو مياشتو متزلزل ملاتړ په تعقيب د ډونرانو باور رامينځته کول دي.[481]

## د قانون حاکميت او د فساد سره مبارزه

### د پروژې لنډيز

متحده ايالاتو د ډيری ميکانيزمونو له لارې د عدليه رسمي او غير رسمي سکتورونو سره مرسته کړې. پدې کې د بهرنيو چارو وزارت د عدلي سکتور د ملاتړ برنامه (JSSP)، او د عدلي روزنې د ليږد برنامه (JTTP) شامل دي. دا او د قانون حاکميت او د فساد سره مبارزې نورې برنامې په جدول 3.22 کې ښودل شوي دي.

جدول 3.22

**د بهرنيو چارو وزارت د قانون حاکميت او د فساد سره مبارزې برنامې**

| د پروژې نوم | د پيل نيټه | د پای نيټه | ټولټال اټکل شوی لګښت (ډالر) | تر 9/30/2015 پورې مجموعي مصرفونه (ډالر) |
|---|---|---|---|---|
| د عدلي سيستم د ملاتړ برنامه II (JSSP II) | 6/16/2010 | 2/29/2016 | $224,142,053 | $203,431,814 |
| د سمونونو سيستم د ملاتړ برنامه (CSSP III)* | 1/1/2015 | 2/28/2016 | 22,161,965 | 10,639,917 |
| د عدلي روزنې د ليږد برنامه (JTTP) | 1/2/2013 | 3/31/2016 | 47,435,697 | 47,435,697 |
| د فساد سره مبارزې نظارت او ارزونې خپلواکې ګډې کميټې (MEC) لپاره د نړيوالې پراختيا لپاره اداري (DFID) سره د استازيتوب همکارۍ تړون (DCAR). | 5/19/2015 | 8/31/2020 | 3,000,000 | 500,000 |

يادونه: *تر 8/31/2015 پورې.

سرچينه: د بهرنيو چارو وزارت، INL، د سيګار د معلوماتو غوښتنو ته ځوابونه، 9/24/2015 او 10/8/2015؛ USAID، د سيګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 10/8/2015.

USAID په نږدې راتلونکې کې د تدارکاتو په برخه کې د قانون حاکمیت برنامه لري او د سترې محکمې، عدلیه وزارت او غیر رسمي قضایی سیستم سره به کار وکړي.[482]

د فساد سره مبارزې په برخه کې د بهرنیو چارو وزارت څارنوالانو او د لوی جرمونو کاري ځواک (MCTF) ته ملاتړ چمتو کولو له لارې د حاکمیت په برخه کې کار کوي. USAID د فساد سره مبارزې نظارت او ارزونې ګډې خپلواکې کمیټې (MEC) تمویل لپاره د انګلستان نړیوالې پراختیا ادارې سره د همکارۍ تړون لاسلیک کړ. USAID د MEC نظارت، تحلیل، او راپور ورکولو فعالیتونو پشمول د فساد ته د زیان لیدنې ارزونو تمویل لپاره ملاتړ کوي. د USAID په وینا، ولسمشر غني د MEC کار د دې ادارې د نظارت اوسنې کاري چوکاټ څخه هاخوا غزولو کې لیوالتیا ښکارنده کړې ده.[483]

USAID د افغانستان لپاره د فساد سره مبارزې دوه فعالیتونه ډیزاین کوي.[484] USAID مخکې راپور ورکړی چې د وړاندیز شوي پروژو څخه د یوې موخه به د فساد ته زیان لیدنې ارزولو او د خلکو لخوا ترټولو ډیر لاسرسي وړ عامه خدماتو عرضه کولو سیستمونو کې د اصلاحاتو پلي کولو لپاره د افغان دولتي نهادونو ظرفیت پیاوړي کول وي. سربیره پردې، پروژه به د مدني ټولنې وړتیا لوړه کړي ترڅو وکولی شي د اصلاحاتو پلي کیدو نظارت وکړي، مشوره وړاندې کړي او خلکو ته یې ورسوي.[485]

د بهرنیو چارو وزارت JSSP موخو کې د افغانستان قضایی سیستم په اوږدو کې د قضیو تعقیب کولو لپاره د قضیه مدیریت سیستم (CMS) پراخولو ته دوام ورکول او د وزارت د چارواکو ظرفیت او اداري مهارتونو لوړول شامل دي.[486]

CMS د توقیف څخه نیولې تر د نهایی محکومیت پورې جنایی قضیې په انفرادي او مجموعي ډول نظارت کوي. ټول وزارتونه په رسمي جنایی – عدلي سکتور کې CMS ته لاسرسی لري. CMS په جنایی – عدلي سیسټم کې د اغیزو په ګوته کولو لپاره کارول کیږي البته د دې مورد په ګوته کولو سره چې کله قضیې په قانوني ډول نه پروسس کیږي. وزارتونه په منظم ډول د رسمي عدلي سکتور د فعالیت په اړه پوهه ترلاسه کولو لپاره CMS کاروي. د مثال په توګه، CMS کولی شي د یوه انفرادي څارنوال د قضیې حجم او محکومیت درجو په ګوته کولو کې مرسته وکړي، داسې معلومات چې د ترفیع شرایطو وړتیا درلودو په ټاکلو کې ګټور دي. د داخلي او بهرني دندو غوښتونکو په اړه د جرمي شالید چک کولو لپاره د CMS کارولو سربیره، د کورنیو چارو وزارت د جرم نوع له مخې په کابل کې د توقیفونو اونۍ وار راپورونه رامینځته کوي.[487] له 2013 څخه د 2015 اګست پورې JTTP د CMS د 2,699 قضیو بیاکتنه کړې چې پکې موندل شوي 91% یې درست و. په ولایاتو کې بلخ ولایت تر دې دمه د CMS درست دوسیو ترټولو ټیټ مقدار (66%) درلود.[488]

د بهرنیو چارو وزارت د JTTP برنامه د عدلي سکتور چارواکو ته د جنایی – قضا پراخه موضوعاتو په اړه سیمه ایزه روزنه چمتو کوي.[489] JTTP غواړي چې په عدلي سکتور د افغانانو باور ډیر کړي او دوه پایلې ترلاسه کړي: (1) د افغان عدلي سکتور مسلکیانو ظرفیت او وړتیاوې ډیرې کړي ترڅو د افغان قانون سره سم قضا عرضه کړي او (2) داډ ترلاسه کړي چې د افغانستان عدلي نهادونه د روزنې پیاوړې برنامو د اجرا اداره کولو لپاره وړتیا لري.[490]

د محدود محکمو څارنه ترسره کوي او د ولایت او ولسوالی په کچه د جنایی ځانګي قضیو باندې تمرکز کوي. JTTP یوازې هغه محکمې یا د محکمو کار او د قضیو استیناف غوښتنه څارې چې د جنایی کړنلارې قانون (CPC) له مخې وي. د JTTP څار او راپور ورکول په دقت سره د یووستوي محکمې شاخص باندې د بې طرفه پرتله ایز معلوماتو راټولولو لپاره تمرکز کوي، مثلا ایا ګټل کیږي چې محکمې د CPC پراساس ترتیب شوي کړنلارې سره په مطابقت کې "ښکاره یا خلاصې" دي. د JTTP د بهرنیو چارو وزارت د نړیوالو تریاکو او د قانون حاکمیت چارو دفتر (INL) ته د رسمي عدلي محکمو کې ډیری پیښې راپور کړي په کومو کې چې څارنوالانو او قاضیانو د مخ په ډیریدونکي حالت کې درست قوانین او د محکمه کولو شرایط پلي کړي دي.[491]

د JTTP حقوقي مشاورین د هغه قاضیانو د محکمو له خونو لیدنه کوي څوک چې د JTTP کورسونو څخه فارغ شوي یا به فارغیږي. که چیرې حقوقي مشاورینو ته د محکمې خونې ته ورننوتلو اجازه ورکړل شي نو دغه د محکمې جریان "خلاص" راپور کیږي. که چیرې دوی ته اجازه ورنکړل شي او د مخنیوي لپاره هیڅ مجاز دلیل شتون ونلري، نو د محکمې نوموړی جریان "تړلی" راپور کیږي.[492]

له 2013 څخه د 2015 اګست پورې JTTP ټولټال 800 محکمې مشاهده کړي چې 93% یې خلاصې وې. په ولایاتو کې ننګرهار ولایت تر نن نیټې پورې د خلاصو محکمو ترټولو ټیټه سلنه (39%) درلوده.[493]

## ستره محکمه او رسمي عدلي سیستم

د سترې محکمې لپاره د عدلیه وزارت پخوانی معین سید یوسف حلیم د قاضي القضاد په توګه وګومارل شو او پدې ربع کې لوړه وکړه. د بهرنیو چارو وزارت په وینا، نوی قاضي القضاد په حقوقي ټولنه کې نیک شهرت لري او د عدلي اصلاحاتو نهادینه کولو لپاره یې لیوالتیا څرګنده کړې ده.[494] د سیګار سره خپله وروستی مرکه کې ولسمشر غني حلیم پدې توګه معرفي کړ "زموږ ترټولو غوره حقوقي یا قانون پوهه د پراخه تجربې درلودو سره او له فساد څخه پاک." (د نورو معلوماتو لپاره، د دې راپور برخه 1 وګورئ.)

د SMAF په وینا، عدلي سکتور پورې تړلې لنډمهاله محولاتو کې د 2016 دسمبر پورې د عدلي سکتور اصلاحاتو پلان په لاره اچول او د تعدیل شوې جزا قانون مسوده شامل دي چې د 2016 دسمبر پورې به بشپړ شي.[495]

پدې ربع کې خپور شوي بیان کې MEC وویل، "عدلي سکتور په پراخه کچه د فساد قضیو څیړلو او تعقیب ورتیا نه درلودونکي په توګه پرځای پاتي دی، په ځانګړي توګه د ښو اړیکو لروني افرادو پروړاندې، هغوی چې د مصؤنیت سره او په خوندي ډول فساد کوي او داسي فکر کوي چې دوی په مؤثر ډول د قانون څخه لوړ دي."[496]

## د افغانستان د سمون سیستم

د بهرنیو چارو وزارت په وینا، د محبسونو او توقیف مرکزونو عمومي ریاست (GDPDC) لخوا اداره کیدونکی د افغانستان د محبسونو دننه نفوس د تیرو پنځه کلونو په جریان کې په هرکال کې په مینځني ډول 10.75% لوړ شوی دی. د جولای تر 31 پورې، GDPDC 26,119 نارینه او 727 ښځې بندیانې کړې، پداسې حال کې چې د عدلیه وزارت د تنکي ځوانانو د اصلاح کولو ریاست (JRD) 826 نارینه ځوانان او 78 انجوني بندیانې کړي دي. پدې بندیانو مجموعه کې هغه نفر ندي شامل چې د افغان دولت نورو نهادونو لخوا توقیف شوي دي، ځکه چې INL د نورو نهادونو معلوماتو ته لاسرسی نلري.[497]

د جمعیت ډېروالی د نارینه و لپاره د GDPDC ودانیو کې تلپاتې، اساسي او خورا لوی ستونزه ده، که څه د بهرنیو چارو وزارت لخوا تمویل شوي زندان جوړولو یوڅه پراخوالی رامینځته کړی او د ولسمشری د عفوه فرمانونو د زندان نفوس تر د پام وړ کچې راټیټ کړی دی. د جولای تر 31 پورې د ولایتي زندانونو نارینه و نفوس د ظرفیت تر 190% پورې و، لکه څنګه چې د سور صلیب نړیوالې کمیټې (ICRC) لخوا د هر زنداني لپاره لږترلږه د 3.4 متر مربع ځای د شتون معیار ټاکلی دی. برعکس، د ولایتي زندانونو د ښځینه بندیانو نفوس د ICRC وړاندیز شوي ظرفیت تر 65% و. د JRD د تنکي ځوانانو اصلاح کولو مرکزونو نفوس د ICRC وړاندیز شوي ظرفیت تر 66% و.[498]

د بهرنیو چارو وزارت د پل چرخي زندان بیارغولو لپاره د قرارداد غوښتنې په لټه کې دی. په پلان شوې پروژه کې د ککړو اوبو تصفیه کولو دستګاه جوړول، د دری خونو بلاکونو له سره بیلګه کول، او پراخه جوړښتي، بریښنایی او نل دوانی بیارغوني شامل دي.[499] سیګار په تیر کال کې د هغه ننګونو په اړه راپور ورکړی چې د بهرنیو چارو وزارت ورسره د پل چرخي زندان تیری پنځه کلنې بیارغوني پروژې کې ورسره مخ شوی و چې د هوساینې لپاره پای ته ورسول شوه: قراردادي یوازې 50% کار بشپړ کړی، مګر د بهرنیو چارو وزارت د 20.2 میلیون ډالرو په ارزښت قرارداد 18.5 میلیون ډالر تادیه کړي دي.[500]

## د فساد سره مبارزه

پدې ربع کې په کابل کې د مذهبي مشرانو سره په یوه ناسته کې ولسمشر غني د "فساد سره مبارزې لپاره د ملت په کچه جهاد" غږ وکړ.[501] د سیګار سره خپله مرکه کې هغه ډېری اقدامات په ګوته کړل چې دولت یې د فساد سره مبارزې په لړ کې ترسره کړي، د بیلګې په توګه د کابل بانک ناورین کې مسؤل افرادو تعقیب، او د دولت د تدارکاتو پروسې قراردادونو پاک کاري. (د نورو معلوماتو لپاره د دې راپور برخه 1 وګورئ.)

په هرصورت، د CSTC-A په وینا د فساد سره مبارزې په اړه د افغان دولت لوړې کچې ناکافي ستراتیژیک لارښود شتون لري. د فساد سره مبارزې تعدیل شوې ستراتیژي منقضی شوې او د فساد سره مبارزې قانون لا د مسودې په بڼه کې پاتې دی.[502]

### د افغانستان د لوی څارنوالی دفتر

افغان دولت لاهم نوی لوی څارنوال ندی نومولی.[503] د سیګار سره خپله مرکه کې ولسمشر غني وویل هغه به ژر د نوي لوی څارنوال ګومارلو په اړه "پریکړه" وکړي. (د نورو معلوماتو لپاره د دې راپور برخه 1 وګورئ.) د 2015 پای پورې د نوي لوی څارنوال ګومارل د SMAF یو له لنډمهاله محولو څخه دی.[504]

د بهرنیو چارو وزارت په وینا، د لوی څارنوالی دفتر (AGO) باندې د قضیو تعقیب په برخه کې د بې مسؤلیتی او روڼتیا نه شتون له امله په پراخه کچه نیوکې کیږي. د افغان دولت چارواکي شکایت کوي چې دوی ډېری ځله د هغه قضیو وضعیت په اړه د پوهې ترلاسه کولو وړتیا نلري چې AGO ته راجع شوي وي.[505]

### د لوی یا سنګین جرایمو کاري ځواک

MCTF د کورنیو چارو وزارت او ملي امنیت ریاست د څېړنو څانګه ده.[506] د امریکا دفاع وزارت په وینا، د ملي یووالي حکومت له جوړیدو راهیسې، MCTF د فساد قضیو څېړلو کې د افغان دولت لوړ رتبه چارواکو په خورا قوي هدف ګرځولو پیل کړی دی.[507] د بهرنیو چارو وزارت په وینا، د MCTF

د څېړنو چټکتيا د دې ادارې د محرم بشري سرچينو لپاره د کورنيو چارو وزارت د MCTF تمويل ته د دوام ردولو يا ورتيا نه درلودو له امله تر ډېرې کچې ضعيف شوې. د MCTF مشرتابه او څېړونکي د افغان دولت چارواکو او د پارلمان غړو لخوا د مقاومت سره مخ کيږي کله چې د سياسي اړيکو درلودونکي اهدافو پروړاندې د فساد تورونو څېړنه کوي.[508]

په راجع کولو کې د ډېروالي سربېره، MCTF په AGO کې د قضيي پروسس کولو په برخه کې هيڅ پرمختګ نلري. د CPC له مخې، جنايي قضيي بايد د نيول کيدو په 75 ورځو موده کې محکمې ته وړاندې شي. په اوه اخرني قضيو کې په پنځه و کې د AGO ته راجع کولو دمخه هيڅ توقيف ندی ترسره شوی، پدې معنې چې د AGO د څېړنو يا تعقيب پرېکړې په اړه هيڅ د وخت محدوديت شتون نلري. تر دې دمه، د AGO لخوا هيڅ قضيه نده فيصله شوې. په هرصورت، MCTF هيله لري چې د AGO د تعقيب کچه به ډېره شي کله چې نوی لوی څارنوال په کار پيل وکړي.[509]

د امريکا دفاع وزارت په وينا، که څه هم MCTF د جرمونو څېړلو لپاره په منظم ډول خپله وړتيا وړاندې کوي او د فساد سره مبارزې انګيزه لري، MCTF د روښانه قضاوت نه شتون او د قضيو تعقيب کولو لپآره د ناکافي خپلواکی له زغم سره مخ دی. د مثال په توګه، هره قضيه چې MCTF يې تعقيب کول غواړي بايد د MCTF څخه بهر لوړپوړي چارواکو لخوا تصويب شي. دا د څېړنو پيل کيدو دمخه سکتې ته فرصت برابروي او د موندونکو لپاره د نوښت په لړ کې خنډونه رامينځته کوي. سربېره پردې، د MCTF لخوا ليدل کيدونکي د فساد قضيي بايد لړترلږه د دوه تعقيبي دفترونو څخه تيرې شي مخکې لدې چې د AGO د فساد سره مبارزې تعقيبي واحدونو ته ورسيږي. قضيې چې هر اضافي دفتر څخه تيريږي د پام وړ انحراف سره مخ کيږي. د امريکا دفاع وزارت په وينا، د فساد قضيو لانور شفاف کولو لپاره د جنايي – عدلي لارې جوړول او ساده کول اساسي اصلاحات دي چې د MCTF کار به پرمختللی کړي.[510]

### د فساد سره مبارزې نظارت او ارزونې خپلواکه ګډه کميټه

MEC په 2010 مارچ کې رسمآ د ولسمشری فرمان له مخې رامينځته شو. د MEC واک د فساد سره مبارزې وړانديزونو او معيارونو رامينځته کول، د فساد سره مبارزې لپاره د هڅو نظارت کول او د دغه هڅو په اړه راپور ورکول دي. دا درې افغان غړي او درې نړيوال غړي لري او د افغان اجرايوي رييس لخوا يې مشري کيږي. MEC شاوخوا 20 کارمندان لري، مګر USAID يادونه کوي چې ممکن MEC خپل کارمندان ډېر کړي ځکه چې ولسمشر غني لدوی څخه د ډېری تحليلي موادو غوښتنه کړې.[511]

د بهرنيو چارو وزارت په وينا، MEC اداري وړتيا او تخنيکي ظرفيت لري. په هرصورت، د بهرنيو چارو وزارت يادونه کوي چې د فساد پورې اړوند خورا سختو پوښتنو چې افغانستان ورسره مخ دی، په ګوته کولو لپاره د سياسي ارادې شتون سربېره MEC د ضعيف او مفسد کړنو روښانه کولو څخه ډېر څه ترسره کولو لپاره واک نلري.[512] پدې ربع کې، MEC د عامې روغتيا وزارت په غوښتنه دغه نهاد کې د فساد بشپړې ارزونې پيل کولو لپاره د نوموړي وزارت سره کار پيل کړ. USAID د کوچنۍ کارۍ ګروپ سره په ګډه د MEC سره کار کوي ترڅو د دغه ادارې ظرفيت پراخه شي، خپل کار ته

## حکومتولي

لومړیتوب وټاکي، او دوړاندیز شوي اصلاحاتو پلي کیدل ملاتړ کړي.[513] MEC د دفاع وزارت ارزولو لپاره هم د افغان دولت سره یو تفاهملیک (MOU) لاسلیک کړی دی.[514]

پدې ربع کې MEC راپورونه خپاره کړل چې د معارف وزارت (MOE) کې د ښوونکو ګومارنه کې د فساد زیان لیدني؛ د رسمي اسنادو ثبت کولو لپاره پروسې پورې تړلي فساد زیان لیدني؛ او د 22 وزارتونو د 100 – ورځو پلانونو ارزونه یې تر پوښښ لاندې راوستې وه.

په کابل، هرات، ننګرهار، بلخ، بدخشان او لغمان ولایتونو کې د خبرو وروسته MEC وموندل چې د ښوونکو د ګومارنې سیستم په خورا لوی کچه د فساد څخه زیان لیدني سره مخ دی. سربیره پردې، که څه هم د ښوونکو ګومارنې پروسه کې فساد پیژندل شوی او ډیری ځله په اسانی سره په ګوته کیږي، د MOE یا AGO لخوا یې پروړاندې خورا لږ ګامونه اخیستل شوي دي. MEC موندلي چې که څه هم ښوونکي اړ دي د حاضرۍ پاڼې ډکې کړي مګر دا شرط ډیری ځله نه تعقیبیږي. د کابل پشمول ډیری ولایاتو کې د حاضرۍ پاڼې نه کارول کیږي یا په مکرر ډول جعل کیږي. د MEC په وینا، معاشات عموما د چارواکو هغه ډلې لاسته ورځي ځوک چې د ښوونکو معاشاتو لپاره ټاکل شوي حسابونو څخه د پیسو غلا کولو توطیې جوړوي. MEC دا هم موندلي چې د پارلمان غړي ډیری ځله د ښوونکو ځینې بستونو ټاکلو لپاره د معارف وزارت بودجه باندې د خپلو رایو سوداګري کوي ترڅو وکولی شي دغه بستونه د خپلو ټاکنیزو حوزو ته ورکړي یا د نورو سیاسي ګټو لپاره یې وکاروي. هغه ولایتي چارواکو چې د MEC سره یې خبرې کړي حتی داسې وړاندیز وکړ چې د بستونو نږدې 50% له همدې لارې وکیلانو ته "ورکول" کیږي، که څه هم MEC وویل چې نشي کولی دغه ارقام تایید کړي.[515]

کله چې MEC د دولت سره تصدیق شوي یا رسمي اسنادو ثبت کولو پروسه وارزوله، دې پکې ډیری زیان لیدني وموندلې. د MEC په وینا، ډیری زیان لیدني د قوانینو او مقرراتو مشاهده کولو کې پاتې راتلو، د دولت شریکو ادارو ترمینځ د همغږۍ نه شتون، او د بشري سرچینو او تخنیکي ظرفیت د پام وړ تشو له امله وي. دغه تشې په ګډه د نهادي جوړښت مسلو، د اوږد او پیچلي بیوروکراتیک کړنلارو، او په مختلف نهادونو کې د مسؤلیتونو سر په سر کیدلو سره په ګډه د داسې چاپیریال رامینځته کیدو لامل کیږي چې د فساد زیان لیدنو ته چمتو وي. سربیره پردې، MEC موندلي چې تصدیق شوي او رسمي اسناد په اسانی سره جعل کیدی شي. د MEC لخوا مرکه شوي څو مرکچیانو په وینا، دا امکان شونی دی چې قاضي ته بډې ورکړل شي او حتی ښکاره جعل کاری ومنل شي.[516]

MEC پدې کال کې د هر وزارت لپاره د ولسمشر لخوا ورکړل شوي د وزارت 100 ورځو پلانونو د فساد سره مبارزو مقرراتو بیاکتنه هم وکړه. د دغه پلانونو موخه دا وه چې شرح کړي څنګه وزارتونه د خدمت مقررات لوړ کړي او د خپلو عملیاتو بسیا لوړولو لپاره داخلي اصلاحات پلي کړي. د MEC لخوا بیاکتل شوي 22 پلانونو کې یوازې شپږ یې د فساد سره مبارزې ځانګړې برخه لري. په هرصورت، MEC یادونه نده کړې چې پاتې نورو ډیری پلانونو کې اصلاحات یې په ګوته کړي، که چیرې پلي شي نو فساد کمولی شي یا نه. MEC ډیری تشې په ګوته کړي چې ډیرو ته عام وي مګر ټولې یې ندي، په پلانونو کې شامل دي:

- د خوښي وړ موخو ترلاسه کولو لپاره د لازمي میکانیزمونو پلي کولو په ګوته کولو کې پاتي راتلل
- په پلانونو کې شرح شوي ډیری نوښتونو په اړه ناکافي توضیحات
- د لوړیتوب عمومي نه شتون
- د پلانونو او وزارتونو اوسني سرچینو او راتلونکي بودجو ترمنځ غیر روښانه اړیکه
- د پلانونو د پرمختګ تعقیب کولو لپاره د نظارت او تحلیل نه شتون
- غیر ریالستیک، لنډمهاله موخې، او په بشپړ ډول لوی کاري چوکاټونه
- د MEC وړاندیزونو په مستقیم ډول په ګوته کولو کې ناکامي[517]

## د نظارت او فساد سره د مبارزې عالي اداره

د نظارت او فساد سره د مبارزې عالي اداره (HOO) په جولای 2008 کې د افغان دولت د فساد سره مبارزې ستراتیژي د پلي کولو څارلو او همغږي کولو لپاره د ولسمشرۍ یوه فرمان له مخې رامینځته کړل شوه. HOO د یوه هاټلاین یا اړیکي شمیرې او په ډیری وزارتونو او نور د عامه خدماتو نهادونو کې د شکایاتو نصب صندوقونو له لارې د فساد شکایات راټولوي او د فساد د تورونو لومړنی پلټنې په لاره اچوي. د USAID په وینا، دا پلټنې ډیری وختونه د تعقیب لامل کیږي نه. د AGO او HOO ترمینځ په یوبل تورونه پورې کول عام دي.[518] غني د HOO واک د عامه چارواکو د پانګې اعلامونو راټولولو او تایید کولو پورې محدود کړی دی.[519]

د جولای په 3 د HOO سرپرست عمومي رییس طلوع نیوز ته وویل چې د افغان دولت ډیری لوړ رتبه چارواکو پشمول د ولسمشر غني، اجرایوي رییس عبدالله او د کابینې 14 وزیرانو د افغانستان اساسي قانون غوښتنې سره سم، تر دې دمه خپلې پانګې ندي ثبت کړي. د سرپرست وزیر په وینا، غني ټولو لوړ رتبه دولتي چارواکو ته لارښوونه کړې چې د خپلو پانګو د ثبت کولو فورمې وسپاري.[520] په هرصورت، د تیر سپتمبر پورې، CSTC-A راپور ورکړی چې غني، عبدالله او د ولسمشرۍ لومړي معاون دوستم تر دې دمه خپلې پانګې ندي اعلام کړي.[521]

د SMAF لنډمهاله محولاتو کې شامل دي چې د افغان دولت 90% چارواکي اړ دي د 2016 تر نیمایی پورې خپلې پانګې اعلام کړي.[522] د پانګو اعلامول مخکې د TMAF د محولاتو یوه سخته غوښتنه وه. په 2014 سپتمبر کې د نوي دولت له پیل کیدو راهیسي، د کابینې 25 وزیرانو څخه 23 خپلې پانګې اعلام کړي، پدې معنې چې د اساسي قانون غوښتنې له مخې د 38 دولتي چارواکو څخه ټولټال 24 چارواکو خپلې پانګې اعلام کړي دي.[523]

## د پارلمان د فساد سره مبارزې کمیټه

د پارلمان د فساد سره مبارزې کمیټه (PACC) د 2013 په مارچ کې رامینځته شوه او دامهال 23 غړي لري – چې 14 د ولسي جرګې غړي او نهه د مشرانو جرګې غړي پکې دي او د پارلمان له لویو کمیټو څخه یوه ده. PACC د پارلمان یوازینی کمیته ده چې هم د ولسي جرګې او هم د مشرانو جرګې غړي لري او په اختصاصي ډول د ښځینه وکیلانو څخه جوړه ده. پدې ربع کې PACC د 24 نوماند وزیرانو

څخه چې ګومارل شوي، د فساد سره مبارزې ژمنې ترلاسه کړي. PACC د تدارکاتو ملي کمیټې غونډو کې د ګډون لپاره هم یو نماینده معرفي کړی دی.[524]

د بهرنیو چارو وزارت په وینا، PACC د فساد سره مبارزې د قانون وړاندیز کړی چې د PACC څخه بهر یې ملاتړ ندی شوی.[525]

## امنیتي خدمات

په اپریل کې د CSTC-A مخکیني قوماندان تورن جنرال ټوډ ټي.سیمونیټ وویل "د [ملي یووالي حکومت له جوړېدو راهیسې] د فساد کچه معلومه نده او د پالیلي په توګه زه نشم کولی تاسو ته یې شمیره درکړم چې د فساد کمیت تری وټاکل شي،" او اضافه یې کړه چې افغان دولت د فساد محدود کولو لپاره اضافي کنټرولونه پلي کړي دي.[526] د CSTC-A په وینا، لدغه منلو راهیسې په افغانستان کې د فساد د کچې کمیت ټاکلو لپاره هیڅ مطالعات یا بیاکتنې شتون نلري.[527]

د CSTC-A په وینا، د غني اداري د دفاع وزارت کې د لوړې کچې فساد ننګونو باندې تمرکز ډېر کړی، مګر د کورنیو چارو وزارت کې د فساد سره مبارزې هڅو باندې لږه اغیزه درلودله.[528] پداسې حال کې چې د فساد سره مبارزې هڅو باندې د نوي اداري اغیزو سنجول لا د وخت څخه مخکې دي، CSTC-A د دفاع وزارت ډېر شوي پوهاوي کې مثبت نښې ګوري او د فساد سره مبارزې نوښتونو باندې تاکید کوي.[529]

## د دفاع وزارت

دوه فعال جوړښتونه اوسمهال په دفاع وزارت کې د فساد مسلې په ګوته کوي: د فساد پروړاندې مبارزې کاري ګروپ (CCWG) او د فساد سره مبارزې په اړه لوړ رتبه کمیټه (SHCAC). د امریکا دفاع وزارت په تیره ربع کې راپور ورکړی چې هیڅ یوه جوړښت د فساد سره مبارزې یا فساد پروړاندې ګټورو هڅو اغیزه نه درلودله، تر یوې کچې پورې لدې امله چې نوموړي جوړښتونه د هماغه لوړ رتبه چارواکو څخه درلودونکي دي څوک چې فاسدو کړنو کې ښکیل دي.[530] پدې ربع کې د امریکا دفاع وزارت راپور ورکړ چې CCWG د منظم میاشتني ناستو او د فساد قضیو بیاکتنې له لارې پرمختګ کړی دی. په هرصورت د SHCAC میکانیزم لاهم کوچنی پاتې دی او مؤثریت یې نشي ارزول کیدی سربیره پردې چې نوی رییس یې ګومارل کیږي.[531]

که څه د افغان ملي اردو شپږ واړه قل اردو ګانې د روڼتیا او حساب ورکولو کمیټو (TAC) کې خپل ګومارل شوي غړي لري، د TAC ټول غړي د قل اردو د کارمندانو غړي دي (د قل اردو د قوماندان معاون لخوا اداره کیږي)، خپلواکي نلري، او د قل اردو قوماندان په اړه حساس معلوماتو د راپور ورکولو څخه ډډه کوي. د کمیټو دې جوړښت د قل اردو قوماندان معاون هم (څوک چې د قل اردو لپاره د تدارکاتو مشر هم وي) د تدارکاتو پریکړو په اړه څارنې څخه جلا کړی دی.[532] د دفاع وزارت عمومي مفتش (MOD IG) لخوا ترسره شوي وروستی ارزوني مطابق، TACs هیڅ اغیزه نلري او د دوی کار د قناعت وړ ندی.[533]

## د کورنیو چارو وزارت

په تیره ربع کې، افغان دولت د کورنیو چارو وزارت مخکینی عمومي مفتش له دندې ګوښه او تورن جنرال رحیم الله یې پرځای وګوماره. د CSTC-A په وینا، د کورنیو چارو وزارت عمومي مفتش رحیم

الله يو قوي انتخاب ثابت شوی چا چې د خپلو دندو ترسره کولو کې له خانه رهبریت او انګیزه څرګنده کړې ده.[534] پدې ربع کې، د کورنیو چارو وزارت عمومي مفتش د سونګ توکو حساب ورکولو تایید کولو لپاره د لومړي ګام په توګه د سونګ توکو پلټنې پیل کړې دي. د کورنیو چارو وزارت عمومي مفتش غواړي چې په کورنیو چارو وزارت کې د اختلاس کمولو او پالیسی سره اجابت نه درلودو مخه نیولو لپاره د سونګ توکو د پلټنې برنامه رامینځته کړي.[535]

## بشري حقونه

### کډوال او کورني بې ځایه شوي

د جولای تر 15 پورې د ملګرو ملتونو د کډوالو لپاره عالي کمیسون (UNHCR) اټکل کړی چې د 2014 جون راپدیخوا لږترلږه 291,800 خلک د افغانستان خوست او پکتیکا ولایاتو ته د پاکستان څخه په ګاونډي شمالي وزیرستان کې د پاکستان پوځ پراخه عملیاتو له امله را اوښتي دي. د بهرنیو چارو وزارت په وینا، په شمالي وزیرستان کې د بیارغونې اړتیاو له امله خورا لږ احتمال شتون لري چې د 2015 په اوږدو کې به د پام وړ بیرته ستنیدل پیښ شي.[536]

د بهرنیو چارو وزارت د هغه کډوالو شمیر کې د هیڅ لوی بدلون راپور ندی ورکړی چې د افغانستان څخه ووځي.[537] په هرصورت، د UNHCR په وینا، 77,731 افغانانو د 2015 کال لومړیو شپږ میاشتو کې په اروپا کې د پناه غوښتنې کړې دي. دا د 24,154 څخه د پام وړ ډیروالي استازیتوب کوي چې د 2014 کال په ورته دوره کې یې د پناه غوښتنې کړې وې. د UNHCR شمیرې ښیې چې یوازې سوریه پسې دوهمه درجه کې افغانان دي چې په اروپا کې د پناه په لټه کې دي.[538]

د اګست تر 28 پورې UNHCR د پاکستان څخه د 50,433 افغان بیرته ستنیدونکي کډوالو ته د اسانتیا برابرول ثبت کړي دي.[539] د بهرنیو چارو وزارت په وینا، ډیری بیرته ستانه شوي کډوالو په دسمبر 2014 کې د پیښور ښوونځي برید او د پاکستان امنیتي غبرګون په تعقیب د ځایی پاکستاني چارواکو لخوا د راپورونو له مخې د نیول کیدو، توقیف، په زور د پیسو اخیستو او ځورونې له امله بیرته افغانستان ته د راستنیدو لپاره تر فشار لاندې و.[540] د 2014 کال ورته دورې 21,866 وګړو په پرتله به بشپړ ډول د 2015 لومړیو شپږو میاشتو په جریان کې 91,458 بې اسناده افغانان د پولې څخه تیریدو پرمهال ثبت شوي چې د پاکستان څخه افغانستان ته بیرته راستنیدل. د 2014 کال ورته دورې په جریان کې د 220,564 په پرتله، ټولټال 243,107 وګړي په خپلې خوښې د 2015 لومړۍ نیمایی په جریان کې له ایرانه راغلي یا ایستل شوي دي.[541]

د جولای تر 31 پورې، UNHCR تر د جون پورې د جګړې له امله کورني بې ځای شوي (IDPs) 949,995 وګړو په پرتله، ټولټال 980,324 کورني بې ځای شوي نفر ثبت کړي دي.[542] UNHCR راپور ورکوي چې د ربع په جریان کې د بې ځای کیدو ترټولو لوی لاملونه د دولت ضد ځواکونو لخوا بریدونه او د ANDSF لخوا ځوابي بریدونه ول.[543]

### جنډر

د USAID په تاریخ کې په جنډر متمرکز ترټولو لوی نوښت د Promote شراکت دی چې موخه یې د ټولنې ټولو برخو لکه سوداګرۍ، عملي، سیاست، او عامه پالیسي کې د پنځو کلونو په اوږدو کې د مشرۍ رولونو ترلاسه کولو لپاره د څه دبره 75,000 افغان میرمنو سره مرسته کول دي.[544]

#### د سیګار تفتیش

پدې ربع کې سیګار په پاکستان او ایران کې میشته افغان کډوالو او بیرته راستنیدونکو سره مرستې په موخه د بهرنیو چارو وزارت د هڅو یو تفتیش تکثیر کړ. تفتیش موندلي چې UNHCR او د بهرنیو چارو وزارت وړتیا نلري چې په خپلواک ډول د افغان کډوالو هغه شمیرې تایید کړي چې د پاکستان او ایران دولتونو لخوا راپور شوي دي. تفتیش دا هم موندلي چې د کډوالو او بیرته ستنیدونکو چارو افغان وزارت – چې د نورو وزارتونو او نریوالو نهادونو سره د کډوالو او بیرته ستنیدونکو چارو د همغږي کولو لپاره مسؤل دی – د خپلو مکلفیتونو پوره کولو یا د نورو وزارتونو سره کار کولو لپاره محدود ظرفیت لري او د فساد تورونه ورپورې شوي دي. د نورو معلوماتو لپاره برخه 2، مخ 23 وګورئ.

جدول 3.23

**د USAID د جنډر برنامې**

| د پروژې نوم | د پیل نېټه | د پای نېټه | ټولټال اټکل شوی لګښت (ډالر) | تر 9/30/2015 پورې مجموعي مصرفونه (ډالر) |
|---|---|---|---|---|
| د افغان ښځو مشرې په اقتصاد کې | 7/1/2015 | 6/30/2020 | $71,571,543 | $80,819 |
| د ښځو د مشرتوب پراختیا | 9/23/2014 | 9/22/2019 | 41,959,377 | 5,163,910 |
| پروموټ: ښځې په دولت کې | 4/21/2015 | 4/20/2020 | 37,997,644 | 827,228 |
| پروموټ: د ښځو د حقونو ډلې او ایتلافونه | 9/2/2015 | 9/1/2020 | 29,534,401 | – |
| پروموټ: په افغانستان کې د ښځو اقتصادي ځواکمند کول | 5/8/2015 | 5/7/2018 | 1,500,000 | 50,000 |
| پروموټ: بورسونه | 3/4/2015 | 3/3/2020 | 1,247,522 | 1,247,522 |

سرچینه: USAID، د سیګار د معلوماتو غوښتنو ته ځوابونه، 9/23/2015 او 10/8/2015.

USAID د Promote برنامې ته د 216 میلیون ډالرو ژمنه کړې او هیله لري چې نور 200 میلیون ډالر د نورو نړیوالو ډونرانو څخه ترلاسه کړي.[545] په هرصورت، Promote ته د فنډونو مرستې لپاره هیڅ ډونر ژمنه نده کړې. په اګست کې د جاپان د نړیوالې مرستې اداري د USAID سره یو تفاهمليک لاسلیک کړ چې پکې د هغه هڅو په اړه د مرستې موافقت شوی چې په افغانستان کې د مېرمنو لپاره د مساواتو پرمختللي کولو لپاره کار کوي.[546]

پدې ربع کې د USAID د Promote د لومړۍ کچې مشورتي کمیټه (PAC) پرانیستله چې دوه ناستې یې ترسره شوي دي. PAC به د Promote برنامې پلي کولو په اړه نظریاتو او مشورې لپاره یو انجمن رامینځته کړي. USAID د Promote د اطلاع رسولو او ارتباطاتو یو کاري ګروپ هم رامینځته کړی ترڅو د برنامې په اړه افغانانو ته په وخت د معلوماتو رسولو او کیفیت څخه ډاډ لاسته راشي، لکه څنګه چې په جدول 3.23 کې ښودل شوي دي.[547]



**د USAID** د ښځو د مشرتوب مهارتونو کورس د پرانیستلو غونډه چې د ښوونځي ځوان فارغینو لپاره دی. (د USAID عکس)

د Promote میرمني په دولت کي (WIG) برنامه د 22 زده کړیالیو لپاره د زده کړې ازمېښتي برنامه پرمخ وړي چې دوی به د افغان ملکي خدمت انستیتیوټ کې د شپږو میاشتو لپاره وروزل شي. هر زده کړیالی به د دري میاشتو د دندې زده کولو زده کړه ولري. هغه زده کړیالي چې برنامه پای ته رسوي هغوی به وړتیا ولري چې د ملکي خدماتو 4 یا 5 بست (مینځنی کچه) ته غوښتنه وکړي. د 200 زده کونکو دوهم پړاو د اکتوبر میاشتې لپاره پلان شوی دی.[548]

د Promote میرمنو رهبری پراختیا (WLD) برنامه په پنځه سیمه ییز مرکزونو (د کابل، هرات، مزارشریف، جلال آباد او کندهار ښارونو کې) کې د رهبری برنامه پرمخ وړي. USAID راپور ورکوي چې اوسمهال د WLD رهبری برنامو څخه 1,000 زده کونکي ګټه پورته کوي.[549]

د ښځو حقونو پورې اړوند په SMAF کې ډیری لنډمهاله محولات شامل دي، پشمول د: د میرمنو سولې او امنیت پلې کولو لپاره د ملي عمل پلان او د مالي چارو پلان د 2015 تر پای پورې د تصویب کیدو اړتیا، چې پلي کول يې د 2016 تر نیمایی پورې پیل شي؛ د عامه سکتور میرمنو لپاره د کاري چاپیریال پرمختللي کولو په موخه د ځوروني پرضد مقررات چې باید د 2016 تر نیمایی پورې تکثیر شي؛ او د میرمنو پروړاندې د تاوتریخوالي د تعقیب اختصاصي واحدونه د 2016 تر دسمبر پورې په 26 ولایتونو کې رامینځته شي.[550]

# اقتصادي مينځپانګې


| | |
|---|---|
| مهمې پېښې | 161 |
| اقتصادي پروفایل | 161 |
| بانکداري او مالي چارې | 167 |
| د مشر چارواکو غونډه | 169 |
| د متحده ایالاتو اقتصادي او پرمختیا ملاتړ ستراتیژیانې | 170 |
| کرنه | 174 |
| حیاتي خدمات او پراختیا | 175 |
| ټرانسپورټېشن | 179 |
| اقتصادي وده | 181 |
| تعلیم | 181 |
| روغتیا | 185 |

# اقتصادي او ټولنيزه پرمختيا

د 2015 سپتمبر تر 30 پورې، د متحده ایالاتو دولت په افغانستان کې د حکومتولی، اقتصادي او ټولنيزې پرمختيا ملاتړ لپاره نږدې 31.8 میلیارده ډالر چمتو کړي دي. لدغه فندونو څخه ډیری یې د نړیوالې پراختیا لپاره د متحده ایالاتو اداري (USAID) د اقتصادي ملاتړ صندوق (ESF) ته مختص شوي دي. د مدغم او نور دوام لرونکي تخصیصاتو قانون 2015، د ESF لپاره اضافي 831.9 میلیون ډالر وړاندې کړي چې پدې سره بشپړ ټولټال 18.6 ملیارده ډالرو ته رسیږي. لدغه مقدار څخه، 17.1 ملیارده ډالر مکلف شوي او 13.5 ملیارده ډالر مصرف شوي دي.[551]

## مهمې پیښې

پدې ربع کې ډیری پرمختګونه وشو چې کولی شي د اقتصادي او ټولنيزې پراختیا لپاره د افغانستان وړاندوینې باندې اغیزه وکړي:

- د سپتمبر په 5، په کابل کې د افغان او نړیوال ډونرانو د استازو د لوړ پوړو چارواکو غونډه (SOM) ترسره شوه ترڅو پالیسیانو په اړه وغږیږي، د لندن کنفرانس کې په ګوته شوي اصلاحاتو په لور د افغانستان د پرمختګ بیاکتنه وکړي او د مخ په لور لاره وټاکي. افغان دولت ډونرانو ته د ترسره شوي اصلاحاتو د پخپله درجه ورکړي پرمختګ یو راپور وړاندې کړ، او ګډون کونکو د دوه اړخیز حساب ورکولو تازه کاري چوکاټ باندې موافقه وکړه چې دا به د ډونر دوام لرونکي ملاتړ لپاره یو اساس وي.[552]
- د پیسو نړیوال صندوق (IMF) وویل چې لومړني معلومات ښيي افغانستان د جون 2015 په اوږدو کې د کارمندانو تر مدیریت لاندې برنامې (SMP) کمیټي موخې پوره کړي دي، او پدې توګه یې د جوړښتي معیارونو پلي کولو کې د پام وړ پرمختګ کړی دی. تردې دمه IMF دغه موندنې ندي تایید کړي.[553]
- د افغان مالي کال (FY) 1394 (د 2014 دسمبر 22 – د 2015 دسمبر 21) لومړي اته میاشتو کې راټول شوي کورني عواید په FY 1393 کې د ورته دورې څخه 13.3% لوړ شوي چې د ټولټال مصرفونو 39% پوښي. مصرفونه د تیر کال ورته دورې په پرتله 0.2% ډیر شوي.[554] دولت تر دې دمه د کال تازه معلومات ندي خپاره کړي چې له مخې یې د افغانستان پرمختګ د دې د بودجې اهدافو پروړاندې نظارت شي.
- د افغانستان په اړه د سیمه ییزه اقتصادي همکارۍ شپږم کنفرانس (RECCA VI) د سپتمبر په 3–4 په کابل کې ترسره شو.[555] د RECCA مخکیني طریقو څخه په وتلو سره، اصلي هدف یې

# اقتصادي او ټولنيزه پرمختيا

د پانګوونې نوي معاملو اسانه کول و چې اساسا د خصوصي سیکتور لخوا تمویل شوي وي، د دې پرځای چې د ډونرانو يا د دولت لخوا وي، او له يو ځخه تر درې کلونو موده کې پلي شي.[556]

## اقتصادي پروفایل

د نړیوال بانک په وینا د امنیت نه شتون په افغانستان کې د خصوصي پانګوونې ترټولو خورا مهم پیژندل شوی خنډ دی. د امنیت نه شتون بشري پانګې ته زیان رسوي، د تولیدي اقتصاد فعالیتونه تر اغیزې لاندې راولي، ټولنیزه بې کراري لوړوي، لومړني خدماتو ته غیرعادلانه یا غیر مساوي لاسرسی هڅوي، او سیاسي بې ثباتي ډیروي.[557] تاوتریخوالی، په بیله بیا د هیواد راتلونکي باندې بې باوري د پانګوونې خنډ ګرځیدو ته دوام ورکوي، او لکه څنګه چې تمه کیده د افغانستان اقتصاد په 2015 کې وده ونکړه. نړیوال بانک په کال 2014 کې د افغانستان خالص داخلي تولید (GDP) 20.8 میلیارده ډالر محاسبه کړی او د افغانستان واقعي (د پړسوب یا انفلاسیون خالص) GDP د اپیومو په استثنا، پدې کال کې تر 1.9% ودې سره چې 21.2 میلیارده ډالر به وي، وړاندوینه کوي. تمه کیږي وده ترمینځنۍ کچې ځنډنې پاتې شي.[558] په مقابل کې، د افغانستان د FY 1394 بودجه د GDP د 9% ودې وړاندوینه کوي.[559]

افغانستان رکود تجربه کوي، کوم چې ممکن د نړیوالو ځواکونو کم شوي شتون له امله د تقاضا کمیدو او د بهرنۍ مرستې د کچو کمیدو پایله وي.[560] رکود او ټیټه تقاضا په عموم کې د وزګارۍ لامل کیدی شي.[561] نړیوال بانک خبرداری ورکوي چې په کال کې د اټکل له مخې 2.7% نفوس ډیروالي سره او دا چې 400,000 ځوان وګړي هر کال د کار قوې ته ورننوځي، افغانستان د ودې خورا لوړې درجې ته اړتیا لري که موخه یې په راتلونکي کې د هرکس عوایدو ډیرول وي او د عاید نابرابري کمه کړي.[562]

"شرایط د خصوصي سیکتور پانګوونې ته برابر ندي چې وکولی شي متنوع او ټیکاو لرونکی اقتصاد رامینځته کړي، او تمه نه کیږي چې راتلونکي ځو کلونو کې بدلون ومومي. پرځای یې، دندې د امنیت لګښتونو، مرستندویه پروژو، د لوی مګر لږ تولیدي غیر رسمي سیکتور، او یولړ غیر مشروع فعالیتونو پشمول د اپیوم کښت، د پولو ځخه قاچاق، او د کوچنۍ کچې غیرقانون کان کیندنو ځخه ترلاسه کیږي."

سرچینه: GIROA، *افغانستان د ځان بسیا په لور. د لومړي مایل د پرمختګ راپور*، 9/5/2015، مخ 1.

## د افغانستان مالي لرې لید

افغانستان به د وړاندوینې وړ راتلونکي لپاره د ډونر د پام وړ مرستې ته اړتیا ولري.[563] نړیوال بانک پدې ربع کې راپور ورکړی چې امنیتي لګښتونه د ډونرانو لومړني وړاندیونو ځخه ډیر شوي. په شیکاګو کې د ناټو 2012 غونډې اټکل کړی و چې په 2015 کې به امنیتي لګښتونو په برخه کې د افغانستان سهم لږترلږه 500 میلیون ډالر وي. په هرصورت افغانستان په کال 2013 کې 583 میلیون ډالر، په کال 2014 کې 754 میلیون ډالر، او د FY 1394 (2015) په یوازې لومړیو اته میاشتو کې 699 میلیون ډالر مصرف کړل.[564] سربیره پردې، نړیوال بانک وویل چې د ټولنیز خدمت لګښتونه له مالي پلوه ټیکاو لرونکي ندي ـ مزد او معاشاتو تر دې دمه په FY 1394 کې د افغان مصرفونو 53% مصرف کړي دي. د تقاعد لګښتونه او د وژل شویو یا ټپي شوي وګړو کورنیو ته تادیات تردې دمه په FY 1394 کې د افغان مصرفونو 7% جوړوي، او مخ په ډیریدو دي.[565]

نړیوال بانک تمه کوي د 2015 عواید په 2014 کې د GDP سهم په توګه 8.4% ډیر شي (شاوخوا 1.75 میلیارده ډالر)، مګر دا به د 2011 د 11.6% ځخه خورا ټیټ وي. د اوسني شرایطو پراساس، او د مالیه غوره پالیسي او اداري له لارې، او د عوایدو کم شوي تشو سره، نړیوال بانک د GDP تر 16% پورې د حد اکثر عاید احتمال بښیې (3.4 میلیارده ډالر). په هرصورت، دا به لاهم د افغانستان د مصرف اوسنۍ کچه د GDP تر 36% پورې (7.6 میلیارده ډالر) یا د هیواد اوږد مهاله مالي اړتیاوې تمویل کولو لپاره کافي نه وي.[566]

افغانستان په FY 2015 کې د مالي روڼتیا په اړه د بهرنیو چارو وزارت لږترلږه اړتیاو په لور د پام وړ پرمختګ ندی کړی. د عاید او مصرف معلومات معتبر ندي؛ افغان بودجه کې دولتي شرکتونو ته تاکل او هغوی ځخه عاید ندي شامل او د دولتي شرکتونو حسابونه نه تفتیش کیږي.

سرچینه: د بهرنیو چارو وزارت، د *2015 مالي روڼتیا راپور*، 9/8/2015.

## د FY 1394 عواید او د مصرفونو تازه معلومات

ټولټال راټول شوي داخلي عوايد – يو رقم چې د ډونر د بلاعوضه مرستو څخه جلا دی – د FY 1394 په لومړيو اته مياشتو کې 70.8 ميلياړده افغانۍ (AFN) (1.1 ميلياړده ډالر) و، په FY 1393 کې د ورته دورې څخه شاوخوا 13.3% لوړ. تر دې دمه په FY 1394 کې کورني عوايدو د افغانستان 182.2 ميلياړده افغانيو (2.8 ميلياړده ډالر) د ټولټال بودجې مصرفونو له نيم څخه لږ (39%) پوښلي دي؛ د ډونر مرستو يې پاتې برخه پوښلې ده. د افغان دولت مصرفونه په FY 1394 کې د تير کال ورته دورې په پرتله تر 402 ميليون افغانۍ (0.2% يا 6.2 ميليون ډالر په اوسني ډالرو) لوړ شوي دي.[567]

که څه هم عوايد په FY 1394 کې کال په کال ډير شوي پداسي حال کې چې مصرفونه ورته پاتې دي، د FY 1394 په لومړيو اته مياشتو کې د هرې مياشتې لپاره د بودجې د پام وړ تشې په ډکولو کې يوڅه پرمختګ شتون درلود، لکه څنګه چې په شکل 3.29 کې تشريح شوي دي. نړيوال بانک وويل چې امنيت پورې اړوند لګښتونو او مصرفونو کمول به خورا ستونزمن وي که چيرې امنيت ښه نه شي.[568] د نړيوال بانک د وړاندوينې مطابق مصرفونه به په FY 1395 (2016) کې د FY 1393 د 26% په پرتله د GDP تر 30% پورې لوړيدو ته دوام ورکړي ـ دا ډير والی به تر ډيره د امنيت، خدماتو وړاندې کولو، لازمي زيربنا، او د حفظ او مراقبت (O&M) ډير شوي مصرفونو له امله وي.[569]

**په سپټمبر کې د افغان حکومت راپور ورکړ چې د بوديجې د تعادل لپاره 20 فيصده عايد ته اړتيا لري. دغه ونه شو، په هرحال ربښتينی هدف بايد په پام کې ونيول شي. وروستی بوديجې بايد په ډير دقت سره ترتيب شي، څکه چې د سياست جوړونکو لپاره د عايد اهداف د اعتبار وړ مديريت ابزار رامنځته کوي.**

سرچينه: GIROA، *افغانستان د خان بسيا په لور. د لومړي مايل د پرمختګ راپور، 9/5/2015*، مخ 12.

شکل 3.29

**تشه: د افغانستان د داخلي عايداتو منفي مخارج** (ميليارډونه افغانۍ)




يادونه: مالي کال 1394 له دسمبر 22، 2014 څخه تر دسمبر 21، 2015 پورې دوام لري. AFN = افغانۍ

سرچينه: د ماليه وزارت، *د اسد مالي بيانات مالي کال 1393* جلد 2، 9/8/2014؛ د ماليه وزارت، *د اسد مالي بيانات مالي کال 1394*، 8/30/2015.

پدې ربع کې د بودجې موخو پروړاندې د افغانستان پرمختګ سنجول ممکن نه و ځکه چې د مالیه وزارت (MOF) د کال د موخو تازه او درست معلومات په عام ډول موجود نه و.[570] سربیره پردې، سیګار د هیواد د دولت په کچه محاسبې سیستم، د افغانستان مالي مدیریت معلوماتو سیستم (AFMIS) ته لاسرسی نلري.

د متحده ایالاتو کانګرس ته د سیګار د *اکتوبر* 2014 درې میاشتني راپور د متحده ایالاتو د حکومت ادارو ځخه غوارې چې AFMIS ته د بشپړ لاسرسي لپاره MOF تکثیر کړي. دا به متحده ایالاتو ته اجازه ورکړې چې د افغان دولت راپورونه وګوري چې په څه شي پیسې مصرفوي او تر کوم حد پورې، په بیله بیا د بودجې تشې ترڅو د اضطراري فنډونو لپاره غوښتنو ته د متحده ایالاتو ځوابونه غوره درک کړي.[571] لدغه وخت راهیسې لږترلږه جنوري 2015 پورې، د متحده ایالاتو د کابل سفارت د AFMIS کارولو لپاره د افغانانو اجازه درلوده، مګر د بهرنیو چارو وزارت وایي چې نشي کولی د روانو "تخنیکي ستونزو" له امله سیستم ته لاسرسی ولري.[572]

پدې ربع کې USAID او د متحده ایالاتو د کابل سفارت ورتیا نه درلوده چې د افغان بودجې خپلواک ځارنې، د عوایدو ځانګړې تشې، یا د AFMIS معلوماتو د اعتبار په اړه د معلوماتو لپاره د سیګار ډیری غوښتنې ځواب کړي. د متحده ایالاتو کابل سفارت وویل چې دغه سفارت د AFMIS راپورونو لپاره افغان دولت باندې تکیه کوي او د AFMIS خام معلوماتو ته د لاسرسي ګټې پرته د بشپړ وخت روزل شوي کارمندانو ځخه چې دغه سیسټم وکاروي، تریوښتنې لاندې راولي. په کابل کې د سفارت د کارمندانو د شمیر په کمیدو سره، سفارت وویل چې روښانه نه وه چې ایا کولی شي دغه مقصد لپاره سرچینې وقف کړي که نه.[573]

## د FY 1394 کال د بودجې د تشې وړاندوینې

د نړیوال بانک په وینا، افغان FY 1394 د تیر مالي کال ځخه 352 میلیون ډالر نا تمویل شوي تشې، ضعیف نغدي زیرمو او د پام وړ پاتې پورونو سره پیل شو، پداسې حال کې چې د عوایدو راټولولو اصلاحات په لومړی ربع کې په پارلمان کې پاتې دي. په اپریل 2015 کې نړیوال بانک خبرداری ورکړ چې افغانستان د تیر کال 537 میلیون ډالرو تشې ته ورته پدې کال کې د بودجې تشو سره مخ کیدی شي (د ډونر مرستې وروسته).[574]

د FY 1394 بودجې د شاوخوا 125.5 میلیارده افغانیو کورنې عوایدو وړاندوینه کړې، په FY 1393 کې د راټول شوي عوایدو ځخه شاوخوا 30% ډیر، کوم ته چې نړیوال بانک "هیله مند" وایي پدې خبرتیا سره چې دولت کوچنی نغدي زیرمي لري چې لدغو د مخې نباید داخلي عواید درک کړل شي.[575] په هرصورت، IMF د 120 میلیارده افغانیو هدف ټاکلی او پدې وروستیو کې یې دغه 114 میلیارده افغانیو ته راټیټ کړ.[576] لکه ځنګه چې مخکې یادونه شوې، افغانستان لومړیو اته میاشتو کې 70.8 میلیارده افغانی راټولي کړي دي (د پیلي بودجې هدف تر 56.4% پورې او د IMF تعدیل شوي هدف تر 62% پورې).[577]

د MOF د نیم کال بودجې بیاکتنې شاوخوا 165 میلیون ډالرو تشه په ګوته کړې ده، د ډونر د بلاعوضه مرستو وروسته، اساسا د پراختیا بودجه کې، کوم چې لوی پروژې پوښي. (بیا پیښیدونکي لګښتونه لکه د عامه سیکتور معاشات په عملیاتي بودجه کې شامل کړل شوي دي.)[578] مالي تشه ډیریدی شي یا هم کمیدی شي چې په توپیرونو پورې اړه لري چې پشمول د بودجې د اجرا کولو نرخونه، د ډونر ترلاسه شوي بلاعوضه مرستې، د ډونر هڅونکي فنډونو لپاره د شرایطو پوره کول، د عوایدو راټولول، او بدلیدونکي مصرفونه.[579]

شکل 3.30

**د عملياتي او پراختيايي بوديجي مصارفو په پرتله د افغانستان داخلي عوايد او د ډونرانو مرستي** (ميليونونه AFN)




يادونه: تر دي وروستيو پورې، افغان مالي کلونه د ميلادي تقويم کلونو د مارچ 20 څخه د مارچ تر 20 پورې و. مالي کال 1388 د مارچ 20، 2009 څخه د مارچ 20، 2010 سره سمون درلود او همداسې نور. د مالي کال 1391 لپاره د نهه مياشتو معلومات په افغان مالي کال کې د وخت بدلون په ګوته کوي. افغان مالي کلونه اوس په عموم کې له دسمبر 20 څخه تر د دسمبر 21 پورې وي. مرستي د ډونرانو څخه ترلاسه شوي فنډونه وړاندې کوي. د ډونرانو مرستي ډيری وختونه د ځانګړي پروژو يا فعاليتونو لپاره وي، مګر ځيني وختونه د GIROA په تشخيص سره مصرفيږي. مالي کال 1394 يوازې لومړی اته مياشتني دي. د مالي کال 1394 عملياتي او پراختيايي بودجي د عايد او مصرف معلومات تر 8/30/2015 پورې دي. AFN = افغانۍ

سرچينه: د ماليه وزارت، د *اسد مالي بيانات مالي کال 1394*، "کلنی مالي راپور 1393،" 3/12/2015؛ MOF، "د 1393 ملي بوديجه،" 2/28/2015؛ MOF، "د 1393 ملي بوديجه،" 2/1/2014

مالي تشه ډېره ده. د نړيوال بانک د اکتوبر 2015 يوه راپور مالي تشه د GDP تر شاوخوا 23% (شاوخوا 4.9 ميليارده ډالر) پورې وړاندوينه کړې.[580] د ډونر مرسته دغه تشه کموي يا حتی ډکوي يې، لکه څنګه چې په شکل 3.30 کې ښودل شوي دي.

## د پيسو نړيوال صندوق د کارمندانو نظارت شوې برنامه

د IMF د کارمندانو نظارت شوی نهه مياشتنی پروګرام (SMP) د 2015 اپريل – دسمبر پورې دی او د افغانستان د کوچني اقتصاد يا مايکرو اقتصاد پاليسيو پلي کول او د جوړښتي اصلاح اجنډا نظارت کوي. IMF وايي چې لومړني معلومات ښيي افغانستان د 2015 جون په اوږدو کې د پروګرام مالي او پيسو کميټي موخې پوره کړې دي، د جوړښتي معيارونو په پلي کولو کې د "پام وړ پرمختګ" سره، که څه هم دا پرمختګ د پلان شوي څخه خورا ځنډنی و.[581] پرمختګ په مپی کې د برياليي SMP ته د پام

وړ خطرونو په اړه د IMF خبرتیاو سربیره شوی دی، په بیله بیا افغانان د جون 21 ازمیښتي نیټې پورې د ځیني جوړښتي معیارونو تصویب کولو کې ځنډ کوي. د جون ازمیښتي نیټې لومړی بیاکتنه د اګست لپاره مهالویش شوې وه، سره د ځیني مداخلتي شاخص موخې بیاکتنې چې د سپټمبر 22 لپاره مهالویش شوې.[582] پرځای یې، IMF دواړه د سپټمبر په 8–21 د افغان چارواکو سره غونډو کې ترکیب یا ګډ کړل.[583] د اکتوبر تر 20 پورې هیڅ رسمي تازه معلوماتو شتون نه درلود.

د SMP ځنډیدلي مګر پلي شوي معیارونو کې د عوایدو رامینځته کولو اقدامات لکه د سوداګرۍ رسید ډیر شوي مالیات، په ګمرکونو کې راټول شوي د سونګ توکو تعارفې، او د مخابراتو نوې مالیه (د اکتوبر په 14 ولسي جرګې د مخابراتو مالیه رد کړه چې د سپټمبر په 23 د ولسمشرۍ فرمان لخوا پلي شوي و) شامل دي.[584] په اګست کې د بانکدارۍ یو نوی قانون هم تصویب شوی او په بې نومې دولتي بانک کې غیر ترلاسه شوي پورونه بیرته ترلاسه کولو د څارنې لپاره یو خپلواک مفتش وګومارل شو. د اسعارو راپور ورکولو په اړه د مقررې تکثیر په موخه معیار تر یوې کچې پلي شوی دی. IMF وویل چې افغان دولت د دغه ځنډیدلي اقداماتو څخه اغیزه کمولو لپاره لارې په ګوته کړي دي، مګر توضیحات یې ندي وړاندې کړي.[585] IMF افغانستان لپاره د ډونر دوام لرونکي ملاتړ باندې تاکید کوي.[586]

IMF دا هم وویل چې بانکي اصلاحات د پلان سره سم تر ډیرې کچې د پرمختګ په حال کې دي. ټول افغان ضعیف بانکونه په 2015 کې د تنفیذ کړنو سره مخ و، په ځانګړې توګه دوه د زیان سره، عام نا پیژندل شوي بانکونو لپاره. لدغو څخه یوه بانک خپله پانګه ډیره کړه او د بهرني تبادلې ښکاره کول یې کم کړل. بل یوه یې د پنځه کلونو لپاره د فعالیت ستراتیژي چمتو کړه چې د بیاکتنې لاندې ده، د عامل رییس او کریډیټ افسران یې وګومارل او د اجرایی رییس یا افسر په لټه کې دی. داسې ښکاري چې د دې بانک د پانګې موخې تر جون پورې پوره شوې وې. علاوه لدې، یو "خصوصي سیستماتیک بانک" باندې له سره پانګونه وشوه، د نوي کابل بانک پیرل تر کار لاندې دي، او د مالي نهادونو لپاره د پیسو مینځلو سره مبارزې مقرراتو مسوده چمتو شوې.[587]

## سوداګري

پدې ربع کې د سیګار سره په مرکه کې، چې د دې راپور برخه 1 کې توضیح شوې، ولسمشر اشرف غني وویل د افغانستان ترټولو مهمه اقتصادي پانګه پخپله د دې موقعیت د سهیلي او مرکزي آسیا ترمینځ د سوداګرۍ لپاره د مرکز په توګه. نړیوال بانک وویل پداسې حال کې چې د سیمه ایز اقتصاد ادغام د هیواد اقتصادي پرمختګ کې خورا مهم رول لوبولی شي، د دې طرحې بیروني فاکتورونو پورې تړلي دي، د وړاندوینې وړ ندی، او وخت، سمو فعالیتونو او بیروني ملاتړ ته اړتیا لري.[588]

د مثال په توګه، USAID وویل د پاکستان – افغانستان – تاجکستان د ټرانزیټ سوداګرۍ تړون (PATTTA) خبرې د سپټمبر له 20 نیټې راهیسې په ټپه ولاړې دي، تر ډیره کچه په ځانګړې توګه د واګه بندر خلاصولو لپاره د پاکستان لیوالتیا نه درلودل ترڅو د افغانستان، هند او د سهیلي آسیا نورو هیوادونو ترمینځ سوداګري پیل شي. د واګه له لارې لاسرسي پرته، افغانستان نه غواړي دغه تړون نهایی شي. افغانستان غواړي د PATTTA پر بنسټ ډیری شرایط د افغانستان – پاکستان ټرانزیټ سوداګري تړون ته ولیږدوي، مګر پاکستان یې ردوي. پداسې حال کې چې متحده ایالات پدې کار کوي

**شاخص هدفونه:** کمیبیتي شاخصونه د IMF پروګرام موخو پوره کولو کې د پرمختګ ارزولو سره مرستې لپاره کارول کیږي، پشمول د اقتصادي چارو چیرې چې معلومات دقیق نه وي.

سرچینه: IMF، "حقیقت پاڼه، د IMF شرط،" 4/13/2015.

**د IMF د کارمندانو نظارت شوي پروګرام د فعالیت نظارت بیاکتنې**

د معیارونو په اړه د SMP د فعالیت نظارت د افغانستان پرمختګ بیاکتنې د دوه ازمیښتي نیټو پر بنسټ دي — جون 21 او دسمبر 21، 2015.

SMP د IMF کارمندانو ته یو فرصت ورکوي چې د یوه هیواد د چارواکو سره کار وکړي ترڅو وګوري چې ایا دوی وړ دي او غواړي چې د IMF توصیه شوي پروګرام پرمخ وړو لپاره خپلې ژمنې پرځای کړي او د مثبت لارې ریکارډ رامینځته کړي. د SMP بریالی تکمیل کولی شي د ډونر مرسته وهڅوي او د IMF کارمندانو ته ډاډ ورکړي چې ملي چارواکي به د لانور رسمي پروګرام له مخې د هغوی مکلفیتونه پوره کړي لکه د یوه غزول شوي اعتبار اسانتیا (ECF) ترتیب.

د تیر ECF سره کوم چې د 2014 نومبر کې پای ته ورسید، د افغانستان ضعیف سابقه د دې لامل شوه چې د فعالیت له لاسه وتلي اهدافو، متغیر او ځنډیدلي جوړښتي اصلاحاتو، غیر وړاندوینه شوي شاکونو، او د پالیسي نا مناسب غبرګون له امله د پروګرام بیاکتنه وځنډول شي.

سرچینه: خزانه، د سیګار د معلوماتو غوښتنو ته ځوابونه، 3/27/2015 او 6/25/2015؛ IMF، مطبوعاتي اعلامیه لمبر 15/247، د *IMF اداري رییس د افغانستان اسلامي جمهوریت لپاره د کارمندانو نظارت شوی پروګرام تصویب کړ*، 6/2/2015؛ IMF، د *افغانستان اسلامي جمهوریت، د کارمندانو نظارت شوی پروګرام*، 5/7/2015، مخونه 5، 13؛ IMF، "حقیقت پاڼه، د IMF شرط،" 4/13/2015.

چې د دواړه هیوادونو ترمینځ سوداګري پرمختګ وکړي، افغانستان د ترکمنستان او ایران سره پوټانشیل معاملو لپاره هڅې کوي.[589]

د خپلو اصلاحاتو د دریځ په اړه د افغانستان دولت د پرمختګ راپور وایي د افغانستان د سوداګرۍ بیلانس – منفي 8 ملیارده ډالر (د GDP 38%) په 2014 کې – ټیکاو لرونکی ندی، او یوه داسې چاپیریال لپاره سمدستي اړتیا په ګوته کوي چې کورني او بهرني پانګوونه هڅوي. افغان دولت تکل کړی د ویزې پروسه اسانه کړي او د "صادراتو مخه نیولو پرځای یې د ګرندي کولو" لپاره د لارو په ګوته کولو لپاره کار کوي. دولت غواړي د پولو څخه تیریدونکي ځایونو شمیر لوړ کړي، د سوداګرۍ او ټرانزیټ ټرونونو پرمختللي کولو لپاره وچ بندرونه رامینځته کوي، او د ګمرکونو همکاري ډیروي.[590]

**د افغانستان مهم مشروع صادرات غالۍ او وچې میوې دي، چې دا د ټولو مشروع صادراتو 49% جوړوي.**

سرچینه: نړیوال بانک، *د افغانستان د اقتصاد تازه معلومات*، اپریل 2015، مخونه 15–16.

### د صادراتو او وارداتو معلومات

که څه هم افغانستان په منظم ډول د سوداګرۍ لوی تشې سره مخ دی، د ډونر مرستو وکولی شو د هیواد سره په 2014 کې د GDO تر 6.1% اوسني حساب مثبت بیلانس ساتلو کې مرسته وکړي. لدې پرته، IMF اټکل کوي چې افغانستان به د خپل GDP تر 36% سره مساوي – شاوخوا 7.3 ملیارده ډالر د جاري حساب تشه ولري.[591]

د IMF اټکلونو له مخې، د 2012–2014 په جریان کې، افغانستان په کال کې د شاوخوا 3.3 څخه تر 4 ملیارده ډالرو په ارزښت توکي او خدمات صادر کړي دي، د غیر مشروع تریاکو پرته.[592] نړیوال بانک وویل افغانستان خورا لږ مقدار تولیدات صادروي او یوازې څو سوداګریز ملګري یا شریکان لري، چې د عوایدو لپاره یې په یو څو توکو پورې تر لویه کچه وابسته کوي، او په پایله کې بې ثباته قیمتونو او د سوداګرۍ شاکونو ته لانور زیان رسونکی کوي.[593] لدې چې د توکو صادرات د ټولټال صادراتو یوازې شاوخوا 20% وړاندې کوي – د خدماتو اړوند صادرات 80% جوړوي – د USAID په وینا، بدلون یې لږ د پام وړ دی.[594]

IMF د افغانستان د 2014 وارداتو د توکو او خدماتو په ګډون له 10.6 ملیارده ډالرو څخه ډیر اټکل کړي، چې له 8 ملیارده څخه ډیر یې د ډونر رسمي مرستو لخوا تادیه شوي دي.[595] نړیوال بانک وویل ټیټ مصرف او د سوداګرۍ ډاډ د وارداتو تر 20% ټیټې تقاضا لامل شوي. مګر بانک دا اټکل هم کوي چې په رسمي وارداتو کې ډیرې کمښت شاید د ضعیف ثبت او ډیر شوي قاچاق له امله وي، څکه چې باور شتون لري د افغانستان ټولې سوداګرۍ تر 15–20% پورې نا ثبت شوي او قاچاق دي. که څه هم د سوداګرۍ تشه له 2012 راهیسې محدود شوی، خو لاهم لوی پاتې ده او په بشپړ ډول د ډونر مرستې سره تمویلیږي.[596]

### د افغانستان د سوداګرۍ او عاید پروژه

د USAID د 77.8 میلیون ډالرو د افغانستان د سوداګرۍ او عاید څلور کلنه پروژه (ATAR) د سوداګرۍ اسانولو پروګرام دی چې د (1) سوداګرۍ ازادولو پالیسۍ ته وده ورکولو، پشمول د سوداګرۍ نړیوال سازمان (WTO) ته د افغانستان لاسرسي لپاره ملاتړ؛ (2) د افغانستان ګمرکي نهادونو او کړنو عصري کولو سره د عاید رامینځته کولو لپاره د افغانستان وړتیا لوړولو او جاري کولو؛ او (3) د دوه اړخیز او څو اړخیز سوداګرۍ ټرونونو اسانولو لپاره ډیزاین شوي.[597]

پدې ربع کې د افغانستان د ګمرکونو ریاست (ACD) او مرکزي بانک د کابل نړیوال هوایي ډګر او د کابل ځمکني ګمرکونو کې یوه سیاره برنامه په لاره واچوله چې له مخې یې د هر سوداګریز بانک

څخه د ګمرک مالیات په الکترونیکي توګه تادیه کیدی شي. USAID وویل چې په فیسونو کې له 2 میلیونه ډالرو څخه ډیر د دغه اي – تادیه یا الکترونیکي تادیه له لارې په لیکه شوي، چې دغه اداره تمه کوي دا سیسټم ټولو لوی ګمرګاتو ته وغزول شي. سربیره پردې، د ګمرکونو د اجابت د ATAR ملاتړ شوې ستراتیژي، چې مسلکي معیارونه، داخلي تفتیشونه، او د تنفیذ مقررات او کړنلارې، ترلاسه شوی ملاتړ لري؛ په ACD کې د فساد سره مبارزې یوه د اړیکي لیکه فعاله شوې ده؛ او ATAR د سوداګرۍ او صنایع وزارت سره مرسته وکړه او ولسمشر غني ته یې WTO ته د افغانستان د لاسرسي لپاره لنډیز ولیږه.[598]

### د افغانستان په اړه د سیمه ایز اقتصاد همکارۍ کنفرانس VI

د افغانستان په اړه د سیمه ایز اقتصاد همکارۍ شپږم کنفرانس (RECCA VI) په سپټمبر 3–4 په کابل کې ترسره شو.[599] د مخکیني RECCAs څخه په وتلو سره، چیرې چې د پراختیا لارې د افغان – متمرکز بریښیدي، لومړنی موخه یې د نوي سیمه ایز پانګووني معاملو اسانول و چې اساساً د خصوصي سیکتور لخوا تمویل شوي وي، پرځای د دې چې د ډونر یا د دولت لخوا وي، او دا له یو څخه تر درې کالو موده کې پلي کیدی شي. د مخکینیو ناستو د تشو په ګوته کولو لپاره، RECCA VI ټولو پروژو ته د اقتصادي اغیزې ارزوني وراضافه کړې، پشمول د تخنیکي وړاندوینو چې د GDP ودې څخه هاخوا دي؛ د عملي کیدو وړ، لومړیتوب پانګووني پروژو یو محدود لست؛ او د پروژې د پلي کولو یوه مرحله چې د کنفرانس وروسته پیل شوې.[600]

## بانکداري او مالي چارې

IMF راپور ورکړی چې د 2014 پیل کې ضعیفه حکومتولي او د قانون پلي کول د ځیني افغان بانکونو د مالي اوضاع خرابیدو لامل شوي. د IMF له نظره، د افغانستان له 15 بانکونو څخه اته یې "ضعیف" ارزول شوي او دوه نور یې مشهور ندي – چې د زیان سره مخ دي.[601] د IMF په وینا، پداسي حال کې چې یو بانکي قانون په اګست کې تصویب شوی و او نور د سمون فعالیتونه هم په لاره کې دي، د سمون دغه فعالیتونو اغیزه یوځای په سیکتور کې د ټیټ باور سره د دې لامل شوي چې په 2015 کې د پیسو وده راکمه شي. سربیره پردې، خورا ډیرې کډوالي او بې ثباتي د بهرني تبادلې لپاره غوښتنه ډیره کړې، چې دا د افغانستان پیسو باندې فشار اچوي او د مالي زیرمې یا ریزرف زیانونو لامل کیږي.[602]

د نړیوال بانک د محاسبو مطابق، د بانکي سیکتور د سپما وده په 2013 کې د 5.9% او په 2012 کې د 15.8% په پرتله په 2014 کې تر 2.8% ځنډني شوې. په ورته توګه، خصوصي سیکتور ته پور ورکول په 2014 کې 7.3% ته راالویدلي وروسته لدې چې په 2013 کې 7.6% ته لوړ شوي و. نړیوال بانک وایي چې دغه وضعیت په ګوته کوي چې خصوصي پانګوونه دریدلي او په 2010 کې د کابل بانک ناورین راپدیخوا د بانکونو سره د مخالفت خطر ډیریدل منعکس کوي.[603]

د افغانستان بې وزله وګړي رسمي مالي نهادونو ته محدود لاسرسی لري.[604] د افغانستان نفوس له 10% څخه لږ بانکونه کاروي،[605] چې تر ډیره د نغدو پیسو ساتلو ته ترجیح ورکوي. د آسیا پراختیایی بانک (ADB) وویل دا د کابل بانک خورا لوی ناکامي راهیسي د بانکونو دوام لرونکي بې باوري او د بانکي سیکتور ضعیف فعالیت په ګوته کوي.[606] ADB د لویانو د بانکي حسابونو په تناسب سره د

"د بانکي سیکتور پیاوړي کول او د بانکونو نظارت کې قوي ظرفیت به د افغانستان اقتصادي پوټانشیل باندې باور لوړ کړي."

سرچینه: خزانه، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 9/24/2015.

آسيا 26 پرمختګ په حال کې هيوادونو په لړ کې افغانستان ته د 25ام درجه ورکړې. افغانستان په هر 100,000 وګړو کې له پنځه څخه لږ د اوتومات صرافی ماشينونه لري، چې پدې سره دا هيواد د آسيا د پرمختګ په حال کې 33 هيوادونو کې ترټولو ټيټه درجه لري.[607]

د مالي ليږدونو شاوخوا 90% د *حواله* غير رسمي سيستم له لارې ترسره کيږي. د بهرنيو چارو وزارت راپور ورکړی چې د حواله او رسمي بانکي سيسټمونو ترمينځ تقسيم شتون نلري ـ *حواله داران* بانکي حسابونه لري او د بانکي ليږدونو سيسټمونه کاروي، پداسي حال کې چې بانکونه هم کله کله په افغانستان کې لرې پرتو سيمو ته د فنډونو ليږلو لپاره حواله سيسټم کاروي.[608]

## د متحده ايالاتو د خزانې مرسته

پدې ربع کې، د متحده ايالاتو د خزانې د تخنيکي مرستې دفتر (OTA) د افغانستان د MOF لپاره د تخنيکي مرستې رامينځته کولو او ظرفيت جوړولو پروګرامونو لپاره خپل د 2015 د مارچ 23 نيټې ترون پلي کولو ته دوام ورکړ.[609] د OTA مرسته به په لومړنی توګه د ملي لومړيتوب موخو پراخولو او نظارت کولو لپاره د طرحې له مخې لارښود درلودونکي وي، په ګډه د وزارتي بودجو؛ څو کلونو بودجو؛ د پراختيا او عملياتي بودجې د ادغام پلان کولو پروسو؛ او د بودجې جوړولو او اجرا کولو ته وده ورکولو سره يوځای.[610]

په 2015 کې تر دې دمه، OTA کابل ته دوه ماموريتونه ترسره کړي دي (فبرورۍ او میی) ترڅو د بودجې او خزانې مديريت لپاره همکارۍ او د ظرفيت جوړولو په اړه خبرې وکړي؛ نور دوه ماموريتونه (فبرورۍ او مارچ) د اقتصادي جرمونو په اړه و. د جولای لپاره يو بل مهالويش شوی ماموريت د احتمال له مخې د بهرنيو چارو وزارت د نړيوال ترياکو او قانون تنفيذ چارو بيورو څخه د په تمه تمويل له امله وځنډول شو. د بانکي څارنې پياوړې کولو او د بانکي ستونزو حلولو لپاره د ارزونې يو پيلي ماموريت په سپټمبر کې ترسره شو او د برنامې لپاره به تعقيبي ورانديزونه رامينځته کړي. د عايد رامينځته کولو او مديريت په اړه يو مهالويش شوی ماموريت د امنيتي شرايطو له امله تر جنورۍ پورې وځنډول شو.[611]

OTA وويل په افغانستان کې د امنيت له امله د سفر محدوديتونه د لانور پياوړې شتون رامينځته کولو کې خورا لوی خنډ دی، چې له امله يې د اصلاحاتو پلي کول تر ډيره کچه افغان دولت او نورو ډونرانو پورې اړوند کيږي. OTA دا هم وويل چې په FY 2016 کې د افغان چارواکو سره د لانور قوي ښکيلتيا لپاره اضافي تمويل ته اړتيا ده.[612]

## د کابل بانک د غلا حساب ورکول

د ولسمشرۍ فرمان، د څار څانګړې کميټې او د کابل بانک غلا لپاره مسؤل نفرو ګرم ګنلو کې د "قاطع عمل" کولو لپاره د ولسمشر ادعا سربيره د بانک پخوانی اجرايوي رييس خليل الله فيروزي د هغه د 10 کالو محکوميت يوازې يو څه برخې په زندان کې تيرولو وروسته د افغان دولت لوړ رتبه چارواکو په امر پدې ربع کې د زندان څخه خوشې شو.[613] دا کار په ظاهر کې د دې لپاره ترسره شوی و چې هغه ته وړتيا ورکړي په لانور اسانی سره دولت ته پانګې او ملکيتونه جاري کړي او وليږدوي ترڅو د خپلو پوروونو ورکولو کې يې مرستندويه وي. د کابل بانک د پوروونو بيرته ترلاسه کولو کې د راپورونو له مخې پدې ربع کې د فيروزي څخه 500,000 ډالر ترلاسه شوي دي. تر دې دمه، فيروزي بيرته شاوخوا 8 ميليون ډالر ورکړي يا د محکمې د پريکړه شوي 333.8 ميليون ډالرو شاوخوا 2%، چې پدې کې د اختلاس مقدارونه، سود او جريمې شامل دي. د بانک مخکيني رييس شيرخان فرنود شاوخوا 61 ميليون

ډالر بېرته ورکړي دي، يا د هغه د مکلفيت 571.6 میلیون ډالرو له 10% څخه يو څه ډير.[614] فرنود او فيروزي د 36 افرادو او شرکتونو څخه دوه نفر دي څوک چې د شاوخوا 1 ميليارد ډالرو غلا کې محکوم شوي چې له امله يې بانک په 2010 کې نږدې راپرزيدو سره مخ شوی و.[615]

پدې ربع کې، د کابل بانک د پورونو نوی ترلاسه کونکي وروسته له هغه وګومارل شو چې په جون کې د کابل بانک د تصفيه کولو کميټې رييس او معاون د يوه مستعار پور ورې څخه د جوړ جاړي تاديې پروسس کولو لپاره د 100,000 ډالرو رشوت اخيستلو په لړ کې ونيول شول.[616] د کابل بانک د پورونو تصفيه کولو کميټه په مارچ 2015 کې د کابل بانک قضيې حل کولو کې مرستې او کتنې لپاره د ولسمشرۍ فرمان لخوا رامينځته شوې وه.[617]

د 2015 جون په 22 ولسمشر غني پور وړو ته د يوې اونۍ نيټه وټاکله چې په ترڅ کې بايد خپل حسابونه پاک کړي او يا به د تعقيب لپاره لوی څارنوالۍ (AGO) ته ورواستول شي او د هيواد څخه وتلو باندې به يې بنديز ولګول شي.[618] پدې ربع کې DOJ خبر شو چې AGO د کابل بانک لومړي 14 پور وړي لست کړي چا چې د رسمي لست له مخې د دوی حسابونه ندي تصفيه کړي، که څه هم داسې انګيرل کيږي چې دوی نور د هيواد دننه ژوند نه کوي.[619]

## د نغدې او پانګې بيرته ترلاسه کولو کې توپيرونه

د کابل بانک د پورونو بيرته ترلاسه کولو مقام د متحده اياالتو عدليه وزارت (DOJ) ته خبر ورکړ چې ټولټال بيرته ترلاسه شوي پورونه د 2015 د اګست تر 25 پورې 246.2 ميليون ډالرو ته رسيږي. پدې کې نغدې ترلاسه کولو، معاف شوي پورونه، او ترلاسه شوي يا ضبط شوي پانګې شامل دي، پشمول د پخواني ولسمشر حامد کرزي ورور محمود کرزي څخه پدې ربع کې د 6 ميليون ډالرو بيرته ترلاسه کولو. نور ټولټال 585 ميليون ډالر – 635 ميليون ډالر نا تاديه شوي پاتې دي.[620] د بهرنيو چارو وزارت له مخې بيرته ترلاسه شوي پورونه 438 ميليون ډالر دي او 549 ميليون ډالر لاهم پور پاتې دي.[621] د دوه ادارو اټکلونو ترمينځ دغه لوی توپير پدې مسله د متحده اياالتو دولت خورا محدود څارنه په ګوته کوي.

د پورونو بيرته ترلاسه کونکي مقام وويل چې د نغدو او پانګو بيرته ترلاسه کولو کې ترټولو لوی ننګونه يې په پور وړو د هغوی د پور ورکولو لپاره د ناکافي فشار شتون دی، څکه چې ډيری يې سياسي اړيکي يا ټلوالی لري. د افغانستان د روڼتيا د څار اداره چې د ډونر لخوا ملاتړ کيدونکی د مدني ټولنې خپلواک سازمان دی، افغان دولت پدې تورونوي چې د پورونو راټولولو لپاره د پيسو بيرته ترلاسه کولو مقام او AGO سره د هغوی د څو ملاتړ کولو په برخه کې سياسي ليوالتيا نلري.[622] په هرصورت، پدې ربع کې د سيګار سره په مرکه کې ولسمشر غني وويل چې په ناورين کې له لاسه وتلي عامه پيسو بيرته ترلاسه کولو کې به د هغه دولت "تاريخ جوړ" کړي.

## د متحده اياالتو مرسته

DOJ وويل چې لوی څارنوالي د نړيوال تړونونو پلي کولو په برخه کې د مرستې غوښتونکي ډيری څارنوالانو لپاره د پيسو مينځلو سره مبارزې (AML) روزنې لپاره خورا ډيره اړتيا لري. پدې ربع کې، DOJ د لوی څارنوالۍ د فساد سره مبارزې ملکي او نظامي واحدونو ته د AML روزنه او د افغانستان د ترياکو سره مبارزې واحدونو ته د قضيې څيړلو روزنه ورکړه.[623]

**په 2010 کې د کابل بانک نږدې راپرزيدو وروسته، MOF مرکزي بانک ته د اته کالو، د 825 ميليون ډالرو سند ورکړ ترڅو د دغه بانک لخوا پوښل شوي زيانونه جبران کړي. د دولت لخوا بيا تاديه کول، کوم چې ځينې وختونه د کابل بانک بيرته ترلاسه شوي پانګو وصولي پکې شامل وي، د بودجې تخصيصاتو له لارې په درې مياشتو کې ترسره کيږي. پارلمان بې له کوم تناقض څخه دغه بيا تاديه کولو اجازه نده ورکړې، پداسې حال کې چې مجاز تاديات د پورونو په حالت کې پاتې دي. له 2013 راهيسې هيڅ تاديات داسې بشکاري چې نه وي شوي او هيڅ کوم په FY 1394 کې ندي تمويل شوي.**

سرچينه: IMF، د *افغانستان اسلامي جمهوريت، د اقتصادي او مالي پاليسيو يادداشت*، 11/1/2011، مخ 9؛ خزانه، د سيګار د معلوماتو غوښتنو ته ځواب، 6/25/2015 او 9/24/2015.

نه خو د متحده ایالاتو کابل سفارت او نه هم DOJ د کابل بانک پانګو بیرته ترلاسه کولو او د دوه اړخیزي قانوني مرستي غوښتلو په موخه خبرو پیلولو په اړه د افغان دولت څخه ډیپلوماتیک یادداشتونه یا نوري رسمي غوښتني ندي ترلاسه کړي.[624] د DOJ د افغانستان د میی 2015 غوښتنه ناقص ګڼي او د سمون کرنی یې په ګوته کړي دي چې د DOJ د مرسته کولو دمخه ورته اړتیا وه. DOJ وویل دوه اړخیز قانوني مرستي تړونونه په جنایی تعقیبونو کې خورا حیاتي رول لوبوي، چې تعقیب کونکي هیواد ته اجازه ورکوي شواهد او معلومات لاسته راوړي او غیر لدي به د دغه معلوماتو راټولولو لپاره حقوقي یا قضایی اساس ونلري.[625]

## د مشر چارواکو غونډه

د افغان او ډونر ټولني د مشر چارواکو دوهمه غونډه (SOM) د سپتمبر په 5 په کابل کې ترسره شوه، ترڅو د پالیسیو په اړه وغړیږي، په تیر دسمبر کې د لندن کنفرانس کې په ګوته شوي اصلاحاتو په لور د افغان دولت پرمختګ بیاکتنه وکړي او د وړاندې په لور باندې سره موافق شي. افغانستان ژمن دی چې د عاید نوي اقدامات پلي او نافذ کړي، یوځای د عامه مالي مدیریت پلان او اړوند مصرف کاري چوکاټ سره.[626] افغانستان د "خپل ځان بسیا درک کولو" د اصلاح اجنډا د پخپله درجه ورکړل شوي پرمختګ بیاکتنه خپره کړه کوم چې د 2014 دسمبر 4 نیټي د لندن ډونر کنفرانس کې وړاندې شوی وه.[627]
د نورو معلوماتو لپاره، د دې راپور 132 مخونه وګورئ.

## د ځان بسیا دوه اړخیز حساب ورکوني کاري چوکاټ

SOM د ټوکیو دوه اړخیز حساب ورکوني تازه کاري چوکاټ کې هم لاربنود شو، چې اوس ورته د دوه اړخیز حساب ورکوني کاري چوکاټ له لاري د ځان بسیا (SMAF) ویل کیږي، چې دا به د ډونر دوام لرونکي ملاتړ لپاره اساس وي.[628] افغان دولت د کاري چوکاټ له مخې خپلې د اصلاحاتو ژمني له سره تایید کړي او نړیوالي ټولني په ټوکیو کې په 2012 کې کړي خپلې مالي ژمني له سره تایید کړي – 16 میلیارده ډالر د 2015 اوږدو کې، او پیاوړی ملاتړ د 2017 په اوږدو کې، د تیري لسیزي تر کچې یا دې ته نږدې.[629]

SMAF د ډیری عمومي اصولو سره اداره کیږي:

- د وړاندوینې وړ، د افغان دولت پرمختیا لومړیتوبونو لپاره د ډونر د بودجې مستقیم ملاتړ، د محصول متمرکز ملي برنامو محدود شمیر سره په لیکه
- د افغانستان د ژمنو پوره کولو په اړه د ډونر وړاندوینه شوی شرطي ملاتړ
- د فساد له مینځه وړو لپاره روڼ او د حساب ورکولو وړ حکومتولي، د کفایت او مؤثریت ډاډ وړاندې کول، د اوسیدونکو له مخې معیارونو نظارت کولو سره
- د پانګووني جلبولو، دندو رامینځته کولو، او ټیکاو لرونکي اقتصادي ودې لپاره د بازار نهادونو رامینځته کول
- د ودې پرمخ وړو او بې وزلی کمولو لپاره سیمه ییزه اقتصادي همکاري[630]

SMAF د شپږ متقاطع برخو په اوږدو کې اهداف او شاخصونه هم لري، پشمول د افغانستان سره مرسته کولو هڅې ترڅو د عاید راټولول بې ډېرشي او د دولت د عاید رامینځته کولو ځانګو کې د فساد سره مبارزې او پلي کولو هڅو له لارې له مالي پلوه پیاوړی شي؛ د IMF SMP د رضایت وړ پلي کول، د لانور رسمي مالي برنامې سره ترڅو مزاکره شي؛ د نوي عامه مالي مدیریت پلان پلي کول؛ او د بانکي اصلاحاتو پلي کول. SMAF دا هم غواړي چې د خصوصي سیکتور پراختیا او پانګووني پرمخ وړونکي سوداګرۍ ته جوړ چاپیریال رامینځته کړي، پداسې حال کې چې د کرنې، استخراج او خدماتو سیکتورونو باندې تمرکز کوي چې دغه شیان د افغانستان د اقتصاد شته او قوي پرمخ وړونکي دي.[631]

## د متحده ایالاتو اقتصادي او پرمختیا ملاتړ ستراتیژیاني

د 2015 اګست په 3 د متحده ایالاتو او افغان دولتونو د 2015 مارچ په 23 اعلان شوي د 800 میلیون ډالرو د پراختیا نوي ملګرتیا (NDP) اداره کولو لپاره تفاهم لیک (MOU) لاسلیک کړ.[632] د NDP موخه د افغان نهادونو سره مرسته کولو له لارې د افغان په ځان بسیا هڅول دي ترڅو درې موخې ترلاسه کړي: مالي ټیکاو، پرمختللي حکومتولي، او د بې وزلۍ کمول. دغه برنامه غواړي چې نوموړی کار د ننګونو پراختیا په موخه د حلونو پلي کولو لپاره افغان دولت سره د پیسو هڅولو له لارې ترسره کړي چې 40 ځانګړي پراختیا پایلو پورې تړلي دي ــ هر یو یې د 20 میلیون ډالرو په ارزښت ــ او د اړوند شاخصونو له مخې سنجول کیږي. USAID د NDP تمویل ځارنه کوي، چې د افغانستان بیارغوني وجهي صندوق (ARTF) له لارې به مصرف کیږي یا هم د بل ګډ ټاکل شوي میکانیزمونو له لارې.[633]

د سپتمبر په 1، USAID وویل نوموړې اداره به د پنځه پایلو ترلاسه کولو لپاره افغان دولت ته 100 میلیون ډالر چمتو کړي:[634]

- د مالي او بانکي زیان لیدنو په ګوته کول، د عاید په حرکت کې راوړل، او په مالي سیکتور کې د ځارنې او تنفیذ پیاوړي کول، د IMF غیر رسمي SMP سره د موافقت کولو په واسطه.
- د ملکي هوای چلند مدیریت قرارداد ورکولو په واسطه د ملکي هوای چلند سوداګریز خدماتو ساتل (په تیره ربع کې، افغان دولت د دوه کالو لپاره د افغان هوای چلند مدیریت په برخه کې مرستې لپاره د متحده ایالاتو میشته د چمتو والي مدیریت ملاتړ انتخاب کړ)[635]
- د پولې څخه تیریدو یا بندر یوه ځای کې د برېښنایي تادیه سیستم په واسطه د ګمرکي اصلاحاتو له لارې د عاید په حرکت اچول
- د یوې داسې تدارکاتو ملي کمیټې رامینځته کولو سره د تدارکاتو اصلاحاتو پلي کول چې په منظم ډول سره لیدنې کوي
- د میرمنو لپاره د ملي عمل پلان پلي کول چې د ولسمشر لخوا تصویب شوی

## د USAID پراختيايي مرسته

د اقتصادي ملاتړ فنډ (ESF) ډېرى مرسته د USAID د پراختيايي برنامو کې ځي. په 2015 سپتمبر کې، USAID د فعاليت د مديريت يو تازه پلان (PMP) خپور کړ ترڅو خپلې د پرمختيا موخې لارښود کړي او ارزونه يې وکړي، او د 2018 اوږدو پورې خپله د پرمختيا ستراتيژي تشريح کړي. PMP به لړترلړه يوځل په کال کې بياکتل کيږي او که لازم وي نو تازه معلومات به وراضافه کيږي.[636] شکل 3.31 د سيکتور له مخې د USAID مرسته ښيي.

شکل 3.31

**د 2015 اګست تر 30 پورې د USAID پراختيايي مرسته، مجموعي مصرفونه**
(ميليونونه‌ډالر)




يادونه: شميرې ګردې شوي دي. کرنې برنامو کې بديله پراختيا شامله ده. د زيربنا برنامو کې بريښنا، سړکونه، کان کيندنه او نورې برنامې چې د روغتيا او تعليم تسهيلات جوړوي، شاملې دي.

* ناغوره شوي فنډونه د متحده ايالاتو د ARTF سره اعانې دي چې د ARTF ملاتړ شوي نوښتونو لپاره کارول کيدی شي.

سرچينه: سيګار، د USAID تحليل، د سيګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 10/8/2015؛ سيګار، د نړيوال بانک تحليل، "*ARTF*، په مالي حالت د اداره کونکي راپور د *2015* د اګست تر *22* پورې،" په 10/17/2015 خپور شوی.

## د طبيعي زيرمو پراختيا

نړيوال بانک باور لري چې د افغانستان طبيعي سرچينو پراختيا کولی شي د بهرنی مرستې کميدو پروړاندې د راتلونکي اقتصادي ودې ملاتړ وکړي. په ورته ډول ولسمشر غني د سيګار سره خپله مرکه کې کان کيندنه د هيواد يو له خورا مهمو اقتصادي پانګونو په توګه ياده کړه. په هرصورت، تر دې دمه کان کيندنې د GDP خورا لږه برخه جوړه کړې.[637] د FY 1394 افغان بودجې د کان کيندنې عوايد 2 ميلیارده افغانی په کال کې وړاندوينه کړې، مګر اصلي رسيد لومړيو اته مياشتو کې يوازې شاوخوا 479 ميليون افغانی (24%) و. په تير کال کې د ورته دورې په پرتله استخراجي عوايد شاوخوا 24% کم شوي دي.[638] د زيربنا تمويل لپاره اړتيا، په قانون او قانون جوړونې کارې چوکاټونو د افغانستان پرمختګ، او د امنيت لرونکی چاپيريال لدې سيکتور څخه د پام وړ عوايدو ترلاسه کولو لپاره زمينه برابروي.[639]

"د پوټانشيل استخراجي صنعتونو خلاصول به د قانون جوړونې چوکاټ کې پرمختګ ته اړتيا ولري په بيله بيا د لازمي زيربنا لپاره د تمويل خوندي کول."

سرچينه: نړيوال بانک، *افغانستان: د ليږد څخه راپورته کيدل*، د لوړ پوړو چارواکو غونډه، د سپتمبر *4–5*، *2015*، 9/2015، مخ 16.

د کان کيندلو ډيری قراردادونه او داوطلبی د کانونو او پټروليم وزارت (MOMP) لخوا له سره ارزول کيږي ځکه چې د نوموړي وزارت وزير وايي د کرزي اداره کې د قرارداد ورکولو پروسه کې روڼتيا شتون نه درلود.[640] USAID وويل افغان دولت نوموړي سيکتور لپاره سست، ميتودي لاره

غوره کوي ترڅو په ځان ډاډه شي چې د داوطلبيو او قراردادونو اداره کولو ظرفيت لري. اوسمهال، MOMP د هرډول بيلګې/اساسي کنسټلو قراردادونو ورکول ردوي.[641] دا لا روښانه نده چې نوموړی عمل به څنګه په مزاکره شوي مګر تردې دمه نا لاسليک شوي قراردادونو باندې اغيزه وکړي، مګر دا د پانګونکي لانور بې کرارۍ لامل کيدی شي.

د متحده ايالاتو او افغان دولتونو او د افغانستان د مدني ټولنې د روڼتيا د څار سازمان څخه استازي ټول پدې موافق دي چې MOMP لاهم د 2009 کال راهيسې د متحده ايالاتو مرستې ترلاسه کولو سربيره د بهرني ملاتړ پرته د قراردادونو لټون، ورکول او اداره کولو لپاره تخنيکي ظرفيت نلري. داسې ويل کيږي چې د MOMP لخوا په خپلواک ډول اداره شوي داوطلبۍ ډيری ځله د فساد او درغلۍ ډکې وې.[642]

د يوه لوړ ارزښت لرونکي مثال په توګه، په لوګر ولايت کې د مس عينک د مسو د کان پروژه په ټپه ولاړه ده، حتی که څه هم په 2008 کې MOMP د استخراج حقونو لپاره د چين دولتي شرکت ميټالرجيکل شرکت (MCC) ته د 3 ميلیارده ډالرو قرارداد ورکړ.[643] دا تر يو حد پورې په سيمه کې د کلتوري اثارو ته زيان رسونې دوام لرونکي آرکيوژيک کمولو او د ځمکني ماينونو پاکولو له امله ده.[644] پدې ربع کې MOMP اعلان وکړ چې د عينک د ماين پاکولو برنامه به د دې کال تر پای پورې بشپړه شي.[645] پدې سره MCC غواړي خپلې ژمنې کمې کړي، پشمول د يو بريښنا کارځای جوړول، تصفيه خونه او د ريل خط.[646]

پدې ربع کې د کانونو وزارت معين د جواز لرونکي او پرمخ وړونکي سره د عينک قرارداد بياکتنه هم پيل کړه. MOMP غواړي چې د MCC لپاره يو مهالويش جوړ کړي چې پکې د شونتيا اړينه مطالعه بشپړه کړي، د کان او اړوند زيربنا ساختماني چارې پيل او مکمل کړي، او د مسو سوداګريز توليد پيل کړي. MOMP د شاوخوا چاپيريال او اغيزمن شوي ټولنو لپاره هم د خورا ډير محافظت غوښتونکی دی. د سهم دارانو لومړی ناسته په جولای کې ترسره شوه.[647]

د حاجيګک ارزښت لرونکي وسپنې قرارداد ورکولو لپاره د قرارداد خبرې يا مزاکرات د 2011 نومبر کې د قرارداد ورکولو راپديخوا په ټپه دريدلي.[648] نړيوال بانک مخکې راپور ورکړ چې د عينک او حاجيګک پورې تړلي انرژي زيربنا لپاره شته هيلې له مينځه ولاړې چې دغه زيربناوې د کان کيندلو پروژې د برخې په توګه بايد جوړې شوي وی.[649]

د کابينې نهايی تصويب ته په تمه قراردادونو ليست لپاره، د متحده ايالاتونو کانګرس لپاره د سيګار د جنوري 2015 *دري مياشتني راپور* مخ 161 وګورئ.

## د افغان ثبات لپاره د کان کيندنې پانګونه او پراختيا

پدې ربع کې، د USAID د افغانستان د ټيکاو (MIDAS) لپاره د کان کنسټلو پانګوونې او پراختيا برنامې د جيو –فضايي/او جيو ګرافيک معلوماتو روزنه او د جيوفزيک روزنه د افغان جيولوژيکي سروی (AGS) کارمندانو لپاره له سره پيل کړه؛ د MOMP کارمندانو لپاره يې د کانونو قرارداد بياکتنو او مزاکراتو په اړه روزنه وړاندې کړه؛ او د سهم دارانو او پانګوونې ټرونونو بياکتنه يې وکړه، او د ترکمنستان-افغانستان-پاکستان-هند (TAPI) پايپ لاين پروژې لپاره يې پلان کول او مزاکرات ملاتړ کړل.[650]

**MIDAS غواړي د نړيوالو معيارونو سره په مطابقت کې د افغانستان طبيعي زيرمو څخه ګټه پورته کولو لپاره د MOMP او د اړوند خصوصي سيکتور – نهاد ظرفيتونه پياوړي کړي.**

سرچينه: USAID، *د افغانستان ټيکاو لپاره د کان کيندلو پانګوونه او پراختيا (MIDAS)*، د پرمختګ مياشتنی راپور، اګست *2015*، 9/5/2015.

جدول 3.24

**د USAID د استخراجي مرستي برنامې**

| د پروژې نوم | د پیل نیټه | د پای نیټه | ټولټال اټکل شوی لګښت (ډالر) | تر 9/30/2015 پورې مجموعي مصرفونه (ډالر) |
| --- | --- | --- | --- | --- |
| د شبرغان د ګاز تولید فعالیت (SGGA) | 12/21/2011 | 7/31/2016 | $30,440,958 | $23,178,610 |
| شبرغان ګاز پراختیا پروژه (SGDP) | 5/15/2012 | 8/31/2016 | 90,000,000 | 0 |
| د افغانستان د پایښت لپاره د کان کیندني پانګوونه او پراختیا(MIDAS) | 3/31/2013 | 3/31/2017 | 50.096.175 | 22.097.148 |

سرچینه: USAID، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 10/8/2015؛ USAID، د سیګار ارزوني ته ځواب، 10/12/2015.

MIDAS به د کانونو او پټرولیم وزیر بیاکتنې لپاره د کان کنستلو قانون احتمالي تعدیلاتو کتلاک کولو ته دوام ورکړي. یو وړاندیز شوی بدلون به د سیالی پړاوی د دوسیه ترتیب غوښتنلیک له مخې د سیږلو – جواز ورکول رامینځته کړي. بل پروپوزل به د جوازونو شمیر محدود کړي چې MOMP یې یو شرکت ته ورکولی شي.[651]

د MIDAS او USAID نورې د استخراج مرستندویه برنامې په جدول 3.24 کې لیست شوې دي.

## هایدروکاربونونه

د تیلو او ګاز زیرمو پرمختیا لپاره د افغانستان هڅې د آمو سیند حوزه او افغان تاجک حوزه باندې چې دواړه په شمالي افغانستان کې دي، متمرکز دي.[652] افغانستان یوازې د کوچنۍ کچې کار ځایونه لري ـ د لومړني مرحلې تصفیه خونې چې د خامو تیلو یوازې محدود پټرولیم اجزاوې پروسس کولی شي – او په لویه کچه د سونګ توکو وارداتو پورې تړلی دی.[653] دا هیواد په ورځ کې 10,000 ټنه د تیلو تولیدات د ترکمنستان، ازبکستان، روسیه، پاکستان او ایران څخه واردوي،[654] چې د افغانستان د کلنې وارداتو یو پر څلور برخه جوړوي، یا شاوخوا 1.5 ملیارده ډالر.[655]

پدې ربع کې، طلوع نیوز راپور ورکړ چې د افغان دولت یوې پلټنې وموندل چې د چین ملي پټرولیم شرکت (CNPC) د آمو سیند حوزه کې د درې بلاکونو څخه د تیلو را ایستلو لپاره د خپل 2011 قرارداد شرایطو څخه سرغړونه کړې ده. دولت CNPC تورونوي چې د قرارداد له مخې د دغه شرایط د فعالیتونو شاوخوا ځمکې د پراختیا لپاره کار نه کولو له امله دغه شرکت د دولت 68 میلیون ډالر پور وړی دی، او هم ناسم را ایستل چې د فساد لامل کیږي. د راپورونو له مخې CNPC تر دې دمه شاوخوا 627,000 بیرله خام تیل را ایستلي دي.[656] لدغه تیلو را ایستلو څخه د افغان دولت لخوا ترلاسه شوي حق الامتیاز په اړه هیڅ تازه معلومات موجود نه و. پداسې حال کې چې د امریکا دفاع وزارت (DOD) د سوداګرۍ او ثبات عملیاتو لپاره کاري ځواک (TFBSO) د دې قرارداد ورکولو لپاره MOMP ته تخنیکي مرسته چمتو کړې، USAID، څوک چې په افغانستان کې د متحده ایالاتو دولت یوازینی استخراجي مرستي برنامه تمویلوي، پدې کې دخیل نه دی او دې پروژې په اړه نور معلومات نلري.[657]

### د شبرغان برنامې

د نړیوال بانک په وینا، شبرغان د ارزانه ګازي بریښنا یا قوي لپاره ظرفیت لري چې د ازبکستان څخه وارد شوي بریښنا سره سیالیزه کیدی شي.[658] USAID د شبرغان پروژې ملاتړ کوي ترڅو د

## د سیګار تفتیش

د سیګار یوه تفتیش مشخص کړي چې د USAID د MIDAS پروګرام مرستې ته اړ برخې په ګوته کړي، د منرال سیکتور پراختیا لپاره یې ستراتیژي شرح کړي، او د USAID لخوا د د پانګوونې پوټانشیل برخو غوره کولو لپاره د معیارونو لړۍ په ګوته کړي. استخراجي صنعت ته د متحده ایالاتو د مرستې یو تعقیبي تفتیش روان دی.

افغانستان سره مرسته وکړي چې د دوه ميکانيزمونو له لارې د برېښنا توليد لپاره کارول کيدونکي ګاز سرچينې وپيژني او اداره کړي. (1) د 90 ميليون ډالرو د مستقيم بودجې د شبرغان د ګاز پراختيا پروژه (SGDP) د آمو سيند حوزه کې د ځانګړو کنسټلو او بيا رغولو لپاره او د ګاز راټولولو سيسټم او د ګاز پروسس کولو کارځای تمويل؛ او (2) د 35 ميليون ډالرو د بودجې پرته د شبرغان ګاز د توليد فعاليت (SGGA) د MOMP د ظرفيت جوړولو او تخنيکي مرستې لپاره.[659]

USAID وويل چې د کانونو پټروليم وزير د يوه کال تر موده پورې نه شتون له امله د شبرغان ټول پروګرام د خپل 2012 اصلي مهالويش څخه شاته پاتې دی، او لدې کبله چې دولت د پټروليم اداري ټول کارمندان بدل کړي. پدې ربع کې د ترکيه د پټروليم کارپوريشن (TPAO) د SGDP کنسټلو قراردادي، د درې ازمېينتي ځاګانو کنسټل مکمل کړل، که څه هم کار شاوخوا دوه ځله ترسره شوي ترکوم وخت پورې چې قرارداد تصريح شوی او د څار ننګونو لامل کيږي. د کنسټلو اصلاح شوي مهالويش غوښتنه کړې چې ټول درې واړه ځاګانې بايد د 2015 د سپټمبر تر 25 پورې مکمل شي. په تېره ربع کې، TPAO د 2015 تر دسمبر 31 پورې د غزولو غوښتنه وکړه او پدې ربع کې بيا تر د 2016 جنوري اوږدو پورې. MOMP دواړه اصلاحات رد کړي او وې ويل چې د اکتوبر 10 وروسته ټول کار د محکوميتونو سره مخ دی.[660]

## کرنه

کرنه د افغان نفوس لپاره د دندو او معيشت اصلي سرچينې په توګه دوام لري، چې د GDP تر شاوخوا 25% جوړوي، د کاري ځواک له 50% څخه ډير يې په دنده مصرف کړی، او 75% هغه افغانانو باندي اغيزه لري څوک چې خپل معيشت لپاره کرنيز فعاليتونو پورې تړلي دي.[661] USAID باور لري چې کرنه کولی شي د افغانانو په مشرۍ اقتصادي وده وهڅوي او پياوړې کړي. USAID پروژو موخه د

### د سيګار ځانګړې پروژه

پدې ربع کې د سيګار د ځانګړې پروژو دفتر د TFBSO د لاندې ګاز کارولو پروژې په خپله بياکتنه خپره کړه. کاري ځواک د افغانستان په شبرغان ښار کې د متراکم طبيعي ګاز (CNG) آټو موبايل ډکولو سټيشن جوړولو لپاره نږدې 43 ميليون ډالر مصرف کړل. که څه هم TFBSO د CNG ډکولو سټيشن جوړولو کې خپله سمدستي موخه ترلاسه کړه، په ښکاره دغه نهاد د متحده ايالاتو ماليه ورکونکو خورا ډير مصرف باندې دغه کار وکړ. علاوه لدې، داسې هيڅ نبښې شتون نلري چې TFBSO د سټيشن پراخه موخو ترلاسه کولو شونتيا ملاحظه کړي وي يا د جوړولو کار د پيل کولو دمخه د پروژې برياليتوب لپاره د پام وړ احتمالي موانع يې په پام کې نيولي وي. د نورو معلوماتو لپاره، برخه 2، مخ 41 وګورئ.

جدول 3.25

**د USAID فعالې کرنيزې برنامې**

| د پروژې نوم | د پيل نېټه | د پای نېټه | ټولټال اټکل شوی لګښت (ډالر) | تر 9/30/2015 پورې مجموعي مصرفونه (ډالر) |
|---|---|---|---|---|
| د افغانستان د کرنې پراختيا پروژه II (AAEP-II) | 10/1/2014 | 9/30/2017 | $19,814,702 | $5,036,227 |
| د کرنيز اعتبار پراختيا II (ACE II) | 6/24/2015 | 6/23/2018 | 18.234.849 | 620.416 |
| د ظرفيت جوړول او د بدلون مديريت برنامه II (CBCMP-II) | 7/10/2014 | 7/9/2017 | 19.999.989 | 6.924.961 |
| په افغانستان کې د کرنيزې پراختيا غزولو ډيجيټلي ادغام (DIAAEA) | 11/30/2014 | 11/29/2015 | 391.000 | 265.525 |
| د لوږې د خطر اعلامولو سيسټم شبکه (FEWSNET) مرحله DIAAEA | 12/29/2011 | 12/28/2016 | 7.492.739 | 3.420.553 |
| د افغانستان د کرنيزو تسهيلاتوپياوړي کول (SAAF) | 3/25/2011 | 12/31/2016 | 7.824.209 | 6.436.618 |
| ميندې او د پنځه کلنو کم عمر تغذيه او د ماشوم روغتيا (MUNCH) | 12/16/2014 | 12/31/2016 | 5.000.000 | 5.000.000 |
| د اوبو لګولو او د خړوب مديريت برنامه (IWMP) | 12/21/2012 | 12/20/2017 | 129.963.114 | 14.923.248 |
| SERVIR | 9/14/2015 | 9/30/2020 | 3.600.000 | 0 |

يادونه: د USAID ځينې ليست شوي برنامې دواړه د بديل پراختيا او د کرنې پراختيا فندونه لاسته راوړي. د بديل پراختيا پروګرامونو په اړه نورو معلوماتو لپاره د دې راپور په مخ 122 کې جدول 3.14 وګورئ.

سرچينه: USAID، د سيګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 10/8/2015.

بزګرانو سره مرسته کول دي ترڅو د نوي ټيکنالوژی، مديريت کړنو او د لوړ ارزښت لرونکي مهم کښت له لارې خپل محصول او پلور ډير کړي، پداسي حال کې چې د طبيعي سرچينې مديريت ته وده ورکولو باندې هم تمرکز کوي، او د اوبو لګولو او وچولو سيستمونه رامينځته کوي يا رغوي يي.[662]

USAID راپور ورکړ چې د دې اداري د کرنيزې سوداګرۍ او تجارت فعاليتونه د کرنې سيکټور ودې هڅولو، دندو رامينځته کولو، د معيشت لوړولو او ځايي اقتصادونو پياوړي کولو لپاره کار کوي. علاوه لدې، د دوه تعقيبي پروژو لپاره پلي کول، کوم چې مخکې د متحده ايالاتو د کرنې وزارت تر واک لاندې وې — د افغانستان د کرنيزې پراختيا برنامه او د ظرفيت جوړولو او د بدلون مديريت برنامه — غوارې د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ (MAIL) وزارت ظرفيت پياوړی کړي.[663]

له 2002 راهيسي، USAID د کرنيز توليد ودې، بازارونو ته د لاسرسي ډيرولو، او د اپيومو کښت ته د بديل عايد رامينځته کولو لپاره شاوخوا 2.4 ميليارد ډالر مکلف کړي دي. د دې درې مياشتني راپور مخونه 121–127 د USAID د بديلې پراختيا برنامو په اړه دي. د USAID د کرنې ټولو فعال برنامو ليست په جدول 3.25 کې شتون لري.

## د کرنيز اعتبار پراختيا II

د کرنيز اعتبار پراختيا (ACE) II) پروژه د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت تر مشرۍ لاندې د کرهنيزې پراختيا فنډ (ADF) د شرايطو سم د تخنيکي همکارۍ/مشورتي ملاتړ يو جز دی. د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت ته د USAID-ADF بلاعوضه پروژه په ټولو سيمه ييزو اقتصادي زونونو کې د کوچنی او منځنی کچې فارمونو او کرنيز تجارت ته د لاس رسي لپاره د کرنې اړوند کريډيټ ته پراختيا ورکوي په ځانګړې ډول د توزيع کوونکو، توليدوونکو، پروسس کوونکو او صادرونکو په ځير خلکو چې د کرنې د توليداتو ارزښت لوړوي. د کرنيز اعتبار پراختيا II پروژه د نورو مالي ادارو لکه بانکونو، د فارمونو زيرمو، د اجاره کولو شرکتونو او د خوراکي موادو پروسس کوونکو په هڅولو سره د کرنيزې پراختيا بوديجې (ADF) ملاتړ کوي تر څو د کرنې اړوند مالي مرستو ته دننه شي.[665]

په دغو څلورو مياشتو کې، USAID د ACE په مرسته راپور ورکړ چې ADF په عمومي ډول شاوخوا 60 ميليونه ډالره ورانديز کړي دي: 21.8 ميليونه ډالره په شمال کې بزګرانو ته په پور، 11 ميليونه ډالره په مرکزي سيمه کې، 14.1 ميليونه ډالره په ختيځ کې، 4.1 ميليونه ډالره په سهيل کې، او 9.6 ميليونه ډالره په لوديځ کې.[666]

## د سيګار ځانګړې پروژه

پدې ربع کې سيګار بيا د تره خيل بريښنا کارځای کارولو په اړه USAID ته وليکل. د هغه معلوماتو له مخې چې USAID د کارځای په اړه د سيګار د معلوماتو غوښتنې ته په ځواب کې ورکړي و، سيګار وموندل چې د تره خيل د 335 ميليون ډالرو کارځای، په ښکاره د کابل د بريښنا يوه "حياتي برخه" تر ډيره نا کاره پاتې ده. په حقيقت کې، د سيګار څيړنو په ګوته کړل چې د وخت په تيريدو سره د بريښنا توليد کم شوی. د خپل بشپړ ظرفيت څخه ټيټ فعاليت سربيره، نوموړی کارځای د کابل بريښنا خورا کوچنی برخه جوړوي. د نورو معلوماتو لپاره، برخه 2، مخ 39 وګورئ.

# حياتي خدمات او پراختيا

له 2002 کال راهيسي متحده آيالتونو په افغانستان کې د بريښنا زياتولو، د سړکونو او پلونو جوړولو او د روغتيا او ښوونې او روزنې د پراختيا په برخه کې د بيارغونې مالي مرستې کړې دي. دغه برخه د متحده آيالتونو د فعاليتونو هغه کليدي پراختياوې په ګوته کوي چې د حياتي خدمتونو لکه بريښنا، ټرانسپورټ، روغتيا او ښوونې او روزنې په رسولو کې يې د دولت وړتيا لوړه کړې ده.

## د بريښنا رسول

افغانستان په نړۍ کې د بريښنا رسونې په تر ټولو ټيټه درجه کې قرار لري چې يوازې 25% افغانان يا يوازې هغه خلک چې په ښارونو کې ژوند کوي د بريښنا شبکې پورې نښليدلي دي.[667] افغانستان له خپلې ټولې برښنا څخه شاوخوا 81% بريښنا له نورو هيوادونو څخه واردوي.[668] د نړيوال بانک په وينا داسي

تمه کیږي چې ډېر زر به د برېښنا د واردولو کچه نوره هم لوړه شي او دا هم ویل شوي چې برېښنا ته محدود لاس رسی د افغانستان لپاره د شخصي سکتور د پراختیا په برخه کې یو تر ټولو ستر خنډ دی.[669] افغانستان به د انرژۍ دغې غوښتنې پوره کولو لپاره سیمه ییزې همکارۍ ته اړتیا ولري.[670]

## د سیمه ییزې برېښنا نوښتونه

د اګست په 6مه د ترکمنستان، افغانستان، پاکستان او هندوستان (تاپي) نل لیکې مشرتابه پلاوي لخوا د ترکمن ګاز دولتي شرکت د کنسورسیوم مشري لپاره وګمارل شو.[671] دغه د 9 میلیاردو ډالرو په ارزښت 1,127 میله د طبیعي ګازو نل لیکه به هر کال له ترکمنستان څخه نورو هیوادونو ته تر 33 میلیارده مکعب متره طبیعي ګاز لیږدوي.[672] MOMP د افغانستان ساختماني شرکتونو په تاپي پروژه کې ګډون کولو ته وهڅول چې له مهال ویش سره به یې کار د 2015 کال په ډسمبر کې پیل شي.[673]

افغانستان به د افغانستان، تاجکستان، کرغزستان او پاکستان، د مرکزي او سهیلي آسیا ته د برېښنا د لیږد او سوداګرۍ پروژې (CASA-1000) له لارې له تاجکستان او کرغزستان څخه د 300 میګاواټو په اندازه د تولیدي ظرفیت برېښنا ترلاسه کړي او پاکستان ته د برېښنا رسیدو په بدل کې به د لیږد د فیس عاید ترلاسه کړي. له مهال ویش سره سم ساختماني چارې د 2015 کال په سپتمبر کې پیل او په 2018 کال کې پای ته رسیږي.[674] د 953 میلیونه ډالرو په ارزښت ددغې پروژې مالي لګښت د نړیوال بانک، د اسلامي پراختیا بانک او د اروپا د پانګوني بانک لخوا ورکول کیږي چې د CASA-1000 منشي ته لومړنۍ تخنیکي او مالي لګښت د USAID لخوا په غاړه اخیستل شوی دی.[675]

د انرژۍ بل سیمه ییز نوښت چې افغانستان پکې شریک دی د ترکمنستان، ازبکستان، تاجکستان، افغانستان او پاکستان (TUTAP) د لیږد لیکه ده چې پدې کار سره به د افغانستان له لارې له ترکمنستان څخه پاکستان ته برېښنا رسول کیږي. د TUTAP مالي لګښت د ADB او د ADB لخوا د افغانستان د زیربنایي بنسټ بودیجې لخوا ورکول کیږي چې USAID هم ورسره همکار دی. له مهال ویش سره سم به دغه کار په 2020 کال کې بشپړ شي.[676]

## د متحده ایالاتو د برېښنا سیکتور مرسته

له 2002 کال راهیسې، USAID د جنریټرونو، سب سټیشنونو او د لیږد مزو باندې له 2.2 میلیارده ډالرو څخه ډېر لګښت کړی دی او له دغه سکتور سره یې تخنیکي مرسته کړې ده.[677] USAID پدې باور دی چې اقتصادي پراختیا او د کاري امکاناتو لوړول د افغانستان برښنایي زیربنا په ساتلو او ودې پورې اړه لري. نوموړې اداره د افغانستان د برېښنا ملي اداري د افغانستان برښنا شرکت (DABS) سره مرسته کوي تر څو د پایدارۍ، مدیریت او تجارتي دوام په ودې سره د برښنا رسول او د عایدو ترلاسه کول زیات کړي.[678] په خپل وار سره، د امریکا دفاع وزارت د قوماندان بیړني غبرګون پروګرام له لارې د برېښنا په پروژو شاوخوا 292 میلیونه ډالره او د افغانستان زیربنایي بودیجې (AIF) له لارې تقریباً 1.1 میلیارد ډالر برابر کړي چې په ګډه د د امریکا دفاع وزارت او بهرنیو چارو وزارت لخوا اداره کیږي.[679]

د افغانستان برېښنا د شمال ختیځ برېښنا سیستم (NEPS) او د سهیل ختیځ برېښنا سیستم دی (SEPS) په نوم دوه اساسي سیستمونه لري. USAID په دواړو سیستمونو کې د برېښنا رسوني نښلولو او لوړولو لپاره درې پروژې په لاره اچولې دي: (1) د برېښنا د لیږد پراختیا او اتصال (PTEC)

**NEPS:** کابل او د کابل شمال کې میشته ټولنو ته د برېښنا ورکولو لپاره د مرکزي آسیا جمهوریتونو څخه برېښنا واردوي.

**SEPS:** د هلمند او کندهار سیمو کې د برېښنا چمتو کولو لپاره د کجکي بند او د کندهار ښار ډیزل جنریټرو څخه برېښنا اخلي.

سرچینه: DOD، *په افغانستان کې د امنیت او ثبات په لور د پرمختګ په اړه راپور*، 11/2013، مخ 107.

جدول 3.26

**د USAID د بریښنا زیربنا فعال پروژې**

| د پروژې نوم | د پیل نیټه | د پای نیټه | ټولټال اټکل شوی لګښت (ډالر) | تر 9/30/2015 پورې مجموعي مصرفونه (ډالر) |
|---|---|---|---|---|
| د کندهار هلمند بریښنا پروژه | 12/9/2010 | 11/30/2015 | $229,222,002 | $227,069,778 |
| د بریښنا د انتقال پراخول او اتصال | 1/1/2013 | 12/31/2018 | 670.000.000 | 52.730.385 |
| د افغانستان زیربنا وجهي صندوق سره مرستې | 3/7/2013 | 3/6/2018 | 113.670.184 | 105.000.000 |
| د کجکي بند واحد 2 | 4/22/2013 | 12/31/2015 | 75.000.000 | 33.604.487 |
| د انرژۍ پراختیا برنامو په اړه د افغانانو د پوهې ډیرولو لپاره د عامه پوهاوي کمپاین | 2/1/2014 | 1/31/2016 | 1.789.224 | 1.439.504 |
| د کتو اختصاصي تبادله | 9/30/2007 | 9/30/2017 | 698.555 | 698.555 |
| د افغان انجینرۍ ملاتړ برنامه | 11/9/2009 | 11/8/2016 | 97.000.000 | 68.213.502 |
| د PEER مرستې | 7/25/2011 | 7/24/2016 | 5.440.647 | 5.440.647 |

یادونه: د شبرغان د ګاز تولید فعالیت (SGGA)، د شبرغان د ګاز پراختیا پروژه (SGDP)، او د افغانستان ټیکاو لپاره د کان کیندني پانګووني او پراختیا (MIDAS) برنامې، کومې چې د USAID د تمویل لیکي راپور کې د بریښنا یا انرژي سیکټور لاندې کټګوري شوي، هغه د دې راپور په فرعي برخې پاڼه 175 کې د استخراجي سیکټور برنامو کې لیست شوي دي.

سرچینه: USAID، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 10/8/2015.

پروژه د لیږد مزي جوړول دي چې کابل له کندهار سره نښلوي او د انرژۍ زیربنا پانګونو ساتلو لپاره د DABS ظرفیت لوړوي؛ (2) د شبرغان د ګازو د پراختیا پروژه (SGDP) په شبرغان کې د ګازو سرچینې پراخولو او د بریښنا کوټونو جوړولو لپاره د شخصي پانګونې راجلبول؛ او (3) د کندهار هلمند بریښنا پروژه (KHPP)، چې په کجکي بند کې د دریم توربین او له کندهار سره د کجکي د لیږد سیستم نښلولو پراخول پکې شامل دي.[680] د USAID د برښنايي زیربنا د فعالو پروژو لیست په 3.26 جدول کې لیدلی شی.

## د کندهار هلمند بریښنا پروژه

د کندهار هلمند بریښنا پروژې موخه په کندهار او هلمند ولایتونو کې د بریښنا رسونې او دوام لوړول دي. ددغې پروژې د USAID ټول عناصر پرته د تخنیکي ملاتړ خدمتونو فرعي عنصر څخه پای ته رسیدلي چې له مهالویش سره سم به د نومبر په 30 مه پای ته ورسیږي. بلیک او ویچ به د افغانستان بریښنا شرکت سره پدې برخه کې تخنیکي مرسته برابروي تر څو په کجکي بند کې د دریم توربین په نصبولو سره چې په بریښنا کوټ کې دوهم واحد بلل کیږي اوږدمهاله دوامداره بریښنا زیاته کړي.

د امریکا دفاع وزارت وویل چې د هلمند ولایت په شمال کې روان جنګ د تنګي او سنګین تر منځ د کجکي بند او SEPS ساختماني چارو سیمو کې قراردادیان له ننګونو سره مخ کړي دي. په دغه دریو میاشتو کې د یاغیانو فعالیتونه به د 611 سرک د بندیدو لامل شي چې دغه له سنګین څخه کجکي ته ځي چې پدې توګه د ساختماني موادو په رسولو کې ځنډ راځي او ممکن د پروژې په بشپړیدو اغیزه کوي.[683] د توربین د نصب د بشپړیدو نیټه د ۲۰۱۶ کال جولایي اټکل شوې چې 30% کار یې شوی دی.[684]

په وروستیو دریو میاشتو کې، بلیک او ویچ په دواړو پروژو او د ډیزاین په مهال ویشونو کې د ځنډ راپور ورکړ.[685] که څه هم، پدې وروستیو کې USAID وویل چې ساختماني ډیزاین بشپړ شوی او د



**سهم داران د** DABS عامه پوهاوي کمپاين په اړه کندهار کې په يوه **ناسته** کې ګډون کوي. (د USAID عکس)

GFA مشورتي شرکت او د افغانستان برښنا شرکت د ساختماني چارو مشورتي مديريت لخوا تاييد شوی دی؛ ميخانيکي ډيزاين GFA ته د کتلو لپاره ورکړل شوی؛ او الکترونيکي ډيزاين به له مهال ويش سره سم د 2015 کال په نومبر کې GFA ته د کتلو لپاره وسپارل شي. USAID وويل چې په ډيزاين کې ځنډ د پروژې د بشپړيدو په نيټې کومه اغيزه نه ده کړې.[686] په دغه درې مياشتني راپور کې سيګار ته د قرارداديانو لخوا هيڅ تازه معلومات نه دي ورکړل شوي.

## د کندهار پلين حل

د کندهار د پل حل لار (KBS) چې په کندهار ښار کې د ډيزلي برښنا فعاليت او دوام لپاره د تيلو او تخنيکي مرسته وړاندې کوله خو دا په کجکي بند کې د توربين د نصب کار روان دی دغه تړون د 2015 کال د سپتمبر په 30 مه پای ته ورسيد.[687] د امريکا دفاع وزارت د AIF له لارې له 2011 مالي کار راهيسې په دغه برخه کې شاوخوا 141 ميليونه ډالر لګولي دي.[688]

متحده آيالتونه د ډيزلي جنريټرونو اضافي مالي ملاتړ ته کوم پلان نه لري. د بهرنيو چارو وزارت او د امريکا دفاع وزارت وايي چې د افغانستان برښنا شرکت له دوی څخه د اضافي مرستې کومه غوښتنه نه ده کړې، او په ځان باور لري چې کولی شي هغه جنريټرونه فعال او لګښت يې ورکړي چې د 2013 کال له دسمبر راهيسې يې په واک کې دي.[689] د امريکا دفاع وزارت زياته کړه چې د افغانستان بريښنا شرکت کوم چې پلان لري په 2016 مالي کال کې جنريټرونو ته د تيلو برابرولو لپاره 4 ميليونه ډالره ځانګړي کړي کولی شي دغه لګښت په غاړه واخلي يا که چيرې اړتيا وي په پيرودونکو بيې لوړې کړي.[690] که څه هم، USAID سيګار ته وويل، کله چې د افغانستان برښنا شرکت تير کال د د امريکا دفاع وزارت لخوا مرستو پای ته رسيدو وروسته د بيو لوړولو موضوع مطرح کړه، نوموړی شرکت د کندهار والي او خلکو لخوا د لوړولو بيو نه منلو له نيوکو سره مخ شو.[691]

د بهرنيو چارو وزارت وايی چې د مرستې پر مهال د بريښنا د تيرو بيو په پرتله به په کندهار کې په بيو کې ځانګړی لوړوالی رامنځته شي او زياته يې کړه چې د افغانستان بريښنا شرکت په پام کې

لري چې استعمال ته په کټو سره په بيو کې ښه لوړوالى رامنځته کړي. USAID به د افغانستان بريښنا شرکت ته د عايدو لوړولو او د لګښت بياموندنې ستراتيژيو په برخه کې روزنې ته دوام ورکړي خو د بهرنيو چارو وزارت وايي چې افغان دولت بالاخره د کندهار د بريښنا رسولو مسؤل دى.[692]

## د بريښنا انتقال پراخولو او اتصال برنامه

د متحده آيالتونو په مالي ملاتړ د PTEC پروګرام، له SEPS سره د NEPS نښلولو لپاره د کابل او کندهار تر منځ 320 ميله د انتقال مزي مالي ملاتړ په شمول، د افغانستان د بريښنا توليد، انتقال او توزيع سيستمونو پياوړي کولو او پراخولو لپاره طرحه شوی وو.[693] د PTEC لخوا د افغانستان برښنا شرکت د سوداګرۍ او ظرفيت جوړوني عناصر موخه لري چې کابل، مزار شريف، هرات او جلال آباد کې د بريښنا د مديريت سافټ ويرونو ځخه په ګټې اخيستني سره عايد لوړ او د روزني او ملاتړ له لارې تخنيکي او سوداګريز لګښتونه کم کړي.[694]

د NEPS او SEPS نښلوونکي لومړی برخي يعني د ارغندي او غزني تر منځ د انتقال د مزي او سب سټيشنونو ساختماني چارې پيل شوي، کوم چې د USAID لخوا د بريښنا سکتور پراختيا لپاره حياتي ګڼل کيږي. USAID وايي چې تجهيزات د ګمرکاتو له امله په ځنډ راورسيدل او ساختماني چارې رواني دي خو بيا هم کار مهال ويش ته په کتو سر يوه مياشت ځنډيږي. تراوسه پورې د PTEC قراردادیانو ته ددغه کار لپاره 52.7 ميليونه ډالره ورکړل شوي دي.[695]

د دوهمي برخي په ملاتړ کې چې له غزني ځخه تر کندهار پورې ده، د AIF د 2013 مالي کال له بوديجې ځخه 179.5 ميليونه ډالره بيا پلان شوي او هغې وروسته USAID ته ورکړل شول کله چې د امريکا دفاع وزارت د کندهار ولايت په دهلې بند کې ساختماني چارې فسخه کړی.[696] د AIF د 2014 مالي کال نور 55 ميليون ډالره هم د ليږد په حال کې دي. ددې سربېره، د آسيا پراختيايي بانک د نورو 300 ميليون ډالرو ژمنه کړې چې د افغانستان د زيربنا بنسټ (AITF) ځخه ورکول کيږی او PTEC ته ددې لپاره ورکړل شوي چې ددغې برخي ساختماني چارې لومړيتوب لري. دغه پيسې د مرستې په توګه د افغانستان برښنا شرکت ته په مستقيمه توګه د هغو دوو پروپوزلونو د وړانديز لپاره ورکول کيږي چې ددغې برخي د انتقال مزی او پنځه سب سټيشنونه پرې جوړ کړي. د سب سټيشنونو او د ليږد مزو مزايدې د افغانستان بريښنا شرکت ته د ارزوني لپاره سپارل شوي دي.[697]

د سپتمبر په8 مه، د افغانستان برښنا شرکت د USAID په مالي ملاتړ د سالنګ تونل سب سټيشن او اړوندې زيربنا ډيزاين او ودانولو لپاره د پروپوزلونو وړانديز خپور کړی دی چې د NEPS پراختيا فرعي عنصر ګڼل کيږي. د نرخ ورکولو آخري نيټه د نومبر 8مه ده او د پروژې بشپړيدو لپاره د 2017 کال اکتوبر په پام کې نيول شوی دی.[698]

تر څو چې د NEPS-SEPS د انتقال مزی بشپړيږي، د کندهار د بريښنا د توليد ظرفيت او تقاضا تر منځ د واټن راکمولو په برخه کې د مرستي لپاره PTEC په بديل باندې لګښت کوي چې پدې توګه به د بريښنا خپلواک توليدونکي د لمر بريښنا کوټونو ځخه د افغانستان په بريښنا شرکت باندې بريښنا پلوري. تمه کيږي چې دغه بريښنا کوټ به د 2016 کال تر پای پورې فعال شي او وبه کولی شي چې له نصب سره سم د 10 ميګاواټو بريښنا توليدولو ظرفيت ولري چې په پرتله يې ډيزلي جنريټرونو د بريجينګ سلوشن په مالي ملاتړ په اوسط ډول له 8 ځخه تر 13 ميګاواټو پورې بريښنا توليدوي. په وروستي راپور کې USAID ويلي چې د افغانستان بريښنا شرکت د برښنا د پيرودني ټرون او د تعرفې د بيې لوړول منلي دي او په ډانګو کې د 11.2 ميله انتقال مزي رغول به شمسي بريښنا کوټ د توزيع له سب سټيشن سره ونښلوي. د ماليې وزارت د افغانستان بريښنا شرکت ته ددغه کار لپاره 60 جريبه ځمکه وسپارله.[700]

جدول 3.27

**د 2015 سپتمبر تر 23 پورې د افغانستان د زیربنا صندوق د برېښنا پروژې** (میلیونونه ډالر)

| | د AIF پروژه | شرح | اعلام شوی مقدار | مکلف شوي | مصرف شوي | وضعیت |
|---|---|---|---|---|---|---|
| د AIF مالي کال | د کندهار د برېښنا وصلولو حل | په کندهار ښار کې د ډیزل جنریټرو لپاره د سونګ توکو او O&M چمتو کول | $40.5 | $39.1 | $39.1 | تکمیل |
| | SEPS – د کجکي ډیم لښکر ګاه | د انتقال لینونو ترمیم، نصب او د برېښنا فرعي سټیشنونو جوړول | 130,0 | 67,0 | 51,8 | د امنیت لګښت ډیریدو له امله پای ته رسیدلی |
| | د NEPS – SEPS نښلونکی، له ارغندي څخه غزني ته | د انتقال لین او فرعي سټیشن ډیزاین، جوړول (د NEPS-SEPS نښلولو لومړی برخه) USAID: PTEC | 101,0 | 101,0 | 20,1 | د جوړیدو په حال کې |
| | NEPS – له ارغندي څخه پل علم ته | د انتقال لین او د برېښنا فرعي سټیشنونو ډیزاین، جوړول | 93,7 | 51,8 | 12,2 | د ډیزاین په حال کې |
| د AIF مالي کال 2012 | د کندهار د برېښنا وصلولو حل | په کندهار ښار کې د ډیزل جنریټرو لپاره د سونګ توکو او O&M چمتو کول | 67,0 | 64,7 | 64,7 | تکمیل |
| | SEPS – میوند څخه دورایي جنکشن ته - فاز 2 | د انتقال لین ډیزاین او جوړول؛ د فرعي سټیشنونو بیاجوړول او رغول | 40,0 | 29,5 | 3,7 | د ډیزاین په حال کې |
| | NEPS – له پلخمري څخه ګردیز ته – فاز 2 | د انتقال لین او د برېښنا فرعي سټیشن ډیزاین، جوړول | 77,5 | 70,2 | 37,3 | د انتقال لین تر جوړیدو لاندې دی؛ فرعي سټیشن د ډیزاین په حال کې دی |
| | NEPS – له چاریکار څخه ګلبهار او نجراب ته – فاز 3 | د انتقال لینونو او د برېښنا فرعي سټیشن ډیزاین او جوړول | 42,5 | 38,8 | 14,1 | د انتقال لین تر جوړیدو لاندې دی؛ فرعي سټیشن د ډیزاین په حال کې دی |
| د AIF مالي کال 2013 | د کندهار برېښنا د وصلولو حل | په کندهار ښار کې د ډیزل جنریټرو لپاره د سونګ توکو او O&M چمتو کول | 37,0 | 34,0 | 34,0 | تکمیل |
| | NEPS – له چاریکار څخه ګلبهار او نجراب ته – فاز 3 | د انتقال لینونو او د برېښنا فرعي سټیشن ډیزاین او جوړول | 33,0 | 25,3 | 13,4 | د انتقال لین تر جوړیدو لاندې دی؛ فرعي سټیشن د ډیزاین په حال کې دی |
| | د SEPS تکمیل – فاز 1 | په تنګي، سنګین شمال او سهیل کې د فرعي سټیشنونو ډیزاین، جوړول او بیارغول | 15,0 | 64,6 | 36,2 | د جوړیدو په حال کې؛ د امنیت ننګوني |
| | | د سنګین شمال څخه لښکر ګاه ته د انتقال لینونو ډیزاین، جوړول | 60,0 | | | د ډیزاین په حال کې |
| | د NEPS – SEPS نښلونکی، له غزني څخه کندهار ته | د انتقال لینونو او د فرعي سټیشنونو ډیزاین او جوړول د NEPS – SEPS د نښلونکي نهایی فاز. USAID: PTEC | 179,5 | 179,5 | 0,0 | داوطلبی ترلاسه شوي؛ د DABS لخوا د ارزوني لاندې |
| د AIF مالي کال 2014 | د کندهار د برېښنا وصلولو حل | په کندهار ښار کې د ډیزل جنریټرو لپاره د سونګ توکو او O&M چمتو کول | 20,0 | 3,9 | 2,9 | د پلین حل پای ته ورسید؛ 16 میلیون ډالر بیا پروګرام شول |
| | د SEPS تکمیل – فاز 2 | د انتقال لین ډیزاین، جوړول، او د تجهیزاتو نصب او د فرعي سټیشنونو فعالول | 55,0 | 0,0 | 0,0 | USAID ته لیږدول |
| | NEPS – له ګردیز څخه خوست ته – فاز 4 | ډیزاین، د انتقال لین او فرعي سټیشن جوړول. NEPS ته د DOD اخري مرسته. | 130,0 | 124,0 | 0,4 | ورکړل شوي قراردادونه |

یادونه: د AIF ټولي پروژې د افغانستان د اوبو او انرژۍ وزارت، د افغانستان برېښنا شرکت (DABS)، د افغانستان ملي قوې رفاه لخوا ساتنه شي. اعلام شوی مقدار د پروژې اټکل شوی لګښت منعکس کوي. مکلفیتونه او مصرفونه تر 8/31/2015 پورې دي. نور ټول معلومات تر 9/23/2015 پورې دي.

سرچینه: DOD، د سیګار د معلوماتو غوښتنو ته ځوابونه، 10/7/2014 او 9/28/2015؛ OEGI، USAID، د سیګار د معلوماتو غوښتني ته ځواب، 9/23/2015؛ د متحده ایالاتو سفارت کابل/USFOR-A، د امریکا متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزیر، د امریکا دفاع وزیر، د مالي کال 2014 لپاره د افغانستان زیربنا وجهي صندوق بیا پروګرام کولو تفاهم لیک، 5/8/2015.

## د افغانستان د زيربنا فنډ پروګرامونه

د افغانستان د زيربنا فنډ پروژې په افغانستان کې د مخالفينو پر وړاندې مبارزې او د اقتصادي پراختيا موخو ملاتړ لپاره پيل شوې. د امريکا دفاع وزارت اوسنی ماموريت د افغانستان امنيتي ځواکونو او وزارتونو ته د مشورې او مرستې برابرول او همدارنګه د تروريزم پر وړاندې د عملياتونو ترسره کول دي خو د افغانستان د زيربنا فنډ پروژې اوس هم لومړيتوب لري او داسې انګيرل کيږي چې له ځلورو څخه تر پنځو ميليونو پورې افغانان ترې ګټه پورته کوي.[701] په دغه دوره کې د امريکا دفاع وزارت د برېښنا پروژې پلي کولو ته پاملرنه وکړه تر څو د افغانستان د زيربنا فنډ د 2011 او 2014 مالي کال له پيسو څخه په ګټې اخيستنې سره د NEPS او SEPS برخې بشپړې کړي، لکه څنګه چې په 3.27 جدول کې ليدلی شی (د افغانستان زيربنا فنډ 2015 مالي کال د هيڅ بوديجې وړانديز نه دی شوی او نه هم بوديجه ځانګړې شوې ده).[702]

تر څو چې دغه پروژې سر ته رسيږي او دولت ته وسپارل شي د اوبو او انرژی وزارت او د افغانستان برېښنا شرکت به د فعاليت او ځارنې لګښت په شمول ددغو پروژو د ترسره کولو مسؤليت په غاړه ولري. د امريکا دفاع وزارت کانګرس ته ويلي چې له زياتو شوو پېرودونکو څخه د زياتو عوايدو ترلاسه کول او د پيسو راټولولو ظرفيت لوړيدل به د افغانستان زيربنا فنډ په اوږدمهاله ساتنه کې د افغانستان برېښنا شرکت سره مرسته وکړي.[703] د افغانستان برېښنا شرکت پدې وروستيو کې خپل ډېر فعاليتي لګښتونه په غاړه اخيستي[704] خو د ستري اساسي زيربنا لګښتونه تراوسه د ډونرانو لخوا ورکول کيږي. له سيګار سره د افغانستان برېښنا شرکت په اړه پوښتني پيدا شوي او وايي چې افغانستان د فعاليت او ځارنې لګښت لپاره د اړينو سرچينو له کمښت سره مخ دی.[705]

## ټرانسپورټيشن

د افغانستان د ټرانسپورټ زيربنا نه شتون د داخلي تجارت، بهرني تجارت او اقتصادي ودې مخه نيولې ده. نړيوال بانک وايي چې د افغانستان د ټرانسپورټ په زيربنا کې نيمګړتياوې د خدماتو او کرنې په سکتورونو اغيزه کړې ده کوم چې په حقيقت کې د اقتصاد پر مخ بيولو لپاره مخکښ ګڼل کيږي.[706] همدارنګه يې د معدن د صنعت مخه هم نيولې ده، چې ددغه صنعت راتلونکي عوايد به د افغان دولت او د نړيوالو ډونرانو ټولنې په نظر په نړيوالو مرستو کې ستر کمښت رامنځته کړي.[707] پدغه دوره کې متحده آيالتونو هڅه وکړه چې د سړکونو جوړولو، فعاليت او ساتنې په برخه کې د ټول ګټو وزارت ظرفيت لوړ کړي.[708]

## سړکونه

متحده آيالتونو د سړکونو رغولو او د فعاليت او ځارنې لپاره په مجموعي ډول شاوخوا 2.4 ميلياره ډالر لګولي دي او د فعاليت او ځارنې اضافي فعاليتونو لپاره به سرکال تر 5 ميليونو پورې نور ډالر هم ولګوي.[709] نړيوال بانک وايي چې تراوسه پورې د افغانستان 85% سړکونه له خراب حالت سره مخ دي او اکثره سړکونه د موټرو لخوا د کارولو وړ نه دي.[710] د USAID په وينا افغانستان اوس مهال د خپلو سړکونو او لويو لارو ساتنې لپاره کافي بوديجه او تخنيکي ظرفيت نه لري. په تخميني ډول افغانستان هر کال د فعاليت او ځارنې لپاره 17 ميليونه ډالر لګوي او د پروژو لپاره په کال کې له 100 ميليونه ډالره کسر سره مخ دی.[711] د USAID د سړکونو د رغولو فعالي پروژې او د فعاليت او ځارنې پروګرامونه د ورپسې پاڼې په 3.28 جدول کې ليست شوي دي. تر ټولو ستر کار د انجنيرۍ، د کيفيت ډاډ او لوژستيکي ملاتړ (EQUALS) دی چې د مهندسۍ، انجنيرۍ او ساختماني کيفيت ډاډ خدمتونه او د زيربنا پراختيايي پروژو لپاره د مديريت ملاتړ وړاندې کوي.[712]

### د سيګار تفتيش

د سيګار يو روان تفتيش د افغانستان د زيربنا وجهي صندوق د FY 2011 پروژو تکميل کې د بهرنيو چارو وزارت پرمختګ باندې تمرکز کوي، د زيربنا نورو لومړيتوبونو باندې اغيزه او د ترهګرۍ سره د مبارزې موخې او د ټيکاو ننګووني.

جدول 3.28

**د USAID د سرک جوړونې او د حفظ او مراقبت فعال پروګرامونه**

| د پروژې نوم | د پیل نیټه | د پای نیټه | ټولټال اټکل شوی لګښت (ډالر) | تر 9/30/2015 پورې مجموعي مصرفونه (ډالر) |
|---|---|---|---|---|
| د کار چارو وزارت ته تخنیکي ملاتړ | 8/3/2014 | 8/2/2017 | $25,486,058 | $6,890,587 |
| له ګردیز څخه خوست ته سرک، مرحله IV | 6/26/2014 | 12/31/2015 | 32.960.265 | 25.584.057 |
| د سالنګ تونل ساتنه (حفظ او مراقبت) | 4/1/2013 | 3/30/2016 | 3.533.350 | 1.697.401 |
| د انجینری، کیفیت ډاډ او لوژستیک ملاتړ (EQUALS) | 4/18/2011 | 4/17/2016 | 126.307.645 | 109.191.325 |
| د USAID د روغتیا او تعلیم د تسهیلاتو جوړولو پروګرام لپاره ملاتړ | 1/19/2008 | 12/31/2015 | 57.160.749 | 57.160.748 |
| د سرک عاجل O&M | 11/30/2014 | 11/30/2015 | 5.000.000 | 49.102 |

سرچینه: USAID، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 10/8/2015؛ USAID، د سیګار ارزونې ته ځواب، 10/12/2015.



**کارګران د یوه** پل لپاره **ستنې** جوړوي چې د ګردیز – خوست سرک بیارغولو پروژې برخه ده. (د USAID عکس)

## د ګردیز خوست سړک بیارغوني مرحله IV

د 233 میلیونه ډالرو په ارزښت د ځلورو مرحلو 63 میله د پخې لویې لارې پروژې سره د خوست او پکتیا ولایتونو د پاکستان او کابل له ستړې تجارتي لارې او حلقوي سرک ته لاس رسی ومومند چې له کابل، کندهار او هرات سره نښلیدلی دی.[713] پدغه پروژه کې د بهیدني او کیناستو او پیاده روونو جوړولو لپاره پلونو، د تیریدو لارو، د کانالونو ودانول، ژورو، "د سیند روزنه" ودانول شامل دي.[714]

د 33 میلیونه ډالره مرحله IV اوس مهال د USAID په ملاتړ د سرک جوړولو یوازینی پروژه ده. تیرې درې مرحلې د 55 میله سرک په پخولو سره بشپړې شوي دي. د پاتې سړک او پلونو رغول به له مهال ویش سره سم د 2015 کال په دسمبر کې بشپړ شي. د 2015 کال د سپتمبر تر 24م پورې، 25.5 میلیونه ډالر لګول شوي دي.[715]

جدول 3.29

| د USAID د اقتصادي ودې فعال پروګرامونه | | | | |
|---|---|---|---|---|
| د پروژې نوم | د پيل نيټه | د پای نيټه | ټولټال اټکل شوی لګښت (ډالر) | تر 9/30/2015 پورې مجموعي مصرفونه (ډالر) |
| د افغانستان پراختيا کې د پانګووني لپاره مالي لاسرسی (FAIDA) | 2/7/2011 | 8/5/2016 | $108,258,374 | $95,956,126 |
| د افغانستان د سوداګرۍ او عوايدو پروژه (ATAR) | 11/7/2013 | 11/6/2017 | 77.754.267 | 32.826.032 |
| د افغانستان عامه مالي مديريت (APFM) | 7/27/2015 | 7/26/2018 | 22.130.033 | 0 |
| په اقتصاد کې د افغان ميرمنو مشري (AWLE) | 7/1/2015 | 6/30/2020 | 71.571.543 | 80.819 |
| د مراد خاني بيارغول | 11/2/2008 | 11/1/2015 | 10.637.111 | 10.084.791 |
| د تورکواس ماونټين سميتسونين نندارتون | 3/9/2015 | 12/31/2016 | 535.055 | 26.205 |
| د IFC PIO مرسته – د سوداګرۍ چاپيريال د اصلاح ملاتړ | 10/15/2010 | 10/30/2017 | 4.030.000 | 4.030.000 |
| د AIB د تضمين تړون | 9/27/2012 | 9/27/2020 | 2.000.000 | 190.400 |
| DCA د FINCA OXUS سره او لومړی مايکروفاينينس بانکونه | 9/25/2014 | 9/24/2020 | 1.953.875 | 0 |
| د سوداګرۍ قانون د پراختيا پروګرام | 3/1/2014 | 9/30/2019 | 10.000.000 | 1.104.131 |
| د افغانستان د کاري ځواک پراختيا پروګرام (AWDP) بودجه کې | 9/18/2013 | 4/3/2016 | 30.000.000 | 1.321.456 |
| د افغانستان د کاري ځواک پراختيا پروګرام (AWDP) له بودجې پرته | 4/5/2012 | 4/4/2016 | 32.647.898 | 22.992.075 |
| د ای – حکومتولۍ سرچينې مرکز II | 8/28/2013 | 6/1/2016 | 3.900.000 | 30.000 |
| د موبايلايزينګ سپمونې مطالعه | N/A | N/A | 50.022 | 50.022 |
| د تشبثاتو د پراختيا له لارې د افغانستان په جوړونه کې مرسته (ABADE) | 10/16/2012 | 10/16/2016 | 104.997.656 | 55.722.201 |
| د GIROA د عايد راټولولو د ظرفيت پياوړی کول | 11/30/2014 | 12/30/2018 | 4.000.000 | 4.000.000 |
| د سيمه ايزو اوبو مديريت | N/A | N/A | 3.750.000 | 0 |
| د افغانستان له سره برانډ کول | 11/2/2015 | 11/1/2018 | 4.800.000 | 0 |
| د افغانستان د پانګوونې اقليم برنامه | 3/27/2015 | 3/26/2020 | 13.300.000 | 0 |

سرچينه: USAID، د سيکار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 10/8/2015.

## اقتصادي وده

نړيوال بانک افغانستان د *تجارت کولو 2015* په کلنۍ ارزونه کې په 183مه درجه کې راوست او د کورنيو شرکتونو لپاره د تجارتي قوانينو په برخه کې 189 اقتصادي هيواد وبلل شو.[716] په SOM کې ولسمشر غني وويل چې افغانستان کې د سختو اقتصادي اصلاحاتو ته اړتيا لري تر څو رقابتي او په صادراتو ولاړ اقتصاد رامنځته شي او د ګاونډيو هيوادونو بازار ته لاس رسی ومومي.[717]

د 2015 کال د سپتمبر تر 30 م پورې، USAID په افغانستان کې د اقتصادي ودې پروګرامونو لپاره په مجموعي ډول شاوخوا 1 ميليارد ډالر لګولي دي.[718] روان پروګرامونه په 3.29 جدول کې موندلی شی.

## د افغانستان عامه مالی مديريت

د 22 ميليونه ډالرو په ارزښت د USAID د افغانستان عامه مالي مديريت (APFM) دري کلن پروګرام د 2015 کال د جولايي په 27مه په لاره واچول شو. دا د متحده آيالتونو له هغو اساسي فعاليتونو څخه يو

دی چې غوارې د کورنيو عوايدو په لوړولو کې د افغان دولت وړتيا په پياوړي کولو مرسته وکړي، تر څو وکولی شي خپل بوديجه اداره او له مالي پلوه ثابت پاتې شي. له دغه پروګرام څخه موخه د عوايدو تخمين په برخه کې د دولت د ظرفيت لوړول؛ د پيسو په ورکړې، راټولولو او د بوديجې په ليږد کې لوړوالی او د بوديجې پلان جوړول، اجراء، څارنه، راپور او همغږي ده.[719]

## د شرکتونو په پراختيا سره د افغانستان په آبادولو کې مرسته

د 105 ميليونو ډالرو په ارزښت د شرکتونو په پراختيا سره د افغانستان په ابادولو کې مرسته (ABADE) د USAID څلور کلن پروګرام موخه له کوچنيو او منځنيو شرکتونو سره مرسته، (SMEs) د کاري فرصتونو رامنځته کول، د پانګونې لوړول، او د دولتي او خصوصي سکتورونو اتحاديو (PPAs) له لارې د کورنيو توليداتو او خدمتونو د خرڅلاو لوړول دي. ABADE درې جزونه لري: د منل شوو PPAs تطبيق؛ پيژندنه، انتخاب او په تخنيکي مرستو او د سوداګريزو مشورو خدمتونو سره د اتحاديو ملاتړ؛ او د سوداګرۍ چاپيريال ښه کولو لپاره له دولت سره کار کول.[720]

د 2015 کال له اپريل څخه د جون تر 30 مې پورې، د 3.4 ميليونو ډالرو په ارزښت 23 PPAs بشپړې شوې او بندې شوې دي. له هغوی څخه د 400,000 ډالرو په ارزښت د تجهيزاتو مرسته شوې؛ او پاتې يې د SMEs لخوا لګول شوې دي. د 18 ميليونو ډالرو په ارزښت اته ويشت نوې PPAs لاسليک شوې چې له هغوی څخه 2.6 ميليونه ډالره مرسته د ABADE لخوا شوې ده. د 2015 کال د اکتوبر تر 3 مې پورې، ABADE د 193.9 ميليونه ډالره په ارزښت 183 د دولتي او خصوصي سکتورونو اتحاديې فعالې کړې دي چې په هغې کې د ABADE ونډه ABADE ميليونه ډالره وه او د شاوخوا 7 په 1 تناسب پاتې پانګونه د SMEs لخوا ترسره شوې ده.[721]

همدارنګه په دغه موده کې، ABADE د ټکنالوژۍ، تجهيزاتو، د توليد پروسس کولو او د هغو سيستمونو پيژندلو په برخه کې مرسته کړې ده چې د هغوی د پانګونې لپاره اړين دي؛ او همدارنګه يې په مالي، عملياتي، عمومي مديريت او د لوړ ارزښت نورو مهارتونو په برخه کې 475 کسانو ته روزنه ورکړې چې له هغوی څخه 66 يې ښځې وې؛ او د قالينو صنعت په وده کې يې د ځنډونو پيژندلو نوښت سر ته ورسوه؛ او له ښځينه SMEs سره يې د سوداګرۍ ثبت او د مالياتي اړتياو په برخه کې لارښوونه وکړه.[722]

## تعليم

په تيره دوره کې د پوهنې وزير بلخي ولسي جرګې ته وويل چې د افغانستان له نيمايي څخه زيات معلمان اړين مهارتونه نه لري، د تعليم عمومي نصاب نامناسب دی، زده کوونکي د لوست کتابونو ته په وخت لاس رسی نه لري، او تعليمي خدمتونه نامتوازن وي.[723] په دغه دوره کې، د فساد په ضد د څارنې او ارزونې (MEC) ګډه خپلواکه کميټه وايي چې د تدريس د کيفيت لوړولو مخه د استخدام سيستم له خوا نيول شوې چې دغه کار د فساد سخت زيان اړوي او افغان زده کوونکي تعليم د بدو او واسطو له امله سخت اغيزمن شوی دی.[724] د پوهنې وزارت د معلمانو په استخدام کې د فساد زيانونو په اړه د MEC راپور په اړه د لا زياتو معلوماتو لپاره، په دغه راپور کې 154 پاڼې ته مراجعه وکړئ.

متحده آیالتونه موخه لري چې د ظرفیت لوړولو په واسطه باکیفیته زده کړو ته د افغانانو لاس رسی زیات کړي، د درسي موادو او د معلمانو پراختیا په برخه کې مرستې برابری کړي، په لري پرتو سیمو کې ټولنیز ټولګې په لاره واچوي او کار ته د افغانانو ښه چمتو کولو لپاره د لوړو زده کړو سیستمونه زیات او پیاوړي کړي.[725] د 2015 کال د سپتمبر تر 30م پورې، USAID په افغانستان کې د تعلیمي پروګرامونو لپاره له 785 میلیونو څخه زیات ډالر لګولي دي.[726]

## د معارف وزارت معلومات

د تعلیمي مدیریت معلوماتي سیستم (EMIS) له راپور سره سم، افغانستان په عمومي ډول 15,030 تعلیمي (دولتي) ښوونځي لري چې له هغې جملې څخه 639 غیرفعال دي، او 8.6 میلیونه زده کوونکي لري.[727] د شاملو زده کوونکو دغه شمیر د حاضرو او غیرحاضرو زده کوونکو مجموعه ده.[728] ځینې داسې زده کوونکی هم شته چې تر دریو کلونو پورې غیرحاضر دي خو تراوسه د پوهنې وزارت په ډیټا کې ثبت دي ځکه ښایي دوی بیرته ښوونځي ته راستنه شي.[729]

EMIS دا نه ده موندلې چې کوم ښوونځي په کوم وخت کې خلاص یا بند دي او نه یې هم د ښوونکو او زده کوونکو حاضري تعقیب کړې ده. اوس مهال، دغه ارقام د کومې خپلواکې اداري لخوا تایید شوي نه دي.[730] MEC وایي چې خیالي ښوونکي یوه اوږدمهاله ستونزه ده او موندل شوې ده چې په ډیرو مواردو کې د زده کوونکو د حاضری پاڼې نه ډکیږي او یا هم جعلي وي.[731]

د پوهنې وزیر بلخي تایید کړې چې ځینې غیرموجود ښوونځي په نامنو سیمو کې پیسې ترلاسه کوي او د فعالو ښوونځیو په شمیر کې د EMIS معلومات دقیق نه دي. د پوهنې وزارت د معلومات د کیفیت په لوړولو کار کوي؛ نوموړي وزارت د معلوماتو د کیفیت لپاره خپله ارزونه پیل کړې او د EMIS د معلوماتو نمونې تایید لپاره یې د نظارت په موخه دریم لوری استخدام کړی دی.[732] د 2015 کال په اګست کې، په ټولو 34 ولایتونو کې له 6,000 ښوونځیو څخه د دقیقو ارقامو راټولولو لپاره ولایتي ټیمونه وګومارل شول. په سیمه کې کار د سپتمبر په 1 پیل شوی او د معلوماتو راټول له مهال ویش سره سم د سپتمبر په 20 مه بشپړ شول. د اکتوبر تر 12 مې نیټې پورې د ارزونې راپور پای ته نه وو رسیدلی.[733]

## د USAID برنامې

USAID موخه لري چې له افغانانو سره مرسته وکړي تر څو پوهنې او اړوندو تخنیکي مهارتونو ته برابر لاس رسی ولري. په دغه پروګرام کې به ښوونکو او روزونو ته د روزنې او لارښوونې، د لوست کتابونو او نورو درسي موادو له لارې د لومړنی درجې لوست او د سواد لوړو درجو ته پام وشي.[734] د افغانستان لپاره په پام کې نیولو موخو کې تعلیمي پروګرامونه د USAID په لومړیتوب کې راځي تر څو د تعلیم کیفیت لوړ، کاري ځواک پراختیا وموسي او د لوړو زده کړو کیفیت لوړ شي.[735] پروګرامونه په لاندې ډول دي:[736]

- **اساسي تعلیم، زده کړه او روزنه (BELT):** د اساسي تعلیمي پروګرام دایره رامنځته کول چې موخه یې تعلیم ته لاس رسی او کیفیت لوړول دي. BELT د لومړنی درجې لوست نوي ملي پروګرام په شمول یو شمیر فعالیتونه په پام کې نیولی دي. د دوهمې او څلورمې درجې زده کوونکو د لوست 20 میاشتنی د ملي ارزونې ترسره کولو ترون د 2015 کال د جولایې په 27 مه ترسره شو. د ارزونې پایلې د لومړنی پړاو نوښت لپاره فرصتونه برابرول او د وزارت ظرفیت ازمولی شي تر څو که چیری اړتیا وي په ملي کچه دغه نوښت پلی کړي.

### د سیګار تفتیش

د سیګار یو روان تفتیش د افغانستان ابتدایی او مینځنۍ تعلیم سیستمونو د کیفیت او لاسرسي ډیرولو لپاره د متحده ایالاتو هڅو باندې تمرکز کوي.

جدول 3.30

**د USAID فعال تعليم برنامې**

| د پروژې نوم | د پيل نيټه | د پای نيټه | ټولټال اټکل شوی لګښت (ډالر) | تر 9/30/2015 پورې مجموعي مصرفونه (ډالر) |
|---|---|---|---|---|
| د تعليم لپاره نړيواله ملګرتيا | 10/11/2012 | 3/31/2016 | $3,108,580 | $1,761,682 |
| د افغانستان امريکايی پوهنتون ملاتړ | 8/1/2013 | 7/31/2018 | 40.000.000 | 16.493.425 |
| په افغانستان کي د تعليم پياوړي کول (SEA II) | 5/19/2014 | 5/18/2019 | 29.835.920 | 5.001.568 |
| د PROMOTE بورسونه | 3/4/2015 | 3/3/2020 | 1.247.522 | 1.247.522 |
| د ټولني ميشته تعليم کي د زده کړي لاسته راوړنو او ټولنيزو اغيزو ارزونه | 1/1/2014 | 12/31/2017 | 7.262.016 | 1.194.883 |
| د افغانستان د پوهنتون ملاتړ او د کاري ځواک پراختيا برنامه | 1/1/2014 | 12/31/2018 | 91.927.769 | 17.677.499 |
| لومړني تعليم ته د لاسرسي ډيرول او د جنډر تساوي | 9/17/2014 | 12/31/2019 | 77.402.457 | 54.027.000 |
| ابتدايی تعليم، سواد زده کړه، او تخنيکي – حرفه ای تعليم (BELT) درسي کتابونه | 11/16/2011 | 12/31/2015 | 26.996.813 | 24.436.268 |
| د لوست پيلي درجي سروی | 7/27/2015 | 3/27/2017 | 12.487.469 | 0 |
| BELT/د ټولو ماشومانو لوست او پرمختللی لاسرسی | 7/27/2015 | 3/27/2017 | 427.585 | 0 |

سرچينه: USAID، د سيګار د معلوماتو غوښتني ته ځواب، 10/8/2015.

- **د افغانستان امريکايي پوهنتون (AUAF):** په دغه دوره کي، USAID د سوداګری او اداري په برخه کي ماستری سندونو ترلاسه کولو لپاره د 20 افغان ښځينه کارکوونکو لپاره د بورسونو په موخه د 5.9 ميليونو ډالرو په ارزښت تړون لاسليک کړ او همدارنګه په جلال آباد کي د مرکز په پرانيستلو سره به د افغانستان امريکايي پوهنتونو د مسلکي پراختيا په انسټيټوټ کي د ښځو لپاره د زده کړو بورسونه زيات شي.
- **د افغانستان د پوهنتونونو د ملاتړ او کاري ځواک د پراختيا پروګرام (USWDP):** د لوړو زده کړو وزارت او 11 دولتي پوهنتونونو د وړتيا په لوړولو کار کوي تر څو له بازار سره سم د زده کړو خدمتونه وړاندي کړي. په دغه دوره کي USWDP د لوړو زده کړو وزارت لپاره ارشد سلاکار په دنده ګومارلی تر څو له وزارت سره په تعليمي پلان جوړونه او د پروګرام همغږی په برخه کي مرسته وکړي؛ د لوړو زده کړو ملي ستراتيژيک پلان سره تخنيکي مرسته وکړي؛ د جوزجان پوهنتون هراړخيزه ارزونه سرته ورسوي؛ د هرات پوهنتونو سره د توافق ليک لاسليک کړي؛ او د هرات پوهنتون او پرديو پوهنتونو تر منځ د همکاری تړونونو ملاتړ وکړي.
- **ټولنيز تعليم:** په 13 ولايتونو کي لومړنيو زده کړو لاس رسی برابروي. د 2015 کال تر سپتمبر پوري، 802 ټولنيز تعليمي ښوونځي او د بيړنی زده کړو 56 مرکزونه جوړ شوي چي له 43,000 زيات هلکان او نجوني لاس رسی ورته ولري.
- **د تعليمي کيفيت د لوړولو پروژه (EQUIP) II:** USAID د نړيوال بانک تر اداري لاندي د EQUIP II پروګرام له لاري د ښوونکو روزني لپاره مالي ملاتړ وړاندي کوي. د متحده آيالتونو د دولت په همکاری له 84,000 څخه زياتو ښوونکو روزنه ترلاسه کړي ده. د ښوونکو

روزنې لپاره ټوله بوديجه کارول شوې ده نو لدې کبله په تيرو دوه دورو کې نورو ښوونکو ته روزنه نه ده ورکړل شوې.

د USAID د فعالو تعليمي پروګرامونو بشپړ ليست په 3.30 جدول کې موندلی شئ.

## روغتيا

د نړيوال بانک پر وينا افغانستان د 2002 څخه راپديخوا د روغتيا شاخص په برخه کې پرمختګ کړی دی، له دې سره بيا هم په نړۍ کې د کوچنيانو خوارځواکي کچه يې لوړه ده او د لړ عايد هيوادونو له اوسط څخه ټيټ پاتې دی.[737] د متحده ايالاتو د روغتيايي برخې پروګرام هدف لري چې د 2002 څخه راپديخوا ساتنې او مرستو سره پرمختګ رامنځته کړي. د عامې روغتيا وزارت (MOPH) سره د USAID مرستې ظرفيت جوړونه، روزنه او د کيفيت تضمين شامل دی، څو د وزارت مديريت پياوړی او په ټول افغانستان کې د وړاندې شويو روغتيايي چارو باندې کنټرول ولري.[738]

## د USAID تمويل

د 2015 تر 30 سپتمبر پورې د متحده ايالاتو لخوا د افغانستان روغتيايي برخې ته د بوديجوي او پرته له بوديجوي مرستو له $955 ميليون ډالرو څخه ډير ورکړل شوي دي.[739] د روغتيايي چارو وزارت سره بوديجوي مرستې د روغتيا ساتنې او اړين روغتونونو اساسي چوپړتياوې رامنځته کوي. له بوديجې پرته مرستو کې د روغتيايي سيستم پياوړيدلو، د خصوصي سکتور بوختول، د کوچنيانو او ميندو مړينې کچه ټيټول د تبرکلوز اړوند مړينو ټيټول، د خوارځواکۍ ټيټول، د نني عصر کورنيو د برنامو اصلاح کول او د پوليو دمنځه وړل فعاليتونه شامل دي.[740]

## د USAID د روغتيا برنامې

USAID باور لري چې د روغتيا عامه چارو وزارت مالکيت او توانايي چې د روغتيا د اساسي چوپړتياو بستې (BPHS) او د روغتونونو اړينو چوپړتياو بستې (EPHS) د لارې با کيفيته روغتيايي چارې وړاندې کړي-په افغانستان کې د روغتيا اساسي چوپړتياو وړاندې کول – ډير مهم دي چې د روغتيا نتيجې پياوړې شي. د 2015 او 2018 ترمنځ USAID هوډ لري چې د روغتيا چوپړتياوې، نتيجې او ښځو او کوچنيانو ته رسيدل لا نور هم پياوړی کړي.[741] د USAID روغتيا برنامې فعاليت په تقريبي ډول 752.2 ميليون ډالر لګښت لري او په لاندې پاڼه کې په 3.31 جدول کې ليست شوي دي.

د روغتيا چارو عامه وزارت د ظرفيت ډيرونې عنوان په توګه پدې ربع کې USAID د درملو اړوند سيستم تقويت (SPS) د اړينو درملو جوړونې د مهاجرت پروژه تمويل کړې او سازمانونو او دغه راز د روغتيا عامه چارو وزارت ته جنسونه د فني تخنيک مرستو او سهولتونو سره چمتو کړي. SPS تر 22 مياشتو د 2017 تر جولای پورې غزول شوي.[742]

پدې ربع کې د نورو پرمختياو ترڅنګ USAID په 13 ولايتونو کې د روغتيا چوپړتياو تمويل د روغتيا برنامو د ټرون مشارکت (PCH) د لارې په ټولو 34 ولايتونو کې د روغتيا فعاليتونو برنامې چوپړتياو د ښه کولو سيستم ته تغير کړې.[743] سربيره پردې، USAID د روغتيا سيکتور چلولو، د عامه – خصوصي شراکت مديريت، او د روغتيا سرچينو مالي مديريت پياوړي کولو لپاره خپله د MOPH د

### د سيګار تفتيش

د سيګار يو روان تفتيش د افغانستان د روغتيا پاملرنې خدماتو ملاتړ او پرمختګ لپاره د USAID هڅو باندې تمرکز کوي او پدې تمرکز کوي چې ترکوم حد پورې USAID د خپلو هڅو بشپړه اغيزه ارزولې او تر کوم حد پورې USAID د روغتيا معلوماتو د سمون ټاکلو لپاره دغه معلومات راټولوي، تاييدوي او سره کتنه يې کوي.

### د سيګار ځانګړې پروژې

د 2015 اګست په 18 سيګار USAID ته وليکل، چې USAID ته يې ويلي و د PCH ملاتړ شوي روغتيا تسهيلاتو کې د يوه ليست او موقعيتونو لپاره د غوښتنې ځواب ورکړي (15 SIGAR-SP-67 وګورئ). USAID پخپل ځواب کې سيګار ته د PCH ملاتړ شوي 586 روغتيا تسهيلاتو تازه ليست وليږه، کوم چې د 641 اصلي ليست څخه 55 لږ تسهيلات دي چې سيګار اصلا ارزولې و. د تازه ليست تحليل کولو وروسته، سيګار نوې بې نظمۍ وموندلې چې نومورې اداره يې اړ ايستلې چې باور وکړي تازه ليست ممکن غلطيانې ولري. په يوې اړوند ځانګړې پروژه کې، سيګار په هرات ولايت کې د USAID – ملاتړ شوي روغتيا تسهيلاتو د 23 سايټ پلټنو پرمخ وړو وروسته خپلې موندنې وړاندې کړې. د نورو معلوماتو لپاره، برخه 2، مخونه 39-41 وګورئ.

**BPHS:** د روغتيا پاملرنې لومړنې خدمات وړاندې کوي ــ لکه مصؤنيت او د زيږون څخه مخکې پاملرنه ـ په کوچني او کليوال روغتيايي کلينيکونو کې او په افغانستان کې د ټولو لومړني پاملرنې تسهيلاتو لپاره د روغتيا مهم خدمات وړاندې کوي.

**EPHS:** د افغانستان روغتيا پاملرنې سيستم کې د هرډول روغتون په ګوته شوي روغتيايي خدمات چې د عمومي خدماتو لړ کې چمتو شي، کارمندان، تجهيزات، د تشخيص خدمات، او درمل پداسې حال کې چې د روغتيا راجع کولو سيستم هڅوي چې BPHS د روغتونونو سره مدغم کوي.

سرچينه: سيګار، *په افغانستان کې د روغتيا خدمات:* د USAID تمويل شوي دوه نوي روغتونونه ممکن ټيکاو لرونکي نه وي او شته روغتونونه د ځينې مهم روغتيا موقفونو په برخه کې تشو سره مخ دي، د تفتيش راپور 13-9، 4/2013، مخ 1.

جدول 3.31

| د USAID د روغتيا فعالي برنامې | | | | |
|---|---|---|---|---|
| د پروژې نوم | د پیل نیټه | د پای نیټه | ټولټال اټکل شوی لګښت (ډالر) | تر 9/30/2015 پورې مجموعي مصرفونه (ډالر) |
| د فارمیسي سیستمونو پیاوړي کول | 8/28/2011 | 7/10/2017 | $34,399,936 | $23,339,502 |
| د توبرکلوز ننګول | 1/1/2015 | 12/31/2020 | 15.000.000 | 230.825 |
| د روغتيا لپاره د ملګرتيا قراردادونه (PCH) | 7/20/2008 | 12/31/2015 | 259.663.247 | 228.899.313 |
| د اوني وار وسپني فوليک اسيډ متممات | 11/7/2014 | 12/31/2017 | 5.610.012 | 5.408.826 |
| د ناروغيو سمدستي خبرتيا سيستم (DEWS Plus) | 9/30/1996 | 9/30/2022 | 32.728.000 | 9.600.000 |
| د کورنی پلان کول او ارزونه | 5/16/2015 | 5/15/2016 | 634.833 | 634.833 |
| د روغتيا سيکتور خوځښت (HSR) | 9/28/2015 | 9/27/2020 | 40.000.000 | 0 |
| د ديموګرافيک (ټولنپيژندني) او د روغتيا سروی ګاني | 9/9/2013 | 9/8/2018 | 5.453.731 | 1.000.000 |
| د رهبريت مديريت او حکومتولي (LMG) | 9/25/2012 | 12/31/2015 | 38.341.106 | 36.207.450 |
| د مرکزي آسيا جمهوريتونو او افغانستان کې سيمه ايز تيکاو | 9/29/2014 | 9/29/2016 | 9.722.000 | 9.722.000 |
| د ماشومتوب د دستونو يا اسهال مديريت کولو لپاره د ټولني لاسرسي ډيرول، د زنک، ORS کارول. | 7/21/2015 | 7/7/2020 | 15.002.610 | 0 |
| د مور او ماشوم د ودي سره مرسته کول (حمايت) | 1/7/2015 | 1/6/2020 | 60.000.000 | 2.844.038 |
| د روغتيا خدماتو لومرنی بسته (BPHS) | 9/17/2015 | 12/31/2017 | 8.000.000 | 0 |

سرچينه: USAID، د سيګار د معلوماتو غوښتني ته ځواب، 10/8/2015.

**په اکتوبر 2014 کې، MEC د "ضعيف کيفيت لرونکي درملو واردولو کې د ډراماتيک ډيروالي" راپور ورکړ چې بازار د 50% غيرقانوني وارد شوي محصولاتو څخه ډک دی.**

سرچينه: د فساد سره مبارزې د نظارت او ارزولو ګډه خپلواک کميټه، د *فارميسي ارونډ وارداتو پروسه کې د فساد ارزوني زيان ليدنه*، 10/2014، مخ 2.

روغتيا پاليسی د ظرفيت جوړولو پروژه پای ته ورسوله. USAID لا تراوسه دغه يوځير ترکيب څخه ملاتړ کوي او د روغتيا سکتور ارتجاعي پروژې دلارې د روغتيا چارو عامه وزارت کارمندانو ته تخنيکي مرستي چمتو کوي.[744]

## په انتقال کې د روغتيا عمل لپاره د سيستم لوړول

د روغتيا په برخه کې د دريو کليدي پانګوالو BPHS او EPHS (USAID، نړيوال بانک او اروپايي اتحاديه) په لاس ورکووني او هڅو سره د 2014 په جنوري کې USAID د PCH برنامې څخه د تغيير پيل وکړ-مرکزي چوپړتياوې-په 13 ولايتونو کې د خپلو روغتيايي چوپړتياو وړاندې کولو پرځای يې-د نړيوال بانک په لور- SEHAT يې چمتو کړ، کوم چې په 34 ولايتونو کې يوځير ملاتړ وړاندې کوي. دغه انتقال د 2015 کال د جون په 30 تکميل شو. د صحت (SEHAT) غير دولتي سازمان (NGO) قراردادي، د روغتيا خدماتو چمتو کونکي د درملو او روغتيا تجهيزاتو چمتو کولو لپاره د PCH څخه د ډير انعطاف اجازه لري، په بيله بيا د دوی د بودجي برابرول او تازه کول، ترڅو په ساحه کې د روغتيا پاملرني بدلون کونکي اړتياوې پوره کړي.[745]

د SEHAT دوهم فاز کې به د USAID مرستې به د ARTF د لارې ورکول کیږي.[746] د USAID وینا پر اساس متحده ایالاتو له 2002 څخه راپدیخوا له SEHAT سره 107.5 میلیون ډالر مرسته کړې ده، چې د ARTF سره د متحده ایالاتو شاوخوا 4.4% مرسته رانغاړي.[747]

## د افغانستان ديموګرافيک او د روغتيا سروې

USAID د افغانستان د ديموګرافيک او روغتيا سروې (ADHS) تمويل کوي، چې په ټول هيواد کې يوه هغه سروې ده چې د روغتيا او ديموګرافيک معلومات چمتو کوي، څو افغان حکومت نويو ټولنيزو او روغتيايي برنامو ته وده ورکړي. دغه سروې به د دولت د تعهد شواهد به هم رامنځته کړي- چې پر تصميم نيوني او په ظرفيت ولاړې اوسې چې نورې سرويګاني هم رامنځته او پياوړې کړي.[748] د ADHS پايلې به د نړيوالو معيارونو سره سم وليکل شي او د نورو هيوادونو راټولو شويو پايلو سره به پرتله شي.[749]

د سروې ګروپ په ټولو 34 ولايتونو کې ځای پرځای شوی دی چې ارقام راټول کړي. USAID راپور ورکړی چې په زابل، ارزګان او بادغيس ولايتونو کې د ساحې ګروپ او کارمندان د امنيتي ستونزو له امله يو شمير کورنيو ته يې لاسرسی ندی موندلی. د پروژې يو شمير سيمو انتقال ومومند، مګر USAID ويلي چې د کار طرحې تغير نه دی موندلی. په دغو دريو ولايتونو کې، دغه راز په نورستان، هلمند فراه او کندهار کې نا امني هم يو شمير ساحوي کارونه شاته غورځولي دي، مګر USAID ويلي دي چې د سروې د پوره کيدو ټاکل شوی نيټه نده اغيزمنه شوې.[750]

# 4 د نورو ادارو څارنه



# د بلې اداري څارنه محتويات


**د څارنې بشپړ شوي فعاليتونه** 196

**د څارنې روان فعاليتونه** 199


**عکس په تېر مخ کې**

د متحده ایالاتو د زغره وال [پوځ] د 5م کنډک سرتېري د افغانستان په وردګو ولایت کې د مشاهدې یوه پوسته سمبالوي، په داسې حال کې چې افغان نظامي انجنیران سرک [له خطرناکو توکو څخه] پاکوي.
(د متحده ایالاتو د اردو عکس چې تورن یاو لیونګ څای اخیستی دی)

# د بلې ادارې څارنه

د سیګار رامنځته کوونکی قانون له سیګار څخه غوښتنه کوي چې د بیارغونې په پروګرامونو کې د ادارې اړوندو ستونزو په هکله د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو او د دفاع وزیران په پوره توګه خبر کړي، او د هرې مالي ربعې له پای ته رسېدلو څخه وروسته په 30 ورځو کې دننه د سیګار د څارنې د کار او د متحده ایالاتو د بیارغونې د هڅو د وضعیت په هکله کانګرس ته راپور تسلیم کړي.

په هره ربعه کې، سیګار د څارنې د بشپړو شویو او روانو فعالیتونو په هکله له نورو ادارو څخه تازه معلومات غواړي. دا برخه دغه تازه معلومات سره یوځای کوي. د بشپړو شویو راپورونو په عامه توګه موجودې کاپي د ادارو په اړوندو وېب سایټونو کې موجودې دي.

شرحي هغسې ښکارې لکه څنګه چې تسلیم شوي دي، البته کوچني تغیرات په کې د دې له پاره راغلي دي چې د دې راپور له نورو برخو سره ورته والی وساتي، لکه د پوره نومونو پرځای مخففات؛ د غټو تورو معیاري استعمال، د ژبې اصول، او غوره هجاوې یا د لیکلو حروف کارول؛ او د لومړي شخص د ترکیب پرځای د درېیم شخص د ترکیب کارول.

دغه ادارې په افغانستان کې د څارنې فعالیتونه ترسره کوي او نتایج یې سیګار ته ورکوي:

- د متحده ایالاتو د دفاع د وزارت د عمومي مفتش دفتر (DOD IG)
- د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو د وزارت د عمومي مفتش دفتر (State OIG)
- د حکومت د حساب ورکونې دفتر (GAO)
- د متحده ایالاتو د اردو د تفتیش اداره (USAAA)
- د متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیایي ادارې د عمومي مفتش دفتر (USAID OIG)

## د څارنې بشپړ شوې فعالیتونه

4.1 جدول د بیا رغونې په برخه کې د څارنې هغه پنځه پروژې ښيي چې برخه والو ادارو يې په دې درې میاشتنی موده کې د بشپړتیا راپور ورکړی دی.

جدول 4.1

**د 2015 د سپتمبر له 30مې راهیسې د متحده ایالاتو د نورو ادارو د څارنې هغه فعالیتونه چې په دا وروستي وخت کې بشپړ شوي دي**

| اداره | د راپور نمبر | د صدور نېټه | د پروژې نوم |
|---|---|---|---|
| د متحده ایالاتو د دفاع د وزارت عمومي مفتش | DODIG-2015-154 | 7/31/2015 | د افغانستان د امنیتي ځواکونو وجهي صندوق ته د افغانستان د ملي اردو د وجهي صندوق د مرستو په برخه کې د متحده ایالاتو د دفاع د وزارت د اجرأتو د ارزونې په هکله د خپلواک مفتش راپور |
| د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو د وزارت دعمومي مفتش دفتر | AUD-MERO-16-04 | 10/2/2015 | په کابل کې په سفارت او سولیوان کمپ کې د تېلو ذخیره |
| د حکومت د حساب ورکونې دفتر | GAO-15-458SU | 6/17/2015 | د ترهګرۍ په وړاندې جګړه: په محلي سطحه په کار ګومارل شویو کسانو ته د متوجه خطرونو د له منځه وړلو له پاره اخیستل شوې ګامونه کولی شي چې د ترهګرۍ د ګواښونو په هکله راپور ورکولو ته وده ورکړي. |
| د حکومت د حساب ورکونې دفتر | GAO-15-700 | 7/9/2015 | د سیاستوالو خوندیتوب: د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت باید له سمندر څخه پورې غاړه هېوادونو کې استوګنځیو او نورو نرمو هدفونو ته متوجه خطرونه په لا ښه ډول مدیریت کړي. |
| د حکومت د حساب ورکونې دفتر | GAO-15-708RSU | 9/28/2015 | کابل: د HESCO د امنیتي دېوالونو مربوط د سولیوان کمپ بده پېښنه |

سرچینه: د متحده ایالاتو د د فاع وزارت عمومي مفتش، د سیګار له خوا د ارقامو د غوښتنې ځواب، 9/18/2015؛ د بهرنیو چارو د وزارت د عمومي مفتش اداره، د سیګار له خوا د ارقامو د غوښتنې ځواب، 9/21/2015؛ د حکومت د حساب ورکونې اداره، د سیګار له خوا د ارقامو د غوښتنې ځواب، 9/18/2015؛ د متحده ایالاتو د اردو د تفتیش اداره، د سیګار له خوا د ارقامو د غوښتنې ځواب 9/14/2015؛ د متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیايي ادارې د عمومي مفتش اداره، د سیګار له خوا د ارقامو د غوښتنې ځواب، 9/10/2015

## د متحده ایالاتو د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر

د دې درې میاشتنۍ مودې په جریان کې، د متحده ایالاتو د فاع وزارت عمومي مفتش د افغانستان د بیارغونې په هکله یو راپورخپورکړ.

### د افغانستان د امنیتي ځواکونو وجهي صندوق ته د افغانستان د ملي اردو د وجهي صندوق د مرستو په برخه کې د متحده ایالاتو د دفاع د وزارت د اجرأتو د ارزونې په هکله د خپلواک مفتش راپور

**(د راپورنمبر DODIG-2015-154، د صدور نېټه د 2015 د جولای 31مه)**

د متحده ایالاتو د دفاع وزارت عمومي مفتش د 2014 د جون له 30مې راهیسې د هغو پروژو په برخه کې د ناټو د رسیدونو او لګښتونو په هکله د مدیریت ادعا وارزوله چې د 2014 د جون له 30مې راهیسې په بشپړ ډول د هغو مرستو له لارې تمویل شوې دي چې د ناټو/افغان ملي اردو له وجهي صندوق څخه په 2013 (مالي کال) کې یا له هغه څخه مخکې د افغانستان د ملي پولیسو وجهي صندوق ته تللي دي. یادونه: د مالي چارو مرستیال د هغوی له ادعا څخه هرې هغې پروژې لیرې کړې چې د 2014 مالي کال یا له هغه څخه د وروسته وخت د مالي مرستو په واسطه تمویل شوې وې، چې هغو همدارنګه د هرو پخوانیو تادیاتو، نه تادیه شویو مبلغونو، او تاوانونو په هکله راپور ورکول هم مستثنی کړل چې په دغو پروژو پورې یې اړه لرله.

دا د افغان ملي اردو لپاره د ناټو د وجهي صندوق دویمه ارزونه ده. د دفاع وزارت د مرستیال (د محاسباتو مشر) (د محاسباتو مرستیال) په دفترکې د محاسباتو مرستیال (د پروګرام/بودجې) تائید کړه چې د 2014 د جون له 30مې راهیسې د هغو پروژو چې په بشپړ ډول د افغان ملي اردو لپاره د ناټو د وجهي صندوق د مرستو له لارې تمویل شوې دي رسیدونه او لګښتونه او هغه څه چې په 2013 مالي کال کې یا تر هغه مخکې په ټولو مهمو برخو کې په مناسب ډول ترلاسه شوې دي د ټولو مهمو اړخونو په پام کې نیولو سره په مناسب ډول وړاندې کړای شوې دي. د دفاع وزارت د عمومي مفتش په نظر، په تېر پاراګراف کې د تشریح شویو مهمو تعدیلاتو د اهمیت په وجه، د هغو پروژو د رسیدونو او لګښتونو په هکله د مدیریت تایید چې په بشپړ ډول د هغو مرستو له لارې تمویل شوې دي چې په 2013 مالي کال کې

یا تر هغه مخکې د ناټو د صندوق له خوا له افغان ملي اردو سره شوي دي د محاسبې د په عمومي توګه منل شویو اساساتو په پام کې نیولو سره نه دي ورانديز شوي.

## د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت د عمومي مفتش دفتر– د منځني ختیځ سیمه ییز عملیات

د دې ربعي پرمهال، د بهرنیو چارو د وزارت د عمومي مفتش دفتر د افغانستان د بیارغونې په هکله یو راپور خپور کړ؛ راپور محرم دی.

### په کابل کې د امریکا په سفارت او سولیوان کمپ کې د تېلو ذخیره

**(AUD-MERO-16-04 نمبر راپور، چې د 2015 د اکتوبر په 2مه خپور شوی دی)**

دا راپور محرم دی.

## د حکومت د حساب ورکونې اداره

د دې ربعي پرمهال، د حکومت د حساب ورکونې اداري د افغانستان د بیارغونې په هکله درې راپورونه خپاره کړل؛ د هغو له جملې څخه دوه راپورونه محرم دي.

### د سیاستوالو خونديتوب: د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت باید له سمندر څخه پورې غاړه هېوادونو کې استوګنځیو او نورو نرمو هدفونو ته متوجه خطرونه په لا ښه ډول مدیریت کړي.

**(GAO-15-700 نمبر راپور، چې د 2015 د جولای په 9 مه خپور شوی دی)**

د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت د دې له پاره یو لړ فعالیتونه ترسره کوي چې له سمندر څخه پورې هېوادونو کې استوګنځایونو ته ورپېښ خطرونه وارزوي. د مثال په توګه، د بهرنیو چارو وزارت خپل د ملکیتونو په ډیټابېس کې له سمندر څخه پورې هېوادونو کې د استوګنځایونو په هکله د معلوماتو پل پسې اخلي، له سمندرڅخه پورې هېوادونو کې د دفترونو د ګواښ سطحې معلوموي، د استوګنځایونو او د خطر د سطحو د بېلابېلو ډولونو له پاره امنیتي معیارونه جوړوي، او له دفترونو څخه غوښتنه کوي چې د استوګنځایونو په هکله وخت په وخت امنیتي سروې ګانې ترسره کړي. البته، د استوګنځایونو په هکله د هغو 68 سروې ګانو له جملې څخه چې د حکومت د حساب ورکونې اداري پرې بیاکتنه کړې ده 17 سروې ګانې یا په وخت سره نه دي ترسره شوي یا دا چې ورکې شوي دي. پرته له دې چې له سمندر څخه پورې غاړې هېوادونو کې د استوګنځایونو په هکله تازه امنیتی سروې ګانې ولري، د بهرنیو چارو د وزارت دا وړتیا محدوده ده چې کمزورتیاوې په ګوته او حل کړي یا دا چې په دې هکله خبر تصمیمونه ونیسي چې چېرته د امنیت د پیاوړتیا له پاره وسایل ځای پرځای کړي.

د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت په دې برخه کې ګامونه اخیستي دي چې د خپلو استوګنځایونو امنیتي معیارونه تازه کړي؛ البته، دغه تازه والي په وخت سره نه دي شوي، او هغه معیارونه سخت دي چې وکارول شي. د بهرنیو چارو د وزارت د چارواکو په وینا، د استوګنې د سیمې امنیتي معیارونه تازه کول باید نژدې 75 ورځې وخت ونیسي، خو له 2005 کال راهیسې ټولو درې تازه توبونو یا سمونو هر یوه له درې کالو څخه ډېر وخت ونیو. د بهرنیو چارو وزارت هڅې کوي چې د حکومت د حساب ورکونې د ادارې د یوې پخوانۍ سپارښتنې په ځواب کې د دغه ډول سموني ضرب الاجلونو ته انکشاف ورکړي. سربېره پر دې، په داسې حال کې چې د داخلي کنټرول فدرالي معیارونه څرګندوي چې د پالیسۍ معیارونه باید روښانه او ثابت وي څو ښه تصمیم نیونه حمایه کړي، د استوګنځایونو له پاره د بهرنیو چارو د وزارت معیارونه او نورې د امنیت اړوند لارښوونې تشې او بې ثباتۍ لري، چې دا د دفترونو هڅې پېچلې کوي څو مناسب امنیتي ګامونه معلوم او تطبیق کړي او یو شمېر استوګنځایونه په احتمالي خطر کې پرېږدي.

د متحده ایالاتود بهرنیو چارو وزارت په استوګنځایونو کې موجودې امنیتي کمزورتیاوې د بېلابېلو پیاوړتیاوو په رامنځته کولو سره چې هدف یې دا دی چې له استوګنځایونو سره مرسته وکړي چې امنیتي

معیارونه پوره کړي، له منځه وړي. د هغو 68 استوګنځایونو له جملې څخه چې د حکومت د حساب ورکونې ادارې پرې بیاکتنه کړې ده 38 یې ټول د اجرأ وړ معیارونه نه دي پوره کړي. د مثال په توګه، اتو استوګنځایونو د دفاعي دېوالونو له پاره ټاکلي معیارونه نه پوره کول. کله چې استوګنځایونه ټول اجرأوړ امنیتي معیارونه نه پوره کوي یا یې نشي پوره کولی، دفترونه باید د استثنأتو غوښتنه وکړي، چې دا داسې ګامونه په ګوته کوي چې دفترونه به یې اخلي څو کمزورتیاوې له منځه وېسي. خو د بهرنیو چارو وزارت د 38 استوګنځایونو له جملې څخه چې ټول اجرأ وړمعیارونه یې نه پوره کول یوازې د یوه له پاره یوه استثنا لري. په نتیجه کې، د بهرنیو چارو وزارت داسې مهم معلومات نه لري چې هغه یې وړاندې کړي او په استوګنځایونو کې د امنیتي کمزورتیاوو یو لا روښانه تصویر ورکړي او هغه ته دا وړتیا ورکړي چې د خطر د مدیریت لا غوره پرېکړې وکړي.

د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت ښوونځیو او نورو نرمو هدفونو ته پېښېدونکي زیانونه په ګڼو لارو اداره کوي، خو د هغه هڅې ښایي د اړوندې لارښوونې او وسایلو په هکله د محدودې معلوماتو په واسطه محدودې شي. له 2010 څخه تر 2015 پورې مالي کالونو کې، د بهرنیو چارو وزارت په ټولیزه توګه نژدې 400 قراردادونه په ښوونځیو او نورو نرمو هدفونو کې د امنیتي پیاوړتیاوو په برخه کې ورکړل. په داسې حال کې چې د فدرالي داخلي کنټرول معیارونه د پروګرام د هدفونو له پاره مسؤلو کارمندانو ته د اړوندو معلوماتو د په وخت ور رسولو غوښتنه کوي، د اکثرو هغو دفترونو چارواکي چې د حکومت د حساب ورکونې ادارې کتلې دي په ښوونځیو او نورو نرمو هدفونو کې د ځینې لارښوونو او وسایلو په هکله خبر نه ول. په نتیجه کې، ښایي چې د بهرنیو چارو وزارت موجود پروګرامونه او منابع په دغو مرکزونو کې د امنیتی اړتیاوو د پوره کولو له پاره په پوره توګه په کار نه وي اچولي.

د حکومت د حساب ورکونې اداره سپارښتنه کوي چې د بهرنیو چارو وزارت دې، د نورو شیانو ترڅنګ، داسې کړنلارې جوړې کړي څو دا یقیني کړي چې د استوګنې د ځایونو امنیتی سروې ګانې له اړتیا سره سمې بشپړېږي، د استوګنځایونو له پاره د هغه معیارونه او امنیت پورې تړلې لارښوونې روښانه کړي، داسې کړنلارو ته انکشاف ورکړي چې یقیني کړي چې استوګنځایونه یا په معیارونو برابر دي یا دا چې استثناوې ورته په پام کې نیول شوې دي، او داسې ګامونه واخلي څو یقیني کړي چې دفترونه د ښوونځیو او نورو نرمو هدفونو د امنیت په هکله د موجودو لارښوونو او وسایلو په اړه خبرې دي. د بهرنیو چارو وزارت د حکومت د حساب ورکونکي له ټولو سپارښتنو سره هوکړه وکړه.

## د متحده ایالاتو د اردو د تفتیش اداره

د متحده ایالاتو د اردو د تفتیش ادارې په دې درې میاشتنۍ موده کې د افغانستان د بیارغونې اړوند هېڅ تفتیشونه بشپړ نه کړل.

## د USAID د عمومي مفتش دفتر

په دې درې میاشتنۍ موده کې، د متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیایي ادارې (USAID) د عمومي مفتش دفتر د بیارغونې د فعالیتونو په هکله هېڅ تفتیشونه خپاره نه کړل.

## د څارنې روان فعالیتونه

د 2015 د سپتمبر له 30مې راهیسې، برخه والو ادارو په افغانستان کې د بیا رغونې د څارنې د نهو روانو فعالیتونو په هکله راپور ورکړ. هغه فعالیتونه چې راپور یې ورکول شوی دی په 4.2 جدول کې ذکر شوي دي او په لاندې برخو کې د ادارو په ترتیب سره تشریح شوي دي.

جدول 4.2

**د 2015 د سپتمبر له 30مې راهیسې د متحده ایالاتو د نورو ادارو د څارنې روان فعالیتونه**

| اداره | د پروژې نمبر | د پیل نېټه | د پروژې نوم |
|---|---|---|---|
| د امریکا د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر | D2015-D000JB-0239.000 | 8/14/2015 | په افغانستان کې د قرارداد د څارنې تفتیش |
| د امریکا د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر | D2015-D000JB-0174.000 | 4/20/2015 | د افغانستان د کورنیو چارو د وزارت د تېلو په قراردادونو د کنټرولونو تفتیش |
| د امریکا د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر | D2013-D00SPO-0181.000 | 6/13/2013 | د متحده ایالاتو د حکومت د هغو هڅو ارزونه چې امنیتي همکاري او هغه مرستندوی فعالیتونه چې د افغانستان اسلامي جمهوریت حمایه کوي د متحده ایالاتو د دفاع وزارت له صلاحیت څخه د بهرنیو چارو د وزارت صلاحیت ته انتقالوي. |
| د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د عمومي مفتش دفتر | 15AUD063 | 4/29/2015 | په کابل کې د امریکا د سفارت د عملیاتو او مراقبت د قرارداد تفتیش |
| د حکومت د حساب ورکوني دفتر | 291279 | 5/6/2015 | د مغز د تراوماتیکو ټپونو (TBI) او له تراوماتیک فشار څخه د وروسته بې نظمۍ (PTSD) د تداوۍ له پاره د هایپرباریک اکسیجن په وسیله د تداوۍ مؤثرتیا |
| د حکومت د حساب ورکوني دفتر | 321059 | 2/5/2015 | د افغانانو له پاره د کډوالۍ د ویزې ځانګړی پروګرام |
| د حکومت د حساب ورکوني دفتر | 351991 | 11/21/2014 | په یوه ناڅاپي یا عاجل چاپېریال کې پوځي ودانۍ |
| د USAID د عمومي مفتش دفتر | FF100315 | 3/31/2015 | د تشبثاتو د انکشاف د پروګرام له لارې د افغانستان په جوړونه کې د متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیایي ادارې (USAID) د افغانستان د ځانګې د مرستو تفتیش |
| د USAID د عمومي مفتش دفتر | FF101014 | 8/26/2014 | په ټول افغانستان کې د خپلو پروګرامونو د څارنې او ارزونې له پاره د متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیایي ادارې (USAID) د افغانستان د ځانګې د ستراتیژۍ تفتیش |

سرچینه: د متحده ایالاتو د دفاع وزارت عمومي مفتش، د سیګار له خوا د ارقامود غوښتنې ځواب، 9/18/2015؛ د بهرنیو چارو د وزارت د عمومي مفتش اداره، د سیګار له خوا د ارقامو د غوښتنې ځواب، 9/21/2015؛ د حکومت د حساب ورکوني اداره، د سیګار له خوا د ارقامو د غوښتنې ځواب، 9/18/2015؛ د متحده ایالاتو د اردو د تفتیش اداره، د سیګار له خوا د ارقامو د غوښتنې ځواب، 9/14/2015؛ د متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیایي ادارې د عمومي مفتش اداره، د سیګار له خوا د ارقامو د غوښتنې ځواب، 9/10/2015

## د متحده ایالاتو د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر

د متحده ایالاتو د دفاع وزارت له سمندر څخه پورې غاړه د خپلو چټکو عملیاتو د ترسره کولو په برخه کې لا هم له ننګونو سره مخامخ دی. د دفاع وزارت عمومي مفتش د هغو ننګونو او لوړو خطرونو په اساس لومړیتوبونه په ګوته کړي دي. د 2016 مالي کال له پاره، د دفاع وزارت د عمومي مفتش څارنه به د هغو پېرودنو او قراردادونو د پروسو په څارنه باندې تمرکز کوي چې د افغانستان د امنیتي ځواکونو روزنه، تجهیز، او مراقبت حمایه کوي. د متحده ایالاتو د دفاع وزارت عمومي مفتش به همدارنګه د افغان ملي اردو او ملي پولیسو د ځواکونو د روزنې او تجهیزله پاره د وزارت د هڅو بیاکتنې او د هغو ارزونې ته دوام ورکړي، او هم به د متحده ایالاتو د دفاع وزارت څخه د بهرنیو چارو وزارت ته انتقالات څارې. د دفاع وزارت عمومي مفتش به همدارنګه له سمندر څخه د پورې غاړې چټکوعملیاتو د استخباراتي چارو په اړوندو مسایلوباندې هم بیاکتنه وکړي.

د دفاع وزارت د عمومي مفتش تر لارښوونې لاندې د جنوب لویدیځې اسیا د پلان جوړونې ګډ ګروپ (Southwest Asia Joint Planning Group) د فدرالي او د دفاع وزارت د له سمندرنه د پورې غاړې چټکو عملیاتو اړوند د څارنې د فعالیتونو په همغږې کولو او یو له بل سره په ټکر کې نه راتللوکې مرسته کوي. د دفاع وزارت عمومي مفتش چې له سیګار او له همکارو عمومي مفتشینو او د دفاع د څارنې د کمېټې له غړو سره په ګډه کار کوي، د جنوب لویدیزې اسیا له پاره د 2015 په اکتوبر کې د 2016 د مالي کال د له سمندرڅخه پورې غاړې چټکو عملیاتو اړوند څارنې یو هراړخیز پلان صادر کړی دی.

**په افغانستان کې د قرارداد د څارنې تفتیش**
**(د D2015-D000JB-0239.000 نمبر پروژه چې د 2015 د اګست په 14مه پیل شوه)**
د متحده ایالاتو د دفاع وزارت د عمومي مفتش دفتر معلوموي چې آیا د قراردادونو د مدیراستازي په صحیح توګه ټاکل شوي او روزل شوي ول، او دا وړتیا یې لرله چې په افغانستان کې د قراردادونو له پاره خپل د څارنې مسؤلیتونه په مؤثره توګه ترسره کړي.

**د افغانستان د کورنیو چارو د وزارت د تېلو په قراردادونو د کنټرولونو تفتیش**
**(د D2015-D000JB-0174.000 نمبر پروژه چې د 2015 د اپریل په 20مه پیل شوه)**
د متحده ایالاتو د دفاع وزارت عمومي مفتش د افغانستان د قراردادونو د څارنې اړوند تفتیشونو سلسله جاري ساتي. په دغه ځانګړي تفتیش کې به د متحده ایالاتو د دفاع وزارت عمومي مفتش پرېکړه وکړي چې د افغانستان د امنیت د انتقال ګډه قوماندانې (CSTA-A) او د افغانستان د کورنیو چارو وزارت د کورنیو چارو د وزارت د تېلو د قراردادونو د څارنې له پاره مؤثر کنټرولونه جوړ کړي دي.

**د متحده ایالاتو د حکومت د هغو هڅو ارزونه چې امنیتي همکارۍ او هغه مرستندوی فعالیتونه چې د افغانستان اسلامي جمهوریت حمایه کوي د متحده ایالاتو د دفاع وزارت له صلاحیت څخه د بهرنیو چارو د وزارت صلاحیت ته انتقالوي.**
**(د 2013-D00SPO-0181.000 نمبر پروژه، چې د 2013 د جون په 13مه پیل شوې وه)**
د متحده ایالاتو د دفاع وزارت عمومي مفتش داسې پلانونه او فعالیتونه ارزوي چې تر اوسه پورې په هغې برخه کې ترسره شوي یا تطبیق شوي دي چې په افغانستان کې امنیتي همکارۍ او مرستندوی فعالیتونه د متحده ایالاتو د دفاع وزارت له صلاحیت څخه د بهرنیو چارو د وزارت صلاحیت ته ور اړوي، او د دې له پاره چې داسې سپارښتنې وکړي چې د امنیتی همکارۍ او امنیتي مرستو د اړوندو قواعدو په اساس د بهرنیو چارو وزارت ته د دغو وظایفو انتقال ته لاره هواره کړي یا انکشاف ورکړي. ځانګړي هدفونه باید دا معلومه کړي چې آیا:

- د متحده ایالاتو د حکومت هدفونه، مقصدونه، پلانونه، او لارښوونې کافي دي، صادر شوي دي، او په افغانستان کې د متحده ایالاتو د دفاع وزارت له صلاحیت څخه د بهرنیو چارو د وزارت تر صلاحیت لاندې د امنیتي همکارۍ یوې موسسې ته د افغانستان د امنیت د انتقال د ګډې قوماندانۍ (CSTC-A) د انتقال له پاره کار کوي.
- په افغانستان کې د متحده ایالاتو د ځواکونو د ایستنې د پلانونو د تطبیق او د ناټو ترصلاحیت لاندې د قوماندې په یوه اداره باندې د امنیت په برخه کې د نړیوال مرستندوی ځواک (آیساف) او د آیساف د ګډې قوماندانۍ بدلون د افغانستان د اسلامي جمهوریت حکومت ته د متحده ایالاتو د ځواکونو له خوا د امنیتي مرستې د برابرولو په روانو هڅو باندې منفي تاثیر کړی دی.

## د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت د عمومي مفتش دفتر– د منځنۍ ختیځ سیمه ییز عملیات

د دې ربعي پرمهال، د بهرنیو چارو د وزارت د عمومي مفتش دفتر د افغانستان د بیارغونې په هکله یوه روانه پروژه لري.

### په کابل کې د سفارت د عملیاتو او مراقبت د قرارداد تفتیش
**(د 15AUD063 نمبر پروژه چې د 2015 د اپریل په 29مه پیل شوه)**

د پاسیفیک آرکیټیکټس اینډ انجنیرز دحکومتي خدمتونو شرکت (PAE) په افغانستان کې په کابل کې د متحده ایالاتو د سفارت د ودانۍ او سولیوان کمپ د خدمتونو سیستمونه چلوي او مراقبت یې کوي. (سولیوان کمپ د کابل نړیوال هوایي ډګر سره نژدې پروت دی او د سفارت د امنیتي ځواک له پاره د استوګنې کورونه برابروي.) پاسیفیک آرکیټیکټس اینډ انجنیرز په ورځ کې 24 ساعته او په کال کې 365 ورځې د برېښنا د تولید او توزیع؛ تودوخې او هواپاکۍ؛ د اوبو د تأمین، صفایي او توزیع؛ له اور څخه د خوندیتابه؛ د اضافي اوبو د په لارې کولو؛ د لفټونو د مراقبت؛ او د جنراتورونو او موټرو له پاره د تېلو د ذخیرې او توزیع خدمتونه وړاندې کوي. پاسیفیک آرکیټیکټس اینډ انجنیرز همدارنګه د سفارت د ادارو او د استوګنې د کورونو او د فرعي قراردادیانو او نورو افرادو له پاره چې امنیتي صفایي نه لري او د سفارت په احاطه کې په امنیتي ساحو کې کار کوي، له مهالوېش پرته خدمتونه وړاندې کوي.

دا تفتیش به د پاسیفیک آرکیټیکټس اینډ انجنیرز (PAE) د عملیاتو او مراقبت د قرارداد په هکله د تفتیشونو د یوې لړۍ لومړی کړۍ وي. د پاسیفیک آرکیټیکټس اینډ انجنیرز د عملیاتو او مراقبت د قرارداد یو تفتیش به د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو د وزارت اړوند د قراردادي د اجرأتو د مدیریت او څارنې د خطر ساحې په نښه کړي، چې دا هغه برخه ده چې د عمومي مفتش د ادارې له خوا د تنظیم او مدیریت د یوې ننګونې په توګه په ګوته شوې وه. (وګورئ: د ادارې د 2014 مالي کال مالي راپور، د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت؛ 120 – 118 مخونه؛ 11/2014) لومړی تفتیش به تېلو د ذخیره کولو او توزیع په سیستم کې د خطر په ساحو باندې تمرکز وکړي او امکان لري چې د وجهې ګټو له پاره یو فرصت وړاندې کړي. راتلونکي تفتیشونه به د پاسیفیک آرکیټیکټس اینډ انجنیرز له خوا په وړاندې کړای شویو نورو خدمتونو باندې تمرکز وکړي.

### د بهرنیو چارو د وزارت له خوا د قراردادونو د افسرانو د استازو د انتخاب، ځای پرځای کونې، روزنې، او څارنې د مسؤلیتونو تفتیش
**(14AUD034 نمبر پروژه، چې د 2014 د فبروري په 11مه پیل شوې ده)**

هدف: چې هغه حد معلوم کړي چې په هغه کې د وزارت د قراردادونو د افسر استازي انتخاب شوي، ځای پرځای شوي، او روزل شوي څو هغوی خپل ورترغاړې شوي د قراردادونو اداره او د څارنې مسؤلیتونه په بریالیتوب سره ترسره کړي.

## د حکومت د حساب ورکونې دفتر

د حکومت د حساب ورکونې اداره په دې ربعه کې د افغانستان د بیارغونې اړوند درې رواني پروژې لري.

### د مغز د تراوماتیکو ټپونو (TBI) او له تراوماتیک فشار څخه د وروسته بې نظمی (PTSD) د تداوۍ له پاره د هایپرباریک اکسیجن په وسیله د تداوۍ مؤثرتیا
**(291279 نمبر پروژه، چې د 2015 د مې په 6مه پیل شوې ده)**

د مغز تراوماتیک ټپونه (TBI) او له تراوماتیک فشار څخه وروسته بې نظمي (PTSD) هغه پټ ټپونه دي چې په عراق او افغانستان کې په جګړو کې رسېدلي دي. پوښتنه: (1) خپرې شوې څېړنې مغز د تراوماتیکو ټپونو (TBI) او له تراوماتیک فشار څخه د وروسته بې نظمی (PTSD) د تداوۍ له پاره د هایپرباریک اکسیجن په وسیله د تداوۍ مؤثرتیا څه نتیجه لرلې ده؟

### د افغانانو له پاره د کډوالی د ویزې ځانګړی پروګرام
**(321059 نمبر پروژه، چې د 2015 د فبروری په 5مه پیل شوی ده)**

د افغانستان له پاره د کډوالی د ویزې ځانګړی پروګرام (SIV) افغان اتباعو او د هغوی کورنیو، ته چې د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت او د متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیایي ادارې (USAID)، یا د متحده ایالاتو نورو ادارو سره د کار کولو له امله له ګواښ سره مخامخ وي، ویزې ورکوي. د افغانانو له پاره د کډوالی د ویزې ځانګړي پروګرام ته د غوښتنلیکونو د شمېر زیاتوالی، او ورسره په افغانستان کې د متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیایي ادارې د امریکایي کارمندانو لږه ګرځېدا، کولی شي چې د دغه هېواد په هکله د متحده ایالاتو د حکومت د حقایقو درک او تجربې، محلي روابط، او د کلتوري معلوماتو تاثیرکم کړي. مهمې پوښتنې: (1) په افغانستان کې د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت او د متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیایي ادارې کاري ځواک د کډوالی د ځانګړې ویزې د ترلاسه کوونکیو په تګ سره څومره اغېزمن شوی دی؟ (2) تر کومه حده، که وي، د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت او د متحده ایالاتو نړیوالې پرمختیایي ادارې داسې پلانونه جوړ کړي چې د کډوالی د ځانګړې ویزې د ترلاسه کوونکیو له تګ څخه رامنځته کېدونکي تشه ډکه کړي؟ (3) کوم ګامونه، که وي، د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت او د متحده ایالاتو نړیوالې پرمختیایي ادارې اخیستي چې د کډوالی د ځانګړې ویزې د ترلاسه کوونکیو له تګ څخه رامنځته کېدونکې تشه ډکه کړي؟

### په یوه ناڅاپي یا عاجل چاپېریال کې پوځي ودانی
**(351991 نمبر پروژه، چې د 2014 د نومبر په 21مه پیل شوی ده)**

تفتیش به: (1) هغه پروسې چې د متحده ایالاتو د دفاع وزارت چارواکو په عراق او افغانستان کې د پوځي ودانیو د جوړولو له پاره کارولې، او په دې هکله د تصمیم نیولو له پاره کړنلارې چې آیا یو ساختمان باید دایمي وي که موقت؛ (2) په عراق او افغانستان کې د پوځي ودانیو د جوړولو له پاره د اړوندو قیمتونو په هکله د نیول شویو تصمیمونو؛ (3) هروهغوعبرتونوچې یاد وزارت د عراق او افغانستان د تجربې په اساس د ناڅاپي عاجلو پوځي ودانیو له جوړولو څخه زده کړې وي؛ او (4) هروهغو مسایلوچې په یوه عاجل چاپېریال کې چې بنایي د تفتیش په دوران کې مخ ته راشي او پوځي ودانیو پورې اړه ولري، و ارزوي.

## د متحده ایالاتو د اردو د تفتیش اداره

په دې ربعه کې د متحده ایالاتو د اردو د تفتیش اداره د افغانستان د بیارغونې په هکله هېڅ روان تفتیشونه نه لري.

## د متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیایي ادارې (USAID) د عمومي مفتش دفتر

په دې ربعه کې د متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیایي ادارې (USAID) د عمومي مفتش اداره د بیارغونې د فعالیتونو په هکله دوه تفتیشونه نه لري.

### د تشبثاتو د انکشاف د پروګرام له لارې د افغانستان په جوړونه کې د متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیایي ادارې (USAID) د افغانستان د څانګې د مرستو تفتیش

**(FF100315 نمبر پروژه، چې د 2015 د مارچ په 31مه پیل شوې ده)**

*د تفتیش هدف:*

- آیا د تشبثاتو د پروګرام د انکشاف له لارې د افغانستان په جوړونه کې د متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیایي ادارې د افغانستان د څانګې مرسته د خصوصي سکټور پانګه اچونه پراخوي، نوي کاري فرصتونه رامنځته کوي، او د سوداګرۍ چاپېریال ته له پلان سره سمه وده ورکوي؟

### په ټول افغانستان کې د خپلو پروګرامونو د څارنې او ارزونې له پاره د متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیایي ادارې (USAID) د افغانستان د څانګې د ستراتیژۍ تفتیش

**(FF101014 نمبر پروژه، چې د 2014 د اګست په 26مه پیل شوې ده)**

*د تفتیش هدف:*

- آیا د متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیایي ادارې (USAID) د افغانستان د څانګې د څارنې او ارزونې ستراتیژي په افغانستان کې د متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیایي ادارې د پروګرام د فعالیتونو مؤثر پوښښ وړاندې کوي؟

# د ضميمو او پايليکونو محتويات


| | |
|---|---|
| ضميمه A | 206 |
| Appendix B | 212 |
| Appendix C | 214 |
| Appendix D | 218 |
| Appendix E | 225 |


**د سيګار رسمي مهر**

د سيګار رسمي مهر د بيارغونې د فعاليتونو د څواب ورکولو او څارنې برابرولو په برخو کې د متحده ايالاتو او افغانستان تر منځ د هڅوهمغږي په ګوته کوي. د مهر په پورته برخه کې په دري ژبه ليکلې ټکي او په لاندې برخه کې په پښتو ژبه ليکلې ټکي د سيګار د نوم ژباړه ده.

# ضمیمي
# او پایلیکونه

# ضميمه A

## د قانون پر بنسټ د رپورټ ارزونه

دا ضميمه د دې راپور پانې د سيګار تر رامنځته کونکي قانون لاندې د درې مياشتني راپور ورکوونې او اړوندو نورو مقرراتو، د 2008 مالي کال لپاره د ملي دفاع د واکمنی قانون، Pub. 110-181, § 1229 (جدول A.1)، او د عمومي مفتشينو لپاره د شپږمياشتنيو راپورونو له توضيح شويو مقرراتو او په عمومي توګه د عمومي مفتش د 1978 قانون لاندې، چې په (5 U.S.C. App. 3) بنه تعديل شوی دی، سره ګوري (جدول A.2).

جدول A.1

| د PUB. L. NO. 110-181, § 1229 لاندې د سيګار د درې مياشتني راپور ورکولو اړتيا پر بنسټ ارزونه | | | |
|---|---|---|---|
| **د عامه قانون برخه** | **سيګار ته د ورتيا ورکولو ژبه** | **د سيګار اقدام** | **د راپور برخه** |
| **هدف** | | | |
| برخه 1229(a)(3) | چې داسې خپلواکي او بې طرفه منابع برابرې شي چې د بهرنيو چارو وزير او د دفاع وزير د داسې پروګرامونو او عملياتو د مديريت د اړوندو ستونزو او کميو په هکله په پوره ډول او وخت په وخت سره خبر کړي او د سموونکيو يا اصلاحي اقداماتو اړتيا درک شي او اقدام پرې وشي. | جاري؛ درې مياشتنی راپور | بشپړ راپور |
| **څارنه** | | | |
| برخه 1229(e)(1) | عمومي مفتش بايد نيغ په نيغه د بهرنيو چارو وزير او د امريکا دفاع وزير ته راپور ورکړي او د هغوی تر نظارت لاندې کار وکړي. | د بهرنيو چارو وزير او د امريکا د فاع وزير ته راپور | بشپړ راپور |
| **دندې** | | | |
| برخه 1229(f)(1) | د افغانستان د بيارغوني څارنه – دا بايد د عمومي مفتش وظيفه وي چې د افغانستان د بيارغونې لپاره د تخصيص شويو يا په بل ډول برابرو شويومبلغونو په وړاندې د چلند، انتقال او لګښت تفتيشونه او څېړنې ترسره کړي، وڅاري او سره همغږی يې کړي. همدارنګه دا هم بايد د نومورې وظيفه وي چې لاندې له (A) څخه تر (G) پورې فرعي برخو پشمول د داسې پيسو د لګولو لپاره ترسره شوي پروګرامونه، عمليات، او قراردادونه وڅېړي. | د تخصيص شويو/موجودو پيسو بياکتنه<br><br>د بياکتنې پروګرامونه، عمليات، قراردادونه چې تخصيص شوې/ موجودې پيسې استعمالوي | بشپړ راپور |
| برخه 1229(f)(1)(A) | د داسې پيسو يا فنډونو د مکلفيت او مصرف څارنه او محاسبه | د تخصيص کړای شويو/موجودو فنډونو د مکلفيتونو او لګښتونو بياکتنه | د سيګار څارنه تمويل |
| برخه 1229(f)(1)(B) | د داسې فنډونو په واسطه د بيارغونې د تمويل شويو فعاليتونو څارنه او بياکتنه | د تخصيص کړای شويو او مرسته شويو پيسو په واسطه د تمويل شويو فعاليتونو بياکتنه | د سيګار څارنه |
| برخه 1229(f)(1)(C) | د داسې فنډونو په واسطه د تمويل شويو قراردادونو څارنه او بياکتنه | د تخصيص کړای شويو او موجودو فنډونو په کارولو سره د قراردادونو بياکتنه | يادونه 1 |
| برخه 1229(f)(1)(D) | د متحده ايالتونو د وزارتونو، ادارو، او موسساتو، او د خصوصي او غيرحکومتي موسساتو ترمنځ د داسې فنډونو د انتقال او اړوندو معلوماتو څارنه او بيا کتنه. | د تخصيص کړای شويو/موجودو فنډونو د داخلي او خارجي انتقالاتو بياکتنه | ضميمه B |
| برخه 1229(f)(1)(E) | د داسې فنډونو د کارولو په هکله د اسنادو ساتنه څو د داسې فنډونو د کارولو په هکله راتلونکو تفتيشونو او څېړنو ته لاره هواره کړي. | د تفتيش ريکارډونو ساتل | د سيګار څارنه<br>ضميمه C<br>ضميمه D |
| برخه 1229(F)(1)(f) | د افغانستان د ټرون او د افغانستان د ملي پرمختيايي ستراتيژی د تطبيق په برخه کې د افغانستان له حکومت او نورو مرستندويو هېوادونو سره د متحده ايالتونو د همغږی د مؤثريت څارنه او بياکتنه | څارنه او بياکتنه په هغه بڼه چې شرحه شوې ده. | تفتيشونه |

*په راتلونکي مخ کې دوام لري*

جدول A.1 (ادامه لري)

| تر PUB. L. NO. 110-181, § 1229 لاندې د سيګار د درې مياشتني راپور ورکولو اړتيا پربنسټ بياکتنه | | | |
|---|---|---|---|
| د عامه قانون برخه | سيګار ته د ورتيا ورکولو ژبه | د سيګار اقدام | د راپور برخه |
| برخه 1229(f)(1)(G) | د اضافي تادياتو لکه دوه ځلي تادياتو يا دوه ځلي د صورت حساب يا بل د صدور او د فدرالي کارمندانو، قرارداديانو، يا اړوندو موسساتو د نورو احتمالي غيراصولي يا غيرقانوني اقداماتو څېړنه، او په لازمه توګه د عدليې وزارت ته د داسې راپورونو وړاندې کول څو راتلونکې څېړنې، قانوني تعقيبونه، د نورو پيسو بېرته ترلاسه کول، يا نور جبرانونه يقيني کړي. | د څېړنې ترسره کول او په هکله يې راپور ورکول په هغه بڼه چې شرحه شوې ده. | څېړنې |
| برخه 1229(f)(2) | د څارنې اړوند نور وظايف – عمومي مفتش بايد تر (1) پاراګراف لاندې د ذکرشويو وظايفو د ترسره کولو لپاره دغه ډول سيستمونه، کړنلارې، او کنټرولونه چې عمومي مفتش يې مناسب ګڼي جوړ کړي، وېې ساتي او سرپرستي يې وکړي. | سيستمونه، کړنلارې، او کنټرولونه جوړ کړي، وېې ساتي او سرپرستي يې وکړي. | بشپړ راپور |
| برخه 1229(f)(3) | د عمومي مفتش 1978 قانون پربنسټ دندې او مسؤليتونه — سربېره پردې، ... عمومي مفتش بايد د عمومي مفتش 1978 قانون پربنسټ د عمومي مفتشينو دندې او مسؤليتونه هم ولري. | دندې په هغه ډول چې د عمومي مفتش په اړوند قانون کې مشخص شوي دي. | بشپړ راپور |
| برخه 1229(f)(4) | د هڅو همغږي کول – عمومي مفتش بايد د لاندې هر نفر سره همغږي ولري او مرسته يې لاسته راوړي: (A) د امريکا دفاع وزارت عمومي مفتش، (B) د بهرنيو چارو د وزارت عمومي مفتش، او (C) د متحده اياالتو د نړيوالې پراختيا اداري عمومي مفتش. | د DOD، DOS او USAID له عمومي مفتشينو سره همغږي | د بلې اداري څارنه |
| **فدرالي ملاتړ او نورې سرچينې** | | | |
| برخه 1229(h)(5)(A) | د فدرالي ادارو څخه مرسته – د کوم وزارت، اداري يا د فدرال حکومت کوم بل نهاد څخه د عمومي مفتش د معلوماتو يا مرستې غوښتنې پرمهال د ورته اداري يا نهاد مشرتابه يا کوم مجاز ځاى ناستى بايد تر هغه حد پورې ورته معلومات يا مرسته عمومي مفتش ته چمتو کړي چې شوني وي او د کوم ډول موجود قانون سره په ټکر کې نه وي. | لکه څنګه چې يې غوښتنه شوې وي په هماغه ډول تمه | بشپړ راپور |
| برخه 1229(h)(5)(B) | د رد شوي مرستې راپور ورکول – هرکله چې د عمومي مفتش لخوا معلومات يا مرسته وغوښتل شي او د عمومي مفتش د قضاوت له مخې په نا مناسب ډول رد شي يا چمتو نشي، نو عمومي مفتش يې بايد پرته له ځنډ څخه د بهرنيو چارو وزير يا د امريکا دفاع وزير، او د کانګرس اړوند کميټو ته راپور ورکړي. | هېڅ راپور نه دي ورکول شوي. | هيڅ |

*په راتلونکي مخ کې دوام لري*

جدون A.1 (ادامه لري)

| د عامه قانون برخه | سیګار ته د ورتیا ورکولو ژبه | د سیګار اقدام | د راپور برخه |
| --- | --- | --- | --- |
| **تر PUB. L. NO. 110-181, § 1229 لاندې د سیګار د درې میاشتنی راپور ورکولو اړتیاو پر بنسټ ارزونه** | | | |
| **راپورونه** | | | |
| برخه 1229(i)(1) | درې میاشتني راپورونه –<br>عمومي مفتش باید د مالي کال د هرې ربعې له پای ته رسېدلو څخه وروسته په 30 ورځو کې دننه، د کانګرس اړوندو کمېټو ته یو راپور وړاندې کړي چې د هغې ربعې او، تر ممکن حد پورې، د دغسې ربعې له پای څخه د راپور د تسلیمولو تر وخته پورې، د دغسې دورې په جریان کې د عمومي مفتش د فعالیتونو او د افغانستان د بیارغوني لپاره د تخصیص شویو او یا په بل ډول برابر کړای شویو پیسو په واسطه د تمویل شویو پروګرامونو اوعملیاتو لاندې د فعالیتونو لنډیز برابروي. هر راپوربايد، د هغې دورې په هکله چې دغه راپور يې تر پوښښ لاندې نیسي، په افغانستان کې د بیارغوني او بیاجوړوني فعالیتونو پورې د تړلیو ټولو وجایبو، لګښتونو، او لاسته راوړنو یو مفصل بیان ولري، پشمول د لاندې - | راپور – 30 ورځې د هر تقویم ربع څخه د عمومي مفتش د فعالیتونو لنډیز<br><br>د ټولو مکلفیتونو، مصرفونو او عایداتو توضیحي بیان | بشپړ راپور<br>ضمیمه B |
| برخه 1229(i)(1)(A) | د مختص شوي/مرسته شوي فنډونو مکلفیتونه او مصرفونه | د مختص شوي/مرسته شوي فنډونو مکلفیتونه او مصرفونه | ضمیمه B |
| برخه 1229(i)(1)(B) | د امریکا دفاع وزارت، د بهرنیو چارو وزارت، او د متحده ایالاتو د نړیوالي پراختیا اداري له تخمین سره یوځای، هغسې چې د هرې پروژې او هر پروګرام د بشپړولو لپاره د اجرا وړ وي، د افغانستان د بیارغوني لپاره تر دې نېټې پورې د شويو لګښتونو پروژه په پروژه او پروګرام په پروګرام محاسبه | د شویو لګښتونو پروژه په پروژه او پروګرام په پروګرام محاسبه. د هرې پروژې یا پروګرام لپاره غیرمتوقع فنډونه لست کوي | تمویل<br>یادونه 1 |
| برخه 1229(i)(1)(C) | هغه عواید او پیسې چې په داسې بسپنو باندې مشتملې وي چې د بهرنیو هیوادونو یا نړیوالو موسسو له خوا هغو پرورګرامونو او پروژو ته ورکول کیږي چې د متحده ایالاتو د کوم وزارت یا اداري له خوا تمویلیږي، او د دغه ډول پیسو او عوایدو اړوند مکلفیتونه او لګښتونه | د ډونرانو د فنډونو عواید، مکلفیتونه او لګښتونه | تمویل |
| برخه 1229(i)(1)(D) | بهرنیو پانګو ته نسبت شوي یا پرې مشتمل عواید چې نیول شوي یا کنګل شوي وي او د متحده ایالاتو د حکومت د کوم وزارت یا اداري له خوا تمویل شویو پروګرامونو او پروژو سره مرسته کوي، او د داسې عوایدو مکلفیتونه یا لګښتونه | له نیول شویو یا کنګل شویو پانګو څخه د فنډونو عواید، مکلفیتونه او لګښتونه | تمویل |
| برخه 1229(i)(1)(E) | د هغو ادارو یا موسساتو عملیاتي لګښتونه چې د افغانستان د بیارغوني لپاره تخصیص شوي یا په بل ډول برابر کړای شوي مبلغونه ترلاسه کوي | د ادارو یا هرې موسسې عملیاتي لګښتونه چې تخصیص کړای شوي فنډونه ترلاسه کوي | تمویل<br>ضمیمه B |
| برخه 1229(i)(1)(F) | په پاراګراف (2) کې شرح شوي قرارداد، بلاعوضه مرستې، تړون، یا د تمویل کوم بل میکانیزم په صورت کې* –<br>(i) د قرارداد یا د تمویل بل میکانیزم مقدار؛<br>(ii) د قرارداد یا د تمویل بل میکانیزم طرحې لنډه شرح؛<br>(iii) د قرارداد، بلاعوضه مرستې، تړون یا تمویل بل میکانیزم ترسره کولو لپاره د احتمالي قراردادیانو څخه غوښتل شوي وړاندیزونو او پېژندل شوي قرارداد، بلاعوضه مرستې، تړون، یا تمویل بل میکانیزم کې د متحده ایالاتو د دولت وزارت یا اداري د دخالت څرنګوالي شرح، په کده د احتمالي افرادو یا نهادونو لست سره چې د وړاندیزونو لپاره یې غوښتنې تکثیر کړې دي؛ او<br>(iv) د تصدیق او تصویب اسناد چې د بشپړې او آزادې سیالی لپاره چمتو کړنلارو سربیره د کړنلارو کارولو لپاره ټاکلو پربنسټ وي | د قرارداد د جزیاتو شرحه | یادونه 1 |

*په راتلونکي مخ کې دوام لري*

جدون A.1 (ادامه لري)

| د عامه قانون برخه | سیګار ته د وړتیا وړکولو ژبه | د سیګار اقدام | د راپور برخه |
|---|---|---|---|
| **تر PUB. L. NO. 110-181, § 1229 لاندې د سیګار د درې میاشتني راپور ورکولو اړتیاو پربنسټ ارزونه** | | | |
| برخه 1229(i)(3) | عامه موجودیت – <br>عمومي مفتش باید د دې فرعي برخې تر(1) پاراګراف لاندې د عامو خلکو له خوا په کتل کېدونکي انټرنټي ویب پاڼه کې هر راپور په انګلیسي او نورو ژبو چې عمومي مفتش باور لري چې په افغانستان کې په پراخه کچه کارول کېږي او خلک پرې پوهېږي خپور کړي. | په www.sigar.mil کې لاربښوونې سره سم د راپور خپرول <br>د دري او پښتو ژباړه په جریان کې ده | بشپړ راپور |
| برخه 1229(i)(4) | شکل – <br>تر دې فرعي برخې لاندې هرراپور باید په غیرمحرم شکل وسپارل شي، خو که عمومي مفتش یې لازمه وګڼي کېدای شي چې یوه محرمه ضمیمه هم په کې شامله وي. | د لاربښود سره سم د راپور خپرول | بشپړ راپور |
| برخه 1229(j)(1) | عمومي مفتش باید همدارنګه تر(i) فرعي برخې لاندې هر راپور له اړتیا سره سم د بهرنیو چارو وزیر او د امریکا دفاع وزیر ته تسلیم کړي. | د درې میاشتني راپور سپارل | بشپړ راپور |

یادونه 1: که څه هم دا معلومات عموماً د سیګار ویب پاڼه (www.sigar.mil) کې وړاندې کېږي، هغه معلومات چې سیګار ترلاسه کړي په ورته ډول خام دي او اوس مهال د سیګار راتلونکي استعمال او خپروني لپاره بیاکتل کېږي، تحلیل کېږي او ترتیب کېږي.

پوښل شوي "قراردادونه، بلاعوضه مرستې، تړونونه، او د تمویل میکانیزمونه" د Pub. L. No. 110-181 په برخه 1229(i) پاراګراف (2) کې تعریف شوي دي، لکه د –

"کوم لوی قرارداد، بلاعوضه مرستې، تړون، یا د تمویل بل میکانیزم چې د متحده ایالاتو دولت کوم وزارت یا اداره لخوا وي چې پکې د لاندې موخو لپآره د دولتي یا خصوصي سیکتور نهاد سره د افغانستان بیارغوني لپاره چمتو شوي یا مختص شوي مقدارونو استعمال کې دخیل وي:

د افغانستان فزیکي زیربنا جوړول یا بیا جوړول.

د افغانستان سیاسي یا ټولنیز نهادونو رامینځته کول یا رغول.

د افغانستان وګړو ته د محصولاتو یا خدماتو چمتو کول."

جدول A.2

**د عمومي مفتش (IG) 1978 قانون د 5 برخې پربنسټ چې په (5 U.S.C. APP. 3) ("IG ACT") بنه تعديل شوی په شپږمیاشتنی سطحه د راپور ورکولو له شرايطو له مخې ارزونه**

| د IG د قانون برخه | د IG د قانون ژبه | د سيګار اقدام | برخه |
|---|---|---|---|
| برخه 5(a)(1) | د پام وړ ستونزو، بدو استفادو او نیمګړتیاوو تشریح | د SWA/JPG د غړي له راپورونو څخه اړوند معلومات راټولوي<br>د سيګار د تفتيش له راپورونو، څېړنو، او پلټنو څخه ستونزې، بدې استفادې، او نيمګړتياوې لست کوي. | د بلې اداري څارنه<br>د معلوماتو د غوښتنې ليکونه په کې وګورئ |
| برخه 5(a)(2) | د پام وړ ستونزو، بدو استفادو، يا نيمګړتياوو په برخه کې د تصحيح کوونکي اقدام ... لپاره د سپارښتنو تشريح | د SWA/JPG د I غړي له راپورونو څخه اړوند معلومات راټولوي<br>د سيګار د تفتيش له راپورونو څخه د سپارښتنو لست برابروي. | د بلې اداري څارنه<br>د معلوماتو د غوښتنې ليکونه په کې وګورئ |
| برخه 5(a)(3) | د هرې هغې پام وړسپارښتنې په ګوته کول چې په پخوانيو شپږمیاشتنيو راپورونو کې تشريح شوي او د هغو په هکله سموونکي يا تصحيحي اقدامات نه دي بشپړ شوي. | له پخوانيو شپږ مياشتنيو راپورونو څخه د نه تکميل شوي تصحيحي اقدام ټول موارد په يوه لست کې. | په جريان کې |
| برخه 5(a)(4) | د هغو موضوعاتو يوه خلاصه چې د قانوني تعقيب ادارو ته راجع شوي وي او هغه قانوني تعقيبونه او فيصلې چې د هغو په نتيجه کې شوې وي. | د SWA/JPG د غړي له راپورونو څخه اړوند معلومات راټولوي<br>د سيګار څېړنې لست کوي چې راجع شوي دي | د بلې اداري څارنه |
| برخه 5(a)(5) | د هر راپور يوه خلاصه چې تر 6(b)(2) برخې لاندې [د دفاع وزير] ته وړاندې کېږي (ښيي چې غوښتل شوي معلومات چېرته رد شوي يا نه دي برابر کړای شوي) | د SWA/JPG د غړي له راپورونو څخه اړوند معلومات راټولوي<br>هغه موارد لست کوي چې پکې د سيګار مفتشينو، څېړونکو، يا پلټونکو ته معلومات رد شوي وي | د بلې اداري څارنه |
| برخه 5(a)(6) | يو لست، چې د هر تفتيش د راپور، د تفتيش د راپور او د ارزونې د راپور د موضوع په اساس، په فرعي توګه تقسيم شوی وي.... د ترپوښتنې لاندې لګښتونو ډالري قيمتونه او په دې هکله سپارښتنې په ګوته کوي چې فنډونه بايد په بهتره طريقه وکارول شي. | د SWA/JPG د غړي له راپورونو څخه اړوند معلومات راټولوي<br>د سيګار راپورونه لست کوي | د بلې اداري څارنه |
| برخه 5(a)(7) | د هر په ځانګړې توګه مهم راپور يوه خلاصه | د SWA/JPG د غړي له راپورونو څخه اړوند معلومات راټولوي<br>د سيګار د پام وړ راپورونو لنډيز وړاندې کوي | د بلې اداري څارنه<br>د مهمو راپورونو يو بشپړ لست په www.sigar.mil کې موندلی شئ |
| برخه 5(a)(8) | د شمېرنو جدولونه چې د تفتيش د راپورونو ټول شمېر او د تر پوښتنې لاندې قيمتونو ارزښت په ډالرو ښيي. | د SWA/JPG د غړي له راپورونو څخه اړوند معلومات راټولوي<br>احسايوي جدولونه رامينځته کوي چې د سيګار له راپورونو څخه د ترپوښتنې لاندې لګښت په ډالرو ارزښت ښيي | د SWA/JPG غړو راپورونه وګورئ<br>په جريان کې |
| برخه 5(a)(9) | د شمېرنو جدولونه چې د تفتيش د راپورونو، د پلټنو د راپورونو، او د ارزونې د راپورونو ټول شمېر او د دې سپارښتنو ارزښت په ډالرو ښيي چې فنډونه بايد د ادارې له خوا د لا ښه استعمال لپاره په پام کې ونيول شي | د SWA/JPG دغړي له راپورونو څخه اړوند معلومات راټولوي<br>د سيګار له راپورونو څخه د شمېرنو داسې جدولونه جوړوي چې د فنډونو اړوند ډالري ارزښتونه ښيي او د مديريت له خوا په بهتر ډول د کارونې له پاره برابرېږي | د SWA/JPG غړو راپورونه وګورئ<br>په جريان کې |
| برخه 5(a)(10) | د هر تفتيش د راپور، پلټنې د راپور، او د ارزونې د راپور يوه خلاصه چې د راپور ورکولو د هغې دورې له پيل څخه مخکې صادره شوی وي چې د هغې له پاره د راپور ورکولو د دورې تر پايه پورې مديريت هېڅ تصميم نه وي نيولی، د هغو دلايلو يوه توضيح چې ولې د مديريت دغسې يوه پرېکړه نه ده شوې، او د مديريت د يوې پرېکړې له پاره د غوښتل شوي مهالوېش په هکله يوه څرګندونه | د SWA/JPG غړي راپورونو څخه اړوند معلومات راټولوي<br>د سيګار د تفتيش راپورونو لنډيز وړاندې کوي چې پکې د سيګار لخوا وړانديزونه لاهم خلاص دي | د SWA/JPG غړو راپورونه وګورئ<br>هيڅ کوم |

جدول A.2 (ادامه لري)

| د IG د قانون برخه | د IG د قانون ژبه | د سیګار اقدام | برخه |
|---|---|---|---|
| **د عمومي مفتش (IG) 1978 قانون د 5 برخي پربنسټ چې په (5 U.S.C. APP. 3) ("IG ACT") بنه تعدیل شوی په شپږمیاشتنی سطحه د راپور ورکولو له شرایطو له مخې ارزونه** | | | |
| برخه 5(a)(11) | د مدیریت له خوا د کوم بیاکتل شوي تصمیم په هکله د دلایلو شرحه او وضاحت | د SWA/JPG غړي راپورونو څخه اړوند معلومات راټولوي<br><br>د سیګار د تفتیش راپورونه شرح کوي چې پکې د مدیریت پریکړو ته د پام وړ اصلاحات شوي وي | د SWA/JPG غړو راپورونه وګورئ<br><br>هیڅ کوم |
| برخه 5(a)(12) | د داسې کوم مهم اداري تصمیم په هکله معلومات چې عمومي مفتش ورسره موافق نه وي. | د SWA/JPG غړي راپورونو څخه اړوند معلومات راټولوي<br><br>د سیګار د تفتیش راپورونه شرح کوي چې پکې د مدیریت پریکړو سره سیګار موافق نه وي | د SWA/JPG غړو راپورونه وګورئ<br><br>د راپور ورکولو جریان کې هیڅ لانجمني پریکړې نه وي |
| برخه 5(a)(13) | د فدرال د مالي مدیریت د انکشاف د 1996 د قانون تر [804(b) برخې] لاندې تعریف شوي معلومات (هغه موارد او دلایل چې کله یوې اداري په هغو نېټو کار نه وي سرته رسولی چې د نیمګړتیاوو د له منځه وړلو په پلان کې ټاکل شوي وي) | د SWA/JPG دغړي له راپورونو څخه اړوند معلومات راټولوي<br><br>د هغو ځایونو په هکله معلومات ورکوي چېرې چې مدیریت د نیمګړتیاوو د له منځه وړلو د پلان هدفونه نه وي ترلاسه کړي | د SWA/JPG غړو راپورونه وګورئ<br><br>د راپور ورکولو جریان کې هیڅ لانجمني پریکړې نه وي |
| برخه 5(a)(14)(A) | یوه ضمیمه چې د نورو کتونکیو د داسې بیاکتنې نتایج ښیي چې د راپور ورکولو په دوره کې د عمومي مفتش د بلې اداري له خوا ترسره شوي وي؛ یا | سیګار د سیګار د سطحې د نورو کتونکیو له خوا د ترټولو وروستیو بیاکتنو بشپړنتایج او راپورونه (چې د 2010 په جولای کې، د راپور ورکولو له موجودي دورې څخه مخکې)، په خپل ویب سایټ | www.sigar.mil کې په بشپړ ډول خپاره کړي دي |
| برخه 5(a)(14)(B) | که د راپور ورکولو په هغې دورې کې د نورو کتونکیو بیاکتنه نه وي ترسره شوي، داسې یوه څرګندونه، چې د کتونکیو د هغې وروستي بیاکتنې چې د عمومي مفتش د بلې اداري له خوا ترسره شوي وي، نېټه په ګوته کوي | 7/15/2010 | په www.sigar.mil کې په بشپړ ډول خپورشوی دی |
| برخه 5(a)(15) | د نورو کتونکیو له هرې بیاکتنې څخه چې د عمومي مفتش د بلې اداري له خوا ترسره شوي وي د پاتې سپارښتنو یو لست چې هغه په بشپړ ډول نه وي تطبیق شوي، په شمول د داسې یوې څرګندونې چې د تطبیق حالت شرحه کوي او دا چې ولې تطبیق بشپړ نه دی. | هیڅ کوم – تر 9/30/2015 پورې ټول اړوند بیاکتنو وړاندیزونه په مؤثر ډول په ګوته شوي دي او رغنیز ګامونه پلي شوي دي | سپارښتنې او اړوند مواد په www.sigar.mil کې په بشپړ ډول خپاره شوي دي |
| برخه 5(a)(16) | د کتونکیو هرې بیاکتنې چې د عمومي مفتش د بلې اداري د سیګار له خوا د راپور ورکولو په دوره کې ترسره شوي وي، په شمول د هرو هغو سپارښتنو چې د نورو کتونکیو د کومې پخوانۍ بیاکتنې څخه پاتې وي. . چې نیمګړې پاتې وي یا په بشپړ ډول تطبیق شوي نه وي | د اجرا وړ نه دی (سیګار د راپور ورکولو په دوره کې بیاکتنه نده ترسره کړې، یا یې د عمومي مفتش د بلې اداري د نورو کتونکیو په بیاکتنه کې برخه نده اخیستې) | د سیګار څارنه |

# ضميمه B

## د افغانستان د بيارغوني لپاره د متحده اياالتو مرستې (ميليونونه ډالر)

